# هی هی وطن

یو باتور ملت غرقیږي

یو مزبوت وطن نړیږي

لیکوال: محمد ظاهر ارخک

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د کتاب پېژندنه**

د کتاب نوم: هی هی وطن
لیکوال: محمد ظاهر ارخک
خپرندوی: لوی افغانستان د خپرونو اداره
ډیزاین او ترتیب: خپله لیکوال
چاپ وار: لومړی
چاپ شمېر: ۱۰۰۰ ټوکه
چاپ کال: ۲۰۲٤

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د طوفان لومړۍ څپې

د قوماندان له سهاره ماغزه خراب وه، چورتونو اخیستی وو، پرله پسې یې ذهن ته دا یوه خبره راتله چې یعني بیا یو بل انقلاب راته ګوري. دا انقلابونو د ده ژوند وخوړی؛ خو انقلابونه ونه درېدل، خپلو شعاؤ او رتبو ته یې وکتل، له ځانه یې کرکه وسوه، له ځان سره یې ویل: موږ د چا له پاره جنګېږو، یو ځل نه سو دوه نه سو، هر ځل چپه سو مرو او موږ بیا پاڅو بیا جنګېږو.

د مېز د سر زنګ یې وواهه، دروازه خلاصه سوه، یو جګ چهار شانه ځوان را ننوتی، د بوټو کړس سو نظامي سلامي یې ووهل او ویې ویل: صاحب! امر کوئ.

جنرال هم هغه سي کړکۍ ته ولاړ وو، بهر یې قواؤ ته کتل، چې په خپلو منځونو کي په خبرو وه او داسي معلومېده چې ټوله یوه مهم آمر ته منتظر دي، جنرال په چورتي انداز مخ راواړوی، قومندويي عسکر ته یې وويل:

- وروستۍ جګړې ته اماده یو؟

عسکر یې په سوال پوه نه سو، جنرال ځان ته خپله جواب وکړ:

- وروستۍ جګړه نه، وروستی تېښته، بیا و غونګېدئ او له ځانه سره یې ویل پر پدره دي د رهبرانو لعنت سي، بله معمله یې کړې ده، بیرته یې خپله خبره ونیول او ویې ویل: د څه شي رهبران د سپي زامن، مزدران، اجنټان، غله. بیا یې کمنډو ته مخ کړی، ویې ویل: ذبیح جانه بچیه! ډلګۍ مشران ټوله راوغواړه، چې یوه وروستۍ ناسته وکړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



عسکر له سلامۍ سره ووتئ، وروسته څلور تنه ډلګۍ مشران د قوماندان مېز ته ناست وه، د رئیس له رانوتلو سره څلورو سره سلام ووهل، رئیس نن د یوه پلار په څېر برخورد کوی، رسمیات او نظامیات یې چندان نه مرعتول. څلور واړو ډلګۍ مشرانو یو بل ته په پوښتنکي نظر وکتل.

رئیس چپ وو، بیا یې یو دم وویل: بچیانو! دا پنځم انقلاب سو، خو موږ لا سرې نه سوو، له مرکزه امر دئ چي د مرکز پر لور حرکت وکړو، پرسونل تیار کړئ! چي ځو.

سهراب چي د نظامي زده کړو څخه تازه له بهره راستون سوی وو او په اخیرو جګړو کي سخت کامیاب ثابت سوی وو، یو ناڅاپه په قهر سو او ویې وویل: قوماندان صاحب! بې ادبي هم کیږي؛ مګر ریشخند دئ، موږ خو دښمن پر ګونډو کړیدئ ، کیسه یې خلاصه ده، له دې سره زمریالی خان هم زړه ور سو ویې ویل: جنرال صاحب! قوتونه خو په ډېر ښه حالت کي دي، دښمن بیخي له ساحې نور وتلی دئ.

له دې مخکي چي دوه نور ډلګۍ مشران څه ووایي، جنرال په سړه سینه وویل: بچیانو! زه ویاړم چي ستاسي دا خبري اورم، مګر موږ د یوه امر تابع یو، چي هغه له مرکزه راځي، زما هم تر تاسو ډېر زړه غواړي چي دا خاوره او ولس د دښمن له شره په امان کړم، همدا د خدای (ج) آمر، د قانون لارښوونه او زموږ تربیه ده، مګر خبره دا ده چي جګړه په مرمیو او شهیدانو کېږي، مرکز نور هر څه قطعه کړي او امر یې کړی دئ چي د مرکز پر لور حرکت وکړئ، زه تر وروستۍ مرمۍ جنګېږم، مګر د دې خپلو وینه پر میدان بېله ملاتړه نه سم تویولای، مرکز ته به حرکت وکړو، نور به هلته تصمیم ونیسو.

ستونی یې ډک سو او نور پرته له دې چي څه ووایي او واوري ولاړ سو او د شا پر دروازه ووتی.

د سهراب موبایل ته پرله پسې زنګونه راتلل، هغه په ډېر قهر موبایل اوکې

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړی چي اوس به يې ويل: څه وايې د واټساف تصويري زنګ وو، د موبايل پر سکرين يې زوی ابوذر په معصومه څېره، چي تازه يې خبري زده کړي وې، په ماته ګوډه ژبه ورته وويل: بابا! کله لاژې؟ سهراب په هم هغه قهر وخندل او بيله مقدمې او سلامه يې وويل: لاجم لاجم بچيه! وروسته يې مېرمني زحل تليفون واخيستی، چي دا دوه کاله مخکي له ده سره واده سوې وه او زوی يې تازه پر خبرو راغلی وو. زحل سهراب ته وويل: زما ډېر تشويش دئ، په فيسبوکونو کي ډيري بدي اوازې دي، څوک وايي طالبان راځي، څوک وايي فوجونه له منځه ځي، جنګونو هم زور اخيستی دئ.

سهراب لږ په جدي لهجه وويل: زحل جان! ګوره سر تېری يم، يوه ورځ به مرمۍ خورم او مړ به کور ته ځم، زما پر خولۍ دا الله اکبر وينې، هغه به مي ساتي زما جکړه شخصي نه ده، د دې وطن ده، دا تور، سور او زرغون بيرغ وينه غواړي چي جګ پاته سي، دا ټوکي نه دي.

زحل له جبره وخندل، ويې ويل: جنګره! بيا احساساتي سوې، زه په دې وياړم چي مېړه مي د مور وطن سرتېری او د خپل هيواد ساتونکی دئ، ابوذر ته موږ له همدې وجي په کور کوچنی سرتېری وايو، چي د پلار غوندي پر وطن ننګ وکړي، تشويش مه کوه، پر ځان پام کوه ليونيه! موږ به بيا بل دانه تا له کومه کړو.

د سهراب سترګي له خوښۍ وځليدې او بيا يې په ټوکه وويل: اوه! تا ادبيات همدې ته ويل چي ماته غوړي خبري په وکړې. له همدې سره نيټ قطعه سو.

سهراب بل ډلګۍ مشر رامين ته مخ کړی او ويې وويل: آمر صاحب! موږ به تر کله د دې سياسونو معملو ته ناست يو، دا خو به موږ بيا در بدره کړي، زما مي له پلاره دا کيسې يادي دي، چي سرونه نظاميان نذرانه کوي، مېلې او سياستونه سياسون معمله کوي، دابه تر کله دا کيسه وي؟

رامين يوازي دومره وويل: تر څو چي ملت ويښ نه سي او سياسون تر ستوني

(c) ketabton.com: The Digital Library



ونه نيسي دا د پيشي او موږک لوبه به روانه وي.

له دې سره قطعات وتړل سو، ټول کمندويي سرتيري يو سلو څلويښت تنه وه، دوی ته امر سوی وو چي يوازي ضروري شيان ورسره واخلي او نور هر څه پرېږدي.

جنرال صاحب راووتی، رامين او سهراب ته يې مخ کړی او ويې ويل: ډېر بد خبرونه راځي ډېر زيات تلفات لرو، زه نه پوهېږم چي څه کيسه روانه ده، که سوله ده که معمله ده موږ ولي په وژني، دښمن له امريکا سره جنګېدی؛ خو تر ننه زموږ سره اخته وو، اوس يې له امريکا سره سوله او اور بند کړی دئ، مګر زموږ سره په جګړه بوخت دئ، جالبه دا ده چي ناڅاپه يې اسلحې هم زياتي او هم ښې سوې او هم يې د غړو شمېر زيات سو، د کفر دي کور خراب سي، موږ يې ټول يو رقم غولولي يو، کله يو ورته کمزوری کړي او کله بل.

داسي به وکړو چي پر سيده لاره به نه ځو پر بادغيس به ووځو او په لار کي به کرار او دمه هم کوو.

وروسته د دې سوق وسو او کاروان روان سو. غرمې ته نږدې ډېر تږي او وږي بادغيس ته ورسېدل، کاروان د غرمې لمانځه ته ودرېدی. قاري منير، چي ديني زده کړي يې کړي وې، او خدای (ج) ښه اواز هم ورکړی وو، پر يوه لوړه ډبره ودرېدئ، اذان يې وکړئ، ټولو د سړک د غاړي پر وياله نوبت اودسونه تازه کړل، بيا د غرمې لمونځ وسو، کاروان چي روان سو سل متره به لا مخ ته نه وو تللی چي د مخ موټر په هوا سو او په يو درنې چادوني سره له شاوخوا غونډيو او باغونو څخه د کوچنيو او لويو وسلو باران سو.

قومندان په مخابره کي بږغ وکړ چي له موټرونو څخه کښته سئ، مګر پام کوئ درنې وسلې استفاده نه کړئ! چي د کلي منځ دئ.

له دې سره ټول راووتل، قومندان چي د موټر دروازه خلاصه کړه، د دې پر ځای چي سنګر ونيسي کومندويانو ته يې د پټېدلو ځايونه ښودل، په دې وخت

(c) ketabton.com: The Digital Library



کي سیو سو، پرله پسې یې دوې مرمۍ وخوړې او ولوېدی. سهراب په منډه ځان ور ورسوی، قوموندان ورته وخندل ویې ویل: بچیه! زه پوهېدم چي دا مي وروستۍ جګړه ده. ساه یې بنده سوه، سهراب ورته وویل: جوړ او تیار یې دومره خبره نه ده. جنرال وخندل او ویې ویل: بچیه! زه پوهېږم زما د تګ وخت دئ، فقط دومره ځواني وکړه چي پر میدان مي مړ پرېنږدې. رامین سهراب ته په منډه راغلی ویې ویل: له ټولو خواو محاصره یو او دې خلګو سناېپر او ډېري قوي وسلې پیدا کړي، دا عادي خبره نه ده. سهراب وخندل ویې ویل: ورځ چي دي بده سي دا به دي حال وي، هغوی چي تر پرونه له موږ سره وه، نن له دوی سره دي لوبه بدله سوه.

په دې وخت کي رامین د جنرال نفس وکتی، سترګي یې په لاس ورپټې کړې او انا لله وانا الیه راجعون یې وویل، بیا یې سهراب ته وکتل ویې ویل: څلوېښت کاله یې وطن ته خدمت وکړی، تر آخره یې حتی خپل کور هم پیدا نه کړی، تر اوسه په کرایه کور کي اوسېږي. د سهراب سترګي سرې سوې، په قهر سره یې وویل: څه دا دئ اوس ابدي کور ته ځي، دا بې قدره خلګو د ده قدر او ارزښت نه درلودی.

حملې زیاتېدې، نږدې کېدې او دوی یوازې دفاعي ډزي کولې، غرمه ماپښېن سوه، ماپښین ماځېګر سو او ماځیګر ماښام سو، سهراب له جنرال وروسته ټول مشرتوب پر غاړه درلودلی، له ماښام وروسته چي یې سرتیري شمار کړل له یو سلو شلو فقط دو اتیا تنه پاته وه، له زمریالي خان او رامین سره تر مشورې وروسته یې موټرونه پرېښودل او په پښو روان سول، یوه یوه دفاعي ډز یې کوله او لاره یې ایستله، شپه کرار کرار پخېدل او دوی همداسي روان وه.

د شپې درې بجې وې چي دوی د کلي منځ ته ورسېدل، د یوه کور دروازه یې وټکول یو سپین ږیری راووتی، سهراب په ډېر احترام ورته وویل: کاکا! سرتیري یو، لږ اوبه او ډوډۍ که راکړې!

بوډا ورته وویل: میلمه خو پر موږ افغانانو نه غمیږي؛ خو دې جنګو موږ

(c) ketabton.com: The Digital Library



سخت بې فرهنګه کړو، اوس به له تاسي څخه وروسته بل بیرغ والا سرتیري راځي، بیا به مو هغه په عذابوي، تاسي کښېنی زه چاره درکوم. وروسته یې ژغ کړه: ګلمیره! منډه کړه، اوبه او ډوډۍ راوړه. په دې وخت کي څو زلمیان راغله اوبه او له شاوخوا کورونو څخه یې ډوډۍ او شلومبې راټولي کړې.

بوډا سهراب ته وکتل ویې ویل: یاره! ښه ځوان یې، مګر دې جګړو څه د مرګ ککرۍ وخوړې، دغه زما د څنګ همسایه په عسکرو کي مړ سو او د د مخامخ کور والا بیا په طالبانو کي وو، هلته مړ سو، مګر دواړه کوره د یو او بل فاتحې ته ورغلي وه. سهراب بابا ته وکتل او ویې ویل: بابا! ته څه فکر کوې چي څوک پر حق دي؟

بابا سوړ اسوېلی ویستی ویې ویل: حق خو نوم د خدای (ج) دئ، هغه ته به ورمعلوم وي چي څوک پر حق دئ، مګر زه چي وینم دلته همېشه زور او توپک پر حق دی هغه چي له هر چا سره وي، زما اویا کاله عمر دئ، په دې اویا کاله کي مي ملامت سړی ونه لیدی، ټوله ښه خلګ دي، مګر بیا مو هم ژوند د سپو دئ. پردي توپکونه دي خپل سرونه په نیستي کوو، ځوانان سره وژنو.

سهراب ورته وویل: نو ستا مطلب دا دئ چي موږ هم پر ناحقه یو، چي قانون، حکومت او هر څه سته؟

بابا ورته وکتل ویې ویل: یا! زما مطلب دا دئ چي هره ډله ځان ته دلیل لري، مګر مخامخ نه سره کښېني او د نورو په زور غورځي.

سهراب یې بیا خبره ونیول: نو ته وایې چي موږ هم د بل په زور غورځو؟

بابا وخندل او ویې ویل: تاسي دا محال په کلي کي څه کوئ؟

سهراب وویل: د مرکز خوا ته ځو.

بابا وویل: ولې؟

سهراب وویل: د مرکز امر دئ.

بابا وویل: د مرکز امر خپل دئ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



سهراب چورت یووړی او د جنرال خبري ور یاد سوې، چي د مرکز امر دئ، دلیل یې نه دئ معلوم. سهراب دفعتًا پوښتنه وکړه: بابا! لوستی هم نه معلومېږې، مگر په دې شیانو څه خبر یې؟

بابا ورته وویل: بچیه! یو ویشتمه پېړۍ ده، رادیوگانو او تلویزونو د خلگو په جېبونو کي دي، هیڅ شی له چا څخه نه دئ پټ، ستاسي د پرون ورځي ویدیو لا ما نن سهار ولیده، چي د جگړې د صحنې څخه یې مستقیم اخیستې وه.

سهراب وپوښتل: ستا په فکر چي هر څوک خبر دي نو مشکل چیري دئ، ولي نه سره جوړیږي؟

بابا وویل: گوره ځوانه! روسان راغلل، امریکا په پاکستان کي خلگ ورته کښېنول، مات یې کړه، بیا بله ډله راغله وطن یې وپاشئ، بیا طالبان راغلل، آخر پاکستان په گډه سو، بیا امریکا له داغه پاکستان سره لاس یو کړ، بیرته یې پخواني راوستل، بیا طالبان په پاکستان کي ورته پټ سول، امریکا افغانستان ته راغلل او بیا روسانو امریکا ته د سر په کاسه کي اوبه ورکړې، دا خو ټوله زموږ د سترگو لاندي تیریږي، مگر موږ ټوله په دې اخته یو چي د لږ لوی د وخت غلامان سو، تر اوسه خپله سره کښېنو.

په دې وخت کي په مخابرو کي ږغ وسو چي دښمن دوی ته نږدې سوی دئ. سهراب د بابا لاسونه مچ کړل ویل یې: خدای (ج) دي امن کړي. بابا پر ملا وټکاوه ویې ویل: امن د خدای (ج) په مرسته خلگ راوستلای سي، مگر که خلگ امن نه غواړي خدای (ج) یې خپله نه راولي.

له دې سره ډزي شروع سوې او دوی د کلي په منځ کي محاصره سول، سرتیري ستړي وه، پرون ټوله ورځ جگړه او نن ټوله شپه حرکت مخ ته نه سوای تللای، همدلته سره خزه سول، جگړه ساعت په ساعت تېزېدله، د سهار لسو بجو ته چي سهراب وکتل، یوازي څوارلس پنځلس کسه ژوندي او زخمیان پاته وه، دوی یې همداسي په دفاعي جگړه کي بوخت وساتل، سهراب څو ځله مرکز ته مخابره وکړه، مگر یوازي یو جواب هغه یې هم کله کله ترلاسه کوی چي جگړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



مه کوئ، مخ د مرکز پر خوا راسئ.

سهراب لکه زخمي زمری وغورېدی، مگر هیڅ یې نه سوای کولای، شپه پخه سوه، د کلي په منځ کي، چیري چي دوی سنگر نیولی وو، د دوو کوڅو څلور لاري وې، سهراب د دکان مخ ته سنگر نیولی وو، چي د جنگ له زوره د پرون راهیسي تږلی وو. رامین یوه کوڅه نیولې وه او زمریالي خان بله، نور سرتیري هم شاوخوا پراته وه او خال خال ډزي یې کولې.

رامین سهراب ته په زوره وربږغ کړه: قومندانه! ژوندی یې؟

سهراب وویل: هو! دومره اسانه چیري ځان په وژنم. بیا یې په زوره وخندل.

رامین وویل: گوره! مړ نه سې چي په بله میاشت کي مي واده دئ، که ته نه یې اتڼ به څوک کوي.

سهراب په زوره زوره وخندل ویې ویل: اتڼ نه اتڼونه وغواړه. خو د دوی له خبرو څخه معلومېده چي خندا او خبري یې د مایوسۍ او د زړه له زوره دي، کنې په کوڅه کي پراته ویشتل سوي ملگري، بایللې نه؛ بلکي معمله سوې جگړه او نا معلومه سرنوشت دوی چیري مستۍ ته پرېښودل.

په دې وخت کي زمریالي خان وویل: سهراب خانه! له کندهاره کومک نه غواړو؟

رامین خان د سهراب پر ځای ژغ کړه: ولاکه دي بده کړې وي.

سهراب په مخابره کي ژغ کړه: میوند یو، میوند دوه، میوند یو میوند دوه. په مخابره کي یوازي بې مانا خبري کښته پورته کېدې، خو مطلب حاصل نه وو.

سهراب وویل: زمریالی خانه! مخابره جواب نه وایي یو شخصي چا ته زنگ ووهه.

زمریالي خان ډگروال نقیب الله کرزي ته ډېر زنگونه ووهل، خو تلیفون ته یې جواب نه ورکوی، بیا یې یوه بل ملگري ته زنگ وواهه، هغه له اوکې کولو سره سم وویل: کارونه خراب دي، زمریالي خان بږغ کړه: گلالیه! دا ډگروال ولي

(c) ketabton.com: The Digital Library



تليفون نه پورته کوي، چيري ورک ياست؟

گلالي وسونګېدی ويې ويل: ډګروال پرون په بولدک کي شهيد سو، يو هندی ژورناليست هم ورسره وو، عامو خلګو چي وليدل چي موټر يې ويشتل سوی، د موټر اشترينګ يې لا غلا کړی او دوی دوې ورځي پر سړک پراته وه، چا يو پټو هم نه پر واچوی، دا ملت په هيڅ شي هم نه ارزي. له دې سره درز سو د زمريالي خان او د هغه د تليفون اواز دواړه ورک سول، يوې درنې د راکټ ګولۍ زمريالی خان ټوټه ټوټه کړی.

رامين چغه کړه ويې ويل: کيسه بيخي لاس په لستوڼي سوه، زه به دوی مصروف کړم تاسي ووځئ.

سهراب وويل: رامينه! ستا بله مياشت واده دئ، ځان وباسه زه دوی مصروف ساتم.

رامين وويل: ګوره! زما لا واده نه دئ سوی ستا هغه نازدانه زوی مه يتيموه، ځان وباسه.

سهراب وويل: زما زوی د وطن تر نورو زامنو زيات نه دئ.

له دې سره ډزي تيزي سوې، د شپې تر څلورو بجو پوري يوه دقيقه هم ډزي نه دي درېدلي، سهار تر لمر ختو مخکي ډزي ارامي سوې.

لمر تازه راختلی وو، يو ډنګر وچ طالب له قهره ډکي سترګي د تيري شپې پر مړو ګرځېدی، ټول سرتيري شهيدان وه او شاوخوا پراته د ټولو عمرونه له دوويشتو څخه تر څلوېښتو کلونو پوري وه.

يو ساعت وروسته يو بل هم راورسېدی، چي قومندان او نور ملګري يې هم ورسره وه، په ډله کي يو نوراني مخی د پاخه عمر سړی هم ورسره وو، هغه په وارخطايي او خفګان سره وويل: پها دا خو مو ټول وژلي دي، فضل دي وسه خدايه! دا څه حال دئ. قومندان وويل: ملا حبيب الله خانه! جنګ دئ، حلوا نه وېشل کيږي. د خپلي خبري په توندۍ پوه سوه، بيرته يې خبره نرمه کړه او ويې ويل: بله چاره مو نه درلوده ملا صاحب!

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه لږ په قهر سره وویل: خو تسلیمولای به مو، ټول محاصره وه.

له دې خبري څخه معلومېده چي د ملا رتبه تر قومندان لوړه وه. ملا ورمخ ته سو، هر څه ته یې حیران کتل، ویې ویل: څه ښې ځوانی یې دي. له ځان سره به یې چوک وکړی.

ځوانانو طالبانو ملا ته بد بد کتل او سترګي یې له قهره ډکي وې. وروسته قومندان وویل: دغه څلور یې تر نورو هم سخت مرګي وه. ملا هغه څلورو ته ودرېدی، یوه ځوان طالب ته یې وویل: ته د دغه ځوان جیبونه وګوره! هغه په ډار ورمخ ته سو، قومندان په قهر ورته وویل: نه دي خوري مړ دئ. له جېب څخه یې څو کاغذه او یو عکس راوکښل، په عکس کي یو ښائسته ځوان په هرتیۍ غاړه کي د یوې ښائستې ښځي څنګ ته ولاړ وو او یو ښائسته کوچنی یې په غېږ کي وو، ملا یې تذکره په زوره وویل: سهراب، ولایت هرات، قوم تاجک، ژبه فارسي، دنده د کماندو افسر. ملا چي تذکره ایسته کړه یو کوچنی یاسین شریف وو، د ملا صاحب سترګي راډکي سوې، کوچني طالب ته یې وویل: د ټولو په خولیو او لاسونو الله (ج) او پر اوږو یې کلمه ده احتیاط ورسره وکړئ.

دوهم کس ته ودرېدی، چي په راکټ ویشتل سوی وو، پر منځ دوه ځایه سوی وو، د سینې لوړ جېب چي یې ورخلاص کړی، یاسین شریف اول پروت وو نیم سوځلی وو، بیا یې تذکره وه: نوم مزیالی خان، ولایت کندهار، قوم پښتون، ژبه پښتو.

بیا مخ ته راغلی یو د لویي ږیري سرتیري ته ودرېدی، ویې ویل: سبحان الله د دې څه پر سنتو برابره ږیره ده، له جېب څخه یې شیان راوایستل، کوچنی جیبي قرآن شریف، چي مرمۍ وهلی وو، د ږیري ږمونځ او هنداره، په تذکره کي یې لیکلي وه: حافظ منیر، ولایت شبرغان، قوم ازبک، ژبه ازبکي.

د ملا نوره حوصله ختمه سوه سم په ژړا سو، ویې ویل: خدایه! موږ دي په کوم امتحان اخته کړي یو، دا چي دوی وایي چي کفار ورسره دي، دا خو ټول

(c) ketabton.com: The Digital Library



درواغ دي، دا به موږ تر کومه یو وبل وژنو، همداسي په ژړا کي د سهراب څنګ ته کښېنستی، سهراب همداسي وانګي ځانګي ژړ پروت وو، تلیفون ته یې پرله پسې زنګونه راروان وه، ملا چي ورته وکتل له درې سرو زړونه سره (ذي جانم) لیکل سوي وه او د تلیفون پر سکرین د درو تنو عکسونه ځوان هلک، ځوانه انجلۍ او کوچني هلک د تور، سور او زرغون بیرغ مخ ته تلل او راتلل.

ځوان طالب بږغ کړه: قومندان صاحب! ټول مي شمار کړل، له پرون او نن سره ټول یو سلو شل کسه مردار سوي دي.

ملا په قهر چغه کړه: اې د سپي زویه! مردار مه وایه، دا ټول کلمه ګویه دي. کوچني طالبانو یو وبل ته کتل او ټولو فکر کوی چي ملا لېونی سوی دئ. قومندان په مخابره کي بږغ کړه: ابو دوجانه! سقوط روان دئ، موږ دا ځای پاک کړی، ټولو ناره یې تکبیر الله اکبر ووایه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د طوفان تور سیوری

د کور مالک له وختونو څخه په زرمينې پسي بده سترګه وړل، د هغې مېړه د اردو افسر وو او ډېر وخت به په وظيفه کي وو او کور ته به لږ راتلی، د دوی کور د ښار په يوه ارزانه ځای کي کرايه کړی وو.

زرمينې خپلي زده کړي په کابل پوهنتون کي کړي وې، نصيب يې د خپل خاله له زوی سره سوی وو، د هغه په نوم وه دې ته چنداني مهمه موضوع هم نه وه، ځکه چي خوښ يې هم وو، مګر نوموړې په دې وياړېدله چي مېړه يې سرتېری دئ، وطن ساتي، افتخار يې په کاوه او ډېر به يې تشويقوی.

مګر له هغې ورځي راهيسي، چي له ملګري سره يې تللې وه، چي د شهيد سوي مېړه اکراميه يې واخلي، نور مځکي ځای نه ورکوی او سخته تشويشي وه، نرګس د دې ملګرې وه او مېړه يې د پوليسو صاحب منسب وو، څو ورځي مخ ته د يوې حملې په جريان کي، په مخامخ جګړه کي شهيد سوی وو، کله چي دا له نرګس سره د هغې د مېړه د اکرامېې د اختسلو له پاره ولاړه، د هغې شعبې مامور اول دواړي ښه له سر څخه تر نوکه وکتلې، بيا يې وخندل ويې ويل: ولي نه، ولي نه! ستاسي غم خو زه خامخا خورم، څه شي درته راوغواړم، ښه يخي انرجياني که چای؟

نرګس په سلګو کي ورته ويلي وه چي ته فقط زموږ کار راخلاص کړه! چي د کور د درو مياشتو کرايه او د کوځې د دکان پور ورکړو.

مامور ورته ويلي وه: زوروري! ته يې غم مه خوره، زه خو لا ژوندی يم، که هغه نه سته زه به دي هر څه درسم کړم؛ خو مشکل دا دئ چي دا زما کمپيوټر

(c) ketabton.com: The Digital Library



نن سم نه دئ، تاسي سبا راسئ، حتمًا مو زه کار در خلاصوم.

له دفتر څخه چي وتل نرگس زرمينې ته ويلي وه: ښه سړی وو. ښکلي
خو زرمينه له اوله د هغه په کتو پوه سوې وه، چي دا ښه سړيتوب يې بې څه نه دئ.

دوی سبا بيا ورغلې، سبا بيا هغه په دې وځنډولې چي ستاسي په مکتوب کي يو اشتباه سته، سبا به بل مکتوب راسي، دوی ته به هر څه سم کړي، بيا يې څو کښته پورته خبري وکړې او په کنايي يې وويل: تاسي چي زما په درد ونه خورئ او زه ستاسي په درد، نو بيا دا دنيا کله چلېږي.

دوی چي سبا بيا ورغلې رئيس وخته ورته منتظر وو، ځان يې غوړ پړ کړی وو، د عطرو بوی يې ټول دفتر نيولی وو، له راتگ سره سم يې خپل کاريگر ته ويلي وه چي دوی د شا دفتر ته بوځه.

کله چي دوی د شا دفتر ته ولاړل، هلته داسي يو حالت وو تا به فکر کاوه چي يو چا ته ډوډۍ سوې ده، د شيدو چای، کباب او درې نفرو ته هر څه تيار وه، څو دقيقې وروسته رئيس هم راغلی ويې ويل: نان ناخورده، جنگ نه ميشه، بيا خيله خيله کېدی، دوی ته يې ويل: درواخلئ!

دوی ورته ويل: زموږ کار ښنگه سو، موږ ډوډۍ ته نه يو راغلي. رئيس بېله شرمه او مقدمې ويلي وه: تاسي ما خوشحاله کړئ، زه به تاسي خوشحاله کړم.

نرگس ويل: مطلب؟

رئيس ويل: مطلب څه مانا؟ زه هم ځوان يم ته هم ځوانه يې، سر خلاص کړه!

د نرگس نوره حوصله ونه سوه، مخ ته پروت گيلاس يې پورته کړی رئيس يې په وويشتی، ويې ويل: د سپي زو! زما مېړه سر پر وطن ورکړئ، ته يې ناموس ته لاس اچوې، دا ستا شرافت سو.

رئيس د مېز د سر زنگ ووهی، پوليس راغلل او دوی يې په ټېله له دفتره وايستل او داغه نارې يې وهلې: سر رئيس حمله کرده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



له دغي ورځي څخه د زرمينې له نظام، حکومت، وطن او هر څه څخه کرکه کېده او خپل مېړه ته سخته تشويشي وه.

دا تشويش يې هغه وخت ډېر سو کله چي د مېړه تنخوا يې وځنډېدله، د کوڅې دکاندار هم نور قرض نه ورکوی، ورته ويل يې چي د تيري مياشتي پيسې راوړه.

لومړی ځل وو چي زرميني نن خپل نازولي زوی ته د همسايه ګانو د کوچنيانو زاړه پرېولل سوي کالي ور اغوستلي وه، نن يې له سهار څخه خوابنې هيڅ ښه نه وه، ډوبه ډوبه تله، دې څو واره مېړه ته زنګ وهلی وو، مېړه يې ورته ويل: وضيعت لږ خراب دئ، د درو مياشتو ځنډېدلی معاش به نن او سبا کي راکوي.

خو نن له سهاره د سرای مالک درې ځله راغلی وو او د دوو مياشتو کرايه يې غوښته، بيا به يې په منځ کي يوه خارجنه خبره وکړه چي که کرايه نه سې راکولای، نور سر خلاص کړه، خير دئ ګذاره به وکړو.

د دې له سهاره پر اروا بدي خبري اورېدلې، ذهن ته يې بد بد فکرونه راتلل، نه پوهېدل چي څه پيښيږي. څومه ورځ وه چي د مېړه احوال يې نه وو، تليفون يې هم کار نه کوی. د غرمې خوا به وه چي په کوڅه کي د امبولانس ږغ سو، د دې وار خطا سو، امبولانس رانږدې کېدی رانږدې کېدی او د دوی د کور مخ ته ودرېدی، وروسته يو چا دروازه وټکوله او ږغ وسو: لار پرېږدئ! چي جنازه دننه دروړو. زرمينه نور په ځان پوه نه سوه.

په تلوېزون کي خبر خپرېدئ چي د مزار په يوه قول اردو کي، تر يو سلو پنځوسو زيات افسران، د لمانځه د ادا پر وخت په شهادت ورسېدل.

د سقوط بلا همداسي روانه وه او خپله ناولې ساه يې کښله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د طوفان اوج

بهرام د شبرغان له افغان ترک ښځه فارغه سو، په کانکور کي د پلار په ټینګار د کابل طب ته کامیابه سو، خو د ده له ماشومتوبه له اردو او نظامي ژوند سره جوړه وه، پلار یې هر څه خواری کولې د دې له پاره چي دی خپل طب ووایي، مګر ده هره ورځ نوي نوي بهانې کولې، بالاخره دوه کاله یې طب ووایه، یوه ورځ چي یې کټل بهرام په کور کي وو او وچ وجوړېدی چي زه ملي اردو ته ځم. پلار یې مجاهد ټیپه سړی وو، ورته ویې ویل: زویه! دا اردو جنګیږي، یا به څوک وژني یا به دي څوک وژني.

ده ورته وویل: ګوره بابا جانه! تا شل کاله جهاد د دې وطن له پاره ونه کړی؟

پلار یې ورته وویل: هغه د وطن او اسلام مسئله وه.

ده وویل: وطن هغه وطن دئ او اسلام هم هغه اسلام دئ، تر څو وطن قوي اردو ونه لري، نه وطن جوړیږي او نه اسلام ساتل کیږي، دا که ته هم خپل زوی نه پرېږدې، بل یې هم نه پرېږدي، نو اسلام او وطن مو دواړه د خدای (ج) کرم ته پرېښودل؟

پلار یې ورته وویل: د دوی تمویل کفار کوي.

بهرام وویل: ګوره پلاره! دا یویشتمه پېړۍ ده د خلګو تمویلونه اوس د ګټو پر اساس دي او تقریبًا د یوې تجارتي معملې په توګه ده، چي زه خپله ګټه کوم دی خپله، داسي نه ده چي کیسه یو طرفه ده، آیا! اسلام هم عیني معملات نه کول، تړونونه له کفارو سره نه دي سوي؟

پلار یې بیا وویل: نو د دې خلګو وژل څنګه کیږي؟

بهرام وویل: ګوره پلاره! خدای (ج) فرمایلي چي انسان تر خپله وسه پړ

(c) ketabton.com: The Digital Library



دئ، زه تر هغو چي يو حيوان لا ژغورلای سم ژغورم يې، انسان خو لا لېري خبره ده، خپله کوښښ کوم.

پلار يې وويل: نو دا فساد څنګه کيږي دا رتبې چي خرڅيږي، ته په دې خبر يې؟

بهرام بيا وويل: ګوره بابا جانه! په دې ملک کي که پاک او سپېڅلي خلګ وي، هغه به اردو وي، البته! کښته طبقو کي يې (يعني سرتيري)، څکه دوی پوليس نه دي چي خلګ په عذاب کړي او نه هم بله اداره والا دي چي له خلګو سره يې سر وکار دئ، موږ يوازي د مځکي بشپړتيا او د هيواد عمومي جګړې ته ساتل کېږو، په جنګونو او جرائمو کي موږ نه يو، نو موږ ته د غلا هيڅ زمينه مساعده نه ده، پاته سوه د لوړ پوړو خبره د هغو د اصلاح له پاره به ورګډېږو چي ليري يې کړو، چي وياله پاکوې بايد ورکښته سې.

پلار يې په زړه کي د خپل زوی پر پوهه سخت خوشحاله سو، ويې ويل: ښه نو چي نه پاتېږې، څه خدای (ج) دي مل سه، زما دعا درسره ده.

بالاخره بهرام ملي اردو ته ثبت نام وکړی، له تمريناتو وروسته يې له څلويښتو نورو نفرو سره د مزار فرقې ته سوق کړل، بهرام ډېر يو اجتماعي ځوان وو، په اوله ورځ يې ياران او انډولان پيدا کړل، خو دوه ياران يې تر نورو خاص وه او ټوله ورځ د دوی بحثونو او ټوکو ته ټوله ډلګۍ ناسته وه.

نصير احمد او طاريق د بهرام خاص ياران وه، زړګی د هلمند د ناوې وو، ښائسته ځواني خدای (ج) ورکړې وه، اصلي نوم يې نصير احمد وو، خو په زړګي مشهوره سوی وو. د دې کيسه داسي وه چي نصير احمد او طاريق په ټرنينګ کي سره ياران سوي وه، يو او بل ته يې خپلي ټولي کيسې کړي وې.

نصير احمد د خپلو پنځو خويندو يواځنی ورور وو او هغو دی له نازه زړګی بللی، دی اردو ته هم له مجبوريته راغلی وو، څکه د کار بل څوک يې نه درلودل، نو دوی ټولو به هر وخت ډېر هم نازوه او هم به يې د خوږ له ځايه کاته، څکه پوهېدل چي کورنۍ په مېراتيږي، نو نصير په دې زړګی وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



او د طاريق دا هم تقريبًا عيني کيسه وه، د هغه پلار بيا له روسانو سره په جهاد کي شهيد سوی وو، دی د مور يو زوی وو، نو د کلي خلګو دی د کونډې زوی بلی، دوی دوه له خپله تقديره ناراضه، يا هغه د چا خبره په درد يو داسي کلک سره ياران وه، چي ټوله فکر کوی چي ورونه دي.

لنډه دا چي د بهرام، نصير او طاريق يارانه خورا مشهوره وه، د اردو يوازيني خلګ وه چي له سياست او سياستوالو سره يې کار نه وو، يوازي تر خپل فوج او خلګو محدود وه. طاريق او نصير چي به له کوره زنګ راتلی، چورتي به وه، د بهرام زړه کوچنی وو، چي له شبرغان څخه زنګونه راشروع سول د دوی اوازونه سره پورته سول او د بهرام مايوسوونکي خبري دننه را شروع سوې، هغه ورځ خبره ډېره ګرمه سوه چي د فرقې مشر بيانيه ورکړه او ويې ويل: اردو همېشه د سياستونو قرباني وو، نور موږ څوک نه پرېږدو چي اردو انحلال کړي، موږ به واک خپل په لاس کي واخلو، خو څوک د اردو منحلولو ته پرې نږدو. له دغه خبري او بيانيې وروسته په فرقه کي کيسې تر پخوا ډېري احساساتي وې او هر چا به ويل: اردو انحلال ته نه پرېږدو، يو ځل خو د فرقې د مشر د تبديلۍ مکتوب هم راغلی، خو د فرقې اتفاق هغه بيرته راوګرځوی، له دغي پيښي وروسته ځيني کسان هم فرقې ته راوستل سول، چنداني به له نورو سره نه کښېنستل، ځان به يې ګوښه ګوښه کوی، ټول شکمن وه چي دا نوي کسان ولي داسي دي.

يوه ورځ بهرام، نصير او طاريق يو ځای سره ناست وه، نصير چورت وړی وو، طاريق ورته وويل: زړګيه! چيري چورتو وړی يې، څه د نيکه باچاهي دي چپه سوې ده؟

نصير ډېر حاضر جوابه وو، ويې ويل: هغه خو تاسي هغه وخت راچپه کړه چي ترکی مو راوستئ، مګر اوس بل شي تشويشي کړی يم، خو زموږ او ستاسي تر منځ دي وي، زه چي دې نوي راغلي خلګو ته ګورم، پر سور نه رامعلومېږي، دا نفوذي وژني خورا ډېري سوي دي، زموږ فرقه يوازنۍ فرقه ده، چي ټول قومونو او هره ژبه پکښې ده او سخت اتفاق پکښې دئ، د فرقې مشر مو هم چنداني ډېر لړلی سړی نه دئ، د هغه بيانيې وروسته دفعتًا د مکتوب راتګ او بيا

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دې خلگو راتگ ما ته شکونه را اچوي، تاسي څه فکر کوئ؟

بهرام وويل: زه خو نظامي فکره سړی يم، بل شي ته مي سم پام نه وي؛ خو خبري دي بې منطقه نه دي.

طاريق ويل: ما تېره ورځ وليدل ټوله يو ځای په مسجد کي ناست وه، چي زه ور ننوتم ټول سره وپاشل سول.

بيا دوی صلاح وکړه چي وبه يې څارو، نصير وويل: زه خپل د ملکی چم ورسره کوم، تاسي مازي ورته گورئ!

بله ورځ چي ټول بهر راټول وه، له نوو راغلو کسانو څخه يو يې هم ولاړ وو، نصير بهرام ته سترگه ووهل، بيا يې له هغه کس څخه پوښتنه وکړه: د کاکا زو! د کوم ځای يې؟

هغه وويل: د هلمند يم.

ده ورته وويل: نه به يې، خو زه هم د هلمند يم، د هلمند د کوم ځای يې؟

هغه وويل: د واشېر.

ده ويل: بيا خو نو مجاهد يې. له دې سره يې وخندل، (هدف يې قصداً دا وو چي دوی احساساتي کړي او خبري په وکړي)، هغه د خندا پر ځای په قهر سو، ويې ويل: مجاهد کېدل اسانه نه دي، غټ ايمان غواړي، جهاد فرض دئ، دا چي موږ ځان ځني کښلی دئ، دا بېله کيسه ده. طاريق پوه سو چي گډوډي جوړه نه سي، په زوره يې ناره کړه: واه! څه ښه زېری، د لغمان شمشاد قطعې اووه سوه د ملي اردو سرتيري چي اووه مياشتي محاصره وه، کمنډويي ځواکونو يې محاصره ماته کړه، د مرکز پر لور وخوځېدل، جالبه لا دا ده چي څو تنه يې په دا درو مياشتو کي د قرآن شريف حافظان سوي هم دي.

نصير بيا وويل: دا څه مانا لري چي د مرکز پر لور وخوځېدل، نو هغه منطقه يې ايله کړل؟، په دې کي حتمًا يو چل سته. طاريق هر شي ته لنډ کتل و يې ويل: د سياسي زو! تا بيا سياست شروع کړی، اووه سوه تنه خلاص سول، دا غټه

(c) ketabton.com: The Digital Library



خبره ده.

نصیر وویل: د سرتیري ځای یا قبر یا سنگر دئ، خلاصېدل یې یا تېښته ده یا ماته او یا بې غیرتي. هغه کس چي مخکي یې د جهاد خبري کولې، وغمبېدی ویل: څوک چي د خدای (ج) پر لاره نه ځي هغه به ټول تبنتي او بې غیرتي به کوي. او روان سو.

بهرام او طاریق له نصیر سره په منډه خپل کاشوغ ته راغلل، نصیر وویل: حتمًا باید د استخباراتو شعبه خبره کړو، دا خلگ نفوذیان دي. د فرقې مشر په رخصتي تللی وو، دوی د معاوین اطاق ته ورغلل، هغه ورته وویل: بچه ها پشت ای گپار نگردین برین سر وظیفه.

دوی داسي حس کړه لکه هغه چي خبر وي.

بیا د استخباراتو شعبې ته ورغلل، هلته هیڅوک نه وه. لنډه دا چي هیڅوک یې نه کړل پیدا، نو بهرام وویل: زه په مرکز کي یو څوک پېژنم، هغه ته زنگ وهم. هغه ته یې زنگ وواهه، وروسته یې وویل: استخباراتو ته احوال ورکوي.

نیم ساعت وروسته یې بیرته زنگ راوواهه ویې ویل: خپله عسکري کوئ په هر غار سر مه چیخئ. دوی مایوسه سول، خو بیا هم په هغو خلگو یې پام وو.

نن د جمعې ورځ وه، اکثرو عسکرو د جمعې د لمانځه تیاری نیولی وو او ټول مسجد ته راتلل، بهرام د ټولو دمخه مسجد ته راغلی، مسجد له عسکرو ډک وو، لس دوولس نفره قرآن شریف ته ناست وه، ځیني پر سنتو ولاړ وه. د دوی د مسجد خطیب په قرائت کي د هیواد په سطحه دوهم قاري وو، ډېر فصیح او بلیغ عالم هم وو؛ خو د فوج یو سرتېری هم وو، هغه ممبر ته وختی، غاړه یې تازه کړه او پیل یې له اطیع الله واطیع الرسول والامر منکم څخه وکړی او خبره یې دا وه چي په یویشتمه پېړۍ کي تر ټولو مهمه مسئله د دولتونو بقاء ده، چي موږ او تاسي عملاً د دغه عظیم جهاد د برخي یو او قرآن شریف کي امر دئ چي بنده تر خپله وسه پر بولي. موږ له نړۍوالو سره اړیکي لرو؛ خو د خپلو گټو پر اساس معلومه ده چي هغوی به هم خپلي گټي لري؛ مگر په اسلام کي د انسان مکلفیت

(c) ketabton.com: The Digital Library



تر توانه ویل سوی، زموږ توان اوس همدومره دئ.

په دې وخت کي بهرام ولیدل چي یو څوک په خصوصي کالو کي له وسلې سره مسجد ته ننوتی، بهرام چي ورته وکتل د نوو راغلو کسانو څخه وو، دا ورته جالبه وه چي د فرقې دننه بیا په مسجد کي اسلحه څه مانا لري، معمولاً دوی له وظیفې وروسته وسلې سلاح کوټ ته، چي د فرقي په اداري برخه کي دئ، سپارلې، دننه یوازي له ګذمه کوونکو او موظیفو کسانو څخه وسلې وې.

بهرام احتیاطاً تلواري بهر ووتئ، ویې لیدل چي طاریق او نصیر په بله دروازه مسجد ته ننوتلي دي، په منډه د سلاح کوټ خوا ته ولاړئ، له ځان سره یې په لاره کي دوه درې کسان نور هم ملګري کړل؛ مګر هغه لاره چي د اوسېدو ځایونه یې له اداري برخي څخه بیله کړي وه بنده وه، د بهرام شک په یقین بدلېدی چي یو څه پېښیږي، په منډه له یوې بلي خوا د نوکریوالانو پر خوا ورغلی، په نوکریوالي کي هیڅوک نه وه، داسي معلومېده لکه اداري برخه او لوړ پوړي هیڅوک چي نه وي.

په دې وخت کي یې د مسجد له دننه څخه ډزي او ټکان واورېدل، بېله فکره یې سلاکوټ ته وروځغستل، هغه هم قلف وو، هره لاره پر ودرېدل او بیرته یې د طاریق او نصیر په خاطر مسجد ته ور منډه کړه، کله چي مسجد ته ننوتی څو تنه یې ولیدل چي پرله پسې پر لمانځه ولاړو او نورو باندي ډزي کوي، د ډزو کوونکو ده ته شا وه او مخامخ یې طاریق او نصیر ولاړ وه، بهرام د شا له خوا ورحمله کړه، چي اوس یې هغه چپه کوی، ناڅاپه د شا له خوا بل وسلوال راغلی او بهرام یې ضربه کړی، نصیر په ځغاسته د هغه توپک حمله کړی او هغه د شا کس یې وویشتی، طاریق هغه بې درېغه په سوکونو واهه، په دې وخت کي درنه چاودنه وسوه، نصیر له توپک سره د هوا څپې تر کلکین دباندي وغورځوی.

نصیر له هم هغه شاجور سره له کلکین څخه نښه ونیول، یو وسله وال کس یې ووشتی، خو ډزي لا رواني وې، انسانان د خدای (ج) په کور کي داسي

(c) ketabton.com: The Digital Library



لوېدل لکه پاڼي، طاريق شاجور وکتی، فقط اووه مرمۍ پاته وې، درې ډزې يې نوري وکړې، يو دم يې شاته د بوټونو ړغ سو، يو دم يې توپک ور وگرځوی، خو چي ويې کتل د فرقې معاوين او د سلاکوټ مسول توپنچې په لاس ولاړ دي، دی خوشحاله سو او ويې وويل: معاوين صاحب! کومک وکړه! ټول يې ووژل.

معاوين د دې پر ځای چي د مسجد دننه وسلوال وولي، نصير يې پر لاس وويشتی، د نصير له لاس څخه توپک ولوېدی، د سلاکوټ مشر په يوه منډه توپک څني حمله کړی، معاوين تر کلکين دننه وکتل، وسلوال پر سرتېرو گرځېدل، يو يو يې کتی چي ژوندی خو به نه وي پاته.

معاوين دننه وسلوالو ته ورژغ کړه: نفر اول مه معاوين استم نفر اخير که اندواليت کشتن پيش مه است دا خل ميارميش. وروسته يې نصير په ټېله دننه کړی، نصير هېښ پېښ پاته وو، د فرقې قوندان په ماته ماته ژبه د وسلوالو مشر ته وويل: زما امکانات خو انتقال سوي دي؟

هغو ورته وويل: هو! په فلانکي ځای کي په يو بېک کي پراته دي. په دې وخت کي نصير په زخمي حالت کي معاوين ته وويل: يعني ته له دې کيسې څخه خبر وې؟

معاوين په پسخند سره وويل: ای شعا جنرالي ومعاوينې خو مفت نيست، امکانات مي خواهد. نصير چي ځان جوړ کړی، چي معاوين ته ورحمله کړي، سلاکوټ والا د شا له خوا وويشتی، نصير پر مځکه ولوېدی او معاوين په خپله توپنچه دو ډزه نور پر سر وويشتی او ښکنځل يې وکړل ويې ويل: شما اوغان غول هيچ انسان نشدين.

يوه وسلوال، چي سرتې يې کتل، وويل: ټول مړه دي.

قوموندان وويل: څو نفره به وي؟

وسلوال وويل: يو نيم سل مي حساب کړل نور مي په وسه نه وه. معاوين او د سلاکوټ مشر په ځغاسته تر مسجد ووتل او وسلوال ټوله پر بله دروازه وتښتېدل.

معاوين د دروازې په خوله کي د سلاکوټ مشر ته وويل: يوه مرمۍ مي پر اوږه ووله او يوه مرمۍ مي پر پښه ووله. هغه د توپنچې دوې ډزې پر وکړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د سلاکوټ مشر چي ځان ښوراوه، معاوين درې مرمۍ پر سر وويشتی، سپک ښکنځل يې وکړل ويې ويل: تو بی ناموس از من ونډ می خواستی، امک تو سر خود ثبوت نمی مانه.

۞۞۞

د طاريق مور تلوېزون ته ناسته وه او خبرونه يې اورېدل، بېړنی خبر تېر سو، د دې زړه ولړزېدی، لنډ وليکل سول چي په دحه کي د مذاکراتو ليست اعلان سو.

د طاريق نيکه، چي د شاه د وخت متقاعد ډگروال وو، ورو ورو له ځان سره لگيا سو ويې ويل: په ټېکه دارانو او ماشومانو که جوړېدای، ولي به دا حال وای، دلته اوس د ملت نماينده څوک سو؟

بيا تقريبًا يو نيم ساعت پر دې عاجل خبر د گوندونو، قومندانانو او وکيلانو نانداري وې، يوه ويل چي زما برخه نه سته بل ويل چي زما برخه نه سته.

د طاريق نيکه د طاريق مور ته مخ کړئ ويې ويل: دا ميدان له دوی څخه طالبانو وړی دئ، هغوی به يې سبا ورځ په قطار کي ولاړ وي، دوی د پوهي او ډيموکراسۍ دعوې هم کوي، مگر هيڅوک د ملت او دولت خبره نه کوي، ټول د گوند د ډلي او قوم خبره کوي.

له اړدو خبرو وروسته نطاق وويل: د معمول په څېر نن يو بد خبر دا هم دئ چي په مزاره کي په پامير قول اردو کي، شاوخوا دوه سوه تنه ملي اردو سرتيري په مرموز ډول وژل سوي دي. د طاريق نيکه وويل: خوله دي ماتيږي چي شهيدان وواېي، د طاريق مور يو ناڅاپه چغه کړه ويې ويل: آه! طاريق خو په همدې فرقه کي دئ. او ولوېده.

د دې لنډ خبر وروسته بيرته موضوع د دوحې پر ليست پېل سوه، د وطن د شهيدو بچيانو ياد يوازي کورنيو ته ورپاته سو او د طوفان بلا د سقوط پر لور يو بل گام واخيستی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د طوفان بل لوری

څوک په اسانه کور نه پرېږدي او غره ته نه خېژي، دا خبره احسان الله وکړه او بیا چورتونو یووړی، حافظ احمد الله ورته وویل: ښنګه احسان الله جانه! دا خبره دي تر څه پوري وکړه؟

احسان الله وویل: هسي را یاد مي سوه چي ښنګه مي خوږ او ارام ژوند پرېښووی او طالب سوم. حافظ یو ځل بیا د خپل لاس جوړ کړی سناپېر په دربین کي وکتل، ویې خندل ویې ویل: دوی هم پوه سوي دي، نور برج ته نه راخېژي، بیا یې احسان الله ته وویل: ته ښنګه طالب سوې، احسان الله له ځان سره وویل: نه سوم، بلکي طالب یې کړم.

زموږ کورونه او مځکي د روزګار په چهار چینو کي وه، سخت خوشحاله ژوند مو وو، زه به د دوولس دیارلس کالو وم چي پلار او اکا مي تصمیم ونیوی چي کندهار ته کډه کېږو، هلته مو د پلار او نیکه ځایونه دي، نور به هلته واړوو، دا هلکان مو ډېر دي هلته به سبقونه هم ووایي او کار او کسب به هم زده کړي.

نو هغه وو چي موږ کندهار ښار ته راکډه سوو، دلته مو ژوند کوی او سبقونه مو ویل، ښه مو ساعت تېر وو، وروڼو مي د بزازۍ دکانونه خلاص کړل او د اکا زامنو مي هم خپل کار وبار شروع کړی.

موږ به سهار مکتب ته تلو او له غرمې وروسته به مو د انګلیسي او کمپیوټر کورسونه ویل.

په دې وخت کي (بوو ګړز) هوایي اوان راغلی، د دوی تر سر تېر سو، په کورونو کي وموښتی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



احسان الله بیا خپل سقیل (پیکا) ته ورنږدې سو او مسلسل شاجور یې فیر کړئ.

لږ ها خوا ته گل احمد خپل نوي ملگري صالح محمد ته وویل: له شا څخه مي لیري سه! چي راکټ شا ته لمبه کوي، گړز سو له پوستې څخه دوړي پورته سوې، مگر په خاورو ډکو هیسکوگانو باندي راکټ چنداني تاثیر نه کوئ.

بیا خاموشي سوه، حافظ احمد الله وویل: ډیري مرمۍ مه مصرفوئ، مشران وایي یوازي د ضرورت په وخت کي ټکان وکړئ.

حافظ احمد الله ته لکه چي د احسان الله کیسې خوند ورکړی، یا یې غوښتل د دې نامعلومه انتظار شیبې لنډي کړي، احسان الله ته یې وویل: ښه نو بیا څه وسوه؟

احسان الله چي حواس یې پاشل سوي وه، وویل: څه شي بیا څه وسوه؟

حافظ احمد الله وخندل ویې ویل: ډارنه! دا زه اوس سبا تا ته فدایي جانکټ دراغوندم، ستا اوس دا حال دئ، ستا کیسه ښه یم څنگه سوه؟

احسان الله وویل: ښه ښه خو داسي ووایه، ته په جنگ کي زما څخه کیسې غواړې، نو زموږ خورا کار جوړ وو، له چا سره مو غرض نه وو، موږ هم شپږ ورونه وو، د اکا مي هم شپږ اولاده وه، بسته لښکر وو، د گرده کوڅې سترگه راڅخه کېده.

یوه شپه دربی او درزی سو، نارې سوې، زه له وراره گانو سره په خونه کي بیده وم، دوې درې چاودني وسوې، یو دم زموږ خوني ته درې څلور تنه له توپکو سره راننوتل، موږ ته یې توپکونه ونیول، ویې ویل: در ووځئ! موږ یې د سرای منځ ته راوستلو، د سرای په منځ کي شیان پراته وه، سوځل او ړنا یې جوړه کړې وه، سرای د عسکرو ډک وو، یوه نفر، چي مخابره یې په لاس کي وه، ښځي یې یوې خوا ته کړې او نارینه یې بلي خوا ته کړل یخ وو، کوچنیانو چغې وهلې.

په دې وخت کي مخابرې والا د ښځو خوا ته ورنږدې سو، چي مخونه یې وگوري، زما ځوان ورور چي تازه مو واده ورکړی وو، ورحمله کړه، شا ته ولاړ بل

(c) ketabton.com: The Digital Library



عسکر ضربه پر وکړه، هغه ځای پر ځای شهید سو، ښور یې نه دئ خوړلی، ناوي لویه چغه وکړه او پر وغورځېده او بې هوښه سوه.

عسکرو د ټولو نارینه وو لاسونه تر شا وتړل او چي تر لس کلن لوړ وه، د هغو په سرو یې توري کڅوڼي ور واغوستلې او موټرونو ته یې وروغورځولو، نور نو په ځان نه یم خبر سوی، یو وخت چي په هوښ کي راغلم، پر یخ سمیټ پروت وم، سر مي سخت درد کوئ، پوه سوم چي موټر ته د غورځېدو په وخت کي مي سر پر موټر وموښتئ او وربښتان مي د وینو د وچېدو له امله په وینو کي وچ سوي وه او زه بې هوښه سوی یم، له یخ څخه مي زامه رېږدېده، خو لاسونه مي شاته کلک تړل سوي وه او هیڅ شی مي نه لیدل، موږ پلار ته (غاغا) ویل، په زوره زوره مي چغي کړې: غاغا، غاغا. د پلا زهیر او کرار کرار اواز مي واورېدی ویې ویل: احسان الله ژاړه مه، الحمد الله او قل هو الله induced ووایه، سمېږې. ما الحمد الله او قل هو الله شروع کړه، په دې وخت کي مي د بوټو اوازونه تر غوږ سول، را نږدې سول او د دروازې د خلاصېدو اواز سو، وروسته یو چا وویل: صاحب! دا دي دا د مرداري زامن مي ټوله راوستل. د یو چا ږغ مي واورېدی ویې ویل: خه مو وکړه د دوی طائفه وغیم، دا کندهاریان ډېر مست دي، نر نه پکي پرېګدم.

موږ که څه هم د کندهار نه یو، خو زما د مشر ورور اواز مي واورېدی ول ستاسي نر توب مو ولیدی، لاس تړلي خلګو ته ښکنځل کوئ او بې ګناه خلګ په کورونو کي ولئ، ته مي لاسونه خلاص که چي نر دروښیم. درب سو او له درب سره مي د ورور د هه ږغ واورېدئ، لکه په سینه کي چي یې ووهی، هم دغه کس بیا وویل چي اول یې جزایي کړی بیا تحقیق څني شروع کړی، دا لویان یې په لاسونو وځړوئ او کشرانو ته یې لګ ګرپونه وخیاست.

زورونه او نارې سوې، ما مي د خپل اکا اواز واورېدی، چي د همېشني عادت له مخي ارام ږغېدی او ویې ویل: خو مسلمانان یاست، له کوچنیانو سره مو څه کار دئ، زموږ سره مو کار دئ. د چپلاخي اواز مي واورېدی یو چا په زوره د سر کڅوڼه را څخه کش کړه، تر څو ثانیو پوري شوکوره وم، هیڅ شي مي

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه لیدل، لږ ګړی وروسته مي سترګي عادي سوې، زما درې مشران د اکا زامن، درې مشران وروڼه، اکا او پلار مي په لاسونو ځړېدل، خو یوه لا آه هم نه کوی، موږ پنځه کشران یې هغه سي لاس تړلي پر چوکۍ کښېنولو او ګروپونه یې پر سترګو را ولګول، نیم ساعت وروسته چي زموږ چغي ډېري سوې ګروپونه یې مړه کړل، خو ما چي وکتل فکر مي کوی چي نور ټوله بیده دي، خو هغوی ضعف سوي وه، شپږ اووه ساعته وروسته مي درې څلور نفره ولیدل، یوه نفر چي غاړه یې اغوستې وه، ځوان سړی وو، ټولو والي صاحب ورته ویل، پر چوکۍ کښېنستئ اشاره یې وکړه، ټول یې راکښته کړه، پر یوه یوه یې اوبه پاشلې، چي په هوښ راسي، وروسته والي زما پلار ته وویل چي ګوره سپین ګیرې! ما خلګ په ظالم پېژني، تر ننه څوک نه دي راته ټینګ شوي، د پوښتني څوک دي نشته، دا زما شخصي زندان دئ، د ولایت زېر خانه ده، دلته ډېرو ټینګانو ژړلي دي، یوه او خاصه پوښتنه کوم چي په چمن کي مو له چا سره ارتباط دئ، چي ځی راځی.

د پلار پر ځای مي اکا جواب ورکړی ویې ویل: موږ تاجران خلګ یو، په سیاست کي مو کار نه سته، اڅګزي خلګ یو، له روزګانه تر ګلستانه پراته یو، چمن مي تر نیم ډېر تربور دئ، خپله لور مي هلته واده ده، وربره مي او خور مي هلته واده دي، د خسر کور مي هلته دئ، دا خو یو وطن دئ، دواړي غاړي پراته یو.

والي نه وړه نه راوړه مخ ته په پرته ډکه د اوبو ګډوه یې زما اکا پر مخ وویشتی، هغه آه هم ونه کړئ ویې ویل: ښه نه کوې. والي بد کښنځل وکړل ویل یې چي ښځه به دي څنګه وځنګه کړم، بیا به ښه وي که نه؟

زما د اکا زوی پر والي ور وځغستل د والي عسکر په سینه کي په قنداغ وواهه، هغه ولوېدی او ضعف یې وکړ.

والي عسکرو ته، چي خپل شخصي خلګ یې وه، وویل: کمیس او پرتوګ یې څني وکاږئ او بیا یې راوځړوئ، کالي او پرتوګ یې څني وکښل موږ کوچنیانو ژړل او غټانو هیڅ نه ورته کتل، د والي عسکرو سګرېټ څکول او

(c) ketabton.com: The Digital Library



خندل یې، د والي مخ ته د اوبو ډک ستل پروت وو، والي هغه راپورته کړی او پر وې پاشئ، هغه آه وکړه، مګر په صد کي رانغلی.

بیا د والي یو مردار مخي ملګری، چي کوت کوت وربښتان یې وه، رامخ ته سو او لګېدلی سګرېټ یې د هغه پر بازو ور ونیوی، ویې ویل چي اوس یې راوبښوم. نورو ټولو وخندل زما د اکا زوی وښورېدی، لا پوره نه وو وېښ سوی، چي هغه کس یې سګرېټ پر سینه ور ونیوی، په دې سره هغه په صد کي راغلی، خپل لوڅ بدن یې ولیدی، په زوره زوره یې چغي کړې.

په دې وخت کي یې یوه نفر په خوله ټوکر ور ننه ایستی او خوله یې وربند کړه.

له والي سره یو بل کس خپله توپنچه را وایسته، دانه یې ورتېره کړه ویې ویل چي دوی نو خبري نه کوي، له دې کوچنیانو څخه به یې شروع کړم. توپنچه یې زموږ خوا ته کړه او څو خطایي ټکان یې وکړل.

والي وغورځېدئ ویې ویل: د خره زو! تا بیا بدل ټابلیټ خوړلي دي، خو زه دي وډار کړم، سړی لګ غګ وکړي.

په دې وخت کي د والي سکرټر رامخ ته سو، والي ته یې په غوږ کي یو څه وویل، بیا یې تلیفون ورته ونیوی، والي تلیفون غوږ ته و نیوي حیران سو، ویې ویل چي څه! نه به وي، ته ولا؟ غلط خلګ مو راوستلي دي، خانه مو خرابه سه، په ما مو خلګ مړه او سپک کړل، اوس وایي چي راپور غلط وو.

وروسته یې بیرته زموږ په سرو کڅوټي راواغوستې، خو لاسونه یې را ونه تړل، یو ځای یې له موټره کښته کړو، دوی په خپله مخه ولاړه، له هغه وروسته زموږ ورځ توره سوه، مشران ورونه مي د کوټې شورا غړي سوه، موږ مدرسو ته ولاړو، چي د شپاړس کالو سوو جنګ مو شروع کړی، تر اوسه پنځه نفره شهیدان سوي یو، درې پاته یو.

د حافظ احمد الله پر ږیره اوښکي رواني سوې، ویې ویل: هغه د اکا زوی دي څه سو؟

احسان الله ورته وویل: هغه څو میاشتي ورک وو، په هغه مو دواوي وکړې،

(c) ketabton.com: The Digital Library



اخیر يې په پنجوايي کې پر امريکايانو باندې استشهادي عمليات وکړل، ناوې يې د پلار پر کور پاته سوه.

صالح محمد چې تازه له دوی سره يو ځای سو، ويې ويل: دا خو سم سلاخې سوې ياست، موږ ته خو وايي چې له دوی سره پاکستانيان دي، تاسې خو ګرده د داغه ځای ياست.

احسان الله ورته وکتل ويې ويل: دا ټوله درواغ دي، موږ چې يې ولايت ته راوستلي وو، يو بل سړی هم هلته تړلی وو، د ډېر وخت بندي معلومېدی، نوکان يې نه وه، خبرې يې نه کولې، زما اکا پر خبرو راوستی.

ده د استخباراتو د رئيس پر کور مازدا بم کړی وو، ويې ويل: د استخباراتو رئيس مې مانيه راوستله او زما مخ ته يې تجاوز پر وکړی. ده يې هم ټول خاندان ورختم کړی.

صالح محمد خبرداره سړی معلومېدی ويې ويل: مشران خو نو په پاکستان کې دي. د احسان ورسره خوله سوه، ويې ويل: داسې په پاکستان کې دي، لکه موږ چې وو.

يو وار بيا د پوستې له خوا ضربه وسوه، ملا احمد الله وويل: ده شکه ده، خوږوې مو، لږ در ګوښه سئ.

صالح محمد د راکټ مرمۍ پر اوږه کړې په دوی پسې سو ويې ويل: وروره! موږ له سياسته خلاص بې ازاره خلګ وو، اوس په دې ناتار ګډ سوو. ملا احمد الله داسې هم طبعه سړی وو ويې ويل: ښه تا ته موږ ناتر در معلومېږو؟

صالح محمد وويل: يا! عموماً دا ټوله کيسه يادوم، زما په حضرت جي بابا کې د ترکرۍ دکان دئ، ساده سړی يم، تېره پنجشنبه ښاروال راغلی، زما يو څه شيان د دکان مخ ته پراته وه، نه يې وږه نه يې راوړه ويې ويل چې ستا په ښځه دا ټول شيان ځنګه وځنګه کړم، ده لا خبره نه وه خلاصه کړې، ما ورغبرګه کړه چې ستا هم، ده بادرنګو ته ورحمله کړه په ويې ويشتم، ما هم په روميانو وويشتی،

(c) ketabton.com: The Digital Library



وروسته عسکرو تر لغتو لاندي کړم، قومندانۍ ته يې بوتلم، ښه جوړ يې ووهلم، په دا سبا د کلي خلګو را خلاص کړم.

زه بيا راغلم دکان ته هر څه مي سم کړه، ښاروال بيا راغلی ويې ويل چي ته د کوسۍ زوی خو بيا دا دئ ايله سوی يې، ستا څه وڅه وغيم، ده چي ځان جوړوی، ما د ترازو واری پر وکړی، نور را وغورځېدم، دا دئ دوهمه ده چي زه ستاسي سره يم، دوې کوچنۍ لوڼي او يو زوی مي دئ، طبيعت مي هم په خراب دئ.

په دې وخت کي ملا احمد الله ټوکه پر وکړه: جهاد دي نه قبليږي ته د عقيدې طالب نه يې. ټولو وخندل، مګر صالح محمد وويل: جهاد مهاد د کمي خوا وو، ټوله د خاريجانو ډرامې دي، يوه ورځ تاسي پورته کړي، بله ورځ بل څوک، تاسي اوس له پاکستانه رانه غلاست؟ بيا بيرته هغه پاکستان امريکا ته هډې ورنه کړې؟ اوس تاسي په کوټه کي شورا نه لرئ؟ په قطر کي مو دفتر نه دئ؟ مشران مو هره ورځ نوي ودونه نه کوي؟ خيټي يې دمخه وي دوی تر شا په پسې وي، نيم مو د پاکستان جاسوسان دي، نيم د ايران او نيم د امريکا انډيولان هم دي.

په دې وخت کي يې په خوله ګوز واچوی او ويې ويل: غر يې سو، جهاد دئ. ګل احمد هم خندل هم يې په زوره ناره کړه ويې ويل: ملا صاحب! دغه چپ کړه، را څخه مرداريږي، دلته به مي ځان پر ده غازي کړی وي.

ملا صاحب وخندل ويې ويل: ګپه کوي. بيا يې بيرته په مصلح انداز وويل: ستا خبري صحيح دي، په هر چا کي ښه او بد سته، په موږ کي هم هر ډول خلګ سته، مشران هر وخت ټول پاک نه وي، هر څه به سم سي، موږ اول دا جهاد په ثمره ورسوو، زه خو چي په ښه او بد پوه سوی يم حرام او ناروا دي وي که به بله اسره لرم، ښله دي چي خدای (ج) راضي سي، هو! دا ته چي وايې دا خلګ مي هم په پيخر ليدلي دي.

احسان الله په دې وخت کي ملا احمد الله اخند ته وويل: ياره ملا صاحب! سخت مي تلوار دئ چي دا کيسه بالا خلاصه سي، چي ناوې مي تر کوره راولم بيرته کرار آرام خپله دکانداري او ژوند وکړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ملا صاحب ورته وویل: هر څه به سم سي، تالې درب دي پر ما دئ، د وطاق په ټولو یارانو خو به اتڼ والله درته وکړم. صالح محمد بیا خوله مسخرې ته جوړه کړه ویې ویل: ملا صاحب! د ده په واده کي به د ټکانو پر ځای ځان دربی کوې. ټولو وخندل، ملا احمد الله په خندا کي وویل: کفاره! استشهادي وایه، غاړي دي بندېږي، څه بده بلا یې، دې ته دي بیا څه پام سو.

په دې وخت کي یو دم د مرمیو شور سو، ملا احمد الله ناره کړه چي پروت وکړئ، له صالح محمد څخه ناره وسوه، ویې ویل: هغه سي مو په مردار کړم. ملا احمد الله خوشکه ورته وکړه ویې ویل: هر وخت د ګپي نه وي.

ګل احمد پر هغه خوا، چي ډزي ځني کېدلې، د راکټ ټک وکړئ، ډزي ودرېدې، شپه ناوخته وه، هیڅ شی نه معلومېدل، سپک سپک زګېروی راتلی، ملا صاحب بږغ کړه: احسان الله جواب نه وو، صالح محمده! سپک زګېروی راغلی. ملا صاحب جیبي څراغ ولګوی، احسان الله پر تندي مرمۍ خوړلې وه، د شا کوپړه یې ټوله ورسره الوتې وه او پر سقیل (پیکا) پړ مخي شهید پروت وو.

د صالح محمد کالي په وینو سره وه، سپک سپک زګېروی یې کوی، د زبیر، ملالۍ او غوټۍ نومونه یې اخیستل، یو ګړی ژوندی وو، وروسته یخ پخ سو، بیا دوی کرار پر کرارګاه ور وختل، هلته یویشت دوویشت کسه مړي پراته وه. ملا احمد الله په کراګاه کي پرتو قرآن شریفو او مسلو (جای نمازونو) ته وکتل، چورتونو یووړی، په کرارګاه کي یې پر مسجد او هلته د راکټ په زور د سوځېدلو قرآن شریفونو یې تر سترګو اوښکي و بهیدې، له ځان سره یې کرار وویل: یا ربه! ایمان مو روزي کړې، دا دي په کومه ابتلا اړولي یو، ته مو رهنما سې، خو نه زموږ په قطار کي بېګانه سته نه د دوی. له ډېره قهره یې په لاس کي توپنجه پر دېواله وویشتل او ځای پر ځای کښېنستئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# له طوفانه پاته

حافظ اغا چي خپل نوي موټر ته ختی، زوی يې ورږغ کړه: آغاجانه! ما به هم درسره بيايې. حافظ اغا وويل: خود دي بيايم زويه!

ځنګ ته يې ولاړ بل کوچني، چي ځيري او خيرن کالي يې اغوستي وه، ويې ويل: آغاجانه! ولاکې زه هم درسره ځم. په دې وخت کي د حافظ آغا زوی بغاري کړې، ويې ويل: هله! آغا جانه زه يې پوري وهلم. حافظ آغا هغه بل کوچنی تر وريښتانو ونيوی، دوې درې چپلاخي يې پر مخ وواهه. ملا عصمت الله يې لاس ونيوی، ويې ويل: مړ دي کړئ کوچنی دئ.

حافظ آغا له خولې لاس واخيستی ويل يې: د سپي زو! سترګي دي مرداري دي، چټک کور ته ننوزه، چي بيا دي ونه وينم.

ملا عصمت الله کوچني ته رډ رډ کتل، بيا چي دی موټر ته ختی د حافظ آغا د مټرانو کاروان روان سو، حافظ آغا ملا عصمت الله ته وويل: دا نوی ماډل راغلی موټر هم تېز دئ هم زور ور دئ او دا تر دا نورو زرې موټرانو ډېر کلک هم دئ. مګر ملا عصمت الله چورتي وو، لکه د حافظ آغا خبري چي يې هيڅ نه وي اورېدلي. حافظ آغا ږغ پر وکړی: کاکا زو! چيري سودايي سوې، اوس دي بيايم په سرانانو کي مي يو نوی کبابي پيدا کړی دئ، خورا ټېټ کباب پخوي. ملا عصمت الله کرار وويل: حافظ آغا! دا کوچنی څوک وو؟ چورت مي په بند سو.

حافظ آغا په بريتو کي وخندل ويې ويل: ظالمکه! دا سختي سختي پوښتني مه کوه. په پښتون اباد چوک کي يې موټر ودروی، يوه خواپاکي ملا

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوچني ته، چي له حافظ آغا سره به ټول عمر ورسره وو یې وویل: کوچنوټې! ور میدان کاږه، له دې دواخانې څخه هغه زما د کلسټرول دوا را واخله، بیا یې ملا عصمت الله ته وکتل ویې ویل: دا کلسټرول ډېر بد شی دي، لېونی کړی یې یم.

ملا عصمت الله د ده د مسجد د طالبي د وختو ساده ملا وو، په لغاز یې ورته وویل: لږ خوره هوسا به اوسې. حافظ آغا داسي په زوره وخندل، لکه بل څوک چي یې خندوي. ملا عصمت الله وویل: قرآن دې ماسو دا کوچنی خو حافظ صمد فقیر ته سوی وو، اوس مي یاد سوه.

حافظ آغا بیا په زوره وخندل ویې ویل: اخیر دي پیدا کړئ زوروره!

د ملا عصمت الله سترګي له اوښکو ډکي سوې ویې ویل: ښائسته ځوان وو، د مور یو زوی وو، مور یې د میراثی له بیري ژر واده ور وکړی، هغه بیا دی بېچاره په تشکیل کي برابر سو، لا یې څلور ډزي ویشتلی نه وو چي شهید سو، هغه وخت یې ماینه امیندواره هم وه، خوشحاله سوم چي خدای (ج) هغه دئ زوی ورکړی دئ.

بیا یې بېله ځنډه وویل: نو ستا کره یې څه کول، دلې نږدې اوسيږي، که څه خبره ده؟

حافظ آغا غاړه تازه کړه، لکه خطبه چي ورکوي ویې ویل: حافظ صمد خو زما په طالبانو کي وو، له مرګ وروسته یې د مور هم زهره پسي وچاوده، نو ځوانه جانه ماینه خو یې ما پر بېبان نه سوای پرېښوولای، را خوندي مي کړه، ملا عصمت الله ژر وپوښتل چي خپل زوی ته دي کښېنول او که وراره ته؟

حافظ آغا وویل: یا! ځان ته مي کښېنول. ملا عصمت الله وویل: استغفر الله! هغه خو ستا د لمسی پر ځای وه، تا خو نوري درې هم درلودې.

حافظ آغا وویل: اوله خو دا چي تر ما یې بل چا ښه خیال نه سوای ساتلای، دوهمه خبره دا ده چي هغه اولي ته خو ما له وخته د وروری لاس ورکړی، دا نوري دوې هم چنداني نوي نه دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دې وخت کې دوی د سرانانو خوا ته وروگرځېدل، ملا عصمت الله حافظ آغا ته وویل: آغا جانه! موټر دا بغل ته ودروه.

حافظ آغا وویل: خیرت دئ؟

ده وویل: یو کار مې را یاد سو. حافظ آغا موټر بغل ته ودروی، ملا عصمت الله په یوه منډه له موټره کښته سو، دروازه یې په درب ووهله، حافظ آغا تر شونډو لاندې وویل: څه کوې د بزرگ زوی، څومره بد یې یووړه.

ملا عصمت الله چې له موټره کښته سو، لکه لېونی داسې سو، له ځانه سر گډ وو، نږدې وو چې چغې کړي؛ مگر ځان یې ټینگ کړی، د خلگو یوه یوه خبره یې ذهن ته راتله، بیا به یې خپله ږیره کش کړه، پر تو به یې کړه، زموږ دې ملا ماته سې، موږ دومره سپک سوو.

ملا عصمت الله ته خپل او د حافظ آغا ځواني ورياد سوه، هغه وخت به هم ټولو ده ته ويل چې حافظ آغا په هډو درووند دئ، مگر ده به باور نه په کوئ، بیا په جهاد کې تر ملا عصمت الله ښه راکټې نه وو؛ خو چې روسان ولاړل، بیا چې ملا عصمت الله پر دنده ونه لیدی او کله چې امریکایان راغلل، بیا د ملا عصمت الله خان راکټ ته خلگ حیران وه.

خو نه یې له روسانو سره پر داخلیانو ډز کړی وو او نه یې له امریکایانو سره. له ځان سره بیا گډ سو، خود به مو خلگ د پنجاب زامن بولي، د پاکستان صدر اعظم دا ډول موټر نه لري، ده ته درې دانې ولاړ دي.

د خپل شهید ورور ويني ته يې لاس اچولی دئ، زموږ کتار هم له ملائکو څخه نه دئ جوړ، په قطر کې څه روان دي، خيټې يې غټېږي، ورځ تر بلې غوړ گرځي، دا موږ د پيغمبر (ص) پر سنتو ناست يو او که يې بې عزتي  کوو، لعنت سه پر موږ باندې.

په دې وخت کې يو تېز موټر راغلی د ملا عصمت الله لاسونه يې ور وتړل موټر ته يې ټېله کړی او ويې ويل: دهشتگرده! څه مخکې شه. ملا عصمت الله له ځان سره په زړه کې وويل چې افغانستان رښتيا هم د بل جگړې ځغولي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۞۞۞

گل مینه به ایله د شپاړسو اوولسو کالو وه، چي حافظ عبد الصمد ته یې ورکړه، حافظ عبد الصمد ښائستکی ځوان وو، ایله به د دووشتو درویشتو کالو وو، ډېر ښه اخلاق او تربیه یې وه، د خپل مور او خور ډېر ښه عزت یې کوی، په سړه سینه به یې خبري کولې او سنگینه ځوان وو.

دی په صحیح مانا په اسلامي روحیه روزل سوی وو، د آیت او حدیثو پر بنا یې مور او مېرمن قانع کړه چي دی ځي جهاد ته، مور یې ډېر ورته وویل چي دا د جهاد وخت نه دئ، دا د فساد زمانه ده.

ده ورته وویل: که په آخرت کي خدای (ج) تر غاړه ونیولم، چي قرآن دي حفظ کړی وو، په پوهېدلې او ما جهاد فرض کړی وو او ته نه تللې. بیا به زه څه کوم ته به څه کوې؟

په دې خبره یې مور چپ سوه، مگر حافظ عبد الصمد یوازي په همدا خبره پوهېدی، مگر د ننني زمانې په ناولو سیاستونو نه وو خبر، خو بالاخره څو څو ځله په تشکیل ولاړی.

یو ځل یو داسي پېښه وسوه چي دوی علمیات تر سره کړه، عسکرو پسي واخیستل، دوی سیده د حافظ عبد الصمد په کور کي پټ سول، عسکر هم کور ته راننوتل، حافظ عبد الصمد خپل ملگري خپل په خونه کي له مور، خور او مېرمني سره پټ کړل، بالاخره عسکر بېرته ولاړل، خو یوه ملگري یې ماښام حافظ آغا ته ټوله کیسه وکړه او دا یې هم وویل چي د حافظ عبد الصمد یو داسي مېرمن ده لکه سپوږمۍ، له هغې ورځي به حافظ آغا حافظ عبد الصمد زیات په تشکیلاتو کي استوی، یوه ورځ چي حافظ عبد الصمد عملیاتو ته تللی وو، لیري د خاله لور یې، چي په وردگو کي اوسېدل، د دوی کور ته راغلې وه، له دې سره یې کیسې کولې او داسي وه لکه لېونۍ، ولي به نه لېونۍ کېده، دا یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



څلورم مېږه وو او درې سره مړونه یې یو په بل پسې شهیدان وه او له هر یوه څخه دې یو زوی درلودی.

څه وخت وروسته یې حافظ عبد الصمد شهید راوړی، معلوم نه سو چې چا او څنگه شهید کړی، د شهید د مور هم زهره وچاودله او گل مینه حافظ آغا ته پاته سوه او پس مرگي زوی یې د حافظ آغا د سترگو اغزی سو، څوک نه پوهېدل چې څه روان دي.

حافظ آغا هم وو، ملا عصمت الله هم وو، شهید عبد الصمد هم، شهید سهراب هم وو، شهید بهرام هم، شهید نصیر احمد هم او شهید طاریق هم وو یو لوري ته شهیدان وه او بل لوري ته دلالان دواړي کرښي له همداسي دربدرۍ سره مخ وې، بلا همداسي غځېدله ککرۍ همداسي رغړیدې، خدای (ج) هر څه لیدل خو لا یې اسمان نه رانړوئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د طوفان قرباني ملت

مکی خاله د کوڅې سپېره بلل کېدل، ټولو به ویل چي خیر او خیرات ورکوئ نور یې مخ پرته کوئ، دا سپېره ده، کونډه سوه بیا د څلورو ځوانانو زامنو بوره مور سوه، اوس د یوه گله یتیمانو او درو کونډو مشره مور ده، پر کور یې د بلا سیوری سوی دئ، ځان ځني گورئ! چي سیوری یې پر تاسي ونه لوېږي.

په هغه ورځ چي زه له کابل څخه کور ته ولاړم دا هم راغلې وه او له دروازې سره ناسته وه، ټول ځني پټ وه، زه چي کور ته ننوتم، له دننه څخه مي یو ږغ واورېدی چي ویې ویل: هغه قرآن وهلې په دروازه کي ناسته ده او زموږ مسافر پر راغلی، ژر خیرات ورکړئ چي یو شی می ونه سي.

د عادت له مخي نږدې ورغلم، سپین سرې غټ پوړنی پر سر له دروازې سره ناسته وه. ما سلام واچوی، دې سترگو ته لاس سایوان کړی راته ویې کتل سلام یې راوعلیکم کړی، مخ یې داسي کونجي درلودلې، لکه یو چا چي په لاس قصدي پکښې کښلي وي، طبعي نه وې، پخه ښځه وه، مگر بیخي ډېره زړه معلومېدل، لکه یو چا چي په زوره زړه کړې وي، سترگي یې په مخ کي ورکي سوې او توري توري هلکې یې دومره غټې وې چي اصلاً یې سترگي پکښې ورکي وې.

ما ته یې وویل: کابلی یې؟

ما وویل: هو! ادې کابلی یم، څنگه یې ژوندي څنگه دئ؟

ویې ویل: شکر دئ، دوی هغه بله ورځ ویل چي کابلی راځي ما ویل زه به ديووینم که دي زما د چیچي احوال راوکړی، دوی ویل چي حکومت بندیان ایله کوي، خو ته هم په هغه جرگه کي وې، زما د زویک احوال به راونه کړې؟

ما ورته وویل: ته اول کیسه راته وکړه چي زوی دي چیري وو، څه په

(c) ketabton.com: The Digital Library



وسوه، اوس چیري دئ؟

دې وویل: یو ټکی اوبه راکړئ. ما مي خور ته ورږغ کړه چي اوبه راوړئ، په دې وخت کي ټوله کورنۍ راورسېدل، ما مي د مور لاسونه مچ کړه، مور مي څنګ ته پر چوکۍ کښېنستله، زه بیرته مکۍ خاله ته کښېنستلم، خور مي په یوه جیک کي د غورې اوبه راوړې، ما اول ګیلاس خاله ته ورکړی، خور مي بل ګیلاس ما ته راکړئ، ما مور ته اشاره وکړه چي مکۍ خاله ما ته کیسه کوي، مور مي په زوره وویل: مکۍ خاله! دا دئ اوس خپله کیسه سمه ورته وکړه، که دي ده د زوی درک درمعلوم کړئ. بیا یې ما ته وویل: ته او خدای وس چي یوه چاره به یې کوې، بد بخته ټوټه ټوټه سوې ده.

په دې وخت کي مکۍ خاله غاړه تازه کړه ویې ویل: مورِ اصلاً د تیري یو، مېړه مي د مکتب معلم وو او په څنګ کي مو یې باغونه هم درلودل، چي ښه بادام به یې کول، ژوند په خوشحالۍ تېرېدئ اول مي درې زامن وسوه بیا خدای (ج) دوې لوڼې هم راکړې، بیا مي غبرګولیان وسوه هلک او انجلۍ وه او بیا مي اخیر وار زوی هم وسو. پر اخیري زوی مي الګوله سوه ویل چي انقلاب وسو، هره ورځ خلګ ورکېدل، یوه ورځ د هلکانو پلار باغ ته ولاړی بیا رانه غلی، لکه تا چي نه دئ لیدی ما هم همداسي نه دئ لیدی، ورځ مو واوښته، باغوانانو خپل باغونه راڅخه قبضه کړل، اختارونه یې هم راکول، کونډه ښځه وم، بله اسره مي نه درلوده، کندهار ښار ته راکډه سوم، دلته مي مشر زوی، چي د نونسو شلو کالو وو، یوه ورځ له توپک سره کور ته راغلی، ما خوشکه ورته وکړه چي مغزي ماتې دا څه کوې؟ ده ویل چي جهاد دئ مور او فرض دئ او بل نو زه څه کار لرم.

هلک وو نور مي په وسه څه نه وه ورسره پوره، واده مي ور وکړی، چي ګوندي راوګرځي، مګر هغه به بیا ورک وو، پر اول کال یې زوی وسو، بیا هم دی به ټول وخت ورک وو، اورېدلي مي وه چي قومندان سوی هم دئ.

یوه ورځ کور ته راغلی، اوږدې څوڼې یې وې، زه یې له قوارې څخه بېرېدلم، د خبرو طریقه او هر څه یې بدل سوي وو، مېرمن یې د شپې یو څه ورته

(c) ketabton.com: The Digital Library



ویلي وه، په هغه شپه کي ناري او غالمغال سو، چي ور ووتلم وهل او دربول شروع وه، مړور مي ځني خلاصه کړه، دی همداسي له کوره ووتی.

بیا داسي ورځ راغله چي د مجاهد په ښار کي جنګ سو او په جنګ کي مي زوی د خدای (ج) په کار سو او یوه ورځ یې جنازه راته راوړه، په دې وخت کي ما دوهم زوی ته هم واده ورکړی وو، د قومندان زوی مي هم درې اولاده وه دریم زوی مي، چي لا اومه خوله هلک وو، د اول زوی کونډه مي ورته کښېنول، بیا نو هغه وو چي سپیني ملائکي راپیدا سوې او خلګ یې له توپکیانو خلاصول، دوهم زوی مي هم یوه ورځ راغلی لاسونه یې رامچ کړه ویې ویل: موري! زه نو ځم چي خلګ له دې آفته خلاص کړو. ولاړی بیا به کله کله راغلی، د ده هم تقریبًا څلور اولاده وه، بیا په دښت لیلا کي جنرال مالک او دوستم هغه هم راشهید کړی، دی خو مي پیدا نه کړی، خو نوم یې په هغه لیستو کي وو، چي هلته شهیدان سوي وه.

دریم زوی مي د نوي حکومت په شروع کي، چي کرزی باچا سو، د پنځویشتو و شپږویشتو کالو وو او نور دوه زامن او دوې لوڼي مي غټوکي سوي وه، لږ مي زړه په ښه وو، له ځان سره به خوشحاله وم، چي خدای (ج) همدا ژوندي راته پاته کړل غټه خبره ده.

هغه زوی مي سبقونه هم ویل او بیا یوه ورځ په عسکري درشي کي راغلی، ویې ویل: موره! زه خو عسکر سوم. د زړه مي شریک سو، خو بیا هم ښه وو، اوس ارامي وه، جنګ نه وو، هر څه اسانه وه، ښه معاش یې هم ورکوی، خو دا خوشحالي ډېره اوږده نه سوه چاودني او کرار کرار جنګونه شروع سوه.

دا څلورم زوی مي ملا طبیعته وو، ډېر به ورک وو چي کور ته به راتلی هم به ډېر په قهر وو، له چا سره یې سمه نه کول، عسکر زوی ته به مي یې هر وخت بد او رد ویل، د نورو غلام به یې ورته وایه، اجره ملیشه به یې ورته وایه، خو عسکر زوی مي، چي پر مشر هم وو، پر خندل او هر څه به یې په ټوکه

(c) ketabton.com: The Digital Library



تېرول.

یوه ورځ، چې د غرمې ډوډې ته ناست وو، څلورم زوی مې چې راغلی، عسکر زوی مې په دریشي کې ناست وو، ده د سلام دمخه ورته وویل چې دا غول دې دلته مه اغونده، مور ټول حیران سوو، دا اول ځل وو چې زمونږ په کور کې داسې یوه خبره کېده، ما ژر ږغ پر وکړه چې عطاء الله! دا څه وایې، ذبیح الله دې مشر ورور دئ او مشر ورور د پلار په درجه کې وي.

ده بېله دې چې ما ته وګوري وویل چې مور ته ښځه یې په دې شیانو نه پوهېږې، دا ټول د کافرانو مزدوران دي، ټول باید مردار سي.

مشر زوی مې د دې پر ځای چې احساساتي سي، ورته وویل چې عطاء جانه! ته دې ډوډۍ وخوره، بیا په مجلس سره وکړو، شوده سړیه!

عطاء الله په قهر ورته وویل چې شوده داسې وي لکه ته، مشر زوی مې بیا پر وخندل ویل یې چې څه زه یې شوده ته دې ډوډۍ وخوره.

تر ډوډۍ وروسته مې مشر زوی عطاء الله ته وویل چې ښه وروکه! راځه چې سر سره خلاص کړو، مونږ څنګه مزدوران او کافران یو، په کوم مسجد کې چې ته پنځه وخته لمونځ کوې زه یې هم کوم، کومه دېرش ورځې روژه چې ته نیسې زه یې هم نیسم، کوم قرآن شریف چې ته مني او وایې زه یې هم وایم، اوس نو زه څنګه کافر سوم.

عطاء الله ورته وویل: ستاسې ټولي پیسې کافران درکوي، په کار کې شراب چیښئ، کافرانو خپل انجوني راوستلي دي او ستاسې په دفتر کې کار کوي، تاسې د خنځیرانو غوښي خورئ، ایمان مو په سر کې نه سته.

مشر زوی مې وخندل ویې ویل: ګوره! زمونږ په وظیفه کې هر ډول نشه مطلقه بنده ده، خارجي څه کوې، داخلي انجوني لا دلته کار نه کوي او پاته سوه د خنځیرانو غوښه، هغه دلته نه سي خوړل کېدلای، ځکه دلته نه خنځیر سته او نه یې څوک غوښه خوړلای سي.

عطاء الله بې واره وویل: نو د کافرانو په پیسو خو چلیږئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



عسکر زوی مي ورته وویل: دا یویشتمه پېړۍ ده مملکتونه خپلي اړتیاوي لري، همدا اوس داغه کافران په مکه شریفه کي سته، په نورو ټولو اسلامي مملکوتونو کي سته، ته ماته دا سي یو څوک راښوولای سې چي له خارجانو سره تړون نه لري او خپلي وطني ګټي دي ونه ساتي؟

عطاء الله ورته وویل: ولي پاکستان نه دئ، ولي طالبان نه دي.

عسکر زوی مي ورته وویل: ګوره عطاء الله! پاکستان دا اوس د هیرا منډۍ یې په ټکس چلیږي پر شرابو او نشه خانو مالیه اخلي، ډیسکوګاني پکښي قانوني دي، نر له نر او ښځه له ښځي سره واده کولای سي، قانون یې د انګریزانو قانون دئ او امریکا هر کال تر بل تر هر چا ډېري پیسې پاکستان ته ورکوي او داغه پاکستان بیا بیرته طالبان ساتي، پخوا یې مجاهد ساتل او بیا یې امریکا ته هډې ورنه کړې، چي د طالبانو حکومت یې چپه کړئ؟

عطاګی په قهر ځني ولاړ سو، ویې ویل: تاسي کافرانو اړولي یاست. او له کور څخه ووتی، څو ورځي وروسته یې زما عسکر زوی په مسجد کي د سهار پر لمانځه وویشتی او ځای پر ځای شهید سو. خلګو دا اوازه هم خپره کړه چي خپل ورور ویشتلی دئ، ځکه هغه په طالبانو کي دئ، اوس نو کونډې راته دوې سوې. لوڼي مي غټوکي وې یوه مي دلې په ښار کي یوه ځوان ته ورکړه، په دا سبا کي عطاء ډېر په قهر راغلی ویې ویل: تاسي اجر ته زما خور ورکړې ده، یو مو پاینیت نه سو چي بل حکومتي ته مو انجلۍ ورکړه.

او بله خور یې په وچ زور خپل ملګري ته ورکړه، چي هغه دوې نوري ښځي هم لرلې.

د اولي لور مي ډېر ښه ژوند وو، مېړه یې په ولایتي شورا کي کارمن وو، په ولایتي شورا کي چي هغه مازدا وچاودل، دی په هغه کي شهید سو.

زما عمر نه خلاصیږي، له هر اولاد سره یو وار مړه سوې یم، مېړه، درې زامن او زوم مي شهیدان دي، خو زه لا ژوندۍ یم، وایم چي مځکه چاک سوې

(c) ketabton.com: The Digital Library



وای او زه په ننوتلې وای.

مور ته چې مې وکتل هغې هم ژړل ویې ویل: زما یو زوم مړ دئ، لس کاله کیږي، خو تر اوسه هره شپه ژاړم، د زامنو غم دې خدا (ج) نه راکوي، دا یو دئ سر او کال راڅخه ورک دئ، خو زړه مې پوره دئ چې ژوندی خو دئ.

په دې وخت کې مکۍ غاړه تازه کړه ویې ویل: خانمې! کاشکې چې غم له غمه شرمېدلای، پر ما به نه راتلل، جوړه جوړه غمونه د عسکر د قبر خاوره لا نه وه وچه چې عطاء الله پر محبس باندې په عملیاتو کې شهید سو.

اوس نو یوازې د کوچنې زوی په اسره باندې ناسته وم، نور مې نو له ټولې دنیا امید شکېدلی وو، کشره لور مې چې ډېره ښائسته ده، بیخې ډېرې مرکې ورته راغلې ولاړې، د حوزې د آمر مرکه ډېره ټینګه وه، خو ما قسم کړی وو چې هیڅ رقم توپک والا ته به یې نه ورکوم، اخیر یې اختار راواستوی چې لور دې راکړه کنې دا بل زوی دې هم ولا ژوندی ژړانده در څخه ورک کړم، ما سر نه په ګرځاوه.

یوه شپه دربې سو، دروازه مو په بم والوزول سوه، عسکر راغلل د زوی په سر مې یې توره کځوړه ور واغوستله او بویې تلی، دا زوی مې ډېر بې ازاره هلک دئ، په ښار کې یوه مسترۍ خانه لرې، د چا په ښو او بدو یې کار نه سته، دا یې پنځمه میاشت ده چې ورک دئ، دوی راته وایې چې باګرام ته یې وړی دئ، اوس نو تاسې ووایاست چې زه سپېره یم که دا وطن، ګناه د چا ده، اوس به نو ته کوې خدای (ج) به کوې، زوی به مې راپیدا کوې.

ما په ډېره مایوسۍ ورته وویل: یا مورړ سپېره یو ابۍ. په دې وخت کې مې د امنیت په شورا کې خپل یوه ملګرې ته، چې د بندیانو د ایله کولو د کمېسون غړی وو، زنګ وواهه، د مکۍ د زوی پوښتنه مې وکړه، هغه وویل چې وخت راکړه زه بیرته زنګ درته وهم.

یو ګړی وروسته زنګ راغلې ویې ویل: هو! سته، څه په وکړم؟

ما ورته وویل: د نن په لیست کې یې واچوه! او لس زره افغانۍ وکړه،

(c) ketabton.com: The Digital Library



حساب زما او ستا تر منځ دئ. د مکۍ خوله له خندا څخه نه ټولېده، تا به ویل چي ټوله نړۍ دي وربخښلې ده، زما څخه د خپل کور تګ خوشحالي هېره وه، د بوډۍ خوشحالۍ ته خوشحاله وم، مګر په زړه کي یوه نامعلومه درد ځورولم، زه پوهېدم چي ډېر څه پیښیږي، زه کور ته د اخیري خدای په اماني له پاره راغلی وم، د کور غولی، دېوالونه هر څه مي بل ډول لیدل، که څه هم په کابل کي هم هر وخت همدا کور په خوبونو کي هره شپه وینم، خو دا ځل هر څه بېل وه، ما د طوفان څپې لیدلې چي ورو ورو رانږدې کېدلې، ما لیدل چي موږ یوه تیاره نامعلوم او ورک لوري ته ورنږدې کیږو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# اصلي طوفانیان او د هغوی قربانیان

پنجوایي په دې ورځو کې د بهرنیانو سرتېرو له پاره په سره اور بدله سوې وه. یو خو خدایي کندهار او بیا پاشمول او پنجوایي هر وخت سر درد وو، مگر له هغه ورځي، چي د باگرام له زندانه د قران شریف د پاڼو او قران شریف د بې عزتۍ کیسه راووتل؛ دلته مظاهرو سخت کش واخیستی. ټول ورځ مظاهرې وې او بهرنیان بلخصوص د پنجوایي هلته، چي دغه ورځ د ښار گزمه هم ور د غاړي ول؛ سخته عصاباني سوه. مگر په ځغاسته ئې ځان تر هلته را ورسوی. سربازانو په یوه او بل رشخند واهه، چي څخته بېري اخیستي وه.
یو عسکر قومندان ته وکتل، ول: له ډمبر څخه خو هم پتلون لوند سو، ته ورته وگوره.
ډمبر په چغه ورته وویل: د مورغودي زو، دا بولي نه دي، د اوبو بوتل مي پر ځان چپه کړی. گرمۍ مړ کړلم.
ډمبر په دې مشهوره وو، چي هم ئې شرطونه تړل او هم ژر درد ورتلی. قومندان په مسخره ورته وویل: د سپۍ زو، زه دي نو کوم نه پېژنم، په عراق کي دي نه دي په یاد؛ څه رمباړي دي په هغه شپه وهلې.
ډمبر فول وقهرېدی، ول: تاسي مازي هوایي لگیا یاست، څوک شرط راسره تړي؟ دغه کلي ته ځم، خلک ولم؛ بیرته راځم؟
په دې وخت کي یو بل نظامي، چي تازه ئې سرگرم کړی وو، ورته وویل: په زر ډالره ما درسره وتړی.
قومندان ورته وویل، چي پنځه سوه زما هم پر واچوه. یو بل عسکر وویل: یا دی دي نامي سي، مازي دي تر بېس ووځي. زه دوه زره ورکوم.
ډمبر زغره ټینگه کړه، توپنچه ئې وکتل، توپک ئې سم کړی او بل انډیوال ته ئې

(c) ketabton.com: The Digital Library



وويل: راکه د چانتې ګرنيټان دي.
هغه هم ورکړه. ډمبر سګرېټ کش کړی، ټابليټ ئې خولې ته واچوی او بوتل ئې پر سر پورته کړ. ټولو له خندا پر پښتورګو لاسونه نيولي وه او ډمبر په ځغستا ووتی. دوی يواځنۍ قطعه وه چې هيڅ ډول اصولو ته مسول نه وه نو ځکه يې مرګ قطعه بلل دوی ته هرڅه ور ازاد وه، لس دقيقې تېرې سوې، قومندان په خندا وويل: دا مورغودی لکه چې په رښتيا ولاړی. بل عسکر ورته وويل: هو، هغه چې يوار خر سي، بيا په هيڅ شي نه دئ بند. هغه ورځ ئې په باغو کې يو مصروف سړی په شرط په سنايپر وويشتی.
قومندان وويل: موږ په جنجال کې مه اچوئ. د خلکو ويشتل دونه کيسه نه ده. راغلي داغه ته يو، چې خلک مړه کړو.
بيا يې د پنډ سيګار دود هوا ته پوف کړی. په دې وخت کې له نږدې کلي د ډزو اوازونه راغلل او بيا څو د ګرنيټ چاودني وسوې. قومندان د تيار سی امر وکړئ او د ګزمې موټر ته ور وغورځېدی. ول ژر در وځئ. دا سړی بيا پوښتنه لري، که څه په وسوه، زه ولاکه ولاړ سم.
موټرونه په تېزي را ووتل، د کلي پر خوا. په کلي کې تر دوو کورونو لمبې پورته وې او خلک په تېښته وه او ډمبر همداسې مخامخ ويشتل. قومندان ئې موټر ور نږدې کړی، ول: راخېژه، کارونه دي وغوول.
ده په خندا ورته وويل: اول د شرط پيسې را وباسه.
ډمبر ئې موټر ته وخېژوی او په يوه تاخت بيرته په بېس ننوتل.
ټول له خندا شنه وه او ډمبر ئې په اوږو کې اخيستی وو او د ريشخنده ئې د قهرمان قهرمان نارې وهلې.
کله چې ټول ستړي سول، قومندان لاس پورته کړی، ول: خاموش!
بيا ئې ډمبر ته وويل: کيسه وکړه، څه دي وکړل؟
يو بل ملګري د اوبو ګيلاس ورته ونيوی. ده ګيلاس پر سر واړوی او د ملګري له

(c) ketabton.com: The Digital Library



لاسه ئې سګرېټ واخیستی؛ څو دوده ئې کش کړی. وروسته ئې وویل، چي له دې ځایه ووتم، اول مي په کوڅه کي دوه زاړه خلک په مخ راغلل. ټکان مي په پښو کي ور وکړه. دواړه وویشتل سول، خو ځان ئې باغو ته واچوی. په دې وخت کي له دروازې سپي راباندي وغپل. پر تندي مي وویشتی. کور ته چي ور ننوتم؛ یوه ځوان، چي ټکان اورېدلي وه؛ راباندي راوځغستل. ښور ته مي نه دئ پرې ایښی. دوې مرمۍ مي وویشتی. له یوې خوا یوې سپین سري را وځغستل؛ پر پرېوته. هغه مي فقط یوه مرمۍ پر سر وویشتل. له یوه اطاقه مي د کوچنیانو چغي واورېدې؛ ور ننوتم. یوه ښځه له څلورو کوچنیانو سره ناسته وه؛ ټول مي یوه یوه مرمۍ وویشتل. ها خوا ته په ځانګو کي یو کوچني بغاري کړې، هغې خوا ته ور تېر سوم. توپک چي مي ورته ونیوی؛ ده وررودی. ما ته مي زوی را په یاد سو. بیرته مي فکر وکړی، چي مور ئې ولاړه؛ دی نو څه کوي. دغسي مي ماشه کش کړه، نور ئې ښور و نه خوړی. څنګ ته ئې بله خونه وه، هلته هم څو تنه پټ وه. هغه مي پسي وویشتل. په دې کور کي یوه دروازه را خلاصه وه، هلته ورننوتم. چي په مخه راغلل، و مي ویشتل. په دې وخت کي یو د شا له خوا داسي خفه کړم، چي فکر مي کاوی مړ سوم. برچه مي را وکښل، همداسي مي په نس کي وواهه؛ بیا مي پسي ضربه کړی.

ډېر مي اعصاب ورته خراب وه. سخت ئې خوږ کړی وم. د کور ټول مړي مي یو پر بل واچول؛ د پطرولو ګېلن پروت وو؛ هغه مي پر چپه کړی، اور مي پسي ور واچوی. بولي مي پسي پر وکړې، را ووتم. د دروازې سره نږدې غوا رمباړې کړې، هغه خوني ته مي یو ګرنیټ ور وغورځوی. همداسي راوتلم، چي تاسي را رسېدلاست، شاوخوا مي شل یوویشت کسه وویشتل. توپک مرمۍ مي خلاصي سوې، ګرنیټان مي هم ټول وغورځول. توپنچې څو ټکه مي کړي وه، چي تاسي را ورسېدلاست.

په دې وخت کي د هلیکوپټر اوازونه سوه. په څو دقیقو کي دوې هلیکوپټر کښېنستې او دوو په هوا کي څرخونه وهل. د سیمي نظامي قوماندان په غصه

(c) ketabton.com: The Digital Library



راغلی، مگر بل ورسره کس آرام وو، چي خير دئ، خير دئ.
وروسته ئې ډمبر له ځان سره هليکوپټر ته وخېژوی او روان سول.

۞۞۞

ندامحمد له خپلي اتلس نفريزي کورنۍ څخه يواځنی کس وو، چي ژوندی پاته وو. هغه له پرون راهيسي ميوند ته د خپل ماما کره راغلی وو. مځکي ځای نه ورکاوه، چي څه وکړي. هر څه نصيحتونه ورته کېدل، مگر اسانه خبره نه وه. پر يوه وخت باندي يوځای ئې ټوله کورنۍ شهيده سوې وه.
ماما ئې چي په غوړو دروند هم وو، مگر دروند او سنگين سړی وو؛ په درانه اواز ئې ورته وويل: ندا زويه، گوره دا د خدای امتحان دئ، زغمو به ئې.
ندا بې‌حاله پروت وو، لکه هيڅ چي نه اوري. ماما وويل: گوره زويه، ستا په ياد دي؛ زما دا ناز دانه، زما د ځگر ټوټه باغوان او د امير زوی محمد خان ئې پر څه شي ويشتلي وه؟ خو اوبه ئې لگولې! سړی ئې د کومي کيسې مخه ونيسي؟ په ټول عمر مي په ټول خاندان کي چا نه په سياست کار درلودی، نه په حکومت. مگر درې ځوانان ئې يواځي په تېره هفته کي را شهيدان کړي دي. خدای راوستې ده.

۞۞۞

نن دريمه وه، چي شهزاده د هلمند دې بېس ته راغلی وو. هر چا کوښښ کاوه، چي خوشحاله ئې وساتي. شهزاده د قومندان سره يوځای د عسکرو په منځ کي ناست وو. عسکرو ته ئې ويل: د دې خلکو پر دنيا له بل چا څخه دونه بد نه راځي، لکه زموږ څخه. رحم پر و نه کړئ. چي يو مو وژلای سوای، دوه وژنئ. د ناټو او امريکا په کيسه کي مه کېږئ، خپل کار کوئ. د پلرونو کسات خو به اخلو.
قومندان وخندل، ول: ياره شهزاده صاحب، ارمان مو په کښلی دئ. زموږ د دغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



سرباز پښتو ښه پوره زده ده. يوه ورځ په عملياتي خونه کي ناست وو، بې پيلوټه گزمې کولې. د عملياتو د خوني پر پرده د موټرانو يو کاروان را ښکاره سو. ترجمانان مو ژر را وغوښتل، چي د دې کاروان والا خبري او مکالمې ترجمه کړي. موږ پوښتنه ځني وکړه، چي څوک دي. دوی ول داغه دښمن دئ. موږ هم بمبار ورته کش کړی، کاروان مو ټول بمبار کړی. يو خو دوی خپل منځي دښمنۍ په پېخر لري، ځکه له هغه وخته چي موږ د نفاق تخم ورپاشلی، بيا نه دي راټول سوي. دا ترجمانان د دې سيمي نه وو، د دې خلکو په ژبه او فرهنگ هم نه پوهېدل او بل ئې خپله دښمني هم ورسره پالل. څو واره ئې په موږ مسجدونه او مېلې سري سمبري کړي وې، خو دا ځل بيخي رسوايي جوړه سوه. دا زموږ ملگري رسوا کړه، چي دوی په پښتو نه پوهيږي. دا خلک د واده ورا وه. هغه مو ټوله بمبار کړل. ناوې، زوم او ټول مو ختم کړي وه. ژر مو خپله سهوه اعلان کړل. کندهار څو واره مجلس وغوښتی، سر مو نه دئ ورسره خلاص کړی. اوس به لويه برتانيه خپل تي‌خور ماشوم امريکې ته جواب ورکوي.

له دې سره شهزاده او نورو ټولو په هټ هټ وخندل. شهزاده وويل: ناټو ئې هغه ايکسپاير ده. امريکا هم نور له کشه لويږي. مهمه نه ده. زه دلته نفستنگی سوی يم. دباندي مي وباسئ، چي لږ ښکار وکړم.

د ښکار خبره ئې د وړي لېوه په توگه وکړه او بيا ئې وويل: د انسانانو ښکار نو بيا بل خوند لري.

له دې سره ټولو وخندل.

په دې وخت کي پر مخابره بږغ وسو، چي له اروزگانه د استراليايي ځواکونو عمومي قومندان د شهزاده ليدو ته راغلی دئ. شهزاده وغورځېدی، ول: دا زما پخوانی يار دئ. تاسي ئې راولئ.

وروسته يو د لوړ قد غټ استراليايی جنرال دننه راغلی او روغبړونه سوه.

له جوړ په خير وروسته شهزاده جنرال ته وکتل، ول: زموږ پر پېښو بحث وو. ستاسي و خوا ته څه کيسې دي؟ تاسي ډېر وژلي، که له تاسي مخکي هالنډيانو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



جنرال وخندل، ول: په هالنډيانو نه يم خبر، خو موږ ئې ښه تکړه کړو. ښه تمرينات پر کوو. ټول نوي فوجيان يوه دوره دلته رالېږو، چي عملي جګړه زده کړي. نو دوې ګټې کوو: يو د خپلو اسلحو له پاره ښه بازاريابي کوو، څکه دلته ئې ويډيوګاني اخلو او بل خپل فوجيان په تمرينوو.

شهزاده وپوښتل: دې خلکو پخوا يو لاس وه، مشرانو يې کوم غبرګون نه دئ ښوولی؟

استراليايي جنرال وخندل، ول: اوس هم غبرګون ښيي. پر سوشل ميډيا د خواشينی پيغامونه خپروي او ځان ته نوي امتيازات غواړي. نور خاموشه دي.

شهزاده وويل: نو حکومت څه کوي؟

جنرال په زور وخندل، ول: حکومت لا څوک دئ، خو همدا سياسيون دي؛ ځان ساتي. ټول ئې په دې تمه دي، چي د دوی خولې ډکي وي، پاتي خير و خيرت دئ. له هغه وروسته چي موږ راغلي يو؛ کندهار د کاناډايانو او امريکايانو په لاس کي دئ. هلمند د برتانويانو او ارزوګان مخکي د هالنډيانو اوس زموږ په لاس کي دئ. هيڅ يوه پروژه مو د حکومت په خوښه نه ده جوړه کړې او نه مو د حکومت په لاس ورکړې ده. هر څه د پي آر ټي پر لاس کيږي. حتی مخالفينو ته هم پروژې ورکوي، چي دا کيسه جاري وساتل سي. که جګړه ودروو، نو لوبه ختميږي. نو دواړه لوري بايد وساتو.

يوه جالبه کيسه به درته وکړم: په اروزګان کي مو د سناتور کور بمبار کړی. اووه کسه مو ور ووژل. مګر په څو غمشريکی پيغامونو او تسليو او څو پروژو مو اوس تر ټولو لوی يار همدا دئ.

له دې سره ټولو وخندل. شهزاده وويل: نو تاسي د دې خلکو اصلي مرض، چي د پيسو مينه ده؛ تشخيص کړې. مګر دا خلک داسي نه وه.

استراليايي وويل، چي دا خو نو ټول د لوی لالا (امريکا) کمال دئ. د روسانو په وړاندي چي مقاومت ايجاد کړل سو؛ همداسي ئې پيسه خوره او پاشلي اموخته

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړل. اوس په دواړو غاړو کي خپل مامورین لري. ځیني مستقیم تمویلوي، ځیني غیر مستقیم. ځو واره مو غټ غټ قومندانان په مخامخ جنگ کي نیولي. د ملا صاحب له سرایه په کندهار کي الوتکي راغلي، کس ئې وړی؛ سبا بیرته په جنگ کي وو.

دلته اوس پیسه خوړل او فساد وایرس دئ، چي مازي د افغانستان فضا ته را واوړي، چي هر څوک وي؛ دلته معاملې کوې. دا سیستم قصداً همداسي جوړ سوی دئ. ته پوهیږې، تورن خو دوی دي، چي د مواد مخدر کښت کوي، مگر دا اوس ځیني د موادو د پروسیس کمپنۍ ټولي بهرنیانو جوړي کړي دي او یو پر بل حملې هم کوي. دا اوس اوازه ده، چي په هلمند او ارزوگان کي، چي تر ټولو ښه کوکنار کیږي؛ روسانو څلور فصله تخم ورکړی دئ. ته پوهیږې، د کاله د مواد مخدر درې ملیارډه بیزنیس دئ. په دغه درې ملیارډه کي له کښت، پروسیس او ټرانسپورټېشن سره افغانانو ته فقط یو نیم سل میلیونه پاته کیږي؛ نوري ټولي د نړیوالي مافیا دي.

خلک قصداً سرسامه ساتل کیږي، چي لوبي ئې سمي مخ ته ولاړي سي. ټوله تمرکز پر پلونو او سړکونو دئ. بنسټیز کار نه کوي، چي بیرته همدا پلونه او سړکونه په هغو جوړ سي. ته پوهیږې، چي د ملکونو ابادي په برق ده. دوی یواځي د هلمند په کجکي ټول افغانستان ته برق ورکولای سي، مگر قصداً ئې جانرېټرونه ورته ایښي، چي یواځي د تېلو په مصرف ئې درې نور کجکیان جوړیږي، نو ځکه دا خلک اوس چي د خپل کور چت هم گلوي؛ مؤسسې ته انتظار باسي. نړیوالو مرستو، چي مستقیم ئې کوي؛ حکومتونه نه تقویه کوي. دا خلک ئې په فقر روږد کړل.

شهزاده په تمسخر وخندل، ول: غوولې گوره، ما تا ته ځو واره ویلي، چي احساساتي کیږې. ته باید شاعر وای، نه نظامي. ته فکر کوې، موږ دلته جوړولو ته راغلي یو. دا ټول قوتونه دلته یو بل ته غله دي. هر څوک خپل اهداف لري. زموږ امپراطوري دې خلکو چپه کړه. ستا توقع ده، چي موږ ئې جوړ کړو؟ ځه،

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه نه ستا د دونه خوشباورۍ په خاطر نن ستا د قدردانۍ په خاطر دوه افغانان اضافه قرباني کوم.

له دې سره ټولو وخندل.

په دې وخت کې د بس قوماندان وویل: شهزاده صاحب، کاروان تړلی دئ. که دوره وهې، همدا یې وخت دئ.

استرالیایي جنرال ول: زه هم درسره وځم.

وروسته قطار له بسه څخه ووتی. په پټیو کې روان وه. یو ځای یو پوخ سړی له یوه ځوان سره په پټیو کې لگیا وو. شهزاده په دوربین کې ورته وکتل او قوماندان ته ئې وویل: لومړی ښکار خو پیدا سو.

قوماندان ته ئې وویل: طالب به څنگه معلوموو؟

قوماندان وویل: غټې ږېرې ئې دي؟

شهزاده وویل: هو.

بیا قوماندان وویل: غټ کالي ئې دي؟

بیا شهزاده وویل: هو.

قوماندان وویل: په مځکه کې هم اخته دي. دا حتماً طالبان دي.

له دې سره ټولو وخندل.

استرالیایي جنرال وویل: کېدای سي کروندگر وي، تخم کري. او غټ کالي او لنگوټې خو دوی تل تړي.

له دې سره د شهزاده د سنایپر سیو سو او وئې ویل: ته مورغودی بیخي فوجي یې نه.

استرالیایي جنرال ژر په دوربین کې وکتل، یو کروندگر پروت وو او بل ورته ناست وو. ږغ ئې پر کاوه.

شهزاده وویل: پر تندي ئې ولم. وایه څو شرط وهې؟

جنرال ول: پنځوس زره.

(c) ketabton.com: The Digital Library



شهزاده ويل: يا، دا ځل د لندن د مېلې خرچه ټوله پر تا.
جنرال وويل: که دي و نه ويشتی، هغه د اکسفورډ د ښارګوټي اپارتمان دي زما.
ده ول: شرط وتړل سو.
شهزاده نخښه نيولې وه. له دې سره سيو سو او د ځوان د مخ نيمه خوا ټوله والوتله.
شهزاده او نور ټولو په زوره زوره وخندل او وئې ويل: دا توپک سخت کافر ويشتل کوي. دوه نيم لکه پونډه مي ناحقه نه دي پر ور کړي. په دوه مايله کي هم ويشتل کولای سي.
دوی همداسي روان سول. شهزاده څلور پنځه ځايه نور هم خپله نخښه و ازمويله. د شپې له راډيو چېنلونو څخه خبرونه خپرېدل، چي ګډو ايتلافي ځواکونو دښمن ته په مخامخ جګړه کي په هلمند او نورو سيمو کي ګڼ شمېر وسله وال وژل سوي دي.

۞۞۞

هليکوپټر د باګرام په هوايي ډګر کي کښېنستل. ډمبر له هغه درې کسو سره راکښته سو، چي د ده دوسيه ئې مخ ته وړل. له هليکوپټر څخه د کښته کېدو وروسته هلته شاوخوا ولاړو عسکرو ټولو په لوړ اواز افرينونه ورکول او ځينو خو حتی شعار ورکاوه، چي ډمبر قهرمان دئ. له دې خلکو سره بايد همداسي وسي.
ډمبر وروسته يوې خوني ته بوتلل سو. هلته يواځي مېز ته کښېنستی. ښه منظمه ډوډۍ او هر څه ورته راوړل سول. له همدې خوني سره په نښتې بله خونه کي، چي توري هنداري ببله کړې وه؛ د امريکايي ځواکونو عمومي قومندان، د استخباراتو مسؤل او د قضيې څارنوال ناست وو.
څارنوال وويل: ډمبر بشري جنايت کړی، بايد پر برقي چوکۍ کښېني او خپله جزا ووينې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



قومندان وویل: دا د نظامي اصولو خلاف او زموږ د اجنډا سره په ټکر کي ده. موږ عملاً په جګړه کي یو. د نظامیانو مورال ماتېږي.

څارنوال وویل، چي امریکا لوی هیواد دئ. دا د ټول هیواد د بدنامی سبب کېږي. موږ تر انساني حقوقو پښه نه سو اړولای.

جنرال وویل: زه ستا د حقوقو په کیسه کي نه یم. زما یو سرتېري د افغانستان له ټول نفوس سره نه برابروم.

څارنوال وویل: دا د امریکا پالیسي نه ده.

د جنرال او څارنوال خبري توندي سوې. په دې وخت کي د امنیت کس مېز په سوک وواهه او وئې ویل: بس کړئ، ماشومان خو نه یاست.

بیا ئې جنرال ته وکتل او وئې ویل: موږ دلته خپلو ګټو ته راغلي یو. مګر هوښیاري به کوو.

او څارنوال ته ئې وویل: ته به دي دا حقوق او قانون یو بغل ته کړې. دلته هغه حقوق چلیږي، چي د امریکا ګټي نه زیانمنوي. موږ باید له پېښو خپله ګټه وکړو. ستاسي دوسیه دي پر مخ ولاړه سي، مګر له ډمبر سره غرض مه لرئ. هغه به له خپلو نظامیانو سره وي. رسنیو او ټولو ته پر وخت معلومات ورکوئ، چي محکمه روانه ده. هیڅ شی مه څنډوئ او جنراله تاسي خپل نظامي مورال وساتئ او دا پېښه عادي کړئ.

څارنوال وویل: مخالفت نه لرم، صرف ځان پوهوم. آیا دا قوتونو ته دښمن نه ډېروي؟

استخباراتي کس وویل: موږ د دښمن په لړېدو خوابدي کېږو، په ډېرېدو نه. موږ دلته پاته کېدو ته اړ یو، چي جګړه وي او جګړې ته جګړه کوونکي په کار دي او جګړه کوونکو ته سببونه او علتونه. ته څه فکر کوې، له زندانو څخه دا د قران شریف د توهین ویډیوګاني د بندیانو د ځورولو عکسونه په پټه خپرېږي؟ دا لوبه باید جاري وي، چي زموږ چلښت او پایښت او پاته کېدلو ته سبب وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



څارنوال نور يخ او ارام سو. د استخباراتو کس جنرال ته وويل: ډمبر به بلې هفتې ته کويټ ته انتقال سي. يو څه وخت به دلته تېر کړي، د محکمې او نيولو ځيني عکسونه ئې رسنيز کړئ. تر راتلونکي هفتې ئې همدلته پرېږدئ او خاصو قطعاتو ته ئې وسپارئ، چي له بنديانو سره ئې مخامخ کړي او دی خپل قهر دلته وباسي. دا زموږ په ګټه دئ. نن له عملياتو څخه چي ئې بنديان را وستلي دي؛ د هغو په پروسيس کي ئې شريک کړئ.

۞۞۞

دا نوې قطعه په دې مشهوره وه، چي له خلکو د اقرار اخيستلو خاص تاکتيکونه ئې زده دي او دوی هر ډول اصول ماتولای سي. لارا او ګولډن په دې قطعه کي خاص نوم درلودی. کله چي به دوی دوه مست سول؛ بيا به ئې زندانيانو له شره امان غوښتی.
لارا ګولډن ته وويل: نن مي يوه نوې مقاله د دې خلکو په اړه ولوستل. دوی ته درې شيان تر نورو ډېر مهم دي: لنګوټه، ږيره او پټ بدن. نن يوه نوې تجربه درته کوم، سخت به دي خوښه سي.
هغه د شپې چي ئې بنديان راوستلي دي، د هغو کار نن ما ته را پرېږده.
وروسته هغه نوي پنځه را وستل سوي کسان را وستل سول. لارا يوه عسکر ته وويل: هغه د دوی لنګوټې راوړئ. دا مځکه ډېره چټله ده، لږ ئې بايد پاکه کړو.
عسکرو ورته ويل، چي مځکه خو يې مخکي پاکه کړه.
لارا په داسي حال کي چي سګرېټ ئې کشوی، ول: مورغودې، زه درته وايم لنګوټه راوړه. ته دلايل وايې.
وروسته ئې د هغوی لنګوټې پر مځکه واچولې او پر مځکه ئې کش کړې.
بنديانو په مايوسه او مات حالت ورته کتل. هيڅ ئې نه ويل.
وروسته لارا چغه کړل، ول: سر او ږيري ئې ور ماشين کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بندیانو ډېر زور وواهه. ترجمان ته ئې وویل، چې ته دې ته ووایه؛ هر څه چې وايي، منو ئې. مګر ږيري دي نه راخروي.

ترجمان نه یواځې دا چې ورته و نه ویل، بلکې څو نور ښکنځل ئې په ماته ګوډه پښتو وکړل. بالاخره هر یو ئې جلا جلا ونیوی او سر او ږيري ئې ور ماشین کړې. وروسته لار ترجمان ته وویل، چې دوی ته ووایه، چې کالي وکاږي.

په دې وخت کي یوه ځوان ئې، چې خیال محمد نومېدی؛ په غبرګون پر یوه سرتېري حمله وکړل. دوی هغه بېل کړئ او سپي ئې ور ایله کړه. په سپیو ئې کالي ور څيري کړه او په زور ئې ټول لوڅ لپړ ودرول. وروسته ئې ټول یو پر بل سربېره واچول او د اوبو تېز پایپ ئې ورته ونیوی.

له څو ورځو شکنجو وروسته دوی درک کړه، چې عام د کلي خلک ئې راوستي او د دوی راپور، چې له یو چا پیسې اخیستې؛ د هغه له دوی سره دښمني وه. نو راپورچي غلط خلک راپور کړي. بالاخره خلک ازاد او خپلو کورونو ته ولېږل سول. دوه سپین ږيري خو کور ته له رسېدو سره مړه سول او پاته دوه پاخه او یوه ځوان خیال محمد د انتقام په نیت له مخالفینو سره یوځای سول او د مړو سوو دوو سپین ږيرو زامن او لمسیان هم له دوی سره یوځای سول.

خیال محمد د دې نوي قطعې قوماندان سو، چې په مخه به څوک شکمن په لاس ورتلی؛ واژه به ئې. مګر همېشه به ئې ملګرو ته ویل، چې یو ترجمان باید ونیسو. زما د هغه ترجمان ښکنځل او لغتي نه هېریږي. بالاخره یوه ورځ یو اجل اخیستی ترجمان د د بېسونو د تلاشۍ په وخت کي په لاس ورغلی. ملګرو ئې د بېلابېلو طریقو وژلو وړاندیز کاوه. چا ویل: په راکیټ به ئې وولو. چا ول: پر بم به ئې کښېنوو. چا ول: حلال به ئې کړو. یو ناڅاپه د خیال محمد سترګي سرې سوې. ول: د رجې تېره تار را پیدا کړئ.

او وروسته ئې هغه ځوان ترجمان په دوو نفرو د رجې په تار حلال کړی.

خیال محمد چې وروسته حساب وکړی، یواځې د دوی له کلي په انتقامي جنګ کي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ديارلسو تنو ځانمرگي کړي وه. او ده په خپل لاس دوه دېرش د حکومت کارمندان او شکمن کسان ويشتلي وه. مگر هيڅ کله ئې امريکايانو ته لاس نه وو رسېدلی.

۞۞۞

د ندامحمد ماما په ډېر زور او زاريو ندامحمد په ښار کي يوه پوه او د تجربې ډاکټر ته، چي د ده يار وو؛ راوستی. ډاکټر ته چي ئې د يارمحمد کيسه وکړه، نو ډاکټر خپله له ندامحمد سره مجلس شروع کړی.

- آښه ځوانه، پېښه خو پېښه ده. له پېښې تېښته نه سته. ته څه وايې، چي په څه شي به آرام سې؟
- زه بايد خپل کسات واخلم او هغه کس بايد اعدام سي.
- دا خو ناممکنه کيسه ده. امريکايان په امريکا کي محکمه کېږي. مگر فکر نه کوم، چي هلته دي هم محکمه سي.
- نو بيا کسات اخلم.
- څنگه ئې اخلې؟
- په کلي کي طالبان سته، له هغو سره ځم پاکستان ته او هورې ټرينينگ اخلم؛ بيرته په تشکيل کي راځم.
- نو ته فکر کوې، پاکستان تا ته اجازه در کوي؟ چي خپل انتقام واخلې؟
- ولي يې نه را کوي سم مسلمان ملک دئ ټوله مدرسې او علما قربان يې سم هورې دي.

ډاکټر په دې وخت کي په کمپيوټر کي گوتي و وهلې څو دقيقې وروسته يې يوه ويديو پلې کړه په هغه کي يې د امريکا رئيس جمهور او د پاکستان صدر اعظم څنگ پر څنگ ولاړ وه خبري يې کولې په پښتو يو چا ترجمه ورسره ويل چي امريکا سږ کال بيا هم په خپله نظامي بودجه کي تر ټولو زياتي پيسې پاکستان ته ورکړي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډاکټر صاحب وویل:
ګوره ندامحمد پاکستان تر موږ ډېر د امریکا انډیوال دئ امریکا هم غیري مستقیم د پاکستان پر لاس خپل مخالفین ساتلي او هم د وطن دننه خپل متعهد حکومت دا لوبه ټوله د دې غټو ملکو ده موږ نیم د حکومت په نوم نیم د مخالف په نوم په بېلابېلو چمونو په دې جنګ کې درول سوي یو کنې د طالب وسلې د کم مسلمان ملک دي او حکومت په دې جنګ کې یوه مرمۍ هم افغانانو نه ده جوړه کړې مګر د دې جنګ ټوله مځکه او قربانیان افغانان دي د حکومت په لاس وژل سوي د انتقام په خاطر طالبان دي د طالبانو په لاس وژل سوي د انتقام په خاطر حکومتیان دي دا جګړې ټولي بې ګانه دي. موږ باید دا جنګ و درو کنې دا جنګ به موږ ختم کړي. ډاکټر صاحب زیاتي ویډیوګاني او خبري هم ندامحمد ته وکړې او یو څه د خوب او تسکین دوا یې هم ورکړه او هغه یې رخصت کړئ.
دا طوفان طبعي نه وو دا نړۍوالي ټولني د خپلو ګټو پر اساس تنظیم کړی وو چا سیاست پکښې کاوه، چا پروژې پکښې تر سره کولې چا هم خپلې ډول ډول وسلې پکښې ازمویلې او خرڅولې.
افغانان یې د ماشومانو په څېر پر ګروپونو وېشلي وه او یو و بل یې وژل او یو لوی طوفان یو لوی سقوط د یوه ملت غرقیدل او محوه کېدل روان وه خام مواد یې افغانان وه، د سونګ توکي یې افغانان وه، او لوبونکي یې نور څوک وه. توپان په غرغندو کېدئ او قرار قرار تېزېدئ. د غلطو ترجمانیو، خصوصي دښمنیو، تاریخي حسادتونو او ترېګنیو په ګرم بازار کي بل اور ته هر چا خپل لرګي ور غورځول ځان یې مخکي کاوه او دښمن یې واهه او د وطن بربادۍ ته هیچا حساب نه کاوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د طوفان مستوونکي

زرمیر په عامه توګه په ملي تاجر مشهوره وو، مګر د کابل د خائینانو او د جنګ د نامیانو ټولي ګټلي پیسې او کیسې ده ساتلې، په کابل کي چي کوم ډیلونه کېدل په ترکیه او نورو هیوادونو کي د پیسو تسلیمول او په کابل کي د ضمانت کول، د ده پر غاړه وه، ده په سرایي شهزاده کي یو ښائستوکی دفتر هم درلودی، د جمعې د ورځي د تاجکستان مېله او په میاشت کي یو ځل د دوبۍ، په بله میاشت کي د ترکیې مېله یې نه قضا کول، پیسې وې چي هر څه یې کولای سي او ده هر څومره پیسې درلودې، د پروژو خرڅول او تورو پیسو سپینولو له ده څخه ښامار جوړ کړی وو.

د هغه کار وبار له عقله وتلی وو، په دې وروستیو کي چي سیاست پر هر څه سپور سو، د نورو په څېره ده هم سیاست ته ور ودانګل، په نوي حکومت کي چي هر چا جرئت کوی چي کاندید سي، د ښار له مشهورو رقاصو څخه نیولې تر مشهورو غلو او قاچاقبرو پوري، د بهرنیو له قراردادونو څخه نیولې د ښار تر مشهورو مردګوانو پوري، هر څوک کاندید وه، علت یې دا وو چي پارلمان قضایي مسئونیت درلودی، نو هر چا کوشش کوی چي خپله بدلاري د ملت په سپېځلي کور کي پټه کړي.

زرمیر هم دوې خپلي درلودلې او دوې یې په پور کړي او پارلمان ته کاندید سو، کارونه یې ډېر وه، نو فکر یې وکړی چي باید یو خپل باوري او تکړه کس د خپلو چارو مسئول کړي، چي څومره فکر یې وکړی تر امید بهترین کس په نظر وره نه غلی، امید یې د خاله زوی وو، تازه یې په هند کي په حقوقو او

(c) ketabton.com: The Digital Library



سیاسي علومو کي ماسټري کړې وه او اوس پر کور وو، یوازي به کله ناکله په تلویزونو کي سیاسي بحثونو ته تلی، نور نو بې کاره وو.

زرمیر هغه ته زنګ وواهه او له ډېرو چنو وروسته یې راضي کړی، چي د ده د دفتر چارې پر غاړه واخلي، هغه دا شرط پر کښېښووی چي په هفته کي به دوې ورځي حتمًا حاضر وي، ده ورته وویل چي اولي دوې میاشتي هره ورځ حاضر یم، له هغه وروسته چي ضرورت وو راځم.

په دا سبا امید په دفتر کي کار شروع کړی، په هره برخه یې ځان پوه او خبر کړی، یوه خبره زرمیر ویل او مانا دار به یې ورسره خندل، ویل به یې: امید خانه! زموږ سره چي ګرځې ډېر څه به وینې؛ خو ځان به تېر راوړې، مزې به دي وي مزې.

یوه ورځ دفتر ته د امید د ښوونځی د دورې یو هم صنفي راغلی، امید فکر وکړی چي زما لیدو ته راغلی دئ، خو هغه زرمیر ته وویل: زه رئیس صاحب اداره امور را واستولم، یو څه تحویلي وه. بیا یې بسته ورسره خلاصه کړه او یو لک او پنځوس زره ډالر یې زرمیر ته وسپارل، زرمیر د پیسو د شمېرلو وروسته هغه ته مانا دار وخندل ویې ویل: رئیس صاحب! اوس دي لا مبارک سه، په کندهار کي په ورځ کي دومره پیدا کولای سې؟ د کندهار ګمرک ډېر برکتي دئ.

امید چورتونو واخیستی چي دې هلک خو مکتب په ټېلو ټېلو خلاص کړی، دومره ټمبل وو چي درې ځله په کانکور کي بې نتیجې سو، دا دومره پیسې یې له کومه کړې او اوس څنګه رئیس سو، ده به لا دا چورت وهی چي زرمیر پر ږغ کړه: امید خانه! رئیس صاحب مخکي د هرات په ګمرک کي مامور وو، اوس دا دئ د هغې وظیفې له برکته د بلي چوکۍ مستحق سو، دغه یو نیم لک او رئیس صاحب په هره میاشت کي دېرش زره جمعه کوي، دا ټول د ترکیې له حسابه د اداره امور د رئیس صاحب اکاونټ ته ځي ، دا دي درسره یادابنت

(c) ketabton.com: The Digital Library



وي. وروسته د گمرک نوي رئيس پارچه واخيستله او نيم ساعت وروسته په فسبوکونو کي د کندهار د گمرک د نوي رئيس صاحب له ټاکل کېدو سره د مبارکۍ پيغامونه خپرېدل.

د رئيس صاحب له تگ وروسته يوه وچه کلکه ناجوړې نجلۍ راغله او زرمير صاحب ته يې وويل: زه فلانکي استاذ را استولې يم، هغه سلامونه ويل او پرچه يې راکړه. پرچه يې زرمير ته ونيول، زرمير چي په فسبوک کي ويډيوگاني اړولې را اړولې، همداسي يې تليفون ته کتل نجلۍ ته يې وويل: استاذ پسي پرېږده، ته تر استاذ مهمه يې. بيا يې يو رقم له ځان سره وخندل او و يې ويل: خدمت وايه!

نجلي وويل: موږ د کابل پوهنتون محصلين يو، دا کال فارغه کېږو، د فراغت له پاره مو مرسته په کار ده.

زرمير هم هغه سي په چوکۍ کي ځنگېدی ويې ويل: پوهنتون مو څه په درد خوري، پيسې پيدا کړئ، ته به داسي وکړې چي سبا ماځيگر پنځه بجې په کارته نو کي زما ځای ته راسې، هلته به خبره وکړو، اميد په حيرانۍ زرمير ته وکتل، ځکه چي پر پنځه بجې د بې گانه نجلۍ يوه ليري او د مېلمنو دفتر ته غوښتل، څه مانا يې درلوده، خو ځان يې تېراوه.

سبا چي اميد دفتر ته راغلی زرمير وختي لا راغلی وو، د دفتر د تليفون څو زنگه زرمير نه جوابول، اخير يې نفس تنگ سو، اميد ته يې وويل: دا تليفون پورته کړه! ورته ووايه چي زه نه يم، د يوې مياشتي له پاره دوبۍ ته تللی يم، محصلين په دومره مصرف نه ارزي.

يو گړی وروسته يو کس په نظامي درشي کي راغلی، زرمير ورته راپورته سو، روغبړ يې ورسره وکړی، بيا زرمير انرژي ورته کښېښوول، نظامي کس ورته وويل: ياره زرمير خانه! دا ځل به هم همکاري کوې، جنرال خو دي کړم، مگر ترفيع او يو ښه بست به راپيدا کوې.

زرمير پر زنگانه وټکاوه ويې ويل: ورسه! زړه مي مه خوره، هغه د پېښورو

(c) ketabton.com: The Digital Library



خبره چي وايي ټايم به لګې خرچه به پې راځي. له دې سره دواړو په زوره وخندل، زرمير ورته وويل: يو ښه ارام ځای به درته پيدا کړم، کرار ورته کښېنه، نه به ټک وي نه به ټوک.

جنرال يو ناڅاپه وويل: نه پام! ارام ځای په درد نه خوري، پيسې خو په جنګ او نا ارامه ځای کي دي، دومره وخت دي تجارت وکړئ په دې پوه نه سوې چي د دنيا اتيا فيصده پيسې په جنګ کي دي او اپراتيفي پيسې دي چي پوښتنه يې نه سته، خالي د عسکرو شمېر ورکړه، جګړه او ډزي وکړه او مهمات خرځ کړه، د تلفاتو راپور ښه غوښن وليکه، د اکرامېي پيسې بېله د نوي جلب جذب نوي تجهيزات او د تعمير د ترميم پيسې، هر څه درته په جېب کي پاته دي.

زرمير وويل: نو دا نظام خو ټول وايي چي د پښتنو په لاس کي دئ، نو بيا ولي دومره پيسې پر رتبو او بستونو ورکوئ، خو هر څوک مو خپل دي.

جنرال ورته وويل: ګوره زوروره! زه به دا نظام درته تشرېح کړم د بن په کنفرانس کي يوه جوړه دا سوې چي درې نظامي ارګانونه وزارت داخله، دفاع او امنيت ټلوالي ته ورکول کېږي، نو ځکه هم هلته فهيم مارشال سو او پر هم هغه اساس سلګونه جنرالان يوازي د پنجشېر سول.

زرمير ورته وويل: د پنجشېر که د تاجيکو؟

جنرال وويل: نه يوازي د پنجشېر، بلکي د بدخشان، تخار، بغلان، مزار او پاته سو تاجيک ټول تاجيک لس جنراله نه لري، مګر يوازي پنجشېر تر زرو ډېر جنرالان او ډګروالان لري، نو وزارت دفاع د ټولو ولايتونو لوړبستونه، داخلي ټول بستونه او د امنيت ټول بستونه له دوی سره دي، چي خپله يې کوي که يې خرڅوي، مګر کښته عسکر او نظاميان له ټولو ځايو دي، د خوار او غريب اولاده يو او بل سره وژني، د جنوب خلک، هزاره او مشرقيوال ځوانان تر ټولو زيات وژل کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زرمیر وویل: جنوب والا خو ما هیڅ نه دي لیدلي.

جنرال وویل: نه! هلمند، روزګان، کندهار او د جنواب ولایت تر ټولو ډېر تلفات لري، یو خو دښمن ټول نفوس ګیري له همدې ولایتونو کوي، له بلي خوا هلته ځایي عسکر پوله ساتي او اربکیان ټوله دوی خپله دي، د ورځي تر سل زیات تلفات لري او په نظام کي تر ډګروال پورته نه لري. مشرقیوال زیات په اردو کي دي، بل خوا کنړ ډېري زیاتي قربانۍ لري، خوست، پکتیا او پکتیکا بیا په صفري قطعاتو او کي پي ایف کي سخت تلفات لري او دا دي هېره نه وي چي بامیان، بدخشان، او تخار هم په اردو کي سخت تلفات ورکړي دي، مقصد د نظام پاچاهي ټوله له پنجشېر سره ده.

زرمیر جنرال ته وویل: خی! هغه دئ چي وطن داسي ګلي ګلزار دئ. بیا زرمیر یو چا ته زنګ وواهه امک امک یې ورته وویل او د جنرال صاحب له پاره سودا وسوه. جنرال ولاړی زرمیر امید ته وویل: امید جانه! داسي غوري دي، که یې زه ونه کړم بل همدا کار وبار کوي.

زرمیر په دې وخت کي وویل: امید خانه! درځه چي یو ځای د غرمې ډوډۍ هم وخورو او یو څوک به هم درباندي ووینم. موټر ته وختل او د ښاري نو خوا ته روان سول، په ښار کي بیربار تر پخوا ډېر وو، فقیران تر سودا اخیستونکو ډېر وه، د زرمیر د موټرانو کاروان په هارنګونو ځان ته لار خلاصوله، ترافیک هر ځای دوی ته سلامي کول او زرمیر به ورته کتل هم نه، خو د خلګو پر مخ د وراخطایي نخښې معلومېدې، دوی په ښاري نو کي بخارا هوټل ته ننوتل، دا د ښار تر ټولو لوکس هوټل وو، یوه د لنډ قد درلودونکي ژر دروازه خلاصه کړه، د هوټل منېجر رامنډه کړه ویې ویل: رئیس صاحب! وکیل صاحب اینجا برایت منتظر است.

دی یې یو مخصوص اطاق ته رهنمایي کړئ، کله چي دروازه خلاصه سوه د ظریفو او ښځینه عطرو بوی رانئوتی، دوی چي ورننوتل، پر مېز باندي مخامخ د پارلمان یوه نسبتًا لنډ قدې ښځه ناسته وه، په خندا را ولاړه سوه، زرمیر خان ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



يې ټيټه چمبه ورکړه، لکه ښه ټينګ پخواني ياران چې وي، بيا يې وويل: ډوډۍ مي ستا له طبيعت سره سمه راغوښتې ده، را څه مهرباني. زرمير اميد ورته معرفي کوی، خو وکيلي ډېر په اعتنايي سره سر وښوروئ او خبري يې شروع کړې ويې ويل: رشتيا وايې، ځان دي کانديد کړئ، نو رياست ته دي اړولي دي که معاونيت ته؟

زرمير وخندل ويې ويل: ته وده! يو وار راسو بيا به ګورو، اوس لا وختي دئ.

بيا وکيلي وويل: هغه ستا ملګرى وکيل صاحب د قندوز د سقوط هيئتي اخيستې ده، دا به نه څني را رانيسې؟

زرمير وويل: په څو يې غواړې؟

وکيلي وويل: په پنځوس زره. بيا زرمير زنګ وواهه، څو دقيقې يې زنګونه ووهل په دريم زنګ يې وکيل پيدا کړئ، له ډېرو چنو وروسته وکيل راضي سو، خو نرخ يې يو لک ډالر وواېه، بيا زرمير وويل: زه فيصله کوم، دواړه وکلات ماته راکړئ. آخر يې خبره په پنځه اويا زره ډالره خلاصه کړه، هغه هم د زرمير په احترام. زرمير د تليفون وروسته وکيلي ته وويل: خوشحاله سوې؟

هغې ناز وکړى ويې ويل: ګرانه سودا دي وکړه. ده ورته وويل: يو لک خو به والي درکوي، پنځوس قومندان او اويا به له رئيس امنيته اخلې، نور هم پيدا او پنا پکښې سته، ناشکري مه کوه.

وکيلي وويل: څه خداى به يې خير کړي. بيا يې پسي وويل: اوس نو دا نوي څلور پروژې چې مي د ښځو له پاره اخيستي دي، د دې خريداران دي پيدا کړه؟

زرمير وويل: پيدا کړي مي دي؛ مګر په څو فيصدي يې خرڅوې او زما فيصدي به څو وي او بل په کومو ولايتونو کي دي، ولي يې خپله نه کوې؟

وکيلي وويل: تا ته زه ډېره بې کاره درمعلوميږم زابل، غور، ډايکندي او

(c) ketabton.com: The Digital Library



بادغیس ته به زه روانه یم پروژې به کوم، کونډې به راټولوم، کار به ورپیدا کوم، یا به بویونو کوچنیانو ته په کېږدیو کي صنفونه جوړوم.

زرمیر په زوره وخندل وکیلي و ویل: ښه فیصدي یې پنځه دېرش فیصدي ده، ستا شپږ فیصده ده، درې پر ما دي او درې پر مقابل لوري، له ډېرو چنو وروسته خبره په دېرش فیصده خلاصه سوه او زرمیر خپله فیصدي اته ته لوړه کړه، څلور پر وکیلي او څلور پر مقابل لوري.

کله چي له هوټله بیرته راووتل زرمیر څلور سره پروژې پر دریم لاس په څلوېښت فیصده خرڅي کړې او څلور فیصده یې هم واخیستل.

سبا سهار چي کله امید صرافۍ ته ولاړی، د لېسې د وختونو یو سپین ږیری استاد یې راغلی، دی ژر مخ ته ورغلی، لاسونه یې ورمچ کړه را یې وستی دننه یې کښېنوی، چای یې ور واچولې، هغه وویل: معاش خو اوس نه سته، ماش وي، هغه هم کله ناکله وي، بچو ته مي دي خدای (ج) جنت ورکړي، له بهره پیسې رالېږي، په حواله پسي راغلم، په دې اخیر عمر کي مي خدای (ج) دا یوه ناره واورېده او تعلیم آفته بچي مي په بهر کي خوندي کړه، دلته به یا مړه کېدل یا به یې بل څوک واژه، وطن خو هغه سي د سوداګرو په لاس کي دئ. امید له ځان سره سخت پیکه سو، په بې خوندۍ یې وویل: استاذه! د ملت ګناه هم ده، هر څوک یې پر اوږو سپور دئ، دوی یخ پخ ورته ګوري.

استاد وویل: امیده بچو! ملت یې له اخه او ټوخه واچوی، پر خلق دیموکراتیک یې حساب وکړ، ټول کمونستان وختل شعار یې کور، کالي، ډوډۍ وه، خو له ملت څخه یې له دې درو سره سره امن او سوکالي هم واخیستله، پر مجاهدو یې حساب وکړ، هغه توپکیان سول، په سرونو کي یې مېخونه ورټکوهل، سینې یې ځني پرې کړې، رقص مرده یې په وکړی، په ناموس پسي یې کورونو ته ورننوتل، د هغه د ختمولو له پاره طالبان راغلل، سپیني ملایکي وې، لږ وخت به نه وو تېر سوی چي د پنجاب فوج په ګډه سو، بیا دا نوی حکومت راغلی، ښه کارونه یې هم وکړه؛ مګر وروسته دوی په فساد کي تر هغو

(c) ketabton.com: The Digital Library



واړول، اوس ته ووایه ملت په چا باور وکړي؟

استاد به لا نور څه ویل، یو دم یې خبري بندي کړې ویې ویل: ورک یې کړه څه یې کوې، دغه حواله را اجرا کړه. وروسته یې خپلې پیسې واخیستې او پر خپله مخه ولاړی.

یو ساعت وروسته زرمیر راغلی امید ته داسي معلومېده چي د سر دښمن یې راغلی، د استاد خبرو ډېر بد تاثیر پر کړی وو، ځان د وطن غدار ورمعلومېدی، خو هغه یې په ځان پوه نه کړی، هغه له راتګ سره سم وویل: امیده! انګلیسې خو دي ښه ده، د فلانکي کمپ څخه یو امریکایي جنرال زنګ را وهي، ترجماني به ورسره راوکړې.

یو ګړی وروسته زنګ راغلی، جنرال ځان معرفي کړی او ویې ویل: د ارګ یو امانت دئ، باید انتقال سي، په اماراتو کي یې په څو فیصده سپینوې؟

ده لس فیصده ورته وویل، هغه وویل: دا بیخي ډېري دي، یو مناسب قیمت ووایه! چي زما انتقال ما ته ګټه وکړي.

ده وویل: ته خپله فیصدي چیري غواړې؟

هغه ورته وویل: زه خپله فیصدي په اماراتو کي غواړم، دا پیسې امریکا ته نه سي انتقالېدای، زما فیصدي په اماراتو کي زما د ګرلفرینډ نوي کار وبار ته، چي هلته یې شروع کړی دئ، انتقالیږي.

بیا زرمیر وپوښتل: څو پیسې دي؟

هغه وویل: دوی خو اوس یو سلو پنځویشت میلیونه وایي؛ خو زه فکر کوم چي د تړون تر وخته به پنځوس انتقالات ورته تر سره سي، سم قرارداد را سره وکړه! چي اسمان ته وخېژې.

بالاخره په دوولس فیصده تړون وسو، چي اووه فیصده د زرمیر وې او پنځه فیصده د هم هغه امریکایي لوري وې، له دغي ورځي وروسته دوی بیا ارامه ورځ نه درلوده، هره ورځ انتقالات روان وه او امید درک کړې وه چي امریکایي

(c) ketabton.com: The Digital Library



لوری یوازي هم نه دئ، ډېر شریکان لري او پیسې یوازي دوبۍ ته نه، بلکي څو نورو مملکوتونو ته هم انتقالېږي.

امید ته هغه خبره، چي خلګو به ویل چي میلیارډونه ډالر راغله څه سول، اوس ورمعلومه سوه چي له چا سره او چیري وه.

یوه ورځ عجیبه پېښه وسوه، زرمیر نه وو د دفتر تلیفون ته پرله پسې زنګونه راتلل، کله چي امید تلیفون پورته کړی له هغې خوا یو چا په سوي اواز وویل چي نیم قطار طالبانو ونیوی، یو پنځوس میلیونه ډالر، یو سلو دوپنځوس د سرو زرو خښتي، یو دېرش میلیونه درهم او څلور میلیونه یورو، ټوله له دوی سره دي، امید څو دقیقې هوایي وو، وروسته یې حواص راټول کړل، زرمیر یې پیدا کړی او په سوي ساه یې ورته وویل: عاجل دفتر ته راسه! یوه پېښه سوې ده. نیم ساعت وروسته چي زرمیر راغلی او ده کیسه ورته وکړه، توقع دا وه چي هغه به چیغي کړي، مګر هغه ډېر ارام وو، لکه هیڅ چي نه وي سوي، یو زنګ یې ووهی، امید د زرمیر خبري اورېدلې، زرمیر په ډېر جرئت سره السلام علیکم ورحمت الله وبرکاته وویل، چي دا د ده تر پخوا متفاؤت سلام معلومېدی، بیا زرمیر وپوښتل: مولوي صاحب! په کوټه کي یې؟

هغه وویل: هو! خانه څه غوري دي ستاسي خواته؟

زرمیر ورته وویل: خیرت دئ، ته نوې ناولده وکړه.

د هغې خوا کس وویل: ښه سو چي زنګ دي وواهه، زما خپله خیال وو چي زنګ در ووهم، هغه زموږ یو ملګری یې نیولی دئ د اعدام حکم هم پر ختلی، د دې چاره ببله تا بل څوک نه سي کولای، حکومت خو دي ببله هغه هم ټول په جېب کي دئ.

زرمیر وخندل ویې ویل: ستا د دعا په برکت نوم او ادرس یې راکړه. وروسته یې هر څه یاداښت کړه.

بیا مولوي صاحب وویل: دلته مي ختې شروع کړي دي، ستا یې کور ودان، مځکه مي ستا له برکته واخیسته، په دوه جریبه کي مي کور او کوچنۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



باغچه اچولې ده او په پنځه جريبه کي مي د يوې مدرسې خيال دئ، د خير کار دئ ستا به هم دعا گويه ډېر سي.

زرمير وويل: څومره مصرف به وکړي؟

ملا په خوله لنډ حساب وکړی، ويې ويل: ياره! يو دوه نيم زره لکه کالداري به سي.زرمير اميد ته اشاره وکړه چي ته دا ډالر کړه، زرمير چي ډالر کړه دوه نيم لکه ډالره کېدل، زرمير وويل: مولوي صاحب! دا مدرسه لږ غټه کړه چي ثواب يې لږ ډېر سي، په کوټه کي به پښتون اباد صرافي ته يو څوک ورواستوې، چي څومره مصرف کوئ هغومره به درکړي، تر درې زره لکه کالدارو پوري يې درکوي. مولوي صاحب تلواري سو ويې ويل: موږ مصروفه خلگ يو، يو واري دي يې زما حساب ته راواړوي، زما حساب خو ستا سره سته. ده وويل: مشکل نه لري، زه به يې در انتقال کړم.

مولوي صاحب اخيري فرمايش د توپکونو درلودی، ويې ويل: جهاد دئ، ته پوهېږې دښمن قوي وسلې لري، موږ خالي لاس يو، هلکانو هلته دا د اردو وسلې ارزانه پيدا کړي دي، دانه له يو لک شل زره څخه تر يو نيم لک کالدارو پوري دي، خدای و است، مگر يو شل دانې توپکونه خو عاجل راپيدا کړه او بل يو دېرش دانې مخابرې او توپنچې مي چرکيانو ته په کار دي، اوس هلکان په ښارونو کي دي په هغو يې ښه لاس خلاصېږي.

زرمير وويل: مولوي صاحب! پيسې به يې زه در کړم، نور نو په اسلحو تاسي ښه پوهېږئ.

مولوي بېله ځنډه په خندا وويل: سمه ده ته د پيسو غم وکړه.

بيا مولوي صاحب وويل: زموږ خوا ته څه خدمت سته؟

د دوی له خبرو څخه داسي معلومېده چي مولوي مخکي لا په کيسه پوه دئ، مخکي له مخکي يې لا زرمير بار کړی.

زرمير په ماته خوله ورته وويل: مولوي صاحب! مجاهدينو په غزني کي

(c) ketabton.com: The Digital Library



موټرونه درولي دي، که مو یوه لار ښوونه ورته وکړه.

مولوي صاحب په خوند ورته وویل: اخود به یې وکړم، ته خو خپل سړی یې، په شریعت کي د چا بې ځایه زهیرولو ته اجازه نه سته.

زرمیر چي تلیفون قطعه کړی، بل زنګ یې واهه له سلام سره یې وخندل ویې ویل: څارنوال صاحب! څنګه یې، څه کیسې دي، څنګه کور مي درته خوښ کړی وو، اوس به ښه راحته یې، ګوره! دا په لسو بیسوو کي جوړ دئ، د کارته سه تر ټولو ګرانه مځکه همدا ده، خیال یې ساته.

څارنوال وویل: کور دي ودان حاجي ګله! ستا برکت دئ، زما خو ولاکه لمسو لا دا خوب لیدلی وای.

زرمیر وویل: دا کور نو بیا بېله نوي ماډل لکسس زرې خوند نه کوي، یو دانه مي پرون ځان ته له دوبی څخه راوغوښتی، ستا چاره مي هم وکړه تا ته مي هم راوغوښتی.

څارنوال وویل: ژوندی دي یې! زه خو دي په دې بیخي وګټلم. څارنوال بیا وویل: رئیس صاحب! څنګه دي زنګ وهلی وو، خیرت خو به وو؟

زرمیر وویل: دغه شمېره بندي مي په کار دئ.

څارنوال وویل: پر دې خو اعدام اوښتی دئ، هیڅ امکان نه لري.

زرمیر وویل: امکان یې په تا پوري اړه لري، زما دی په کار دئ.

څارنوال وویل: ته صبر قاضي صاحب سره باید خبره وکړم.

زرمیر وویل: په هر څو چي کېږي، خبره یې یو طرفه کړه. نیم ساعت وروسته څارنوال زنګ وواهه ویل یې: په کارته سه کي چي د حوزې پر مخامخ دا نوي بلاکونه جوړېږي، قاضي صاحب غواړي چي هلته دوو زامنو ته، چي ډېر پر ګران دي، کورونه واخلي، نو یو بندي ازادول به ډېر اسانه کړي.

زرمیر بېله دي چي نرخ معلوم کړي وویل: د دواړو تذکېرې راته راواستوه، بندي له دوسیې سره زما کور ته راوله، د شپې به ډوډی زما سره وخورئ.

په یوه ساعت کي دغه هر څه تر سره سوه. په کوټه کي پیسې انتقال سوې،

(c) ketabton.com: The Digital Library



څارنوال ته د موټر اسناد واستول سول، قاضي ته د دوو نوو اپارتمانو ټاپه سوي اسناد ورسېدل او بندي له دوسيې سره د زرمير مېلمستون ته راغلی، له ويډيويي خبرو وروسته د زرمير موټرونه په غزني کي پر قاچاقي لارو بهر ته وخوځېدل.

امید له ځان سره چورت واهه چي خلگ چي شکايت کوي چي کارونه يې مياشتو او کلونو ته ځنډيږي، هغوی پيسې نه مصرفوي او چارواکي دلته مصروف دي.

په دا سبا چي کله دوی دفتر ته راغلل، گوري چي يو کس په شخصي کالو کي راغلی دئ، دمخه يې ځان معرفي کړی، زرمير لاس ورکړی پر مخ يې مچ کړی او ويې ويل: چيري يې، چي نه معلومېږې؟

سړي په ماته خوله وويل: هم دلته گرځو، سړی ډېر تروش وو، وروسته يې زرمير ته د هغه څو تليفوني مکالمې ور واورولې، د زرمير باڼه لا نه دي درانه سوي اميد لږ وارخطا سو، خو زرمير ورته وويل: امير صاحب! د ملي امنيت د مکالما د اورېدلو او تعقيب آمر دئ، زموږ يار دئ.

بيا يې کرار يو سپين پاکټ د کوچ پر بازو ورته کښېښوی، اميد د سترگو تر کونجو ورته وکتل او د ډالرو دوې بستې په سپين پاکټ کي په نظر ورغلې، د آمر صاحب خوله بيرته د اوبو ډکه سوه، تندی يې وغوړېدی او ښه گپه يې شروع کړه، بيا يې تليفون زرمير ته ورکړی ويې ويل: خپله يې ډليټ کړه، چي په زړه کي دي شی در ونه گرځي. د اميد نور مغزو کار نه کوی، حکومت د حکومت مخالفين، بهرنيان وکيلان او هر څه په فساد کي غرق وه، هيڅ داسي څوک او ځای نه وو پاته چي د معملو برخه نه وي، مات سوی ملت پر ماتي بېړۍ سپور وو او ماته بېړۍ د خدای (ج) په فضل روانه وه، ماڼوگانو يې د سمولو پر ځای تختې کښې او هوسېدل.

نن د انتخباتو نتايج اعلانېدل، زرمير په اولو پنځو کسانو کي وو، چي تر ټولو لوړي رايې يې وړي وې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوې بجې به وې چي امید پر تلیفون د زرمیر مسیج ولیدی، لیکلي یې وه چي موټروان در استوم، وزیر اکبر خان څورلسم سړک ته راسه، چي بریا لمانځو، د امید هیڅ زړه نه وو، زړه و نا زړه وو، پر شپږو بجو هلته ولاړی، څورلسم سړک ارګ ته غځېدلې لار ده، هلته یو ډېر لوی کور ته ورننوتل، دا لوی کور څو اوسپنیزي دروازې درلودې، چي ټولي زرې وې، غټ غټ ګارډان ولاړ وه، امید خپل نوم ورته ووایه، هغو په لیست کي وکتل، وروسته یې دی په ډېر احترام دننه رهنمایي کړی.

دی چي ورننوتی چي په ښار کي ده پېژندی او مشهوره وو، هغه ټوله دلته وه، اکثره نشه وه، د چا لا تازه په لاس کي وه، ځان یې نشه کاوه، نر، ښځې، مخالف او موافق ټول یو ځای وه، رقصېدل او خوښ خوشحاله وه، امید ته د دوی رویي عالمي جنګونه مخالف بحثونه او هر څه سترګو ته ودرېدل، هغه ولیدل چي سهار یې په تلویزون کي ښکاره کړي وه چي په نورو وکیلانو پسي یې چکوش ځغلوی، هغو تر نورو لوړ خندل او د چا یاد هم نه وه چي دوی سره مخالف دي.

لنډه دا چي امید هغه څه ولیدل چي باور یې نه کېدئ. سبا وختي امید د هند سفارت ته ولاړی او د وېزې له پاره یې اپلای وکړی، درې ورځې وروسته یې وېزه راغله، له میدان څخه یې زرمیر ته خپله استعفاء پر وآټساپ ولېږله، دی به لا طیارې ته نه وو ختلی چي پر تلوېزون یې اعلان وکړی چي د پارلمان ریاست له اوږده جنګ څخه وروسته، د میلینونو ډالرو د کښته پورته کېدو په پایله کي د باګرام له هوایي میدان څخه د غولو د ټانکرانو د ایستونکي قراردادي له خوا واخیستل سو، زرمیر د لومړي مرستیال په توګه اعلان کړل سو، د ښار مشهوري او مشهودي رقاصې پر تلویزون د پارلمان د ځواني وکیلي په توګه د نوي ځوان پارلمان په اړه همدې تلویزون ته معلومات ورکول، چي دا یې مخکي ویانده وه.

فیسبوکونو د پارلمان د څو ورځو خونړیو جګړو ویدیوګاني خپرولوې او د

(c) ketabton.com: The Digital Library



حکومت سور جرابي ویاند د ځوان حکومت، ځوان پارلمان او ځواني اداري بیانیه ورکول.

خو ځوان امید چي سرې جرابي او بهرنی پاسپورټ یې نه درلودی، له لوی علم، پوهي، ډگریو، ارمانونو او هیلو سره طیارې ته وختی، طیارې پر کابل دوره ووهل او کرار کرار د تیارې په لمن کي د یوه نوي طوفان په لمن کي د ناامیده، امید له سترگو الونی سو، د امید د سترگو له کونجه یوه اوښکه پر مخ راتوی سوه، داسي معلومېده چي امید نور وطن له هر څه سره د زړه په هدیره کي دفن کړی.

طوفان هم هغه سي ورځ تر بلي خونړی کېدئ او د هیواد سست سوي میلونه نور هم سستېدل، طوفان لا روان وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د طوفان مور لومړی ځل

د امریکا سفارت په کابل کي سفارت نه دئ، بلکي یو بشپړ حکومت دئ، چي افغانستان او منطقه ټوله کنټرولوي، که څه هم دلته هم سیاسي کشما کشونه سته، مګر بیا هم ټوله یوازي د امریکا ګټي ته ژمن دي، خو د ټولو تعقیب او کنټرول د امریکا د استخباراتو په لاس کي دئ، هغوی چي څه وایي هغه به کیږي.

دلته د سفارت برخه دوې څانګي لري، قونسلي چي ویزې او نور اړوند قونسلي چاري مخ ته وړي، له سیاست او نورو سره یې څه اړه نه سته، ډیپلوماټیک برخه، چي د امریکایي سیمي ماموریت او نوري ډیپلوماټیکي چاري مخ ته وړي او تقریبًا دا د امریکا مخ او خوله ده، مګر اصلي کارونه یې د استخباراتو له لوري سمبالیږي، چي طرحي او مسایل څېړي پرېکړي کوي او بیا پرېکړي پر درو لارو وځي، که د زور مسئله وي فوجي او نظامي اړخ ته سپارل کېږي، نور هغوی پوه سوه او لاره یې که سیاسي وه نو ډیپلوماتیک برخي یې په خبرو کیسه مخ ته وړي او که اداري اجتماعي وه، بیا نو د پروژې برخه ده، چي له انجوګانو سره ښکاره او پټ تړونونه لري.

ولي د سولي په برخه کي بحثونه موقف او هر څه متفاوت دي، د سولي له پاره خاص استازی تر ټولو زیات دخیل دی او یو لوی ټیم له زیاتو اړخونو سره اخته دئ، چي ځنګه دا حالت په خپله (امریکا) ګټه راټول کړي.

کوچني مخالفتونه یوازي مېتودونه او طریقې بدلولای سي، د نتیجو بدلول نه د چا واک دئ او نه هم دومره جرئت سته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دلته هم د ديموکراتانو او جمهوريانو خپل زور ازمولي سته، مگر دومره نه دي چي د استخباراتو لويه لوبه ورخرابه کړلای سي، نو ځکه هر څوک په احتياط او کراره قدم اخلي.

د دغي ټولي لوبي کيسه د امريکا د تاريخ د تر ټولو ځېرک او پخواني ډيپلومات افغان اصله امريکايي په لاس کي ده، دی د منځني ختيځ، افغانستان، پاکستان، عراق او نورو سيمو په سياست کي فوق العاده ځای لري، د دغي سيمي د نيمي پېړۍ اکثره سياستونه د امريکا له لوري د ده پر لاس لوبېدلي او ده هم د يوه متعهد امريکايي په توگه په ډېره معقوله توگه د امريکا په گټه لوبولی دئ. که څه هم په ختټه افغان دئ، مگر تر ډېرو امريکايانو ډېر زيات امريکايي دئ، ده وکولای سوای چي په افغان جهاد کي د امريکا رول ډېر ښه ولوبوي، بون يې د امريکا د گټو پر اساس کامیابه کړ.

په افغانستان کي يې د امريکا د گټو پر اساس څو ځله حکومتونه جوړ کړل، په عراق کي يې وضيعت د امريکا په گټه وڅرخاوه، امريکا يې په گټه له عراقه و ايستله او اوس بيا مامور وو چي امريکا د خپل تاريخ تر ټولو له اوږده جنگ څخه څنگه وباسي، که څه هم ماموريت د امريکا د جمهور رئيس په وسيله ورکول سوی وو، مگر ټول پوهېدل چي دا ډيپلوماټيک نه، بلکي استخباراتي ماموريت دئ، نو ځکه د نوي رئيس جمهور په راتگ هم ليري نه کړل سو، بلکي ماموريت ته يې ادامه ورکړه.

د ده په څنگ کي د امرکا د ډيپلوماټيکي اداري تر ټولو فعال سفير هم له ده سره په همکارۍ کي مکلف دئ. د امريکايي قوتونو د افغانستان د برخي مسول د مسلحو قواؤ اختيار کل هم د خاص استازي خبري مني، مگر هغه وخت چي استخبارات يې ورسره تائيدکړي، په مجموعي توگه ټولي خبري د استخباراتو تر فلټر وزي، مگر حتی استخبارات هم مکلف دي چي د خاص استازي خواهشات ومني، ځکه پرېکړه دا ده چي امريکا بايد حالت تغير کړي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



روان حالت د دوی په گټه نه دئ.

❁❁❁

د استخباراتو په مرکزي دفتر کي غونډه وه، د استخباراتو رئيس ډېر عصابي وو، لوی سيگار يې پرله پسې په زوره زوره کشوی، بيا يې خپل لومړي مرستيال ته وويل: دا احمقان زموږ ټول تقسيم اوقات راخرابوي، زه نه غواړم چي د سولي کيسه دي دومره تېزه سي، دوی خپل سياست کوي، خو زموږ لوبي ته يې پام نه دئ، تر هغو روسيه او چين په پوره توگه په سيمه کي فعاله سوي نه دي، تحول ته اړتيا نه سته، دا کيسه بايد روانه وساتو.

مرستيال ورته وويل: دوی پرېږده چي خپلي بغاري وهي، کيسه خو اخير هم موږ فيصله کوو، دوی دي خپلي د بشر حقوقو او جمهوريت بابولالي ږغوي، چي موږ تصميم نه وي نيولی دوی هيڅ نه سي کولای.

رئيس په قهر سره وويل: مگر دې د سپي زامنو هغه د سپي زامن قطر ته انتقال کړل، پاسپورټونه يې هم ورکړل، ما ته يې تشويش را اچولی دئ، سبا چي موږ خبرېږو دوی به کيسه خلاصه کړې وي، دا نو بيا داسي مانا لري لکه په ژمي کي چي په چا اسکريم خورې.

د نظامي برخي مسئول چي يو زوړ متقاعد جنرال وو وويل: ته تشويش مه کوه، دا خبري خو زه دا سبا درته دروم، ته يې گوره. وروسته يې خپل کوم مخصوص کس ته ور ږغ کړه چي هغه د پاکستان له استخباراتي کس سره نن ماځيگر ته يو مجلس راجوړ کړه.

سبا ته پر تلويزونونو پر خاصو ځواکونو او نورو اهدافو د حملو او چاودنو خبرونه خپرېدل او ورسره سم د امريکا جمهور رئيس مذاکرت متوقف اعلان کړل او هر څه په ټپه ودرېدل.

د شپې د استخباراتو له څانگي د جامونو کړنگونه راتلل او د استخباراتو

(c) ketabton.com: The Digital Library



رئیس د نظامي برخي مسئول ته وویل: ما ته له اوله د شیطان زوی بللې، مگر ته یې زوی نه یې پلار یې یې.

ده په خندا وویل: زموږ همدا وظیفه ده چي لوبي جوړي کړو، ستا ناحقه دي کوچنیو شیانو ته تشویش دئ، غټ شیان یادوه.

رئیس د پایپ دود پوه کوی ویې ویل: غټ شی نو څه شي دئ؟

ده وخندل ویې ویل: غټ شی دا دئ چي څنگه کولای سې یو کنیاک بوتل په یوازي سر سره وڅښې.

د دوی یو بل همکار، چي د سپېشل فورس د خاصو قطعې پخوانی قومندان تېر سوی وو، د کنیاک بوتل یې پورته کړی، ټول یې وڅښی، بیا یې په زوره زوره څو چغي ووهلې، بیا یې وویل چي داسي؟ بیا یې هر څه وکښل او په یوه نېکر کي یې تر څنگونو پوري تازه اورېدلي واوري ته ځان ور واچوی او ټولو په زوره زوره خندل.

په دې وخت کي د سفیر له دفتره یو کس راغلی او رئیس ته یې وویل: پر یولس بجې د سفیر صاحب په دفتر کي ناسته ده، راتگ مو حتمي دئ، موضوع ډېره جدي ده.

دوی ټولو یو بل ته وکتل او په رمازه یې سره وخندل.

۞۞۞

خاص استازی چي فکر کېدی، ډېر به په قهر وي، ډېر خونسرده او ارام ناست وو، سفیر او نور اړوند گډونوال هم ناست وه، د استخباراتو رئیس ورننوتی، بخښنه یې وغوښته ویې ویل: یو مهم کار وځنډولم.

خاص استازي په مسکا ورته وویل: ستاسي مهم کارونه خو ټول عمر له موږ څخه پټ وي، لږ خو سړی پوهوئ چي بیا څوک په یوه پانه کي وي. نور څوک پوه نه سول، خو سفیر او د استخباراتو رئیس دواړه موسک سول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خاص استازي وويل: نن مي ټول یو ځای ځکه راوغوښتلاست چي د ټولو راپور هم درته وایم او خبره به هم سره یوه کړو، داسي نه وي چي سبا بیا هر څه ګډوډ وي، ګورئ! موږ ټوله د امریکا د متحده آیالاتو مامورین یو، موږ هغه څه کوو چي زموږ د هیواد په ګټه وي، دا صحیح ده چي ماموریتونه او د ماموریتونو ډول مو متفاؤت دئ، مګر په نتیجه یې ټول شریک یو، زه پوهیږم موږ به له یوه بل سره د نظرو اختلاف لرو، مګر دا اختلاف باید په یوه شخصي غرض وا نه وړي، زه پوهیږم چي دلته ټول هغه کسان ناست دي چي دا ماموریت ورکول سوی دئ، زه صرف ماموریت تشریح کوم، نور برخي کول او خپله برخه تر سره کول یې ستاسي دنده ده.

تصمیم دا دئ چي امریکا په سیمي کي خپل د حضور بڼه بدله کړي، تر دې وخته بریالي راغلي یو؛ خو زموږ د خپلي ارزوني له مخي نوره اړتیا نه سته چي نظامي حضور ولرو، د فعالیتونو بڼه به په تدریجي توګه بدلیږي، لومړی خو به موږ افغانستان یوه دریم هیواد ته سپارو، چي زموږ له پاره دلته کار وکړي، درې هیواده کاندید وه، ترکیه، قطر او سعودي عربیه.

په دې وخت کي دفعتًا د چارو مسولي(شازدافیر) وویل: پاکستان څنګه؟

خاص استازی مسکی سو ویې ویل: هغه زموږ خپل مامور دئ، همکار یې نه جوړوو، تر دې لوړ حیثیت لري هم نه او د افغانستان په مسئله کي دئ، تر ټولو خطرناک ثابتیدلای سي، ځکه خپلي ګټي لري، زموږ هغې به یې ګډوډي کړي وي.

بیا یې اضافه کړه چي ترکیه له دې امله رد سوه، چي له عربستان سره یې د اسلامي نړۍ پر سر سیالي ده او بل په افغانستان کي خپلي ګټي لري ترک تباران پالي او دا اردغان ډېر د زاړه فکر سړی دئ، د عثماني خلافت خوبونهویني، سعودي مو په دې ونوماوی چي ځان هم د امریکا سیال شماري او هم د ترکیې دښمني پر سر نه اخلي، نو قطر مو وټاکئ چي هم ښه راته ولوبیږي هم د چا مشکل ورسره نه وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



تېر اولس کاله موږ تر هغه څه زياتي لاسته راوړني لرو چي تصور مو يې کولای سوای، تلفات لرو؛ خو دا هغومره نه دي چي موږ سنجولي وه، ګټه بې تاوانه نه کېږي، مخکنی رئيس جمهور ښه وو، چي خپله به يې لاره نه راسره وړله، د شاوخوا خلګو په زور به مو خپله خبره په منل، ملک سړی وو که به يې زموږ سره زور هم واهه، خو خپلو خلګو ته تسليم وو، بل وار مو په وچ زور په ومنل، تاوان هم پر ده دئ، مګر دومره چي يې دی په عذاب کړئ، څوک په خبر هم نه دي.

د ازبکانو توپکي مشر چي د بل ازبک مشر پر کور حمله وکړه، ده هلي کوپټر ور واستول، چي ويې نيسي، موږ مداخله وکړه موضوع مو کراره کړه.

دا نوی سر زوره سړی دئ فکر کوي چي دی په ناروې يا هالنډ کي رئيس جمهور دئ او فکر يې اوس هم په استادی کي بند دئ، فکر کوي چي دا وطن په طرحو او کتابونو جوړېږي، مګر نه خپله لاره ايستلای سي، نه زموږ دا اوري او مشورې ته اصلاً وخت نه ورکوي.

نو لازمه ده چي موږ خپله لاره بېله کړو، مخالفين په ننباسو مذاکرات به دننه کېږي، يوه موقته اداره رامنځ ته کوو او ځان ته بل ملګری پيدا کوو.

خو دا هر څه ته وخت ورکوو، کرار کرار مذاکرات ځنډوي، مګر موږ بايد مصروفيت رامنځ ته کړو، تر څو له فرصت څخه ګټه واخلو.

د دې خوا مذاکراتي ټيم خو له ده سره سته نه، ځکه دا سړی انتخابات کوي او خپل ضد پوره کوي، موږ مانع نه واقع کېږو، ملاتړ هم ورکوو، مذاکرات پر تاوان وو، چي مذاکراتو ته نه ولاړی، خو سوله يې ونه کړه، چي دی په حقيقت کي خپله همداسي کوي، له دواړو لورو سره اړيکي سمي ساتي، دې سړي هر څه پر خپل لوري ورمات کړي دي، انتخابات د ځان په ګټه اعلانوي، زه دی له ځوانی څخه پېژنم، مګر تاسي بل لوری هم تنها مه پرېږدئ، يو شی چي موږ معلوم کړی دئ، په دواړو لورو (طالبانو او جمهوريت) کي خلګ سته

(c) ketabton.com: The Digital Library



چي موږ ته خطر دي، د هغو چاره د فوجيانو او استخباراتو کار دئ، د دواړو لورو پر جنګ باورمن خلګ بايد پاک سي (له منځه يوړل سي).

طالبان پر څلورو برخو وېشل سوي دي، غيري پاکستاني طالبان غيري پاکستاني طالبان چي د کندهار ګروپ دئ، نړۍوال طالبان چي حقانيان دي او ايراني طالبان.

د ايراني طالبانو چاره وکړئ، هغه هر وخت خطر دئ، شروع يې د هرات له ملا نيازي څخه وکړئ، زموږ تصميم دا دئ چي د کندهار له ګروپ سره، چي نسبتًا لوی او مستقل دئ، کار وکړو او ډېر اختيارات په لاس ورکړو.

تاسي د استخباراتو او کمپاينونو کيسه هم ګرمه وساتی او کوښښ وکړئ چي انتخاباتو ته ډېر خلګ را ونه وځي، چي د انتخاباتو مشروعيت خپله تر سوال لاندي سي.

د طالبانو د مذاکراتو ټېم زموږ په لاس کي دئ، خو يو نيم يې داسي دلائل وايي چي موږ يې حېران کړي يو، حقانيان موږ د عربو په وسيله تسليم کړي دي، د پاکستان ګروپ هم دومره زور نه لري، خو دا د روزګان ملا، هغه بل سپين لنګوټي عينکي هزاره مخ چي يې دئ، دا بل د دوي د مشر باجه هغه لوی مفتي يې، دا د غزني اندړ او هغه بل د ګونتنامو نورزي چي تازه يې له باګرامه قطر ته را انتقال کړی دئ هيڅ نه کنټرولېږي، دا نور له يوه ادرسه نه له يوه ادرسه زموږ په لاس کي دي، خو ما ته دا پخوانی کمونست لنډ ږری او د هلمندی ملا تر ټولو مرموز خلک رامعلومېږي، له هر چا سره سر ښوروي او ما هيڅکله په قهر نه دي ليدلي.

دې خوا ته د پخواني جمهور رئيس ټېم زموږ سره هيڅ مخالفت نه لري، د هغه له خبرو او اشارو څخه ښکاري چي هغه غواړي چي د ملت بابا سي، بيرته راتګ نه غواړي، ملک سړی دئ، غواړي دی کښېني او ځان ته يو عزت ولري او مشوره ورسره وسي، نور نو ټوله خپلو خپلو برخو ته غلي دي، عجبه لا دا ده چي د اوسني جمهور رئيس يو تر ټولو نږدې کس څو ځله له ما سره تماس

(c) ketabton.com: The Digital Library



نیولی دئ، که موږ دی د موقتي اداري رئیس کړو، نو رئیس جمهور به استعفاء ته قانع کړي.

د استخباراتو رئیس په ټوکه وویل: هغه د سلیفي والا عینکي یادوي؟

له دې سره ټولو په هرهر وخندل. سفیر وویل: زما ډار له دې نورو قومونو له مشرانو څخه نه دئ، کیسه ټوله پښتنو ته ولاړه ده، ځکه په تېر اوولس کاله کي هر څه د پښتون په نوم تمام دي، مگر هیڅ ځای پښتون په سیستم کي نه سته، زموږ یوه لویه اشتباه دا وه چي سرمایه گذاري مو پر غلطو خلگو وه، ملي قهرمان مو ورکړی، مارشال مو ورکړی، سلگونه جنرالۍ مو ورکړې.

ځانگړي استاځي وویل: ښاغلی سفیر! اشتباه نه وه، پښتنو ستا سره دومره همکاري نه کوله، ځکه هغوی ځان مالک بولي، نو ځکه هر وخت په اسانه نه تسلمیږي، خیر تېر وخت ته به نه ځو.

سفیر وویل: په دې کي زه هم درسره موافق یم.

خلیل زاد وویل: زه یوې اوږدې تفریح ته ځم، تر هغو ټولي چاري د ښاغلي سفیر په لاس کي دي، هیله ده چي تر راتگه مي میدان صاف وي او لاره اسانه، چي دا په ختهو کي بند بوټونه وباسو او نوي جامې واغوندو.

نور نو رسمي مجلس خلاص سو او ټول په عادي خبرو بوخت سول. ځانگړی استاځی، سفیر او د سفیر مرستیاله د سفیر دفتر ته ولاړل، خاص استاځي سفیر ته لیست ورکړی چي دا لیست له رئیس جمهور سره بحث کړئ، چي دا د مذاکراتو لیست دئ. سفیر لیست وکتی ویې ویل: دا خو ډېر کمزوري خلک نه دي؟ خاص استاځي وخندل ویې ویل: زورور خلگ زموږ نه دي په کار، له کمزورو سره خبره ښه فیصله کیږي، شازدافیر ته په لیست کي د شمال د امپراطور د زوی نوم او د مارشال د زوی نومونه حیرانوونکي وه په ټوکه یې وویل: کودکستان یې ټول پکښې ځای پر ځای کړی دئ.

خاص استاځي وخندل ویې ویل: د مشرانو ایمان یې هم رامعلوم دئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دې وخت کي د نظامي قوتونو مشر راغلی، ويې ويل: د همکارۍ مسئله څنګه ده، ما ته مو کومه لار ښوونه سته؟

خاص استاځي ورته وويل: ستاسي او د استخباراتو کار مشترک مخ ته ځي، له تګ مخکي به هغه ووينو.

د نظامي قوتونو مشر وروسته د استخباراتو له رئيس سره په يوې يوازي خونه کي وليدل، د هغو کسانو ليست چي د دواړو لورو لومړی خط وو معلوم سول او د له منځه وړلو دنده يې ووېشل سوه.

مخالف لوري ته د سيمو پرېښوولو پر مخالفينو د عملياتو نه کول او د هوايي حملو د مطلق بنديدو تصميم ونيول سو، د اجتماعي برخو مسؤلينو د سبا پلان دا وو چي له مدني فعالانو سره سبا ويني، چي کمپينونه ډېر او جدي کړي، راديوګانو او تلويزونونو ته نوي نوي پروژې اعلان سوې او د ټولنيزو رسنيو د کنټرول ګروپ خپلو تبليغاتو ته بيرته ستون سو او هغه لسګونه زره جعلي ايډيانې، چي کارول کېدې او روانه جګړه يې مخ ته وړل، بيرته فعاله سوې، فيسبوکي ښکنځل، د حکومتدارۍ بدنامول، د انتخاباتو مسخره کول او د جمهوريت بدنامول، بيرته په کښ کي سول.

د طوفان مور خپل زوی ته بيا شيدې ور ايله کړې او طوفان لا پر غټېدو او غوړېدو سو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# طوفان د ملت په کور کي

د انتخاباتو کیسه تقریبًا خلاصه وه، سفیر کامیاب سو، چي په ښخواني اجرائیه رئیس د سولي د مذاکراتو ټو مسؤلیت و مني، د رئیس جمهور موافقه پاته وه او په عیني وخت کي د څو وزارته، سفارته او څو نورو چوکیو په بدل کي د شمال امپراطور ومنل چي له جمهور رئیس سره په ګډه کار وکړي، زوی به یې په مذاکراتي ټیم کي وي، د ده هر څه به خوندي وي، د ښخواني اجرائیه رئیس په هزاره مرستیال یې خاص مشاوریت ومنی، د ازبیکو مشر ته یې مارشالي ومنل او بلاخره له یوې پوره بستې سره جمهور رئیس ته راغلی.

جمهور رئیس ډېر په قهر او جدي وو، مګر سفیر ته د هغه مزاج معلوم وو، لومړی یې هغه ته مبارکي وویل، وروسته یې یوه ډېره ښه تحفه ده او لومړۍ مېرمني ته ډالۍ کړه، بیا یې د امریکا د ولس په نمایندګي نوره مرسته اعلان کړه، وروسته یې وویل: د امریکا جمهور رئیس سلام وایه او ستاسي ملاتړ یې اعلانوی او دا پیشنهادات یې درلودل.

له دې سره جمهور رئیس وغوړېدی او ښله بحثه یې د خپل خلعه کړي ښخواني لومړي مرستیال(چي د جنسي تیري له ثبوت سره یې قضیه روانه وه او په نړۍوال لیست کي د حقوق بشر د نقضوونکي په توګه ثبت وو) مارشالي ومنل، د اجرایه رئیس هزاره مرستیال یې خپل خاص مشاور اعلان کړی او د مذاکراتو لیست یې د ګوندونو او ډلو په فرمائش، چي د ملت هیڅ استاذی نه وو پکښې اعلان کړی، څو ورځي وروسته پر دې سربېره، چي ښخواني اجرائیه رئیس د

(c) ketabton.com: The Digital Library



جمهور رئیس په توگه د تحلیف مراسم هم تر سره کړي وه او ځان یې جمهور رئیس اعلان کړی وو، د سولي مشر توب په دې بهانه ومانه چې دی قرباني ورکوي، تر څو ملت له دې بحرانه وباسي، په حقیقت کې وعده ورسره سوې وه چې دی به د موقتي ادارې مشر او د سولي قهرمان وي.

د جمهور رئیس ایله زړه ته ولوېده، چې جمهور رئیس سو، هغه له اولي دورې پر هیڅا باور نه درلودی، دوهم مرستیال د پښوا په څېر په خپل قوم پالني او ځان مصروف وو، شرمندگي خو هغه وخت وه، چې په رسنیو کې یې د بواسیرو خرچه رسمًا اعلان سوه چې نیوي میلیونه افغانۍ وه.

جمهور رئیس لومړی مرستیال سخت مصروف ساته، ځکه یوازنی سړی وو چې ډېر شورانده وو او ده ډېر په سخته کنټرولوی او یوازنی کس وو چې ده له ډاره په ارگ کې نه ښکنځئ.

جمهور رئیس په لومړۍ دوره کې لا هر څه ارگ ته وصل کړي وه، حاصلاتي ادارې، اپراتیفي او مالیاتي منابع لنډه دا چې هره اداره چې دوه توته ارزیده، رئیس جمهور خپله کتله، په دوهمه دوره کې خو بیخي هر څه ورتسلیم سول، په اوله ورځ یې د قانون خلاف لومړۍ مېرمني ته بودیجه بېله کړه، خپل گروپ یې پر څلورو برخو ووېشئ ، نظامي ټولي چارې د امنیت د شورا پر غاړه سوې، چې مشري یې د کمپیوټر د برخي دکتور کوله او د انگلیستان تابعت یې درلودلی، ټولي ادارې یې اداره امور ته ورکړې او د لومړۍ مېرمني خصوصي ډاکټر یې، چې له سوېډنه راغلی وو، د دې برخي مشر کړئ. د سولي برخه ئې یوه پښتواني انجوگانو والا ته ورکړه، چې له ده سره په ډېرو پروژو کې له پخوا شریک وو او د امنیت موضوعات ئې یوه پښتواني جنرال ته سپارلي وه، چې د سولي د شورا د پښتواني مشر په وژنه کې هم تورن بلل کېدی. مگر دا تر ډېره ځایه پوري یوه آوازه وه.

۞۞۞

(c) ketabton.com: The Digital Library



د امنيت د شورا په دفتر کي د همدې څلورو مشرانو (د امنيت د شورا مشاور، د اداره امور مشر، د سولي مسؤل او د امنيت مسؤل) تر منځ ناسته وه.

د امنيت د شورا مشاور، چي ځان ئې تقريباً اختيار کل باله؛ خپل په چوکۍ کي وڅرخېدی، خپلي سرې جراپي ئې پورته کش کړې. د اداره امور مشر ورته وويل:

- ډاکټر صاحب دښمن دي تر پښو لاندي ښايسته بوټونه دي.

ډاکټر موسکی سو، و ويل:

- مننه ډاکټر صاحب، پرون مي مېرمن راوړي وه. د (گوجي) نوی ډيزاين دئ.

په دې وخت کي د سولي وزارت وزير وويل:

- چي ولا (گوجي) لږ کلک دي، زما خپله (باس) او (کلرک) خوښ دي.

د امنيتي چارو مسؤل وويل:

- زه ولا اوس د دې براندو خلاص يم، له هغه چاودني وروسته ډاکټري بوټونه په پښو کوم يا دا (سکېچري مېچري) استفاده کوم.

بيا د امنيت شورا مشاور غاړه تازه کړه، ول:

- وضيعت خو سم نه دئ. ما ته د جمهور رئيس ډاکټر ويلي، چي هر څه مه ورسره شريکوئ. نو ښه به دا وي چي هر څه بايد موږ خپله کنټرول کړو او يواځي ډېر مهم مسايل، لکه د پيسو موضوعات، د عزل او تقرر موضوعات د لاس ته راوړنو موضوعات ورسره شريک کړو.

د سولي وزير ويل:

- بهرنيان تغير راولي، په دې اړه موږ بايد واضح دريځ ولرو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د امنیت مسؤل وویل، چي موقته اداره د دوی په سیستم کي حتمي ده، دې ته باید تیار اوسو.

د اداره امور رئیس، چي پرله پسې پښه ښورول او ژاولي ئې ژوولې؛ خپل د خولې کونجونه ئې په دوو ګوتو پاک کړل او وې ویل:

- مور موقتي ادارې ته خپل بدیل لرو. بیا ئې د امنیت شورا مشاور ته لاس ونیوی، چي تر ډاکټر صاحب بل ښه کاندید نه سو ور کولای.

د امنیت شورا مشاور، چي له وختونو ئې د رئیس جمهور اکټونه کول، وویل:

- ولا دا خو درونډ بار دئ. که چاره نه وي؛ زه مجبور یم، چي دې بار ته اوږه ورکړم. د سولي وزیر وویل:

- مګر د لومړي مرستیال سره څنګه کوو؟، هغه خو بیخي تندمزاجه دئ. هیڅ کله به اماده نه سي، چي دا کار وسي؟

د امنیت مسؤل وویل:

- او تر کومه ځایه چي زه خبر یم، هغه څو ځایه ویلي؛ که رئیس جمهور استعفا ورکوي، سرپرست زه یم او اداره نه پرېږدم.

د اداره امور مشر خپل قات کړی مپلر له غاړې په قهر کش کړی، ول:

- د هغه نوره کیسه مفته ده. زموږ ئې قومي ټکیټ په کار وو، هغه مو استفاده کړی. نور په خپل پنجشېر کي هم ځای نه لري په همدې شپږ نیمو بجو مجلسونه او احساساتي ویناګانو دي مصروف وي. هغه ورځ چي ئې د سولي له جرګې سره په خبرو کي ژړل او ویل ئې؛ زه جاسوس یم، اکټر نه یم. زما له خندا زهره وچاودل، چي د ده تر اوسه په دې سر نه دئ خلاص، چي جاسوس او د امنیت متخصص فرق لري.

د امنیت مسؤل، چي غوښتل ئې خبره بیرته جدي کړي، وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- دا به نو بیا زموږ انډیوالي نه سوه، چي یواځي ئې پرېږدو. زه او وزیر صاحب به ورسو، یو توافق به ئې واخلو، چي یوه د اوږو پزه خو سي.

د اداره امور مشر وویل:

- چي څونه پیسې مو په کار وي، ږغ وکړئ. نور دغه د موقتي اداري کیسه لږ جدي کړئ. رئیس جمهور استراحت ته اړتیا لري. نور ټوله استخباراتي او جنګي لینونه پر قطعه کړئ او خبره باید زموږ له ادرسه وسي.

په دې وخت کي دروازه خلاصه سوه، څلورو سره یو دمي دروازې ته وکتل. یوه لوړه جګه ښخه نجلۍ راننوته. راننوتو سره سم د امنیت شورا مشاور وویل:

- اغلې یوه له ډېرو تکړو ځوانانو ښځه ده. د اداره امور د رئیس صاحب ئې کور ودان؛ دا ئې پرون موږ ته معرفي کړه او دلته قلم مخصوص ده.

د نجلۍ چي پایڅې ئې د تازه شروع سوي موډ پر اساس له بوټونو درې ګوتي پورته وې، سپیني پونډۍ ئې معلومیدې؛ په ناز او ادا وخندل او وې ویل:

- زه له دوی سره د پخوا پېژنم.

څلور سره پیکه سوه. داسي لکه یو بل ته چي ئې راز افشاء سوی وي.

د سولي وزیر په مسکا وویل:

- اغلې، هغه ملګرې دي چیري ده؟ ځوانیمرګه زموږ هیڅ احوال نه اخلي.

د امنیت مسؤل وویل:

- هغه اوس خپل بیزنیس لري. دوبۍ کي ئې خورا کش و پش دئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اغلي خدمتي نفر ته چي دې ته ورته فېشن کړې نجلۍ وه؛ د چايو د ايښودو وويل او خپله د امنيت د شورا پر مشاور داسي ور کړه سوه، چي نورو درو ئې د پاته وجود تماشه کوله. هغه ته ئې په غوږ کي وويل، چي د ټولنيزو رسينو (فيسبوک، ټيوټر او ټيکټاک) ټيم منتظر دئ.

ده ورته وويل: د چايو د ډوډۍ غم ئې وخورئ او پاکټونه هم تيار کړئ چي هغوی مي نن ډېر جدي په کار دي.

وروسته د امنيت د شورا مشاور وويل:

- پلان دا دئ، چي زموږ له خوا نور حملات او تعروزونه بند دي، دفاعي حالت ته ځو او له ډېرو اطرافي ځايونه څخه ځواکونه د مرکزنو په لور سوق کړئ.

د امنيت مسؤل وويل:

- صيب، د ابه روحيه ماته کړي.

د امنيت شورا مشاور ئې خبره ور ودروله، ول:

- موږ د پلان عملي کوونکي يو، بدلولای ئې نه سو. د خارجي دوستانو غوښتنه همداسي ده.

بيا ئې پسي زياته کړه:

- هغه سيمي چي ضرورت ئې نه سته، تخليه کړئ. شهيدان ئې هم هلته پرېږدئ، ځکه موږ دومره امکانات نه لرو، چي انتقال ئې کړو.

د امنيت مسؤل بيا غوښتل، چي څه ووايي. د امينت مشاور ورته وويل:

- ته صبر چي دا ليست خلاص کړم.

شپږ زره بنديان، چي لويي جرگې پرېکړه کړې ده، د يوه منظم تقسيم اوقات له مخي ازاد کړي.

د اداره امور رئيس دفعتاً وويل: په دې کي زياتي پيسې کښته پورته کيږي. اداره امور او امينت شورا به يو مشترک کاري ټيم جوړ کړي، ليستونه به تهيه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړي. د امنیت مسؤل وویل:

- مقصد زما یو کس باید په کښې وي.

د سولې وزیر وویل:

- زه غواړم خپل یو ناظر هلته ولرم، ځکه د سولې اړوند موضوع ده.

د امنیت مشاور په دې وخت کې وویل:

- زه درڅخه ځم، یو ډېر مهم کار راته ګوري؛ بیا به سره وینو.

او په خدای پاماني پاڅېدی.

د اداره امور رئیس هم پسې ووتی.

د سولي وزیر او د امنیت مسؤل یوځای راووتل، خو دواړه په غوصه وه. د امینت مسؤل د سولي وزیر ته په قهر وویل:

- دا وړی نه سوې شړی. موږ ئې په ماشومانو جوړوو.

د یوه عیسوي مېرمني والا څخه به خلاصېږو، بل ته به کښېنو. دوی احقمان دي، که ئې پر موږ د احقمانو ګمان کړی دئ. اوس د رئیس جمهور کېدو خوبونه ویني، ریشخند دئ؟

د سولي وزیر وویل:

- دا کشران دي، تجربه ئې کمه ده. د اداره امور هغې فکر کوي، چې حکومت یوازې پیسې ګټل او د چوکۍ خرڅول دي. هغه ورځ ئې زما له اخښي څخه ونډه غوښتې ده، چې په اصلاحات اداري کي ښه درامد لرې. د ارګ برخه راکه، هغه ورته ویلي وه، چې زه مستقیم له نفر اول سره ډیل کوم، ستا سره نه. بیا د نفر اول له خوا شفر راغلی وو، چې د اداره امور سره لار یوسه.

د امنیت مسؤل وویل:

چې یعني هغه په خبر دئ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



د سولي وزير وخندل، ول:

- په خبر نه، په شريک دئ. هر څه خپله کوي، تاريخ ته به دوی مخ ته کړي، چي دغه دوه هلکان وه. کنې هغه تا ته نه دئ در معلوم، چي د ولايتونو کوچني رئيسان لا په خپله انټرويو کوي.

د امنيت مسؤل وويل:

- اوس دې ته چورت وړی يم، چي د مېرمن اول جواب وايم. د معاون اول د جمهور رئيس، د اداره امور او که د امنيت د شورا. دا کومه طرحه، چي ده نن وويل، دا مطلق د سقوط طرحه ده، ځايونه تخليه کوي. شهيدان پرېږدي او بنديان ور ايله کوي. دا بل بيا د صدراعظمۍ خوبونهويني، دوی فکر کوي، مور د دوی په لوبه نه پوهېږو او دا فکر ئې خپل هم نه دئ. د هغه امريکايي مېرمني پلان ئې دئ، چي اوس اخته ده، د امريکا په کانګرس کي موقتي ادارې ته (لابي) کوي او موقته اداره د حکومت پر مخالفينو تاوانوي.

انډيواله ما او تا ته سخت کار ګوري، هم به له نورو سره پنجه نرموو او هم له دې خپلو سره. د سولي وزير وويل:

- ته خو پوهېږې، زه د مؤسساتو او اينجوګانو سړی يم. په دې استخباراتو او نورو کيسو نه در پوهېږم. زما اړتيا دا ده، چي کارونه مي روان دي، هيڅ نه ده راته مهمه، چي څوک ئې مشر دئ. بيا هم زما ټول ملاتړ له تا سره دئ. او بيا ئې په مکر وخندل، ول:

- مور خو د پخوا ياران يو، خپله ورځ به تر هغو تېروو، چي تېرېږي چي ودرېده، بيا به ګورو.

د امنيت شورا مشاور، چي د ناستي له ځايه راووتی، د اداره امور رئيس ته ئې اشاره وکړه. هغه په پسې سو او سيده د هغه مخصوص دفتر ته ولاړل. په لاره کي د پارلمان وکيله، چي د اداره امور په وکيلي مشهوره وه او ټوله ورځ به د اداره امور په دفتر کي وه. د اداره امور رئيس ته ئې وويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- ناشته مي تا ته منتظره کړې ده.

هغه په خندا ورته وويل:

- ته درځه، زه درځم.

د امنيت د شورا مشاور له دروازې بندولو وروسته وويل: انډيواله، کيسه خو بل رقم ده. ما ته پرون وويل سول، چي اوولس ولايتونه پرېږدم او دا ولايتونه بايد د ايران له سرحده، د مرکزي اسيا د هيوادونو تاجکستان، ازبکستان، ترکمنستان او چين له سرحدونو او د پاکستان له سرحدونو د مرکز پر لور وي. ځواکونه بايد دې اوولسو ولايتونو ته را ټول کړو، له هغه وروسته به په کابل کي مذکرات کېږي. طالبانو له دوی سره پنځه هډې منلي او په کابل کي به په سفارت کي څلور زره عسکر پاته کېږي. له هغه وروسته به موقته اداره راځي، چي مشرتوب ئې ما ته راکوي. د پيسو کيسه او اداره خو ئې هغه ده ستا ده، تيار صدراعظم يې. رئيس جمهور به قانع کړو، چي معاون اول هم له ځان سره قانع کړي، چي اماراتو يا يو بل دريم هيواد ته ولاړ سي او هر څه ئې خوندي سي. د نوي حکومت له جوړېدو وروسته به بيرته راستون او د وطن نيلسن منډيلا سي. کيسه ډېره ژر او لنډه ده. درځه، چي دا فيسبوکيان او نور راغلي رسنۍ بايد و نه بايلو.

د اداره امور رئيس او د امنيت مشاور له يوه ډله ځلمو سره د امنيت شورا د خاصو مجلسونو اطاق ته ننوتل. هلته لا له مخکي يوه ډله ځلميان ناست ول. نوي راغلي ځملي له ناستو ځلمو متفاوت ول، د هغو لباسونه، د لباسونو ډول، د وېښتانو او مخ ستايل ټول متفاوت وه. نوو راغلو ځلمو ناستو خوارکيو، زبېښلو او پر مخ د خپگان، ستړيا او غربت معلومو ځلمو ته په حقارت کتل او گواکي په کتلو ئې دا ښودل، چي تاسي لا څه شي ياست.

د اداره امور رئيس غاړه تازه کړه، ول: ټول ستړي مه سئ. نوي راغلي ځلمي به زه تاسي ته معرفي کړم. د امنيت شورا مشاور مداخله وکړه، ول: خپله دي ځان معرفي کړي، چي لږ دلاوره سي. بيا هغو ځوانانو په ماته او گوډه پښتو او فارسي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځانونه معرفي کړل. ځینو خو بیخي په نورو ژبو معرفي کول. ډېرو بیا د بلي ژبي په لحن پښتو او فارسي ویل. ډېر له اروپا او امریکا راغلي ول، هلته کوچني لوی سوي ول.

ناست ځلمو، چي ټوله جرار په ژبه پوه او خوله‌ور ځلمي ول، ځانونه معرفي کړل. خو بیا هم د نوي راغلو ځلمو غرور راکښته نه سو، ځکه بهرني ژبي او بل تابعیت د هغو غرور ډېر لوړ کړی وو.

وروسته د امنیت شورا مشرانو ځلموته وویل، چي دا زموږ مطبوعاتي ټیم دئ. دوی هر یو سلګونه پاڼي لري او هره پاڼه زرګونه او لکونه تعقیبونکي.

نن مي دې ته راغوښتي یاست، چي پر ځینو ډېرو مهمو مسایلو خبري وکړو او رسنۍ سمي فعاله وساتو. اوله خبره دا ده، چي زه ستاسي د نوي موقت حکومت مشر... (له دې سره بې واره چک چکي سوې) دوهم دا چي هر مطرح کس باید دونه وټکول سي، چي میدان یوازي ما ته پاته سي. بلخصوص پخوانی ولسمشر سم وټکوئ، ځکه هغه پاته دئ، چي بهرنیان ئې سلا مني، دریم دا چي د عسکر او طالبانو د ورورولۍ او یوځای کېدو خبري تېزي کړئ او د عسکرو راشاته کېده لږ ډېر ولیکئ. څلورم د مذاکراتو د ژر شروع کېدو او په داخل کي شروع کېدل تبلیغ کړئ، چي تړون او سوله ژر وسي. پنځم یوه شپه باید ناره تکبیر د کابل له ټولو کورونو راووځي، یعني خلک باید ښه سم مصروف وساتئ. کوښښ وکړئ، چي خلک احساساتیان او بې واکه نه سي، هر څه باید زموږ پر خپل محور وګرځي. د قانون د تعدیل او حکومتونو نوعیت د خلکو په رایه پوري وتړئ.

نوري لارښووني ئې هم وکړې، خو تر ټولو جالبه ئې دا وه، چي ویل ئې: طالب نور ورور وبولئ او ازادېدل ئې ولمانځئ. د بندیانو ازادېدل زموږ لاس ته راوړنه وبولئ. جمهور رئیس ډېر مه یادوئ، بیا د خلکو ور پام کیږي، بیا ئې په عذابوي.

په تالار کي ناستو ځلمو یو بل ته په پوښتونکي نظر وکتل، ټولو حس کړه،

(c) ketabton.com: The Digital Library



چي ډېر څه بدلېدونکي دي. په تالار کي يوه هڅور د ځرځو وروځو ځوان پاڅېدی، ول: دا اردو، دا قرباني، دا سپين ږيری اولسمشر... دا ټول رشخند سول؟ تاسي له موږ څخه د نظام او قانون سره د غداری واياست؟

پاڼي ئې ځيري کړې او له تالاره ووتی. د امنيت شورا مشاور او د اداره امور رئيس د موضوع په نزاکت پوه سول او درک ئې کړه، چي تېزي ئې کړې ده. غونډه وپاشل سول او پاکټ په جېب کي ځلمي له تالاره ووتلل.

په سبا همدغه د پرون ځلمو په ټولنيزو رسنيو کي د همهغه ځرځو وروځو د ځلمي عکسونه خپرول، چي د چسپکي بم په چادونه کي شهيد سو.

هيچا نه پوښتل، چي ولي او څنګه؟

د غونډي له تالاره چي ووتل، د امنيت شورا رئيس د اداره امور رئيس ته وويل: سيمي بايد پرېښول سي، ځواکونه بايد د مرکزونو په لور حرکت وکړي.

د اداره امور رئيس وويل: ټول ځواکونه خو زموږ په خوله نه دي. مشرقي زه درته کنټرولولای سم، د شمال به څه کوو؟ او بل د جنوب هغه د ميوند قول اردو قومندان او د ملي پوليسو دواړه قومندانان د پخواني ولسمشر د ټيم پخواني خلک دي، زور ئې هم ډېر دئ. عملاً هم هلته سخته جګړه روانه ده او هغه د هيچا نه مني. د کندهار د قومندان، د سنګوريانو د هلمند قومندان او د فراه د ولايتي شورا د رئيس له وژلو سربېره دا سيمه نونس کاله چا ماته نه کړه، دوی فکر کوي، چي د هغو په وژلو به دا خط مات سي.

د امنيت د شورا مشاور وويل: د شمال کار بل چا پر غاړه اخيستی، هغه د جنوب هلکان نن درته اعلانوم. يو لوی درستيز کوم، بيا دلته ئې مصروفول زما زده دي او بل د خاصو قوتونو قومندان او د کابل د امنيت ساتونکی اعلانوم. ته پر مشرقي کار وکړه، زنګونه شروع کړئ.

له دې وروسته بهر ته پروازونه زيات او په اداره امور کي سور جراپي هلکان او پايځې لوړي نجوني ورځ په ورځ کمېدې، د ملت د کور ساتونکي د

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپلو باوري کسانو په خپلو سیالیو او خپلو لوبو کې داسي غافله ساتلی وو، چي حتی خبر نه وو، چي په هیواد کي څه روان دي او پر له پسې ئې بیانیې د نورو طرحو په اړه وې، چي د روان وضعیت سره ئې هیڅ سر نه خوړی. ځکه پر شاوخوا راټولي کړی یې له ملت، رسنیو او هر څه څخه لیري ساتی.

او بیا هغه ورځ هم راغله، چي امریکې ته د لومړي ځل له پاره یوه مستقیمه الوتنه تر سره سوه، چي جمهور رئیس او د سولي مسؤل دواړه په کښې وه. مگر دې الوتکې ته اجازه ځکه ورکول سوې وه، چي د دوی په وسیله د تېرو نونسو کالو تر ټولو مهم اسناد او قراردادونه په کښې انتقال او هلته خوندي سي.

له سفر وروسته جمهور رئیس په پوره ځواک د مخالفینو د ځپلو اعلان وکړی، خو اردو، عسکرو او ټولو ځواکونو ته له نامعلومو لورو زنگونه وهل کېدل او هره ورځ د اولسوالیو او استقامتونو خبرونه راتلل.

طوفان خپل اوج ته رسېدلی وو او غټوونکي ئې هغوی ول، چي د طوفان په وړاندي ئې د هیوهوی چغي وهلې؛ مگر نور ئې د طوفان په راوستلو متهمول. زنگونه هغوی وهل، چي ځان ئې راتلونکی واکمن باله او اوس هم د واک لویه برخه وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د طوفان تمو‌ونکي

**(سپېڅلي پرښتې)**

خوازک د وردگو وو. راسخ به په ټوکو ورته وویل، چې ټول وردگ طالبان او حزبیان دي. دا تا څنگه لاره غلطه کړې ده. دی به احساساتي سو، ول: ملي اردو زموږ وردگ وزیر جوړ کړی. د امنیت رئیس زموږ وردگ دئ. وزارتونه ټول له موږه ډک دي. خوشي لگیا یې.

نصرت د کنړ د کوټکې وو، هغه به راسخ ته ویل، چې مېلې خو تاسي وکړې. جنرالۍ او ډگروالۍ ټولي ستاسي دي او قرباني ټول کنړ ورکوي. پرون مي د خپل کلي د کور د څنگ هدیره کتل، اووه ویشت قبره د اردو د سرتېرو وه او یو هم تر اووه ویشت کلنۍ لوړ نه وو.

سهراب وویل، چې زموږ بدخشان مه هېروه. موږ هم له تاسي کم نه یو په قرباني.

علي رضا وویل: نو هزاره‌گان بیا کله لږ قرباني سول؟

په دې وخت کي قاري بشیر، چې د دوی د ټیم ډاکټر وو او لمونځ ئې هم ورکوی؛ په ږیره کي ئې لاس تېروی، ول: علي رضا بچیم، درواغ به نه وایې. تاسي ټول په پوهنتونو، مکتبونو او دفترونو کي یاست. په فوج کي لږ یاست.

په دې وخت کي د دوی قومندان، چې دوی ټولو ته ئې د اولادو په سترگه کتل؛ ځان راښکاره کړی. دوی ټولو سلامي ووهل. هغه یو بغل ته کښېنستی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوی ټول ئې مخاطب کړل، ول: چا ته مو سلامي ووهل؟ یوه ویل: خپل مشر ته. بل وویل: خپل جنرال ته. بل وویل: خپل قومندان ته. یوه په لوړ اواز وویل: د افغانستان د مسلحو قواوو د ملي اردو جنرال ته.

جنرال وویل: افرین، زموږ اصلي اصالت د افغانستان ملي اسلامي اردو دئ. تر دې هاخوا بل هیڅ شی نه سته. پر موږ د قوم، سیمي او نژاد فرق حرام او کفر دئ. موږ سرتېري یو، له دې ور هاخوا نور هیڅوک نه یو. راسخ جانه، ستا یاد دي، چي د نورولي او حضرت میر وینه څنګه یوځای توی سوه، یو رنګ ئې وو. یو د اروزګان وو، بل د بدخشان. ولي الله د کنړ دي یاد دئ، چي د سمنګان د ابوذر مرمۍ ئې پر سینه واخیسته؛ شهید سو.

زما نږدې څلوېښت کاله د خدمت کېږي، په دې څلوېښت کاله کي ما همېشه لیدلي، چي اردو د دې ملت له پاره تر ټولو لویي قربانۍ ورکړې. که څه هم نا اهلو رهبرانو مارشالیاني او رتبې معامله کړي او رهبري هر څه سودا کړي، مګر زه په نړۍ کي تر خپلي اردو سپېڅلې اردو او مقدسه اردو نه پېژنم. ته پوهېږې، زموږ ټولو پر اوږو الله اکبر ولي لیکلي؟ ځکه چي هغه مو هر ځای حاضر او ناظر بللی. پوهېږې، زموږ پر تندي له کلمې سره وږی د هیواد سمبول، منبر او محراب د اسلام سمبول او د افغانستان د اسلامي جمهوریت د ملي ناموس په توګه کیندل سوی. موږ د وطن په لار کي د خدای(ج) په توفیق، د مبین اسلام او جمهوري اسلامي د برقراره ساتلو سرتېري یو. تور، سور او زرغون بیرغ به هر چا ته هره معنا لري، خو ما ته له توري تیارې د سرو وینو په بدل د خپل ملت و زرغون سباوون ته د ایستلو معنا لري او زما نسل به دې هدف ته قرباني وي. خو بدبختانه بچیانو، زه چي د دې اردو قربانیو ته ګورم او د سیاسیونو ناځوانی ته؛ هیڅ مي ئې وجدان نه مني. تاسي د مزار د قول اردو کیسه خپله ولیدل، چي څه رقم سودا سو او څه شاه ځلمي دښمن ته لاس تړلي په لاس ورکول سول. تاسي ما ته په دې روان ناورین کي د ملي اردو د ځواکونو یوه اشتباه څوک نه سي راښوولای. البته د ځواکونو، نه د رهبرۍ. رهبري ټول وخت

(c) ketabton.com: The Digital Library



د معاملو برخه وه.

دا دئ، پوره اووه میاشتي وسوې، چي موږ دلته محاصره یو. تاسي څه فکر کوی، چي په دې حکومت کي دا ظرفیت نه وو، چي موږ وباسي، یا سیمه پاکه کړي. نه اصلاً خبره د معاملو ده. دا دئ څو ملګرو مو همدلته قران شریفونه حفظ کړه، تر سل زیات ملګري مو په هغه مخامخ هدیره کي؛ بې له دې چي معلوم سي څوک دي، د کومي سیمي دي؛ څنګ پر څنګ په شهادت پراته دي.

موږ ته داسي معلومات رسېدلي، چي هر څه پر ځای پرېږدو، د مرکز او یا هم د خپل کور په لور ولاړ سو. نن شاید شپې ته دلته خاص قوتونه را ورسېږي، محاصره ماته کړي، بیا باید موږ هر څه پرېږدو او و وځو. ما ته داسي ښکاري، چي موږ یو ځل بیا معامله سوي یو. شاید اردو تر امر ثاني وځنډول سي.

سترګي ئې له اوښکو ډکي سوې. راسخ چي د پنجشېر وو، پاځېد؛ پښه ئې ووهل او له سلامی سره ئې وویل: صاحبه، تا را زده کړي، چي وسله د سرتېري ناموس ده او وروستی مرمی د ځان له پاره ده. له ما دا تسلیم نه سي، په زور دي ئې راڅخه واخلي. زه مي وسله نه تسلیموم.

خوازک بې له تشریفاتو چغه کړه، ول: جنرال صاحب قسم په خدای که تسلیم سم، چي تیکه تیکه کېږم.

ننګیالي وویل: دې بې ناموسی ته موږ څنګه غاړه کښېږدو.

بحثونو او احساساتو کش واخیستی. ټولو په غریو خبري کولې. جنرال اوښکي پاکي کړې، ول: زه سرتېری یم، باید وجنګېږم، لوبه وګټم، یا وبایلم. ژړا زما له پاره بې غیرتي ده، خو دا اوښکي د خپلو بچو له پاره د یوه بې وسه پلار وروستی زور وبولئ. زما د فوج او اردو نیوي زره سرتېري یواځي په تېرو څلورو کالو کي شهیدان دي. زما وجدان هم نور دا نه مني. هغه نړۍ چي پرون زموږ سره وه، نور زموږ پر خلاف ده. دوی ته همېشه خپلي ګټي مهمي وې او موږ

(c) ketabton.com: The Digital Library



همېشه د دوی د ګټو قرباني وو. مګر بچو زما په سینه کي له زړښته او له پرله پسې ناځوانیو نور د سرتېري نه بلکه د یوه پلار زړه دئ. زه تاسي ته لمن غوړوم، چي ما ته مي بچي په خپله لمن کي را وبخښئ. نه غواړم د بیده او مړه ملت بې وجدانه رهبرانو او خپل چاروکي ظالمي نړۍ له پاره خپلي ځوانۍ نذرانه کړی.

همداسي په سلګو خپل اطاق ته روان سو.

د شپې عملیات شروع سول او صفري قطعاتو محاصره ماته کړه او د اردو سرتېرو ته ئې د وتلو وویل. جنرال خپل تسلیم کړل سوي باغروره زغروال فوج ته کتل، چي په لکونه شهیدان سول، مګر تسلیم نه سول؛ مګر رهبرانو په یوه ورځ سودا کړل.

ټول سرتېري وتلو ته ولاړ ول، خو راسخ، خوازک، ننګیالي او علي رضا توپکونه کلک نیولي وه، چي موږ وولئ، بیا مو ناموس راځخه واخلئ. زاریو نتیجه ور نه کړه. جنرال خپله راغلی، په ژړا، زاریو او د بیرته راپورته کېدو په وعده او ګیلو ئې په ډېر زحمت توپکونه ځني واخیستل.

د ملت محسنان څوړند سر له شل کلني مبارزې، اتلولیو، جګړو، قربانیو او هر څه سره په تیاره کي پر نامعلومو لورو سودا سول. په لکونه شهیدان، یتیمان، زخمیان او اخیر یوه سپېڅلې اردو د طوفان په وړاندي یو مقدس دېوال کرار-کرار و شوړول سو او هیڅوک پوه نه سو، چي دا څوک وه، چي دا مقدس بند ئې ونړاوه او هیواد ئې یو ځل بیا له خپلو محسنانو خلاص کړ.

د طوفان په وړاندي بندونه یو په بل پسي نړېدل او طوفان لا خونړی کېدئ، خو د مسلحو قواوو سرعلی قومندان لا د طرحو په لوستلو او اماده کولو بوخت وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د طوفان اصلي قرباني

له دوه زرم کال وروسته پر وطن یو نوی بهار راغلی. یو نوی نسل وزېږېدی، وزرونه ئې وکړل، والوتی. له ټولو ناخوالو سره یو عزتمنه افغانستان په حرکت پیل وکړی. بیرغ، نوم، نښان او درنښت پیدا سو. نړۍ راماته سوه او افغانانو نړۍ ته لاره وکړه، تر نیمایي زیات نفوس زده کړي پیل کړې او دا بهیر دومره ګړندی مخ ته ولاړی، چي هر کور حد اقل یو لوستی پیدا کړی. نوی نسل جوړ سو، هیله او امیدونه وزېږېدل. اهداف لوی سول. نړیوال ستیج ته وختی او د سپورټ پوهي او علم پر میدانونو افغان ځلمي پرله پسې ځلېدل.

د مملکت په اوولسو ولایتونو کي پوهنتونونه او په نور ټول کي انستیوتونه او د عالي تحصیلاتو مؤسسې فعاله وې. هره ورځ تر لس میلیونه زیات زده کوونکي زده کړو ته تلل. دا یو نوی فصل وو. داسي پر ثمره فصل، چي نړۍ ورته حیرانه وه، مګر دښمنان ئې پر قراره نه وه ناست او پر له پسې ئې خپلو ورانکاریو ته ادامه ورکول. کابل پوهنتون د دې ټولو زده کوونکو د بهیرونو مور بلل کېده. د دې پوهنتون حیثیت دونه وو، چي د نړۍ د زیات شمېر هیوادونو څېړونکي به ئې د لیدني له پاره راتلل.

حسیب الله له یوې لیري پرتې سیمي څخه دلته زده‌کړو ته راغلی وو. دی د حقوقو د پوهنځی د دریم ټولګي محصل وو. د دوی ټولګی پر دوو برخو وېشل سوی وو. یوې خوا ته نجوني کښېنستې، بلې خوا ته هلکان. او ټول نجوني به یو ځای صنف ته راتلې او یو ځای به وتلې. صنف هم د ټولني په توګه وو. هغوی چي حیاناک وه، په صنف کي هم له حیا ډک وه. چي بهر بې حیا وه، په صنف کي هم بې حیا وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



حسيب په ځوانۍ او زده کړو دواړو ښه وو، نو زياتي نجوني يې علاقمندي وې؛ که چيري دی يا ور وګوري، يا خبري ورسره وکړي. مګر ده د اطرافينو درانه خويونه درلودل. خبري څه، چي ورکتل به ئې لا په مشکله.

ده له وخته مور ته ويلي وه، چي د کلي له پاره به داسي يو د زده کړو مرکز جوړوي، چي له وړکتونه پيل وي او تر دوکتورا زده کړي ولري. د همدې له پاره ئې شپه او ورځ چورتونه وهل. همېشه به ئې ويل، چي داسي يوه ښځه کوي، چي د ده په پوهنتون کي د ښځو مستقله د طب څانګه ولري او اطرافو ته ډاکټراني وروزي.

د هيواد له بېلابيلو برخو د وژنو راپورونه ډېرېدل. په کابل کي د چاودنو شمېر هره ورځ څلور پنځه وو. چاودني رانژدې کېدې، بالاخره د پوهنتون څو استادان هم د چسپکي ماينونو قرباني سول.

ليلما د دوی يوه ټولګۍ‌واله کله ناکله به ئې بله ملګرې هم ورسره راتله، چي ټولو به په خوله ورته کتل او ليلا به ډاکټره ورته ويل. د حسيب الله لومړی نه وو ورته پام؛ مګر يوه ورځ متوجه سو، چي هغه نجلۍ دی څاري. د ده عادت وو، نجونو ته ئې دقيق نه کتل. کله چي استاد ووتی، لومړی ځل وو، چي حسيب يو چا ته دقيق وکتل. او کتل نه وه، د حسيب د زړه مراندي ولاړې او بل ځای ئې زړه وبايلی. بيا نو دا غلچکي او د ترخ کاته وه، مګر دوی هيڅکله حتی سلام لا وا نه چاوه.

يو ورځ د دوی تر ټولو تکړه او ځوان استاد، چي دوې ماسټرۍ ئې درلودې او همېشه ډېر باسليقه ګرځېدی؛ په ډېر بد حال صنف ته راغلی. ټولو چپټرونه را واخيستل، خو هغه په ژړغوني اواز وويل: خبري کوو، چپټر پرېږدئ.

وروسته هغه په ډېره مشکله وويل، تاسي وضعيت وينئ، چي ورځ تر بلي خرابيږي. ما ټول ژوند دې وطن ته وقف کړی، خو فکر کوم دا وطن نور د سرونو قربانۍ نه، بلکي د سرونو د ژوندي ساتلو ته اړتيا لري. زما نن اخری ورځ ده، سبا ته له هيواده بهر دکتورا ته ځم. دکتورا څه ده، خو يوه بهانه ده. دا وطن ئې معامله او خرڅ کړی. زه نه پوهېږم، تاسي ته به نور څونه وخت درکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



له دې سره ئې نور څه و نه سو ویلای او له صنفه ووتی. د ټولو په سترګو کي اوښکي وې. د استادانو د تګ بهیر همداسي ادامه درلودل او هره ورځ به پر دروازه عکسونه زیاتېدل. شهید ملا فلانکی د وردګو په تنګي کي د اشغالګرو سره په مخامخ جګړه کي په شهادت ورسېدی. تور بیرغ والا په ښکاره توګه خپل کمپاینونه کول. لنډه دا چي مکمل وضعیت اضطراري او ګډوډ وو. مګر د حسیب مینه پټه نه وه پاته. ټول پوه سوي وه. لیلما یوه ورځ په تفریح کي حسیب په کومه بهانه ودراوه او نجلۍ ئې ورته معرفي کړه، چي د طب پنځم کال محصله ده او په خبره خبره کي ئې په دې پوه کړی، چي نجلۍ در خپله ده. حسیب په همدې شېبه له مور سره خبري وکړې. مور او پلار ئې په سبا راغلل او د نجلۍ کره په مرکه ولاړه. د نجلۍ کورنۍ یوه ورځ وخت وغوښتی.

حسیب د خپلو خوښیو په صورتونو کي غرق په صنف کي ناست وو، چي سبا به ئې شېریني اخلي. لیلما وخته ټول صنف خبر کړی وو. ټول خوښ ول. استاد خپل لکچر ورکاوه، په دې وخت کي یو ناڅاپه ګړز سو. حسیب چي وکتل، په دروازه کي توپک په لاس سړی ولاړ دئ او ډزي کوي. مخامخ ئې ورحمله کړه، مګر د شا له خوا بل وسله‌وال ضربه کړی.

دا شپه تر سهاره جګړه وسوه او د کابل پوهنتون شپږ دېرش زره محصلین دوې هفتې نور پوهنتون ته نه تلل او ملت او رهبرانو یواځې د غمشریکۍ پیغامونه او د شهیدانو عکسونه خپرول.

د حسیب الله مور او پلار چي هغه دسمال وړلو ته راغلي وه، د هغه جنازه ئې له ځان سره یووړه. د حسیب الله ارمان پاته سو او ډاکټر مینه ئې په رواني تکلیفونو اخته سوه او پوهنتون ترې پاته سو.

بلا همغسي پر ښارونو ساه کښل او هر څه د فلج خوا ته روان وه او غافله ملته ورته زنګېدی. رهبران د خپلو پیسو په خوندي کولو او معاملو بوخت ول. نړۍ په خپلو کیسو بوخته وه. افغانستان له سره د چا یاد نه وو. طوفان کرار کرار نږدې کېدی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د طوفان لارویان

د شعبې په کړکۍ کې قطار او کړم خلک ولاړ ول. مدير صمدخان د چايو په ترموز يو گيلاس په بل گيلاس کي پرېولی. نسرين ورته وويل: مدير صاحب، ياران دي را روان دي، څه به کوې؟

مدير صاحب وخندل، ول: زما ئې چم زده دئ. خلقيانو ته مي برېتونه پرېښول، مجاهد ته ږيره. جمهوريت ته مي خواپاکی ښوی مخ او ښايسته نکټايي ده. اوس به لا د يو څو جوړو کالو فرمايش ورکړم. ږيره مي دا هفته نه ده اخيستې، دا مي ئې کار جوړ. تاسي مو حال واياست. تاسي څه کوی؟ کار مو خراب دئ.

نسرين وويل: يا، هغوی بدل سوي، په ښځو نور کار نه لري.

مدير صمد وويل: د طالب فطرت په ژوند نه بدلېږي. دوی مجاهد نه دي، چي ږيري يې د جمهوريت د لکسسانو ارکنډېشنو وخوړې، همغسي سنگړه جنگره دي.

سميرا چي په هينداره کي کتل او د مخ سرخي او سفيده ئې سمول، ول: يو ښه مولوي ته به گپ ورکړم، مېلې به مو وي. د ښځو په قدر خو هغوی پوهېږي، چي پر ځان بم تړي، هغې دنيا ته پسي ځي.

له دې سره ټولو وخندل. له بهره د خلکو غالمغال اوربدل کېدی، خو دوی به کله کله په نيم ساعت کي د يوه کار خلاصوی او نور به ئې په يوه او بله بهانه په تورو نخودو پسي استول.

اداري له وخته تشي توري وې. ډېرو له موقعې په استفادې خپل پخوانی

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوسيې او چټلې پټولې او ځيني نور د شيانو په غلا بوخت ول.

دا خلک له انقلابونو او طوفانونو سره لوی سوي ول او له طوفانو سره د اوښتلو چلونه ئې ډېر ښه زده وه. د خلکو کارونه ئې قصداً ځنډول، چي نفرت زيات سي او حتی خلک مجبور سي، چي دا پانه بدله کړي.

يواځي ښځې وې، چي نسبتاً نرانو ته ئې په زړو کي تشويش زيات وو او يو له بل سره به بنېدې او خپل تياره سرنوشت ته چورت وړي وې.

نسرين که څه هم خندل، مگر په زړه ئې يو خدای خبر وو. د دې کورنۍ ټوله نظاميان ول. مېړه ئې له مجاهدو سره په مخامخ جگړه کي وژل سوی وو. يو زوی ئې په مقاومت کي مړ وو او بل زوی ئې په يوه انتحاري حمله کي شهيد سو. خپله کونډه وه او دوې کونډې مړندي ئې وې او دوې پېغلې لوڼې ئې وې. دې په وزارت کي کار کاوه. لوڼې ئې دواړې معلماني وې او يوه مړور ئې په يوه نړۍواله مؤسسه کي کارمنده وه. دا څو وخت د هغې يواځې بحث او پوښتنه همدا وه، چي په نوي حکومت کي به د ښځو سرنوشت څه وي. ځکه دې په ټوله کورنۍ کي نرغاړی نه درلودی، چي کار وکړي. مگر طوفان همهغسي په منډه وو.

مدير صمد او نور مامورين ئې کيسه کي نه وه، يواځې د بږيري خريل او پرېښول، د لباس بدلولو اړتيا وه. مگر ښځو به څه کول. دې سوال ته هيڅا جواب نه درلودی او ټول لگيا وه، طوفان ئې مستاوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# زوړ کښتۍوان او ماته بېړۍ

پخواني ولسمشر به اوس شايد د اته پنځوس کالو وي. دی د نوي افغانستان مؤسس هم بلل کېږي. ډېر خلک ئې سټايل او خبري خوښوي. سټايل ئې داسي جوړ سوی، چي د ټول وطن د قومونو نمايندهگي وي. د کرکټر کريزما ئې په دې کي ده، چي د سر دښمن ورته راوله، په څو دقيقو کي ئې يار کوي. يو علت چي په بن کي ئې دی انتخاب کړی، همدا ده هر اړخيزتوب وو. کله چي دی راغلی په دې وطن کي هيڅ نه وه. نه حکومت، نه سيسټم، نه دفترونه او هر څه په صفر کي ضرب وه.

ده له هيڅه هر څه منځ ته راوړه. نوم، نښان، قانون، بيرغ، پارلمان، زدهکړي او هر څه ئې له مځکي اسمان ته پورته کړه، خو تر ټولو مهمه دا وه، چي پاشلی ملت ئې راټول کړی او يو د بل دښمن زورواکي ئې په ډېر هنر هم سره کښېنول، هم سره وچلول. دا ښکاره ده، چي بهرنيان په کښي دخيل ول، مگر د رهبرۍ هنر ټول د ده وو.

دی د ارگ شا ته په هغه کور کي اوسېدی، چي يو وخت د بين الملل مرکز وو او پاکستانيانو ډاکټر نجيب الله دلته وواژه او بيا ئې په کشولو پر اريانا چوک مړ وځړوی. ده ته امريکا د ارگ دننه يو ډېر لوکس کور جوړ کړی، مگر ده و نه منی او دغه زاړه کور ته ئې ترجيح ورکړه. دی چي څونه پلويان لري، هغونه ئې خلک بد هم يادوي. مگر دی د هيچا د بدو جواب نه وايي او ځان تېروي. مخالفينو څو ځله مخامخ ښکنځل ورته کړي، ده پر هغه سربېره په غېږ کي

(c) ketabton.com: The Digital Library



نیولي.

دی د کرز د ملک زوی دئ او تر اوسه په همغه شرقي سټايل ژوند کوي. ښه سترخان لري، د ډوډۍ بحثونه کوي. پر ادبياتو کي ږغيږي، د کور کلي حال اخلي او له خلکو سر مراودات ئې ډېر ښه زده دي.

د ارگ هغه نږدې خلک ئې دلته هم ورسره راغلي دي او د هر چا که اهل دي که نا اهل چي له نوي رئيس جمهور سره ئې نه ده جوړه يا يې کړپه راځي ده ته راځي او ټول دلته پر ده راټول دي. هر څوک چي هر چيري خوابدي کيږي، تر ده ځان را رسوي.

هره غرمه لمونځ همدلته په جمعه کيږي، ملا ئې د ارگ پخوانی ملا دئ، چي په اصل کي د بدخشان دئ. نن ئې له لمانځه وروسته ږغ پر وکړی، ول: مولوي صاحب، په بدخشان کي څه کيسې دي؟ هغه ورته وويل، چي چينايانو يوه نوې لېوا اچولې ده، چي زموږ له کليو معلومېږي.

ده ورته وويل: نه والله. هغه ول: هو، د طالبانو نفوذ زيات سوی. کانونه ئې ټول په واک اخيستي دي او يو دم ډېر سول او اسلحې هم ډېري زياتي ورسره دي او اکثره سوداوي په ډالرو کوي. ده ورته وويل: دا ټول د امريکايانو ډلگۍ دي. څنگه گرده شيان تصادفي دي. بيا ئې ورته وويل: څه خدای دي خير پېښ کړي.

هغه تېرو اوولسو کالو داسي يو ناڅاپه بوډا کړی، چي په ټول سر او ږيره کي ئې يو تور ورېښته نه دئ پاته. د ډوډۍ مېز ته چي کښېنستل، په زوره ئې وويل: د مشرانو مخ ته ځای ورکړئ. چي ټول کښېنستل، بيا دی هم کښېنستی.

ده په دې وخت کي د انتخاباتو د کمېسون کميشنر ته وکتل، ول: څه کيسې دي؟ هغه ورته وويل، چي د امنيت د شورا سلاکار اوازه گډه کړې ده، چي اوولس ولايته سپارل کيږي او مذاکرات په کابل کي کيږي. ده له خپل عادت سره وويل: د دوی پلار ئې لا ولاکه کنټرول کړي. مسخرې خو نه دي، چي نيم

(c) ketabton.com: The Digital Library



ولایتونه ایله کړي او ګډوډي جوړه نه سي.

په دې وخت کي یوه پخواني وکیل، چي اوس د امنیت شورا کارمند وو، په شیطانت خوله چینګه کړه، ول: رئیس صاحب، بې تا ئې ولاکه وکړي. هغه ته دا غوړمالان ورمعلوم وه، چي دلته هم کوټ کوټ لري، هلته هم حال ځغلوي. ورته وئې خندل، خو خبره ئې واړول. پخواني قاضي القضات ته ئې وویل، چي ته خو د طالبانو قاضي القضات هم وې، دا اوس څه کیسه روانه ده. هغه ورته وویل: رئیس صاحب، وطن دي لېوني ته حواله کړی. دا څونه مړي چي روان دي، په دې ټولو خونو کي شریک یې. ده ورته وویل: قانون اساسي موجود وو، ما خو د ملت پرېکړي او قانون ته احترام وکړی. ما خو ویل د پوهنتون استاد دئ، کنې دوی دواړو راته ویلي وه، چي دا اهلیت نه لري. اشاره ئې د امنیت د شورا پخواني مشاور او د علوم اکاډمی غړي او د پوهنتون تر ټولو پخواني استاد ته وکړه.

د امنیت د شورا مشاور وویل، چي مملکت ئې تباه او برباد کړی. مسلح قواوي ختمي دي. دی تر اوسه ځان ته د مسلحو قواوو سراعلی قومندان وایي، مګر خبر نه دئ، چي د مسلحو قواوو څه حال دئ. هغه ورځ ئې دونه کمزورې روحیه فوج ته ورکړه، رسماً ئې پر ستیج اعلان وکړی، چي په روان کال کي اووه څلوېښت زره نظامیان شهیدان دي؛ نو فوج ولي نوره حوصله وکړي؟

د بهرنیو چارو وزارت پخواني مرستیال وویل: دی فکر کوي، وطن دا د بهر په سور جرابو هلکانو جوړېږي. هغوی چي ماښام نشه سي، غرمه له خوبه پاڅېږي. جنګ د ارګ تر یو کیلومترۍ را ورسېدی، دی تر اوسه قبایلو ته برق تېروي.

د پوهنتون استاد وویل، چي د ده مشکل دا دئ، چي فکر کوي تر ټولو پوهېږي او د هیچا نظر له سره اوري نه. مګر د ده طرحي د یوه شرقي وروسته‌پاته هیواد تر اړتیا او وړتیا لوړي دي. دی تر اوسه فکر کوي، په امریکا کي لکچر ورکوي، یا د بانک جهاني مرستیال دئ، ټول فکر ئې د پیسو د

(c) ketabton.com: The Digital Library



چاینلونو په خپل لاس کي اخيستلو ته دئ.

د جمهور رئيس د گارډ قوماندان، چي نږدې خپلوان ئې وو او تازه ئې جنگ ورسره کړی وو؛ غاړه تازه کړل، ول: رئيس صاحب، که اجازه وي زه به يو دوې خبري وکړم. پخواني ولسمشر ورته وويل: ولي نه، ولي نه. رسمي مجلس نه دئ، بېغمه خپلي خبري کوه.

هغه وويل: رئيس صاحب، دی تر اوسه فکر کوي، چي اصلي رئيس جمهور ته يې او يوه ورځ به ما بيرته پسي واخلې. هيڅ کله ئې دا نه ده قبوله کړې، چي دی رئيس جمهور دئ. هيڅ ئې زړه ته نه لوېږي. بېچاره خپله ډېر پوهيږي، مگر نه خپل فکر انتقالولای سي او نه پر چا باور لري. په ورځ کي دوه ځله سکرتر بدلوي، د ناستي ځای په هر ساعت کي بدلوي او ځان ئې ناحق په ناحق سرگردانه کړی دئ. دی د يوه رهبر خوی نه کوي، چي قرار کښېني او کارونه په خلکو وکړي. دی ټول عمر مدير پاته سوی، فکر کوي دا رياست جمهوري هم يوه پروژه ده، دی ئې بايد خلاصه کړي. په دغه مديرتوب به هم ځان غرق کړي، هم ملت.

په دې وخت کي ولسمشر وويل: دی له اولي ورځي تر پاچاهۍ زما سره راسره وو. ما حتی خپله رايه ورکړه. د امنيت د شورا مشاور شاهد هم دی راځخه خوابدی هم سو. ما بې له مشورې نور څه کړي دي. ټول عمر مي د ملت او مملکت د راټولېدو خبري کړي، حتی هغه ورځ مي لا هم د مرگ شعار ور نه کړی چي خپل کشر ورور مي د دوی له لاسه تر خاورو لاندي کړی. زه نه اجرائيوي صلاحيت لرم، نه د حکومت ونډه. که زما په نظر څرگندولو دا اداره ضعيفه کېږي، دا نو د ده ضعف دئ، زما نه.

په دې وخت کي قلم مخصوص وويل: هغه د اج انډيا خبريال راغلی دئ، وخت مو ورکړی وو؟

پخواني ولسمشر وويل: را ئې وله، دلې د مشرانو مخ ته به خبري ورسره

(c) ketabton.com: The Digital Library



وکړو.

هغه ویل: سمه ده.

څو دقیقې وروسته یو د پوخ سن سړی راغلی. پخواني ولسمشر ورته وویل: نمستې نمستې.

هغه سلام ووایه او په ښه روانه پښتو ئې سترې مسې وکړه. رئیس صاحب وویل: ستاسي په ټولو نمایندهگي به زه روغبړ ورسره وکړم. وروسته ئې وویل: دی راج ویر سینگ نومیږي، د آج انډیا سینیر ایډیټر دئ. راغلی دئ، چي د افغانستان پر حالاتو یوه مقاله ولیکي. بیا ئې هغه ته وویل، چي ته خو ښه پښتو وایې. دا دي چیري زده کړه؟

هغه وویل: زه د جینو پوهنتون د پښتو څانگي محصل پاته سوی یم، فارسي مي هم زده ده.

پخواني ولسمشر د پوهنتون استاد ته وکتل او د هغه نوم ئې ور یاد کړی، ول: دی پېژنې؟

هغه له ډېرو احساساتو را ولاړ سو، ول: دا خو ډېره غټه هستي ده. ما د ده ډېر کتابونه لوستي. وروسته یې له استاد سره په لاس روغبړ وکړئ او وې ویل زه د استاد رشاد او بایزید اخک شاگرد پاته سوی یم.

د پوهنتون استاد وویل: هغه خو دواړه مړه سوي دي. خدای دي ئې وبخښي.

وروسته پخواني ولسمشر ورته وویل: ښه، څنگه افغانستان ته راغلې؟

هغه وویل: یو تحقیقاتي ریپورټ لیکم، مگر په هر شي کي ستاسي نوم دئ، نو ځکه مي ستا دروازه هم در وټکول. زه به ئې له بن څخه شروع کړم. خلک ټول وایي، چي په بن کي د شاه د وخت قاضي القضات رایي دوولس وې، ستا یوه. ستاسي جواب څه دئ؟

پخواني ولسمشر ډېر په سړه سینه وویل: ته گوره، زه د بن کنفرانس غړی نه وم. زه په اروزگان کي جنگېدلم، چي راډیو اعلان وکړی، چي زه د موقتي اداري

(c) ketabton.com: The Digital Library



مشر یم. خو زما معلومات دا دي، چي هلته د اعلیحضرت په ټیم کي د قاضي القضات رايي دوولس وې، مگر د عمومي ناستي اتفاق پر ما وو او وروسته د اعلیحضرت ټیم او ارواښاد اعلیحضرت هم پر ما اعتماد وکړی. نور نو ته کولای سې، دا معلومات د بن له کوم گډونوال څخه وکړې.

راج ویر وویل: خلک وایي، تا جنگ سالاران حاکمان کړل او ښه حکومت دي جوړ نه کړی. هغه توپکیان دي بیرته پر واک کړل او و پړ سول، چي د خلکو نفرت ځني کېدی.

- ښه اوله خبره دا ده، چي زما کار د سیسټم له جوړولو سره وو، هغه هم په داسي وخت کي، چي ټول زور له همدې خلکو سره وو. زه د بن د گډونوالو تر ټولو کمزوری او نامعلوم کس وم. دوی ټول اصلاً له شلو تر دېرشو کالو د منظمو تشکیلاتو درلودونکي ول. افغانستان یو جوړ هیواد نه وو، نه ئې چلېدونکې دستگاه درلوده. په زور او واک کي او د بن په کنفرانس کي ټولي غاړي هغه څوک وه، چي واک ئې وېشی او جوړوی. د واک وېشل هم هلته وسول. زه د واک وېشونکی نه وم. د دغو خلکو تر منځ د مشکلاتو لیري کوونکی او د حکومتي دستگاه سمبالوونکی وم. همدې خلکو لسگونه کاله پر واک جنگ سره کړی. زما غوندي یو بې واکه سړی راغلی؛ ټول اړ سول، چي مشرتوب ئې ومني. ما ته مشرتوب راکول سوی وو، دوی ته خپلي خپلي برخي. ما په یو نازک حال کي یو نازک جام تر یوه ځایه وړی، چي مات نه سي.

راج ویر دفعتاً وویل: یعني تا معامله کول. همدا تر ټولو لوی تور دئ پر تا باندي.

- هو، ما بیخي معامله کول، د وطن د گټو له پاره. د ځان له پاره مي هیڅ چېري معامله نه ده کړې. زه جمهور رئیس وم، مگر دوی هر یوه تر ما ډېر

(c) ketabton.com: The Digital Library



زور درلودی. زه بې فوجه، بې عسکرو او بې ښو او بدو رئیس جمهور وم. زه مکلف وم، چې دا هر څه د دوی له منځو را پیدا کړم. هر څه له دوی سره بند او قید پاته وه، نو زه مجبور وم، له دوی سره مراودت وکړم او کرار کرار ډلي سیستم ته ننباسم. د بهرنیو مرستي، اړیکي او خواخوږي ورسره وه. د مجاهدو لوی ملاتړ کوونکي په بن کي د پروسې تمویلوونکي ول او ابداً ئې زما سره د یوې محکمې د ایجاد او د جنګیانو د محکمې خبره نه منل. یوه پرېکړه هم زما فردي نه ده. د بن د کنفرانس پرېکړي دي، چي زه ئې تر سره کولو مکلف یم. وروسته وګورئ، همدا خلک بیا شاته سوه، خپل لوستي ئې را مخ ته کړه او دا یو تحولي پړاو دئ. کرار کرار به ښایسته سالاری ته لاره خلاصوي. یو دم لاس اچول خپله جوړ کړی سیستم نړوي.

- خو پښتانه ادعا لري، چي دوی ووژل سول، بندیان سول او حق ئې په غیر پښتنو وخوړل سو. پیسې او امکانات ټول غیر پښتنو یووړل او قرباني پښتون دئ.

- ښه، اوله خبره دا ده، چي زه د افغانستان جمهور رئیس وم د اساسي قانون په رڼا کي هر څه ټول افغانستان ته ځي او ټول د قانون په وړاندي یو ډول حقوق لري. ته په نړۍوال سیاست کي شاید ښه مطالعه ولرې. دا پلان وو، چي پښتانه په منطقه کي وټکول سي. تروریزم پر پښتون تاوان سوی، د طالبانو تحریک د پښتنو تحریک یادېدی او بیا په قبایلو کي قصداً حالات همداسي ترسیم سول، چي پښتانه وټکول سي. کنې تاسي ولاړ سئ، یو ثبوت راوړی، چي پښتنو ته دي پروژې، امکانات او بودیجې تر غیر پښتنو کمي ورکړل سوي وي. پښتانه د یوې نړۍوالي دسیسې قرباني ول او بل د خپلو بې‌اتفاقیو. که خبره د پښتنو سي، زه هم پښتون وم او د کابینې ډېر غړي پښتانه وه. موږ خو یوه نااعلان سوي جنګ ته ورټېل وهل سوو. ستاسي څه فکر دئ، موږ د حملو، تاوتریخوالو او ټولو تخریبي اعمالو په مقابل کي خاموش کښېنستلي وای. نو خبره دا چي د پښتنو حقوق په نورو خوړل سوي دقیقه نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ده، مگر دا خبره دقيقه ده، چې موږ و نه سو کولای، جگړه له افغانستانه بلخصوص د پښتنو له سيمو وباسو. جنګ زما په خوښه نه دئ. اکا ئې را مړ کړی، پلار ئې را مړ کړی، ورور ئې را مړ کړی، د اکا زوی ئې را مړ کړی او بيا کابينه خو د هري سيمي په مشرانو ډکه وه هغه سيمو چې مشرانو يې وړتيا درلودله خپلو سيمو ته يې کار کړئ ايا تاسي فکر کوئ دا به معقوليت واي يا حق خبره ده چې ما دي پښتنو ته کار کړئ وائ ما مخکي هم ويل زه د افغانستان جمهور رئيس او دا افغانستان دا مېز ته و ګوره دا ټول افغانان دي مګر د هيڅ يوه قوم ما ته نه دئ مطرح ټول ما ته يو ډول دي او د هر قوم دي مګر ما ته مهمه دا ده چې د همدې ملک دي.

- دوی وايي، ټلواله تا پړسولې ده. مسعود دي قهرمان کړی، فهيم دي مارشال کړی او جنراليانې دي مفتي ووېشلې.

- اوله خبره دا ده چې يو زما شخصي نظر دئ هغه دئ زما سره ويي بل د دې ملک د چلونکي په حيث زما مکلفيت دئ اصلي خبره دا ده، چې مقاومت يواځني خلک ول، چې په ميدان کي عملاً موجود ول. په نړئ ئې ځان پېژندلی وو. نوري ټولي لوري يا ورکي وې، يا طالبانو له منځه يووړې. دوی مقاومت وکړای سوای او له نړیوالو ځواکونو سره ئې يوځای جګړه وګټل او دوی يواځې تشکيل لرونکي خلک ول، سياست ئې وکړی. دا هر څه ئې د بن په کنفرانس کي په نړیوالو ومنل. زما په نوم يواځې تمام سول، ځکه اعلانول او اداري پروسيجر ئې ما بشپړاوی. پاته سول پړسېدلو خبره.

راج ئې خبره نيول: د پړسولو له خبري سره که ئې د اداري فساد موضوع هم تشريح کړی. خلک وايي په ميلیارډونه پيسې راغلې، څه سولې؟ تاسي وايي فساد ته فوق العاده زمينه مساعده کړې وه؟

- ښه، يوه د اداري فساد مسئله ده، يوه د مليارډونو ډالرو. اوله خبره به د ډالرو وکړو، چې ډېر ئې په اړه شک لري. د افغانستان ټولي پروژې تر دوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



زره څوارلس پوري د پرمختيايي مؤسساتو او سولهساتو ځواکونو له خوا مستقيمي او مستقلي ورکول کېدې، چي ما او زما حکومت هيڅ دخالت نه پکښې درلودی. مگر زما د حکومت محصول لسگونه لويي لاري، زرگونه مکتبونه، چي حتماً فساد پکښې سوی؛ نه ئې ردوم. د اوبو بندونه، روغتونونه، پوهنتونونه خو تر دې ټولو مهم د يوه لوستي نسل روزل وه، چي دا اوس دستي تر ديارلس ميليونه زيات افغانان زدهکړي کوي. سپورټ مو نړيوال سو. و دي نه ليدل، پرون مو له استراليا کرکيټ وگټی. موږ په لږ وخت کي ډېره تېزه منډه کړې ده. موږ له صفره شروع کړه او تر دې ځايه راغلو. د توپکو جگړه تر تلوېزوني بحثونو را ورسېده. دا کفايت نه کوي، مگر زما دوره همدومره وه. هو، د مليارډونو ډالرو حساب ډېر واضح دئ. هغو چي راوړلې، خپله ئې مصرفولې. د ټرون پر اساس حکومت برخه نه په کښې درلودل. د بيان آزادي مو تر هند لا اړولې ده. مهمه خبره د سيستمونو ايجاد وو، چي موږ وکړی.

- حکومت تاسي تورنوي، چي پښې ئې وهی، کار ته ئې نه پرېږدی او تخريبوی ئې؟

- ښه، زه د دې مملکت يو متقاعد، سپينږيری سياستوال يم. حالات می خاموش نه پرېږدي. سياست مي مدني حق دئ. مگر که زه تخريب کوم؛ قانون موجود دئ، مسلح قوتونه سته. زه هيڅ ډول قضايي مصونيت نه لرم. محکمه مي دي کړي او که زه د سولي خبري مذاکرات او هڅي کوم؛ دا مي د پلار، نيکه او د راتلونکي نسل وطن دئ، بايد جوړ او امن ئې وساتم. دغه مي زوی دئ، ميرويس جان. په دغه د کور د څنگ په مکتب کي دريم صنف وايي. هغه وينې، په باغچه کي نازو او ملالی لوبي کوي. چي هغه بله لا چيري ده، نه پوهېږم. ما که د قانون خلاف، ملي حاکميت خلاف خبره کړې وه، تاسي ئې را وښاياست. مگر دا چي د مسلحو قواوو د سراعلی قومندانی سره ستاسي وس يواځي تر تور ټړلو پوري دئ، بيا نو هغه د پهلوان

(c) ketabton.com: The Digital Library



کیسه وه، چي پتلون مي تنګ وو.

- بیا غواړې رئیس جمهور سې؟

- ابداً نه. ما ته ویل سوي، چي امنیت تړون امضاء کړم او نامساعدو حالاتو په خاطر خپله دوره وغځوم. ما خپله ایجاد کړی سیستم او خپل باور سره خیانت نه سوای کولای. د پنځه زره کلن تاریخ یواځنی کس وم، چي چوکۍ مي بېله چون او چرا وسپارل. زه غواړم، په دې وطن کي د ژوند تر پایه و اوسېږم او په آرامه خپل بچي غټ کړم. هغه وطن چي موږ را پورته کړی، و نه لوېږي.

- د امریکا په اړه مو نظر څه دئ؟

- د امریکا ډېر ښه اولس او خلک دي، مګر حکومتونو ئې هیڅ کله زموږ سره وفا نه ده کړې. ما ته ئې اوس هم ټولي کړني مشکوکي ښکاري. هر چا ته بېلي بېلي خبري کوي، خو په نتیجه کي بل څه کوي، هیڅ کله مي باور نه دئ په کړی او هیڅ کله به ئې و نه کړم.

- خپل اشتباهات منی؟

په دې وخت کي پخواني اولسمشر په زوره وخندل او وئې ویل، چي انسان اشتباه و نه کړي؛ انسان نه دئ. بیا نو د یوه مات سوي وطن، د یوه پاشل سوي ملت او دربدره خلکو ځوارلس کاله حکومت ټوکي نه دي. حتماً مي اشتباهات کړي دي، خو د افغانستان له پاره زموږ لاس ته راوړني تر بايللو زیاتي دي.

- خلک دي ښکنځي. تاسي خاندی او جواب نه ورکوی، ولي؟

- داغه اخیري جواب به درکړم او وروسته به موږ رخصت کړې، چي یو بل مجلس لرو. ما افغانستان په داسي حال کي په لاس کي واخیستی، چي د توپک ژبه حاکمه وه. ما د زغم لاره خلاصه کړې، د خبرو مېز ته مي خلک راوستل. زه نه غواړم، هغه د زغم او حوصلې بنیاد، چي خپله مي جوړ کړی؛ خپله ونړوم. زما هم عکس‌العملونه زده دي. وهل او ټکول مي په وس پوره

(c) ketabton.com: The Digital Library



دي، نور که هیڅ نه وي د کندهاریانو په اړه به دي دا اورېدلي وي چي د ښکارپوري دروازې نامي دئ زه وچکلک د ښکارپور دروازې سړی یم خو دا زما لار نه ده.

وروسته راج ویر مننه وکړه. له بهره د څو چاودونو ږغ راغلی، خو پخواني اولسمشر سر په و نه گرځاوه. په دې وخت کي قلم مخصوص په بېړه راغلی، ول: نیمروز سقوط سو، په هرات کي درنه جگړه روانه ده.

ژورنالیست رخصت سو، خو لومړی ورځ وه، چي پخواني اولسمشر ټولو ته وویل، چي خبري به وکړو.

پخواني د امنیت د شورا مشاور وویل، چي وضعیت قصداً خرابوي، چي سړی استعفاء ته اړ کړي. پخواني اولسمشر وویل، چي له امریکا سره هر څه تړلي. د قوتونو دفاعي حالت ته بېول زغره‌وال قوتونه لڅو پښو خلکو ته تسلیمېدل ټوکي نه دي.

بیا د پوهنتون استاد وویل: ژورنالیست رښتیا ویل، امریکا خپله لوبه کول. هغوی چي دوی غوښتل، په واک کي ئې ساتل او چي نه ئې وو خوښ، له منځه ئې وړل. دا گناه مورږ کړې ده، هر وخت به مو څورړوی. خو وجدان ته خجالته نه یم، چي څونه خیر مي وطن ته رسولی سوای، و مي رسوی.

پخواني قاضي القضات وویل: خدای(ج) په قرآن شریف کي وایي، چي انسان مو تر خپله وسه مکلف کړی. چي زړه دي پاک وي، خپل زور دي وهلي وي، نور نو نه ئې پړ. په دې هر څوک پوه دي، چي غټ مجرمین چا ساتل، چا سپورټول.

د طوفان کرږي نږدې کېدې، خو هیچا د یوځای کېدو او د طوفان په وړاندي د یوځای دربېدو اراده او پلان نه درلودی او دا حقیقت وو، چي اوسني او پخواني ولسمشر پر شاوخوا خلک راټول ول. هم ئې دوی سره جنگول، هم ئې د حالتو خرابېدو ته د پردو په اشاره لمن وهل. او دوی دواړه څکه پړ ول، چي ماته بېړی د دوی وه، خو دوی خاموش ول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د طوفان ګټې ته ناست

اجرائیه رئیس، د سولې د عالي شورا رئیس او یا هم د خلکو په عامه اصطلاح مشهور سوی ګل مرجان یو سپین ږیری خوش مشربه متنازع کس دئ. که څه هم هغه په ځوان او شوخ مزاج او په رنګارنګ ښو لباسونو اغوستلو ډېر مشهوره دئ، هغه اوس په دې لټه کې دئ، چې څنګه به بین الافغاني مذاکرات کامیابه کړي او هغه سوی، چې ده غلی کړی، هغه ارمان ئې پوره سي. له ده سره بخت هیڅ یاري و نه کړه. له تېرو تقریباً دوو لسیزو راهیسې هغه په ټولو انتخاباتو کې د رئیس جمهور د کېدو کوښښ وکړی، مګر نه بخت یاري ورسره وکړه، نه بهرنیانو.

امریکایانو په څو ځله انتخاباتو کې په دې تېر ایستلی وو، چې دا ځل دا او ها ومنه، بل ځل ته خپله رئیس جمهور یې. مګر هر ځل ئې ناغېړي ورسره کړې وه. مګر دا ځل د ریاست جمهوری او ده تر منځ واټن او هیڅوک نه وو.

که څه هم ده دا ځل په انتخاباتو کې خپله بریا خپله اعلان کړې وه او د تحلیف مراسم ئې هم اجرا کړي وه، مګر امریکایانو په دې تمه، چې د سولې د عالي شورا ریاست وکړه، ځان منډیلا کړه او د موقتي ادارې جمهور رئیس سه او موقف به دي هم د هیواد د دوهم کس وي؛ پر شا کړی وو.

دی د کابل په کارته پروان کې د خپل پلار، چې د شاه د وختو سناتور وو او خلکو به ویل، چې پلار ئې نه دئ؛ پلندر ئې دئ؛ اوسېدی او خپلې ټولې سیاسي چارې ئې له همدې ځایه سمبالولې.

دی له ډېرو پخوانیو لوبغاړو څخه دئ. د بن په کنفرانس کې هم وو او د

(c) ketabton.com: The Digital Library



امریکایانو سره ئې د افغانستان ته راتګ تړون هم امضاء کړی وو.

هغه د خپل کور د کونج په ډبرین اطاق کي، چي د ده د ناستي مخصوص اطاق دئ؛ ناست وو. یو خوریی ئې چي د اقتصاد وزیر دئ او بل خوریی ئې چي سیاسي فعال دئ او تر ټولو پخوانی همکار او د راز سړی ئې، چي مشاور ئې هم دئ او قلم مخصوص ئې هم، چي له نږدې‌ترینو خلکو ئې دئ؛ هم ناست دي.

د سولي د شورا مشر وویل: بده سودا مو نه ده کړې، په حکومت کي مو خپل خلک هم وساتل او د سولي ټول پکیج مو واخیستی. د حکومت کیسه ختمه ده. نړۍ ته نور تر حکومت سوله اولیت لري. د هیچا نور حکومت او حکومتدارۍ ته نه دئ ور پام. مذاکرات په کابل کي کوو، دلته پر زورور یو؛ هر څه په منلای سو. موقته اداره نیسو، په لویه جرګه کي اساسي قانون تعدیلوو. بیا نو دوی مجبور دي، چي یا صدراعظمي وکړي، یا ریاست جمهوري. یو به حتماً زموږ وي. خو دوی د مشرتوب شوقیان دي، صدارت به ټول عمر زموږ په لاس کي وي.

حکومت کي دننه خپلو ټولو خلکو ته احوال ورکړئ، چي اماده اوسي. د حکومت کیسه خلاصه ده. اماده اوسئ. اوس ولایتونه مخالفینو ته پاتیږي. موږ به کوښښ وکړو، خپلي سیمي وساتو.

د اقتصاد وزیر، چي د ده خوریی هم وو، وویل: زما ئې پیسې او امکاناتو ته پام دئ. د حکومت تر ټولي بودیجې د سولي د پروسې پیسې زیاتي دي. درې خو یواځي د سولي ارګانونه دي. د سولي وزارت، د سولي عالي شورا او مذاکراتي ټیم پنځه سوه میلیونه ډالر یواځي امریکا بودیجه د سولي عالي شورا ته اعلان کړې ده.

او بل د مذاکراتي ټیم ټول مصارف هم باید سم کنټرول سي.

د شورا رئیس وویل: تا مخکني حسابونه په بهر کي کنټرول کړل؟

وزیر وویل: هو، د اماراتو اکاونټو او کاروبار سم روان دئ. د هند ملکیتونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



او دوکانونه هم سم دي. د ترکیې حسابونو ته باید یو واري خپله ولاړ سم او د سویس بانک اکاونټ خو دي ته او خاله جانه (د شورا د رئیس مېرمن) کنټرولوي.

په دې وخت کې د شورا د رئیس بل خوریي پکول سم کړی، ول: په تعدیل کي باید د افغانستان پر نوم او فدرالي کېدو هم باید بحث وسي او ملي سرود باید په ټولو ژبو سي او بل دا د افغان د نوم کیسه دا وار موږ نه درسره منو.

ما لیستونه ټول راوړي دي. د سولي وزارت د سولي شورا او په مذاکراتي ټیم کي باید دا خلک ټول ځای پر ځای سي. دې خلکو زموږ سره په انتخاباتو کي ډېر ځغستلي دي.

په دې وخت کي د شورا رئیس ورته وویل: بچیه، لږ کرار سه. سبا او بل سبا ته حکومت زموږ دئ. بیا دي ټول ملک په اختیار کي دئ، چي څه په کوې، کوه ئې. کار به په هنر کوې، آواز به دي کښته وي. کار به دي ډېر وي، د کنډو غوړونه مه ږده.

بیرته ئې د اقتصاد وزیر ته وویل: د مذاکراتي ټیم او د سولي د عالي شورا د غړو د موټرونو، کورونو او اکمالاتو له پاره یو مناسب کس وګوره. د دوو درو لارو بېلېدونه ورکړئ. نرخونه خپله تنظیم کړئ. هغه د رئیس جمهور څنور د اکا زوی له هغه بل جرمني ګروپ سره ډېر ګرم ګرم کېدل. د هرات وکیل، چي مخکي والي وو؛ د هغه سره خبري وکړئ. هغه او زوی ئې په دې کیسه کي تکړه دي. دا خرچې مرچې سره سمي کړئ. د انتخاباتو یو سلو درویشت میلیونه حساب باید بیرته سم سي.

د اقتصاد وزیر وخندل: له هغه سره مي وختي لا بیرته پوره کړی، اضافه لا یو.

د شورا رئیس ورته وویل: خوله دي چوپه کړه او کار وکړه.

پر دې ټولو وخندل او په دې وخت کي هغه پخواني سپین ږیري مشاور، چي تکیه ئې کړې وه؛ راپورته سو، ول: ستاسي کیسې که خلاصي وي، زه به یو

(c) ketabton.com: The Digital Library



څو خبري وکړم. زه چي دې وضعیت ته گورم، دونه ساده نه دئ، لکه تاسي چي ورته گورئ. جنگونه په حوصلو او مرال گټل کېږي او که چیري مو دښمن ته اوولس ولایته ور ایله کول، دونه مرال به بایلی او هغوی به دونه زړور کیږي، چي پاته اوولس به خپله نیول کېږي. تاسي دلته په ذهنو کي پاچاهۍ نیولي، زه بېرېږم، چي دا ځل به موږ د آمر صاحب قبر هم و نه سو ساتلای. پنجشېر منجشېر به نه وي.

تاسي د جنگونو زور نه دئ لیدلی. دا یوه څپه وي. نابوده او تېزه څپه؛ هر څه ورسره اخلي. هغوی اوس ټول غرني دي او زموږ مقاومتیان اوس په کور او موټر دواړو کي په ایرکنډېشنو اموخته سوي دي.

د سولي رئیس ئې په خوله کي ور ولوېدی، ول: هغه وختونه تېر دي. هیڅوک جرئت نه لري، چي زغروال مسلح قوتونه مات کړي. بیا تر کابله خو هیڅ امکان نه لري، چي راسي. ته تشویش مه کوه.

هغه بیرته ځان بالښت ته ایله کړی، ول: زما ویل وه، درته و مي کړل. نور نو تاسي ښه پوهېږی.

وروسته د شورا رئیس خپل بل خوریي ته وویل، چي نفر تکړه کړه. د حکومت د تضعیف او د سولي د برجسته کولو کیسه جدي کړئ او پخوانی جمهور رئیس پرې نه ږدئ. زما یارۍ ته مه گورئ. کیسه قومي کړئ، تر څو به دا پښتانه دربانديي حاکمان وي. فیسبوکیانو ته دي په بهر کي هم مسیجونه وکړه.

وزیر ته ئې لاس ونیوی، ول: د پیسو چاره به ئې دی وکړي، نور نو درځئ، چي دا کیسه سره سموو. زموږ وخت شروع دئ.

طوفان لا غورابي کېدئ او خوراک ئې خپله ځان ورته سموی. د طوفان په وړاندي خلکو ځانونه نه کتل او نه ئې مخه نیول، بلکي کومک ئې ورسره کوی او هر څه ئې ور سپارل. انسان رښتیا هم هري بلا ته خپله ځان په خوله ورکوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د شمال امپراطور

د شمال امپراطور د مزار پخوانی والي وو. ډېرو هغه د شمال آمر پوپ (د باټو او لاپو آمر) باله. هغه له ولایت سره یو ناڅاپه میلیارډر سو او په شمال کي کېدونکي هر څه یا ده کول، یا د ده پر لاس کېدل او یا د ده په کښې لاس وو. حتی ویل کېدل، چي دی په شمال کي خپل طالبان لري او خلک په وژني.

د خلکو د مځکو غصب، د تجارانو څخه ججه اخیستل او سیاسي مافیا ئې کاروباري وو. اوس به ډېر وخت د کابل په کارته پروان کي په خپل مېلمستون کي کښېنستئ او له دې ځایه ئې سیاست کاوه. په شمال کي تر ډېره ځایه طالبان د ده له برکته پیدا سول، ځکه له ناقلینو ئې مځکي غصب کړې او هغوی کرار کرار ټول طالبان سول.

د ده په مخ کي ډېر تشویش نه معلومېدی. تازه ئې د سولي شورا د رئیس سره ورانه سوې وه او د جمهور رئیس سره ئې لاس یو کړی وو. هغه له هر لوري سره خپل لین درلودی. نن ئې په دفتر کي د پوهنتون استادان او د رسنیو فعالین مېلمانه ول.

د ده ټیپ او ټاپ هیڅ سیاستمدار ته نه پاته کېدی. په خپل کور کي ئې له مېلمنو عزت غوښتی. داسي حرکتونه به ئې کول، چي د تکبر انتها به وه. مېلمانه به پښېمانه وه چي ولي راتلل.

د پوهنتون استاد ته ئې وویل: زه مشکل نه لرم، ما ته ټول اړ دي. خارجیان هره ورځ دلته راته راځي. دا د رئیس جمهور تړون دئ. یو سلو څلوېښت میله ثقیله او خفیفه سلا د میاشتي یوولس میلیونه افغانۍ، دېرش سفارته، درې وزارته او د سولي د عالي شورا غړیتوب ما ته او د سولي د مذاکراتي ټیم غړیتوب ئې زما زوی ته راکړی دئ. زه نور څه ځني غواړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



طالبانو حال را استولی دئ، چي موږ مشکل نه درسره لرو. ته پر دوی فشار واچوه، چي برخه دي زیاته سي. واک چي نیم طالبانو ته ورکړي، په پاته نیم کي به لس هزاره گان واخلي، لس ازبک. په دېرش فیصده خو پنځلس بیخي اخیستلای سم. دا رئیس جمهور لیونی سړی دئ. لس به ئې لومړي معاون ته ورکړي وي، پنځه و دوهم معاون ته. ځان ته به هیڅ نه لري.

هغه بله ورځ مشران راغلي ول، کیسه ئې کول؛ وایي: له رئیس جمهور څخه مو پوښتنه وکړل، چي پر دې اوږدو تسپو څه شي وایې؟ ول ده ویل: آیت الکرسي. وایي موږ چي راووتو، سره ویل مو، چي ټوله آیت الکرسي خو نه ویل کیږي، یواځي کرسي کرسي (چوکۍ) به حتماً وایي.

په دې وخت کي یو ژورنالیست ورته وویل، چي له ولایتونو څخه دا ځواکونه راټولیږي، دا به سیمي مخالفینو ته په لاس ور نه کړي؟

ده وخندل، ویل: خبره داسي ده، چي دا لوبه خو له ټولو خواوو خارجیان کوي. چي دوی وغواړي، سبا ته به کابل هم نه وي. په نورو ولایتونو خبر نه لرم، خو تر کوتل ها خوا ته زما بې اجازې غوماشه (میاشه - پشه) پر هم نه سي وهلای. ټول سیستم مي بې له اردو او قواوو په خپل لاس کي دئ. که شاتگونه کیږي، که پرمختگونه؛ هر څه زما په کنټرول کي دي. نر نه په حکومت کي وینم، نه په مخالفینو کي؛ چي د شمال په اړه دي څه تصمیم ونیسي.

یوه بل استاد وپوښتل، چي داسي اوازې دي، چي شمال ناامنه کوي او مرکزي اسیا ته له دې ځایه دا نوي تور بیرغي لیږدوي. په دې حالت کي به تاسي څه کوی؟

دی به کله کله په مجلس کي گرم راغلی، بیا به ئې هر څه ویل.

د دې پوښتني په جواب کي ئې وویل: دا یویشتم قرن دئ، هر څه پر گټو څرخي. که دا پلان د نړیوالو وي، بیا ئې نو موږ مخ نه سو نیولای. او دا چي هدف ئې موږ نه یو، بلکي نور ځایونه دي، زموږ څه ورسره مشکل دئ. خپل کار به کوي، موږ خپل کار کوو.

په دې وخت کي ئې د استاد په لاس زاړه ساعت ته پام سو، ول: دا ساعت دي اتلس

(c) ketabton.com: The Digital Library



سوه اوځلوېښت رولیکس دئ؟ زما په کلیکسون کي د دې ډول ډېر زیات نور هم سته.

بحث بل مخ ته واوښتی. خپله نوې انگوشتری، چي تازه ئې جوړه کړې وه او شپږ دېرش زره ډالره قیمت ئې درلودی او ساعت ئې، چي پنځه میلیونه ارزښت ئې درلودی؛ ول: د دې نوم پټک پلیپ دئ. وروسته ئې د خپلو انگوشتریو او ساعتونو کلیکسون راوړی، چي تر دېرش زره ډالره کښته ساعت او تر پنځه زره کښته انگوشتری نه وه په کښې. او د لستوڼو کلپکونه ئې له زر څخه شروع کېدل، تر لسو زرو پوري هم په کښې وه.

د پوهنتون یو مشر استاد، چي د دوی خاص مېلمه هم وو؛ دا مجلس نور و نه سوای زغملای، وئې ویل، چي دا وضعیت زه سخت اندېښمن کړی یم، تاسي فکر نه کوی، چي هر څه له لاسه وتونکي دي. ټوله خواوي پاشل سوي دي. طالبان په یوه خط کي ولاړ دي او موږ ټول یو بل راچپه کوو. جمیعت تر اوسه مشر نه لري. په شمال کي هیڅ اتحاد نه دئ موجود. دا حالت به موږ غرق کړي. زموږ پخواني سرتېري او جنگیالي ټول په عیاشیو او لوکس موټرونو اموخته دي. دا هر څه له لاسه وځي.

اول ځل وو، چي دی ډېر جدي له نازدانگۍ سره په قهر هم سو. ساعتونه او شیان ئې له مخه پوري وهل او زوی ته ئې وویل: دا یوسه، ایسته ئې کړه.

بیا ئې په ډېره جدي توگه وویل: د جمیعت مشر زه یم. تاسي ووایاست، څوک مي مخالفت کولای سي. دا هلکی خو زه په سړو کي نه شمارم. پلار ئې زما رهبر وو، مگر زوی ئې خپلي خبري نه دي زده. د شمال تشویش مه کوئ، ټول مي دا د مخ په جیب کي پروت دئ. هغه یو شرابي دئ، هغه گلمجیم والا هغه ټوله ورځ نشه وي. زما هره خبره مني. مخکي مي در خلاصه کړل، چي تر کوتل کښته غوماشه (میاشه) پر نه سي راڅخه وهلی.

استاد وویل: نو افغانستان خو یواځي شمال نه دئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ده په قهر وویل: زما له نور افغانستان سره غرض نه سته. شمال زما دئ، زه ئې د هر څه مسول یم.

دا مذاکراتو په ټیم کي مي زوی همدې ته کښېنوی، چي خپله هر څه مستقیم کنټرول کړم او په سولي عالي شورا کي هیڅوک هیڅ شی نه سي راڅخه تېرولای. خپله ورته ناست یم. پر ما خو باور لری، دا نونس کاله مي هر څه په زور نه دي درته اخیستي. مګر دا ځل له دښمن سره مخ یو، نه له مخالف سره.

دښمني او مخالفت نور نه سته. امریکا دا ځل هر څه کنټرولوي او ما ته ئې تضمین راکړی دئ، چي هر څه به په سمه توګه مخ ته ځي. زه او د ګلم جم والا سبا په شمال کي ناسته لرو او له هغه ځایه به هر څه کنټرولوو. د حکومت کیسه نوره خلاصه ده. لنډمهاله حکومت به اتلس میاشتي راځي. اساسي قانون تعدیلوو او پارلماني نظام جوړوو. بیا تاسي وګورئ، چي زه په شمال کي څه ګل‌ګلزار درته جوړوم.

یوه ځوانکي ژورنالیست له ځان سره، چي نورو وا نهورېدل، وویل: هو، لکه په نونس کاله کي چي شمال ستا په لاس کي نه وو او میلیاردونه ستا سره نه وه.

د مجلس رنګ خړ سو. ده په زوره ږغ کړه: هغه لوده ویښ کړئ. د شپې تر سهاره ویښ وي، تر اوسه بیده دئ. ورته ووایاست، چي ته د مذاکراتي ټیم غړی یې. دلته راسه، اول له دې خلکو خبري زده کړه. تر څو به مو زه مخ مخ ته کوم.

طوفان موړونه خوړل، را روان وو او ټول ئې په خپلو ځانو او خپلو ونډو بوخت وه. هیڅا هم د یوځای درېدو او له طوفان سره د مخامخ کېدو پلان نه درلودی. حکومت د حکومت له دننه شوړول کېدی. هر چا خپلو ټاکلو ته ویل: ګذاره وکړئ، حکومت چپه کېږي. هر چا له خپله اړخه د غورځېدونکي چت ستون نړوی او ټول خوشحاله ول، چي غټه ونډه به اخلي. هیچا نه درکول، چي دوی یو څوک دئ. د همدې چت له برکته دي، چي چت نه وي، ټوله نه سته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د طوفان زوی

نوی مارشال نن سخت په موډ کي وو. خپل ساقي ته ئې وويل، چي پډرنالتې ګيلاس تش مه پرېږده. دا چي نن نه وي، زه مرم. زما چل دي وليدئ؟ زه ئې پر کور کړم، خو دا دئ نن ئې مارشالي کور ته را واستول. د دې خلکو چم زما ډېره ښه زده دئ. تر پايه ئې پر ما و نه خوړل. هغه بل احمدزی مي يم له تېښتي را و ګرځوئ تر څو په دار سو له دې بل احمدزي سره مي هم تر پايه و وهل.

خياط راننوتی، ول: اندازه دي اخلم، د مارشالۍ د درېشي له پاره.

ده ول: راځه، راځه ژر؛ چي زما دا ارمان خو پوره سي.

پاځېدی او محلي ګډا(نڅا) غوندي ګيلاس په لاس ورقصېدئ. نږدې وو، چي ولوېږي. بيا ئې نږدې ټولو ته وويل: حرامزاده‌ګانو، ولي ناست ياست؟ را ولاړ سئ، ونځېږئ.

ټولو له ډاره رامنډه کړه، يواځي يو کس چي معمره زوړ کس وو؛ له غيرته پاته سو. هغه ته ئې وکتل، ول: دا بې‌ناموسه ولي ناست دئ؟

ټولو ته ئې وويل: کښېنئ.

يواځي هغه ئې ميدان ته واچوی. هغه ډېر شرمېدلی وو. مارشال له يوه عسکره توپک واخيستی، يو يو خطايي ډز ئې په پښو کي ورته کاوه او هغه سړی خولې خولې وو او د نور مخونه له خندا شنه ول.

بيا ئې موسيقي بنده کړه. هغه ته ئې ور بږغ کړل، چي ای بې ناموسه، دلته راسه. ته زما د بريا په ورځ چارزانو ناست يې؟ نن مي زړه ډک دئ، راسه چي نن زړه ټوله تا ته خالي کوم.

مارشال په نشه کي غرق و ترق وو او پرله‌پسې ګډ وو. ويل: دا مارشالي ما په مسخرو نه ده اخيستې. پر دې مي په زرهاوو مړه کړي دي. معاملې مي کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپل او پردي مي پر خوړ کړه. نور ئې څه کوې، خلک مي لا پر بوک کړل په سپین ږیره. دا نه وو، چي ما خوند پر اخیستی. دی مي د وختو یار وو، خو زامن ئې خورا په کش کي وه. یو والي وو، بل وکیل وو، بل معین وو. زما سره ئې سیالي کول. سترگه مي ئې ور مړه کړه. ما خپل قومندان جمعه پهلوان لا پرې نه ښووی، چي زه ئې د زوی پر ځای وم؛ بیا نو دی پرېږدم؟

زه چي لا ځوان وم، د خلق دیموکراتیک په پولیسو کي مي ځان واچوی. یارباشه سړی وم. کله کله مو د خلکو په زوره پیسې اخیستی. بیا به فراریانو وو. خو په خلق کي مو په دربښي کي هر څه کولای سوای. بیا قومندان سوم. خپلي ملېشې مي جوړي کړې. جنگونه مي په ټېکه اخیستل. د گلیم جم څخه بېرېدل. تر کندهاره پوري جنگونو ته ولاړم. خو د کندهار سخت جنگره خلک دي، نیمی خلک ئې را ووژل. مگر ما هم په لیلې دښته کي کسات ترې واخیستی. داسي مي وربېل، چي په ځان پوه لا نه سول. بیا مي په قلایي جنگي کي هم کانتېنرونه په ډک کړه. زه چا ته پور او په ازبکو کي تر ځان پورته نه پرېږدم. اکبر بای ډېر غورځېدی. ښځه او لور مي ئې د ده مخ ته ورته چپه کړې. هغه کرکولي والا طیارې را پسي را واستولې، امریکا دي خدای لري؛ تر منځ مو سوه. دونه نامي نه سته، چي مخ مي ونیسي. گلبدین ناحقه د کابل په قصاب او راکیټونو مشهوره دئ. کابل تر اوسه په سکاټ نه وو ویشلی سوی. اول وار ما پر گلبدین په کابل کي کروز استفاده کړی. بیا دا بل هلک مسعود هم پر طالبانو درې کروزه ور وتوغولې. دا احمدزي لاس راکړی، زه په پوه نه وم، چي چم راسره کوي؛ خو د هغه بل احمدزي کسات ئې لا راخخه وکښی؛ چي ما له میدانه را وگرځوی، بیا طالبانو مړ کړی. مارشالي مي په مسخرو نه ده اخیستې. دا د شمال امپراطور خبر کړی، چي بچیه، قومندان دي زه یم.

له ډېرو خبرو او نشې څخه پر مارشال درنه څپه خپره سوه او په ناستي په خورهاري بیده سو.

هغه سپین ږیری د ده د ماشومتوب ملگری وو. مگر هغه پوه وو، چي په

(c) ketabton.com: The Digital Library



هیڅا رحم نه لري.

دی چي خوب یووړی، هغه په زوره وویل: زمری چي زوړ سي، خوب ئې ژر ژر وړي. په ده غرض مه لرئ. پرې یې بږدئ، چي خوب وکړي.

د مارشال لور او زوی، چي دواړه د پارلمان وکیلان دي او زوی ئې، چي جنرال دئ؛ را وغواړئ. کیسه خرابه ده، باید تصمیم ونیسو.

څو دقیقې وروسته په بله خونه کي مجلس وو. ټولو نظریې ورکولې. د مارشال وکیل زوی نیم ساعت وږغېدی. خو هیڅوک پوه سول، چي څه ئې وویل او څه غواړي.

بیا ئې لور شل دقیقې صفت وکړی، نور ئې هیڅ و نه ویل. جنرال زوی چي ئې ځان خبرو ته جوړوی؛ دباندي د هیو هوی ږغ سو. دوی چي ور ووتل؛ جنرال د سپورټ په درېشي په خپلو کي خلک ځغلول. د ډاکټر ئې ورسره جنجال وو، چي ستا صحت نه دئ ښه. ده ښکنځل ورته کول، ول: ته مارشال یې، که زه؟

په دې وخت کي ئې لور راغله. دی ئې تر لاس ونیوی او په زوره ئې دننه بوتلی. جنرال زوی ئې ورته وویل: کارونه ګډوډ دي، ته بېغمه ناست یې.

ده ورته وکتل، ول: ډېر غور مه وهه. شمال ئې ټول ما ته را تسلیم کړی دئ. ټول تسهیلات ئې زما په واک کي دي.

بیا چورت یووړی، شاوخوا ئې وکتل. ول: تاسي دا د ترکیې سفیر را روخ کړئ.

یو چا ورته وویل: دا دئ، خبري وکړه.

ده هغه ته وویل: وضعیت کومي خوا ته روان دئ؟

نور ده صرف هم، هم، هم لاره. هغه تقریباً شل دقیقې ورته ګډ وو. د مخ بڼه ئې وا وښته، خو هیڅ ئې و نه ویل. صرف دونه ئې وویل: خیر و خیرت دئ.

او بیا یې خپل ساقي ته پرله‌پسې ښکنځلي وکړې او په چیغه ئې وویل: بې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ناموسه، گيلاس مي را ډک کړه.

داسي معلومېدل، چي طوفان يو چا را رهي کړی وو او په وړاندي خلکو ته ئې ويل کېدل، چي مازي ئې پر تاسي تېروو. تاسي بږغ مه لرئ، ځکه ټوله خوشبينه ول، خو هيڅوک نه پوهېدل، چي څه روان دي؟ هر څه خپله کېدل. ټولو ويل: يو پلان سته. خو هيڅوک نه ول خبر، چي څنگه پلان او د چا پلان.

د طوفان په وړاندي هر ډول خنډ کرار کرار خپله را شوړېدی. داسي ښکارېدل، چي د ټولو په لاسونو کي چړې دي او کرار کرار خپل رگونه شکوي او له دې شکولو يو ډول خوند اخلي. ټول خندېدل او خوشحاله ول، چي دا دئ؛ بېړۍ ډوبېږي. هيچا بږغ نه کاوه، ټولو يواځي ننداره کول او ځينو حتی چک چکي ورته کولې. طوفان شېبه په شېبه تېزېدی او خروړی کېدی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# له طوفانه خوندي

د نوي فصل او نوي بهار تر ټولو ډېر خوندي او ډېره ګټه اخيستونکي خلک دوی ول. له يوې خوا د نړۍ د سياست په محراق کي نه وه واقع، له بلي خوا حالتو ځپلي او ډېر زهير سوي وه. نو سخت زحمت‌کښ او متحد ول. له بلي خوا د ايران پرله‌پسې مذهبي ملاتړ دوی سخت منظم کړي وه. ګرچي هغوی دوی استفاده کول، مګر بيا هم دوی ته ئې تر ګټې تاوان زيات وو.

دوی له جواليتوب، باغلي فروشۍ، ګاډۍوانۍ او خرکارۍ څخه يو دم راپورته سول. له لويه تر کوچني، له نره تر ښځي ټولو زده کړي وکړې. په ډېر هنر او چالاکۍ ئې په هر لوري کي خلک ځای پر ځای کړل او هر ځای ئې خپل د مظلوميت داستان ورسوی. نو ځکه ډېر تېز او ژر پرمختګ ئې کاوه د دوی بد توب نه بلکي ښه توب وو چي ځان يې را کنټرول او ښې خوا ته بوتلی. د هیواد هر کونج او هري ادارې ته ئې ځان ورسوی او په هر زده‌کړيز مرکز کي د دوی فيصدي حتماً وه.

دوی شايد د هيواد پنځه يا اووه فيصده وه، مګر د نږدې پنځويشت فيصده حق ئې اخيستی. مګر هغه د کابليانو خبره؛ هغوی چي د توري له څوکي ئې اخلي، نوشجان ئې. دوی په خپل اتفاق هر څه کول او ډېر ښه ئې کول. دوی ټول د درو مشرانو له خوا رهبري کېدل، چي هيڅ کله ئې يو او بل نه تخريبول، بلکي ډېر کلک سره ولاړ وه. خو په خپل منځ کي ئې سپک سپک مخالفتونه موجود وه.

دوی نن درې سره د جمهور رئيس د دوهم مرستيال په کور کي، چي تازه ئې د کابل په دريمه کارته کي په شل بيسوې مځکه کي په پنځه منزله کي جوړ کړی وو او ټوله د هلمند په سپينه رخام ډېره ښايسته وو. د دې نوي کور مبارکي او د حالاتو ارزيابۍ ته راټول سوي وه. درې سره يوځای د ناستي خوني ته ننوتل. د جمهور رئيس مرستيال، چي د حقوق استاد وو؛ دوی ناستي ته دعوت

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړل. خپله پر هغه خاصه چوکۍ، چې تازه ورته جوړه سوې وه؛ په تکلیف کښېنستی. په دې وخت کې د جمهور رئیس اوسني مشاور او د اجرائیه ریاست پخواني مرستیال په ټوکه ورته وویل، چې په هغه نیوي میلیونه افغانۍ کې دا چوکۍ هم وه؟

درې سرو ښه په زوره زوره وخندل. بیا د جمهور رئیس مرستیال وویل: دا بواسیر ډېر ملا ماتي شی دي. هم سړی خوږوي، هم شرموي.

د پخواني ولسمشر عینکي مرستیال او د سولې د عالي شورا پخواني رئیس په ټوکه وویل: هو، چې خوني وي؛ بیا بیخي.

ټولو یو ځل بیا په زوره زوره وخندل.

سپین ږیري او پخواني مرستیال له اوسني مرستیاله وپوښتل: وضعیت څه دئ؟ ولې هر څه گونگ دي؟

اوسني مرستیال ځان سم کړی، ول: دننه هم دغونه ورک حال دئ، لکه دباندې. رئیس جمهور یو ډول انحصار سوی، یا قصداً ده ځان محدود کړی. دا له بهره ئې فولبرایټران، انگلیسي او الماني والا سرې جراپې او عجبه سټایلونه کښته او پورته کیږي. نه د وطن په فرهنگ پوهېږي او نه وطني دودونه پېژني. رئیس جمهور خپله ښه سړی دئ او د ښو کارو اراده لري، مگر له ځانه ئې مدیر جوړ کړی دئ. هیڅ د حالاتو سره سم نه دئ روان. ټول فکر ئې دا دئ، چې لومړی مرستیال کنټرول کړي.

د پیسو منابع ئې تر نظر لاندې وي او ټولې مقرری خپله وکړي. ټول تمرکز ئې پر دې دئ، چې نوم جوړ کړي. نور ئې هر څه هلکانو ته سپارلي. ټول کارونه پروژه‌یي مخ ته روان دي. هغه دوه هلکان ئې ایله کړي؛ یو ئې د رئیس جمهور کیډو خوبونه ویني او هغه بل پیسې ټولوي. او د اداره امور ښځه ئې وړکتون جوړ کړی دئ. یوه ډیسکو او د ارایش صالون نه سته، نور هر څه سته.

رئیس جمهور ته پرله‌پسې د خیر و خیرت احوال ورکوي او هغه هم پر دوی له حده زیات باور کوي. پخوانی ولسمشر تماس نیسي، هیڅوک اړیکه نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورسره نیسي. ملت ته ټولي دروازې تړل سوي دي. مشران راځي، مگر همدا ډله ئې رئیس جمهور ته نه ور پرېږدي، چي هغه ته د دوی خبري و نه کړي. نو ځکه ټول خلک د ارگ پر ځای پر پخواني ولسمشر ور مات دي. حتی د سفارتونو اړیکو ته جواب نه ویل کیږي. نو ځکه ټول بهرنیان اول له پخواني ولسمشر سره گوري. ما ته خپله څو ځله مشکل جوړ سوی دئ؛ ده نه سوای حلولای، یا ئې سر نه پسي گرځوی؛ هغه را حل کړی.

په دې وخت کي خاص مشاور وپوښتل: دا عقب نشیني او دفاعي حالت څه معنا لري؟ پر دې خو ډېر جنجال وسو.

لومړي مرستیال وویل، چي د جگړې قومنده خپله پر غاړه اخلي، خو رئیس جمهور پرې نه ښود. له بهرنیانو سره مذاکرات او نظامي چاري ټول همهغه د امنیت د شورا مشاور، چي بیخي ځان د موقت ادارې ولسمشر بولي؛ تر سره کوي. اخیر به همده څاه ته ور اچولی وي.

نور نو شاوخوا ټول چاپلوس او شیطان خلک ځغلي، راځغلي. او په دغو خبرو بیا د هر چا باور کوي. پخوا ئې ښکنځل لږ کول، اوس ئې هره دوهمه خبره د مور او خور یادول وي. حالات له ده هم ورک دي، مگر بس اخته وي؛ شپه او ورځ په لیکلو او لوستلو اخته دئ. ښه سړی دئ، په بد وخت کي راغلی دئ او هیڅ وخت نه درکوي.

په دې وخت کي خاص مشاور پخواني مرستیال ته وکتل، ول: ستاسي خوا ته څه کیسې دي؟ اندېوال دي وینې؟

- هو، د ټول مملکت خوابدي هلته راځي. استخباراتو ارگ هېر کړی، ځکه ټول پوه دي، چي هغوی چي مقاومت کوي، دلته راځي. حتی د امریکا ټول تمرکز پر ده دئ. د چین سفارت خو ئې څنگ ته دئ. هره دوهمه ورځ ئې یو کس ناست وي. ډېر خلک په دې هم ورته راځغلي، چي دلته ځان ته مصؤنیت واخلي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوهم مرستیال وپوښتل: پلان لري، چي بیرته رئیس جمهور سي؟

پخواني مرستیال ول: نه، ما چي څونه درک کړی دئ؛ غواړي بابا ملت سي او د خمیني غوندي د شورا مشر سي او په سیاست کي له ده سره مشوره وسي.

په دې خاص مشاور وویل، چي ټول وایي، دی حکومت چپه کوي؟

پخواني مرستیال وویل: حکومت خو اول اوسنی رئیس جمهور له خپله ضده چپه کوي. دوهم له انحصاره، دریم له بهرنیانو سره ئې نوره ورځ نه تېرېږي. نو حکومت خو باید پر یو چا لاس پاک کړي.

په دې وخت کي خاص مشاور له نوي مرستیاله وپوښتل: څه فکر کوې، ولسمشر به واک وسپاري؟

هغه وخندل او وې ویل: مړ به سي، خو واک به پرې نه ږدي او نه به بل څوک پرېږدي. که څه هم پیشنهاد ورته سوی، چي د موقت ادارې له پاره کاندید راکړه، ده ځان پیشنهاد کړی.

په دې وخت کي پخواني مرستیال د خاص مشاوره وپوښتل، چي ستاسي په ټیم کي څه حال دئ؟ مارشال د امپراطور او د سولي عالي شورا رئیس په څه غورو کي دي؟

خاص مشاور وویل: موږ خو سره جوړ را نه غلو. گلمرجان معامله وکړل، نو له قهره ټول وپاشل سول. ده ته ئې هم د موقتي ادارې مشرتوب منلی دئ، نو ځکه دی کوښښ کوي، چي د حکومت کیسه ژر خلاصه سي.

امپراطور ته ئې واک او اسلحې ورکړې او د شمال مسؤلیت ئې ور وسپاره، خو مارشال ته ئې هم عیني امتیازات ورکړل. د دواړو زامن د مذاکراتو غړي سول. مارشالي سول، دوسیه ئې وتړل سول.

په دې وخت کي پخواني مرستیال وویل: چاره څه ده؟

خاص استازي وویل، چي د رهبرانو نظر به واخلو.

نوي مرستیال ورته وویل: رهبران موږ فقط جنگوي او قرباني مو کړي. د سورېې فاطمیون په موږ ډک دي، خو په ایران کي بیا د گرځېدو حق نه لرو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خاص مشاور ورته وویل: موږ مذهب ته ژمن یو. د دوی سیاست ته نه. ما که فاطمینو ته لښکر لښکر ځلمي استول، مذهب مي ژوندی ساتی.

په دې وخت کي خاص استازي زنګ وواهه. له بلي خوا څخه ږغ وسو: حاجي آغا تلیفون دي په غوږ کي اوس ګوشي ورکوم.

وروسته هغه تلیفون پر مېز کښېښوی او لوډسپیکر ئې کړی. له هغې خوا له سلام او روغبړ وروسته صلوات وویل سو. دوی درې سرو صلی علی تر پایه ووایه. وروسته هغه بې له مقدمې وویل: لوبه بدلېږي، مذهب ټول په خطر کي دئ. حالت په سیمه کي بدلېږي او تور بیرغي به موږ هر ځای په نخښه کوي. ستاسي د حکومت وخت خلاص دئ، مګر ښه به دا وي، چي موږ د طالبانو سره لار یوسو. ځکه موږ او دوی دواړه مشترک دښمن لرو، چي هغه امریکا او تور بیرغي دي. مخکنۍ پالیسي ډېره ښه وه. درې نوي کسان جوړ کړئ. په نوي حکومت کي ئې ځای پر ځای کړئ. ډېر کوښښ مه کوئ، چي ځان خوږ کړی او مقاومت وکړی.

بیا نوري خبري هم وسوې، خو بالاخره خبره فیصله سوه، چي حالاتو ته تسلیم سي او نوو ته تیار. په دې وخت کي دروازه وټکېدل. یو جګ ځوان رانوتی. نیکټایي ئې تړلې وه. خاص مشاور ورته وویل: نیکټایي دي ایسته کړه. ږېره دي هم نوره ایله کړه. پاڼه اوړي.

وروسته ئې وویل، چي ده له قم څخه په اقتصاد کي دکتورا کړې ده او تکړه سړی دئ.

د قربانۍ پسه حلال وو. هر چا برخه ځغلول. هیچا د طوفان انجام ته نه کتل. تیاره زیاتېدل، طوفان زور اخستی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د طوفان وارثين

وروسته له هغه چي د بهرنيانو چاپې او شپني عمليات زيات سول، د تحريک غړي بيرته کرار کرار منسجم سول. دفترونه شروع سول، تشکيلات جوړ سول او بيرته منظم هر څه تيار سول. هيڅوک نه پوهېدل، چي دا تشکيلات او تنظيمات څوک کوي. يواځي دونه معلومه وه، چي له چاپو فراره، له حملاتو راتښتېدلي او له زاندنو راخلاص سوي را ډېرېدل او جګړې کش اخيستی. تر څو د کارونو د ښه تنظيم له پاره د کوټې شورا جوړه سوه، چي هر څه ئې رهبري کول. هر څه د لوی ملا صاحب په نوم وه او طالبانو اطاعت کاوه. تر څو د همهغو له لوري، چي دوهم ځل ئې تحريک په غير مستقيمه توګه خبر خپور سو، چي لوی ملا صاحب مړ دئ. تحريک څو ډلي سو. خو وروسته هغوی، چي ډلي ئې بېلي کړي وې، يو په بل پسي ووژل سول او له څو ناستو وروسته نوی آمر وټاکل سو.

نوی آمر نسبتاً معتدل او اولسي تاجر سړی وو. هغه د جګړې د ختمولو له پاره هڅي شروع کړې. بالاخره هغه هم په پاکستان کي ډرون وويشتی. ډېرو ويل، د سولي قرباني سو. پر خپل سر ئې سوله کول. لنډه دا چي د سولي خبره تر منځ ووتل. د پېښور شورا جوړه سوه او جګړې تر پخوا لويي او تشکيلات زيات سول. د طالبانو پخوانی د مدرسې ملا او قاضي القضات د نوي آمر په توګه وټاکل سو. هغه تر ډېره مصلح سړی بلل کېدی. بيا يو وخت داسي هم راغلی، چي آوازې خپرې سوي، چي په کچلاغ کي په يوه چاودنه کي هغه، وراره او ورور ئې شهيدان سوي دي. خو دا خبره هيڅ کله تائيد نه سوه او د کوټې شورا همهغسي رهبري شورا او قوي پاته سوه.

کله چي د امريکا جمهور رئيس طالبان له توره ليسته و ايستل، مذاکرات ئې پيل کړل؛ کوټې شورا نوی تشکيل اعلان کړ.

د لوی ملا صاحب قلم مخصوص اغا صاحب د سياسي دفتر مشر سو. د

(c) ketabton.com: The Digital Library



لوی ملا صاحب زوی د جګړې ټول مشرتوب پر غاړه واخیستی. جګړې شدت واخیستی. د امریکا نوي رئیس جمهور په لومړۍ بیانیه کي وویل، چي د افغانستان جګړه پای ته رسوي. نو خاص استازی ئې مذاکراتو ته وټاکی. خاص استازي په قطر کي، چي د امریکا خاص دوست هیواد او همکار دئ؛ دوی ته امکانات برابر کړل او مذاکرات پیل سول.

د مذاکراتو لومړی شرط له باګرام، ګوانتنامو او نورو زندانونو څخه خپل خاص خلک وغوښتل. بالاخره له اوږدو خبرو او چنو د دې بندیانو د آزادولو پرېکړه وسول. د افغانستان حکومت چا د خیرک مور هم نه بلل. بندیانو ته د افغانستان دولتي پاسپورټونه ګوره چیري جوړ سول او ټوله په عزت کوټې ته انتقال سول. هغه بندیان، چي پرون د همدې پاکستان په خوا په کشولو امریکا ته تسلیم سول؛ نن په ډېر لوړ پرتکول او عزت بیرته په پاکستان کي په رسمي پرتکول کي ګرځېدل.

د نړۍ بې‌شرمي او د افغانانو بې‌وسي ټولو لیده. د ارزوګان اولسي مشر او د لوی ملا صاحب د ځوانۍ یار یوه ورځ ځولنې په پښو، هتکړۍ په لاسو کي کشول کېدی؛ نن د مرسډیز ډیپلوماټ بینز دروازه له سلامۍ سره خلاصېده. د نړۍ دوهم مفکر د پوهنتون پروفېسور ته پرون د امریکا ټول پارلمان پنځه دقیقې ولاړ وو؛ چکچکي ئې کولې، نن ئې لېونی بلی. دا د افغان غمیزي رښتینی انځور وو. هر چا لیدی، خو یواځې افغانان ول، هر څه ته ئې په وازو خولو کتل او هیڅ ئې نه ویل او هر څه ئې یو پر بل تاوانول.

د کوټې په شورا کي نن د نوي پړاو خبرو له پاره خاصه غونډه وه. د غونډې مشري د پخواني قاضي القضات او نوي آمر خسر کول. څنګ ته ئې یو نوی سړی ناست وو. په عمر پوخ معلومېدی، خو ډېر ملا وشمه نه وو. فېشني، خو پر شرعه برابر سړی وو. بل څنګ ته ئې د طالبانو مفتي ناست وو. ده په شرعه او اسلامي حقوقو کي ډېر کتابونه لیکلي ول. د کندهار د میوند وو. مخامخ ئې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



لوی ملا صاحب یار او د طالبانو د رهبرۍ تر ټولو پخوانی مسؤل د ارزوگان ملا صاحب ناست وو، چي تازه ازاد سوی وو. څنگ ته ئې د شمال مشهور د اول خط قومندان ناست وو، چي په کلایي جنگي کي د گلمجم ملېشو امریکایانو ته تسلیم کړی. له هغه سره په څنگ کي ناست کس د شمال بل مشهور قومندان د غزني ملا صاحب وو. لږ کښته د لوی ملا صاحب ورور او د لوی ملا صاحب زوی، چي اوس ئې د جگړې ټوله قومنده پر غاړه وه؛ ناست وو.

سور ږیري مولوي صاحب، چي د آمر او د مفتي دواړو خسر وو؛ خبري شروع کړې. د جهاد بریا د مذاکراتو په اړه اوږد وږغېدی. بیا ئې غاړه تازه کړل، ول: قضا او تقدیر په تدبیر نه بدلیږي. د دې له مخي چي په یوه لوی راز مو خبر کړم، اول وعده اخلم، چي دا د مظلومانو کاروان به یواځي نه پرېږدو او له نفساني خواهشاتو به تېرېږو او اصلي هدف ته، چي د خدای(ج) د دین حاکمول دي؛ رسېږو. تر یو لک زیات شهیدان مو ورکړي دي او نږدې شل کاله بې کوري او زندانونه مو کاټ کړي. لاسونه پورته کړئ، چي شهیدانو ته یو دعا وکړو او ځان ته یو د خیر او آرامۍ انجام.

له دعا سره ئې غاړه تازه کړل، ول: زما څنگ ته ناست کس لنگوټه ئې تړلې، ماستري په شرعیاتو کي لري او په عصري علوم کي ئې هم پخې زده‌کړې کړي دي. د قاضي القضات صاحب د لاس لکړه او د هغه روزلی دئ. دا دوه نیم کاله د امارت ټولي بریاوي د لوی ملا صاحب د ورور، زوی او خاصتاً د ده برکت دئ. موږ دی د رهبري شورا مسؤل او د ټولو په بیعت مشر ټاکلی دئ. خبره سپینه ښه ده، خو تر خپل منځ؛ نه بهر. آمر صاحب د کچلاغ په چاودنه کي سخت زخمي سو. زما او د مفتي صاحب او درو نورو مشرانو په حضور کي، چي یو ئې مړ دئ؛ دوه ئې دغه دي ناست دي؛ په شهادت ورسېدی او دی ئې خپل ځای‌ناستی وټاکی. او دا وصیت ئې وو، چي تر څو د خدای پر مځکه د خدای حکم نه وي جاري سوی، د فتنو وخت دئ. زما د مرگ خبر مه خپروئ، دی زما په نوم مشهور کړئ. که ئې اهلیت نه درلودئ، بل ځوک وټاکئ؛ خو اعلان مه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوئ. د ده د اهلیت زه ضمانت کوم او زما پشنهاد هم دا دئ، چي دا خبره همداسي وساتو او نورو کارونو ته ادامه ورکړو، تر څو گډوډي جوړه نه سي.

د اروزگان مولوي صاحب غاړه تازه کړه. په ژړغوني آواز ئې وويل: د مولوي صاحب سره دي خدای(ج) ښه وکړي. موږ د هدف له پاره مبارزه کړې. زه د ټولو په نمایندهگي درته وایم، چي موږ پر رهبرئ هیڅ بحث نه لرو. هر څوک چي وي، بحث د آزادئ د اخیستلو او د جهاد د کامیابېدلو دئ.

بیا وروسته نوي آمر خبري شروع کړې. له خبرو او فصاحت او بلاغت ئې په داغه اول مجلس کي ټول پر ځان مین کړل او هر یوه غوښتل، مشورې او لارښووني ئې واوري.

د فاتحو، ټاکونو او نورو مسایلو وروسته خبري شروع سوې، چي څنگه مذاکراتو ته ځو او څنگه معزله راټولوو. په دې وخت کي یو هډور سړی راننوتی او ټولو یو ناڅاپه مکمله موضوع واړول او خبري پر بل شي شروع سوې. خبري نوري ټولي عامي او عادي سوې.

له مجلس څخه وروسته راغلو درو نوو آزادو سوو ته په یوه مخصوص اطاق کي د لوی ملا صاحب زوی کیسه کول، چي دلته هم پاکستان او هم استخبارات کسان لري او ټول حال څغلوي. موږ باید خپل کارونه ډېر په هنر وکړو. کورنۍ مو ټولي له دوی سره ضمانت دي. ډېر خطر راته پيښولای سي. دا هډور سړی د اولي دورې هم د دوی غټ سړی وو؛ موږ نه وو په خبر.

دی نه یوائي دا چي زموږ احوال څغلوي؛ د هغوی حال او احوال هم راوړي. فرمایشونه، لارښووني او امکانات ټول د ده په لاس کي دي. ډېر پام مو اوسه. هره دقیقه مو خبري ثبتېدلای او مشکل جوړېدلای سي.

د ارزوگان مولوي صاحب سر وښوروئ، چي نړئ په موږ څه څه و نه کړل، خو موږ لا هم د دې نه سوو، چي خپلي فیصلې خپله وکړو. هم شل کاله ورسره وجنگېدو، هم اوس حکومت ورسره جوړوو. پرون ئې کافر ته په لاس ورکړم،

(c) ketabton.com: The Digital Library



نن مي لاسونه مچوي.

په دې وخت کي د غزني مولوي صاحب وويل: خو ځکه درته وایم، چي د مکتبونو چاره باید ژر وکړو او خپل هلکان لوستي کړو، چي د دې خلکو مخه ونیسو.

د جنګ قومندان وویل: مکتبونه به ئې بیا راته کافران کړي.

په دې وخت کي د تګ بږغ وسو او دوی میدان ته روان سول، چي په مذاکراتو کي برخه واخلي.

د طوفان د الوتلو بهیر پیل سو او د طوفان له مخي د وروستیو موانعو لیري کولو ته له هره ځایه حرکت پیل سو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د طوفان کور او تم ځای

دا تر اوسه لوی سوال دئ، چې نړدې دوه زره کوره طالبان قطر ته څنګه ولاړل؟ قطر په نړۍ کې د امریکا تر ټولو نږدې متحد دئ. هلته مذاکرات تر سره کول او مخکې له مخکې هلته د دفتر خلاصول او د کورنیو انتقال څه معنا درلودل. طالبانو نږدې یوولس کاله دفتر درلودی. دا دفتر به د سیاسي فشارونو له امله کله وتړل سو او کله خلاص. هغه وخت چې د پروژې بله برخه پیلېدل، د دې دفتر رئیس او د لوی ملا صاحب قلم مخصوص، چې یو له نابغه‌ترینو انسانانو څخه وو؛ استعفاء ورکړل او یا هم استعفاء ته مجبور سو.

بیا څه وخت د دې دفتر خبري نه وې. د مذاکراتو د نوي دور له پیل سره، کله چې امریکا خپل استازی وټاکی؛ دې دفتر هم نوی رئیس پیدا کړی او د اروزګان مولوي صاحب د دې دفتر رئیس سو او مذاکرات پیل سول.

طیاره چې کله د قطر هوایي میدان ته ورسېدل؛ لمر تازه راختلی وو. دوی چې له طیارې کښته سول، د اروزګان مولوي صاحب طیارې ته وکتل. ول: دا طیاره څنګه د امریکایانو طیارې ته سوې ده. که دا په عربي قطر نه وای لیکلی او بیرغ د قطر نه وای؛ بیخي دي شک ولاکه په کښي کړی وای.

هغه هلېور د هلمند ملا وویل: طیارې خو ټولي وي د کفارو؛ مازي ئې نومونه او بیرغونه ور اړوي.

د هغه په دې بدخونده ټوکه ټولو بد بد ورته وکتل. کله چې دوی د قطر دفتر ته ورسېدل، د وخته ټول راغلي ول. له ټولو سره معرفي سول.

د اروزګان مولوي د وخت سړو او تودو ډېر تکړه کړی وو. د خلکو پېژندل ئې سخت زده کړي وه. د شپې چې کله د خپلو خاصو ملګرو سره یوځای سو؛ د لوی ملا صاحب زوی، ورور، د شمال د خط دواړه قومندانان، د استخباراتو پخوانی مسؤل، د پنجوایي مفتي صاحب او یوه بل ملګري ته، چې ده ډېر باور په

(c) ketabton.com: The Digital Library



درلودی؛ هغو ته ئې وویل: کیسه اوس د جنگ له میدانه راووته، د سیاست میدان ته راغله. دلته هر رکم خلک سته او زموږ په خپل قطار کي باید اول خپل خلک وپېژنو او ورته اماده اوسو. په موږ کي هم جاسوسان او سل فسق و فساد والا سته، چي باید ورته پام مو وي. لویه لاره مو وهلې، خو هغه د خرپ او ترپ لاره وه. اوس د سوچ، د فکر کیسه ده. نو جاسوسانو، د بل اجنټانو او هر رکم خلکو ته مو باید پام وي. زه د نن له لیدلو څخه په څو کسانو سخت مشکوک یم. تاسي به هر یو یو - یو نفر پر غاړه اخلئ، تعقیبوی به ئې او کنټرولوی به ئې.

دا نري برېتونه چي ئې دي او ږیره ئې توره کړې ده، نوم ئې لا ولاکه د افغانانو وي؛ سم دم مېجر معلومېږي. پام ورسره کوئ. دا ږیره او برېتونه ئې لا مصنوعي را معلومېږي. دی وایي زه د پکتیا یم، خو په پکتیا کي ئې دوه خلک نه پېژني.

د دا لوی خېټي بغلاني سره مو هم پام وي. ده بغلان دونه نه دئ لیدلی، لکه اسلام آباد. د مجاهد به دونه بدنه وه؟ ما ته وهابي را معلومېږي. دونه له تکبره ډک عالم ما ولاکه تر اوسه لیدلی وي.

په دې وخت کي ئې له مفتي صاحب څخه پوښتنه وکړه: دغه کونډۍ سپینه ږیره، چي ئې ده؛ چلتار هم ترې. دا څوک دئ؟ دا چالاکه چالاکه چي کېږي.

هغه ورته وویل: ولي؟ دا دي نه دئ په یاد؟ په هغه بله دوره کي چي ویاند وو. په هند کي ئې په توپچي کي زده‌کړې کړي دي. بیا ئې په پاکستان کي سبقونه وویل. چالاکه سړی دئ. تر نورو ډېر ټینگ ټینگ کېږي او بل دا د فوج د له منځه وړلو او نوري کیسې ټولي ده گرمي کړي.

بیا بیرته د اروزگان مولوي صاحب وویل: خیر چي هره بلا دئ، پر پام مو اوسه. او پاته سو دا د هلمند پنډ مولوي، خو ما له پاکستانه لا نه راوستی. د دې ورونه د پاکستان د ملا فضلو خاص خلک دي. دا خو گرسره زه له نورو مهمو مجلسو څخه باسم. دا د علومو اکاډمیو پخوانی سړی مي په هغه اوله دوره کي

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم نه وو خوښ. تر کابل به په اسلام آباد کي ډېر پاته کېدی.

لنډه دا چي د قطر خبري پیل سوې او دغه خبرو پوره اته لس میاشتي د پیشي او موږک لوبه وکړه. دغه اته لس میاشتي په حقیقت کي هغه فرصت وو، چي د افغانستان دننه حکومت او سیاسیونو ته ورکول سو. که په خپل منځ کي جوړ سي. مګر دوی ټول د خپلو ځانو ته د ګټو په ټولولو لګیا وه. چا له امریکا سره ځان نږدې کوی، چي په نوې لوبه کي برخه ورکړي او چا له طالبانو سره اړیکي ټینګولې، چي ځان ته ځای او هر څه خوندي کړي. په حقیقت کي دوی لویه کښتۍ ماتول او ځان ته ئې کوچنۍ کوچنۍ تختې ځني جوړولې، چي غرق نه سي.

دا خبرو اتلس میاشتي دوام وکړی. په دې اتلس میاشتو کي د افغانانو په استازیتوب او پلوۍ هیڅا خبره و نه کړه، یواځي د امریکا اړیکي او طالبانو پر امتیازاتو بحث وسو. په نتیجه کي یو ښکاره او څو پټ تړونونه امضاء سول، چي په ښکاره خبرو کي ئې د امریکا له نوي اسلامي حکومت سره مرسته وه، چي همدې اولي جملې حکومت نړوی. د بهرنیانو په اتلس میاشتي کي وتل وه او طالبان د افغانستان پر خاوره د امریکا دښمنان نه پرېږدي. که څه هم چي په همدې تړون کي لیکل سوي وه، چي دوی حکومت نه دئ، بلکي طالبان دي؛ مګر په دې تړون کي د حکومت په سطحه غوښتني وې او همدې هر څه چپه کړل.

امریکا د خپل تاریخ تر ټولو بد مخ ښکاره کړی. یو تړون ئې د وطن دننه له خلکو سره کړی وو، بل ئې دباندي وکړی او په دې هیڅ هم نه شرمېدل.

خو په پټه یو بل تړون هم موجود وو. ویل کېدل، چي دوی به په افغانستان کي پنځه نظامي هډې لري، اوولس ولایته به ور پرېښودل کیږي. ولسمشر به استعفاء کوي، په کابل کي به مذاکرات کیږي، د اتلسو میاشتو موقته اداره به رامنځ ته کیږي. یو نوی کس به د موقتي ادارې مشر وي، یو مرستیال به ئې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



طالبانو له خوا وي او بل د جمهوریت له لوري. په نتیجه کي به انتخابات کېږي او بیرته سیستم عادي لوري ته ځي. خو د ترون له ترون کېدو مخکي د اروزگان مولوي صاحب ته د کوټي له خوا احوال راغلی، چي نوی مولوي صاحب او سور ږیری مولوي صاحب او شوراء غواړي، ستاسي د اتلسو میاشتو راپور و ارزوي او بیا تصمیم اعلان سي.

۞۞۞

سور ږیري مولوي صاحب غاړه تازه کړه، له ټولو ئې مننه وکړه او بیا ئې وویل: قرآن شریف امر کوي، چي مشوره کوئ او زموږ ستاسي اولسي خبره هم دا ده، چي سلا د مړو هنر دئ. موږ پر تاسي هیڅ شک او شبهه نه لرو، چي تاسي به خدای مه کړه، په دې اتلس میاشتي کي بدي پرېکړي کړي وي. وخت پر وخت مو تماس هم نیولی، راغلي هم یاست او راپور مو هم راغلی، خو اخیري ناسته ځکه ضروري وه، چي په یوه خوله او یوه زړه مخ ته ولاړ سو. زه د ارزوگان مولوي صاحب څخه ډېره زیاته مننه کوم، چي په ډېره ښه توگه ئې مذاکرات کامیابه پای ته ورسول. خو موږ غواړو، بلخصوص د مشر مولوي صاحب (نوي مولوي صاحب ته ئې اشاره وه) غوښتنه دا وه، چي یوه اخیر جلسه به لا پر وکړو. اوس د دې پر ځای، چي خبر له سره تر اخیره وکړو، ښه به دا وي، چي تاسي خپل راپور مکمل وړاندي کړی. په منځ کي ئې پوښتنه او خبره راتله، بحث به ئې کړو. زه دلته د مشر مولوي صاحب نماینده یم، هغه زموږ خبري اوري.

د اروزگان مولوي صاحب غاړه تازه کړه او بیا ئې وویل: خبره خو په حقیقت کي دا ده، چي موږ اتلس میاشتي یواځي له امریکایانو سره نه، بلکي د ټولي نړۍ سره مذاکرات وکړل. په بېلابیلو سطحو ترونونه وسوه او بېلابېل شرایط وړاندي سول. موږ خو دا لویه جگړه یواځي نه سوای کولای. بېلابېل ملاتړي مو

(c) ketabton.com: The Digital Library



درلودل او بېلابېلي ډلي راسره وې. دوی له مخکي خپل منځي ترونونه درلودل، مگر موږ له هر یوه سره جلا مباحثې وکړې او ټوله له اوسنی اجیري اداري څخه ناراضه دي، ځکه واحده اداره نه ده. هر څوک ئې پر خپل سر ډنگوي او د خپلو گټو په تلاښ کي دي. چي رښتیا سي، د دوی دغه پاشلي حالت زموږ کار ډېر را اسانه کړی.

موږ مذاکرات اول له ابر قدرتونو او لوی هیوادونو سره شروع کړل، وروسته د سیمي هیوادونو او همسایه گانو ته راغلو.

اوله خبره له روسانو سره وه، چي په مقاومت او مبارزه کي ئې زموږ سره برخه اخیستې وه. د هغوی له خبرو داسي معلومېدل، چي د امریکا مخنیوی د داعش په خاطر کوي، چي دوی ته ور نه سي او دوهم ئې له امریکا سره پخوانی دښمني ده، چي هر ځای ئې باید ناکامه کړي. په دغه دوو علتونو دوی هم زموږ ملگرتیا ته اړ کړل او هم زموږ سره ترون ته. مگر یو بل شی، چي ما حس کړی، هغه دا وو، چي چینایان او روسان د امریکا خلاف دواړه ملگري دي، مگر داسي معلومیږي، چي چینایان بیا بیرته د امریکا او روس د سترگي خار دي. داسي معلومیږي، چي امریکا او روسان بیا دواړه کوښښ کوي، چي د چین مخه ونیسي او دا کیسه داسي مثلث غوندي روانه ده او په دې منځ کي جرمني هم گرم گرم کېږي او ډېري همکاری زموږ سره کوي، چي تر ډېره ځایه معلومیږي. کارونه ئې ټوله د امریکا په اشاره دي.

زموږ څخه روسانو درې غوښتني کړي دي: یو دا چي په حکومت کي مو له دوی سره د خواخوږو خیال وساتل سي. دوهم دا چي زموږ له خاوري دوی ته خطر نه وي، بلخصوص د داعش له خوا، چي دوی فکر کوي، امریکا دوی ته جوړ کړي او دریم دا چي له دوی سره ښې اړیکي وپالو.

په بدل کي ئې څلور وعدې کړي: لومړی خپلو پخوانیو مرستو ته به ادامه ورکوي. دوهم به پر نړیوال ستېج زموږ ملاتړ ته ادامه ورکوي. دریم به د

(c) ketabton.com: The Digital Library



مرکزي اسیا هیوادو تاجکستان، ترکمنستان او ازبکستان هیوادو مداخله بندوي او زموږ په ملاتړ به ئې مجبوروي. او څلورم او تر ټولو مهم زموږ مخالفت به نه کوي، بلکي کوښښ به کوي، چي خپل پخواني او اوسني همکاران او خواخوږي، چي هر ځای دي؛ زموږ سره همکارۍ ته حاضر کړي.

په دې وخت کي سور ږیري مولوي صاحب وپوښتل: له یوه کفره تښتو، بل ته ځان ور تسلیموو.

هغه پنډ مولوي صاحب په دې وخت کي وویل: مولوي صاحب، خبره اوس تر دې تېره ده. موږ یوائې هیڅ نه سو کولای، حتماً باید ملاتړي ولرو.

د اروزګان مولوي صاحب بیا وویل: مولوي صاحب خبره خو داسي ده، چي کفار خو ټول کفار دي، مګر موږ باید تر هغو چي خپل پر پښو درېږو، د عقل تقاضا او د شرعي جواز دا دئ، چي بنده تر خپله وسه پړ دئ، موږ تر هغه ځایه چي توانیږو، خپل زور کاروو، نور نو مجبور یو، تر هغو چي خپل زور پیدا کوو؛ د نورو له زوره کار واخلو.

له هغه وروسته مو له چینایانو سره اوږده مذاکرات او تجارتي او سیاسي تړونونه درلودل. په دې وخت کي هغه د لوګر ملا صاحب، چي د فوج او نظامي تشکیلات د له منځه وړلو خبره به ئې همېشه کول؛ په خبره کي را غورځېدی. ول: له روسانو سره اړیکي خو یوه معنا لري، چینایان څه معنا لري؟ له هند سره ئې دښمني ده، له روسانو سره ئې دښمني. هره بلا خوري او حتی بې کتابه دي.

د هغه له دلایلو ټولو حسول، چي مخالفت ئې تر ډېره ځایه د هند او روسیې په خاطر دئ.

په مقابل کي ئې پنډ هلمندي ملا، چي ټولو د جاسوس په سترګه ورته کتل، وویل: چین تر روسیې او نورو هیوادونو شرف لري. د پاکستان د دوست هیواد دوست دئ، زموږ ګاونډی دئ، د مشرکانو هندیانو دښمن دئ، د امریکا دښمن دئ، د کمونستانو دښمن دئ.

دا اخیري نومونه ئې دونه په شدت واخیستل، چي ټولو حس کړل، چي هم

(c) ketabton.com: The Digital Library



ئې د لوګري ملا جواب ووايه او هم ئې يو ډول اختاريه وړاندي کړه.

د پنډه ملا په اړه مشهوره وه، چي چا ته به ئې ماغزه واوښته، هغه په ځو ورځو کي به يا په چاپه کي ولاړی او يا به هم ډرون وويشتی. نور که نه وو په جنګ کي به شهيد او زخمي سو.

د ده او ورونډو ئې په اسلام اباد او کراچي کي لوی کاروبارونه هم روا نه وه او د مولانا فضل الرحمن د پارټۍ قوي غړي ول.

د اروزګان مولوي صاحب چي وليدل، چي خبره خرابېږي؛ موضوع ئې بدل کړل. ول: تر نورو به تېر سم، لنډه به وايم، چي درې ډوله ټړونونه مو کړي: د ابرو قدرتونو سره، د سيمي له هيوادونو سره او له ګاونډيانو سره.

د سور ږيري مولوي صاحب اعصاب ډېر خراب سول، په قهر ئې وويل: دا وطن د خدای په قهر اخته دئ. هغوی چي دننه دي، هم د نورو ګټي ورته مهمي دي او موږ هم د نورو د ګټو پر سر سره ښکر په ښکر يو.

په دې وخت کي يو کس راغلی او يوه کوچنۍ پرزه خط ئې سور ږيري مولوي صاحب ته ورکړی. هغه خط ووايه، وروسته ئې وويل: د لوی ملا صاحب امر دئ، چي د اروزګان مولوي صاحب مفتي صاحب (چي اوس ئې د قاضي القضات دنده په مخ وړل) او د لوی ملا صاحب زوی دئ، پاته سي؛ نور ټول رخصت ياست.

د ډېرو مخونه وځړېدل او معلومېدل، چي دا خبري د هغو پر مزاج، چي د نورو ډول ته غورځېدل؛ ښه و نه لګېدې، ځکه د ټولو مداخله يو ځل قطعه کړل سول. ټوله يو په بل پسي ووتل او هغه کسان، چي د اروزګان مولوي ئې په اړه شکمن وو؛ ټولو کوښښ کاوه، چي په يوه بهانه پاته سي. د ټولو منځ کي دا ګنګوسه وه، چي اميرالمؤمنين ولي نه راځي؟ خو سور ږيري مولوي صاحب ټول په دې قانع کړل، چي د فتنې وخت دئ، احتياط ښه دئ.

۞۞۞

(c) ketabton.com: The Digital Library



نوي آمر صاحب په جلا خونه کي یاد کسان ولیدل او د اروزگان مولوي صاحب ته ئې وویل، چي مشر مولوي صاحب (اشاره ئې سور ږیري مولوي صاحب ته ده) پر خپل ځای صحیح دئ، مگر ستاسي مجبوریتونه ما ته معلوم دي. دا د تامل زمانه ده، دوستیو ته باید له نورو زاویو وگورو. زه مولوي صاحب ته وروسته قناعت ورکوم، مگر ما ته له امریکا سره د تړون موضوع خلاصه ووایه. نور د اوس له پاره مهم نه دي.

د اروزگان مولوي صاحب وویل: د امریکا سره دوه ډوله تړونونه لرو او یو هم د تړون د عملي کولو ډول دئ.

په ښکاره تړون کي درې محوره دي:

- د ټولو بهرنیانو وتل له افغانستانه.
- د دوی خلاف له ډلو سره نه یوځای کېدل او نه د افغانستان له خاوري اجازه ورکول.
- او بین الافغاني مذاکراتو ته زمینه مساعدول.

د سور ږیري مولوي صاحب طاقت و نه سو، ول: د افغانانو او افغانستان په اړه هیڅ بحث نه سته او بل دا اول دوه محوره دریم محور خپله نقضوي. کله چي خبره د بین الافغاني مذاکراتو سوه، بیا نو تضمین زموږ څخه اخلي، خو له نوي حکومته به ئې اخلي.

په دې وخت کي نوي آمر صاحب مداخله وکړه، ول: بین الافغاني مذاکرات یوه بهانه ده، هغو تا ته رسمیت درکړی. د حکومت په توگه ئې منلی يې، موږ باید خوشحاله و اوسو.

د ارزوگان مولوي صاحب وویل: په دغه ځای کي زه هم شکمن یم، ځکه دا یو ډول تېر ایستل دي.

بیا ئې پسي زیاته کړه، چي دوهم تړون یواځي زموږ او دوی تر منځ پټ تړون دئ، چي بهر به نه را وځي. په هغه کي د پنځو هډو منل دي، د سفارت

(c) ketabton.com: The Digital Library



منل دي. واک به له کندهارۍ ډلي يعني زموږ او ستاسي سره وي. د شل زره ملکي امريکايانو پاته کېدل دي.

په دې وخت کي د سور ږيري مولوي صاحب مخ له قهره تک سور سو، خو څه ئې و نه ويل. ولاړ سو، ول: زه اوداسه ته ځم. دا تړونونه زما تر سويې لوړ دي. تاسي پوه سه، کار او مسؤليت مو.

د هغه له وتلو وروسته ټول چوپ ول. نوي آمر اروزګاني ملا صاحب ته وويل: دا تړونونه څنګه عملي کيږي؟

هغه ورته وويل: د عملي کېدو ډول داسي دئ، چي اووه لس ولايته به تسليمېږي، مذاکرات به پيلېږي. يو نوی کس به د موقتي ادارې مشر وي، يو کس به زموږ او يو به د جمهوريت لومړی مرستيال وي. موقته اداره به اته لس مياشتي دوام کوي، بيا به انتخابات کيږي او نوی حکومت به منځ ته راځي.

نوي آمر وويل، چي بس تړون پای ته رسوی او له ځان سره موسکی وو. روزګاني ملا صاحب وويل: ما ته يو شی حيرانوونکی دئ او ستا مسکا نور هم شکي کړم. که نوی حکومت راځي نو تړون او تضمين زموږ څخه ولي اخيستل کيږي؟

نوي آمر وويل: سر مه پسي ګرځوه، لوبه زموږ په ګټه ده.

خبري همدلته خلاصي سوې او هيئت د وروستی امضاء له پاره وخوځېدی. طوفان ته وروستی شدت ورکول سو او په لا شدت را وخوځېدی او په وړاندي ئې ولاړ خنډونه له نامعلوم لېري کرار کرار لېري کړل سول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د طوفان په وړاندې؛ تورانه هیله

د حکومت په وړاندې دوې ډلې طالبان او حزبیان ډېر سخت جنګېدل. د اور لمبې ورځ تر بلې زیاتېدلې. ټول پوهېدل، چې بهرنۍ جګړه ده، قربانیان ئې افغانان دي. مګر تر ټولو بد حالت لا دا وو، چې ټوله پوهېدل، چې پردۍ جګړه ده. مګر بیا هم هیڅوک نه درېدل او هره ورځ جګړې شدت اخیستی. د دې جګړې شا ته د ډېرو ګټې او د ډېرو سیاستونه وه.

بالاخره د سولې په نامه د رواني پروژې یو بل پړاو پیل سو او د ریشخند او خندا خبره خو هلته سوه، چې یو پخوانی مشر، چې د داخلي جنګو او د جنګېدونکو دواړو مخالفینو ډلو په وړاندې لسګونه کاله جنګېدلی کس د دې شوراء مشر سو. هغه وخت چې طالبان سقوطېدل، دې کس له بي بي سي سره په محاسبه کې ویلي وه، چې غت غت بمونه واچوئ. او په داخلي جګړو کې ئې د حزب له مشر سره په جګړه کې کابل ویرانه کړی وو.

دغه شوراء ته په لومړۍ میاشت کې پنځه سوه میلیونه ډالر پیسې ورکړل سوې. دا پیسې د دوی د یوه کال بودیجه وه. هغوی د دې دمخه چې پر سوله کار وکړي، د خپلو موټرونو پر زرې کولو او د کورونو اخیستلو مصرف سول او د سولې عالي شوراء تیاره لنګه غوا سوه.

سوله به د بې‌طرفه دریم‌ګړي له لوري کېده، خو دلته سوله هم د امریکا پروژه سوه، د حزب او طالبانو د پخلا کولو له پاره. مګر د سولې هیڅ اراده نه وه. کنې په پنځه سوه میلیونه دا جګړه خپله پای ته رسېدل، مګر دوی سوله نه غوښتل، ځکه مخالفین جنګېدل. د امریکا حکومت په وړاندیز، مګر حکومت په خپل چوکاټ کې د امریکا په پیسو شورا جوړه کړه او مشر ئې تر ټولو جنګي او مخالف کس سو. وروسته شورا په باندارخانه بدله سوه او په حکومت کې به

(c) ketabton.com: The Digital Library



چي څوک بې دندي سو، يا به ئې بل ځای پيدا او پناه نه درلودل، نو د سولي د عالي شوراء غړی به سو. معاش، سترخان، گارډان او زرې موټر به سو. نو هغو سوله ولي کړې وای؟ که ئې سوله کول، لنگه غوا ئې حلالول. بيا به دوی شيدې له کومه کولای؟

يوه ورځ د سولي عالي شوراء رئيس په خپل دفتر کي ډېر په قهر ناست وو، ول: پنځه سوه ميليونه ډالر مصرف سوي، پنځوس نفرو سوله نه ده کړې.

د دارالانشاء رئيس ئې را وغوښتی، ول: عاجل د دې يوه چاره وکړئ. خبره لويه سوه.

بله ورځ د امنيت لوی رئيس احضار کړل سو. د سولي عالي شوراء رئيس خپل تشويش څرگند کړی. د امنيت رئيس، چي د سولي عالي شوراء د ډلي کس وو، وخندل. ول: ته ری مه وهه، زما ئې چاره زده ده.

وروسته ئې خپل ياور ته وويل، چي پنځه سوه خاص کسان دي معلوم که. په هفته کي دي پنځوس راځي، مخونه دي پټوي او ځانونه دي د مخالفينو په توگه جوړوي او د سولي سره دي يوځای کيږي.

د سولي د عالي شورا تندی وغوړېدی. ول: دغسي تکړه سه.

بيا نو د حکومت دغه ډرامه شروع سوه. هره شپه په خبرونو کي دوه خبره حتمي راتلل: يو دا چي شاوخوا سل جنگيالي وژل سوي وه او نږدې سل تنه هره ورځ تسليمېدل. يوه ويښ خبريال يوه ورځ په ټولنيزو رسنيو کي ليکلي وه، چي د افغانستان د سولي عالي شورا سره د يوځای سوو او د حکومت له لوري د وژل سوو شمېر د افغانستان تر نفوس وا وښتی. سبا ته هم هغه ژورناليست له مخالفينو سره د اړيکو په تور بندي سو.

د سولي شورا همغسي په خپلو کنفرانسونو او چړچو اخته ول، تر څو بالاخره د شورا همهغه رئيس خپله هم د يوه ځانمرگي خوراک سو. د سولي عالي شورا دوهم رئيس ډېر نرم مزاجه وو. ډېر کش او کړپ ئې نه وو خوښ. په

(c) ketabton.com: The Digital Library



مسائلو پسي ئې ډېر سر نه گرځوی. بالاخره هغه له همهغه آرام طبیعتۍ سره د خدای په کار سو.

داسي معلومېدل، چي لا د پروژو په تقسیم اوقات کي د سولي وخت نه دئ راغلی.

۞۞۞

وختونه اوښتل او سوله ورکه وه. ورکه نه وه، وخت ئې نه وو. د چا چي لوبه په لاس کي وه، هغو نه غوښتل. بهانې ئې پیدا کول آسانه وه. زمین او زمان ئې په لاس کي وه. په واک کي چي وه، له هغو سره مستقیم وه او چي په وړاندي ئې وه، هغه ئې یو بل لاس په لاس کي وه. لوبه ئې خپله وه.

کله چي د نوي رئیس جمهور دوهم ځل انتخابات تر سره سول؛ ټول ومنل، چي حکومت د سولي خیال نه لري. او کله چي نوي رئیس جمهور پارلمان ته د جنگ له اعلان سره ولاړی، سولي بیخي سر وخوړی. او ټولو ویل، چي سر خوري، خو واک نه پرېږدي. کیسه بیخي بل مخ سوه.

د سولي د عالي شورا نوی رئیس او د سولي مالک چي د سولي پروژه په لاس ورغلې وه؛ د سولي پروسه ئې نوي حکومت او واکمني سوه او په دې وسیله چانس په لاس ورغلی، چي بهرنیان قانع کړي، چي سیاسي رقیب ئې له دوی سره نه دئ او خپل پلان لري. بهرنیانو هم په بشپړه توگه حکومت پرېښودی او کیسه یواځې د سولي شورا ته ودرېده؛ نو د حکومت دننه او د سولي په پروسه کي ټولي غاړي په نوې پروژه کي د خپلو گټو د خوندي کولو په خاطر د بهرنیانو او د سولي په نوم د رواني دسیسې ډول ته غورځېدل.

د سولي عالي شورا د رئیس په دفتر کي بانډار روان وو. د سولي د عالي شورا د پخواني او نوي بست په اړه بحثونه روان وه. د غوړهمالانو کمی نه وو. چا به نوی رئیس د نجات فرشته بلل او چا بیا د نوي افغانستان مؤسس او پخوانیو ملگرو خو ئې د اوغانیت خاتمه بلل. نوی رئیس به ډېر د جمهور رئیس په موډ

(c) ketabton.com: The Digital Library



کي وو.

د سولي د نوي عالي شورا څو تنه غړي، چي د ده خاص یاران ول؛ هغو ته ئې مخ کړی، ول: ستاسي تمرکز باید یواځي پر دې وي، چي له رئیس جمهور څخه لیکلی واک واخلی، چي اختیار ئې ستاسي دئ. نور زما سره بهرنیانو منلې، چي زه د موقتي اداري مشر یم.

د سولي وزارت معین ته ئې مخ کړی، ول: وزیر ته پام کوه. که څه هم هغه د پروژو سړی دئ، له اوسه څخه موږ ته تسلیم دئ، خو بیا هم باور نه سي په کېدلای. وزارت یواځي په تسهیلاتو کي مصروف کړئ.

بیا ئې خپل د دفتر ټیم ته وویل، چي د ټولنیزو رسنیو ټیم مو فعاله وساتئ. ټول تمرکز مو د پخواني ولسمشر او اوسني ولسمشر په رټلو او د حکومت په ناکامۍ وکړئ. حکومت نور خلاص دئ، یوې ټېلې ته اړتیا لري. دوی به ځي، مذاکرات به شروع کیږي او واک به ټول زما سره وي. حالات اساس دي، پام مو اوسه.

په دې وخت کي یوه پخواني قومندان وویل: دا خبري باید لږ په احتیاط وکړو. دا دېوالونه هم غوږونه لري.

د سولي رئیس وویل: خبره تر احتیاط تېره ده، هر څه فاینل سوي دي. لس ورځي وروسته ما نوی رئیس جمهور وغواړی.

طوفان همغسي په غرغنډو را روان وو، خو هیچا ئې تباهي نه لیدل. ټولو فکر کاوه، چي یواځنۍ پناه ئې همدا ده او دا تر ټولو لوی مرحمت دئ، چي دوی ته به ور په برخه کېږي. هیڅوک نه وه، چي د ټولو مخ ته ودرېږي؛ چیغي کړي او ټول پاڅوي. ټول په یوه قطار کي ودروي. دا د حکومت مسئله نه و، د مملکت مسئله وه او یوه ډله نه، بلکي لسگونه ډلي اخته وې او ټول ئې غافله کړي ول او موږ ئې کرار کرار د تباهۍ لور ته ټېله کولو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# طوفان ته په غېږ ورتلونکي

جگړه او سوله دواړه لنگي غواوي وې. د جگړې دوام او د سولي تلاښ رواني پيسې وې. که جگړه درېدل، هم پيسې بندېدې او که سول کېدل؛ هم. نو ځکه نه چا جگړه درول او نه هم چا سوله کول. ټول د خپلو گټو په لټه ول.

جگړهمارو حکومت نه مانه. دوی د حکومت په بدنه کې د سولي وزارت ورته جوړ کړی. دا عين د هغه چرسي خبره وه، چې د دريمي کارتې د پله پر سر يې له عامو خلکو سره جنگ وو. ول: موږ پوډريان خپل وزارت لرو. هدف ئې د مخدره توکو پر ضد وزارت وو. د سولي له وزارته سره عيني د پوډري کانه سوې وه. ټول هغه عناصر، چې له جگړې او د سولي د خبرو له تداومه اوبه کېدل جوړ سوی وو. ټوله ورځ او بوديجې يې په ولايتونو او مرکزي ځايونو کې په کنفرانسونو او ډوډيو تېرولې.

وزارت د سهامي شرکت په توگه د حکومت دننه پر ډلو او ټپلو وېشل سوی وو. وزير د رئيس جمهور د ټيم وو. يو معين د سولي د عالي شورا د رئيس وو. همداسي په ترتيب ټولي چوکۍ وېشل سوي وې او په همدې ترتيب پروژې د هر چا تر زوره پوري وېشل سوي وې. د سولي عالي شورا غړو ته زرې موټرونه اخيستل. يوه پروژه د سترخان ورکول بله پروژه د دفترونو نيول، بله پروژه د مذاکراتي ټيم ټولي اړتياوي هم همداسي پروژې وې.

د هماهنگۍ په نوم هيڅ نه وه. وزير معينانو او رئيسانو ټول کارونه د يوه او بل په بلک ميل کولو کول. ته زما دا کار وکړه، زه به ستا دا وکړم. ته زما کس مقرر کړه، زه به دا وکړم. ته دا قرارداد را امضاء کړه، زه به هغه در امضاء کړم. لنډه

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا چي د سولي وزارت د سولي د مخنيوي وزارت وو.

د سولي وزير د جمهور رئيس په دفتر کي ناست وو، د خپل دفتر گذارش ئې وړاندي کوی. جمهور رئيس سخت عصباني وو. وزير ته ئې دوه درې پوچ رد وويل. وروسته ئې وويل: ته هلته څه شي ته ناست يې؟ ستا له وزارته د جمهوري رياست پر ضد پوستونه کېږي.

وزير وويل: صيب، زما کسان نه دي. د سولي د عالي شورا کسان دي. زه غرض نه په لرم، چي بل جنجال جوړ نه کړي.

لومړي مرستيال په قهر وويل: ادرس ئې را پيدا کړئ، زه ئې دېرش مرمۍ ولم.

دا د هغه عادت وو، هر څوک ئې دېرش مرمۍ ويشتی، خو تر پايه چا و نه ليدی، چي يوه مرمۍ دي فاير کړي.

رئيس جمهور مخ ته پروت ښيښيي مېز په لغته وواهه او په چيغه ئې وويل: زه د مسلح قواوو سراعلی قومندان يم. افغانستان يعني زه. څنگه د حکومت يو کارمند جرئت کوي، په ما پسي ښکاره ليکل وکړي.

په دې وخت کي دوهم مرستيال په سړه سينه وويل: رئيس صاحب، حالات اوښتي. بهرنيان تر حکومت د سولي خبرو او شوراء ته ډېر ارزښت ورکوي. دا کوچنۍ خبره ده، موږ بايد لويي خبري کړو. وطن غرقېدو ته روان دئ.

رئيس جمهور لږ آرام سو، خو بيا ئې هم وويل: جمهوريت يعني جمهور رئيس، جمهور رئيس يعني جمهوريت.

خو ده د جمهور رئيس پر ځای خپل نوم استفاده کړی.

وروسته ئې دواړو مرستيالانو او نورو ټولو ته وويل: د دې سولي مخه بايد ونيسو، هر ډول چي کېږي. رسنۍ هم کنټرول کړئ او تبليغاتي ټيمونه مو سم ويښ کړئ.

وطن غرقېدی او د وطن لومړۍ درجه مسؤلين په تبليغاتو او تورنولو او د يوه او بل په راچپه کولو بوخت ول. طوفان په کرړو را روان وو او دوی لگيا ول،

(c) ketabton.com: The Digital Library



یو بل ئې چپه کول.

# له طوفان سره ټوکي

دا دوهم ځل وو، د سولې مذاکراتي ټیم ریشخندېدی. لومړی ځل چې اعلان سو، څلور سوه تنه ول. بیا ریشخند جوړ وو، چې په قطر کي د سولې واده دئ. مګر دوهم ځل هغه لیست، چې د امریکا سفارت سپارلی وو، اعلان سو. هر ځای ریشخند شروع وو، چې د ګوندونو او ډلو نمایندهګان او ماشومان ئې لېږلي دي؛ جمهوریت په ګټې.

د لیست له اعلان سره غوغا جوړه وه. پارلمان پسي څو ځله مذاکراتي ټیم وغوښتی، خو نه د سولې وزارت او نه هم د سولې عالي شورا په دې توانېدل، چې دوی پر یوه وخت او یوه ځای راټول کړي.

مذاکراتي ټیم تر پایه، حتی یواځي یو ځل هم و نه توانېدل، چې خپلمنځي ناسته وکړي او یوه واحده لاره او واحده اجنډا جوړه کړي. نه هیڅ کله د مملکت له لوستو سره کښېنستل، نه له سیاستمدارانو، نه له تاجرانو او نه هم له ځوانانو او ښځو سره.

مذاکراتي ټیم، چې کله د لومړي ځل له پاره دوحې ته ولاړی، د معرفۍ په ورځ د شمال د امپراطور زوی ځان معرفي کړی. د ځان پر ځای ئې پلار معرفي کاوه. یو بل متعصب نږدې وو، چې له ډېره تعصبه کلمه لا بدله کړي او څو ځله ئې په خبرو کي بې مورده خراسان خراسان یاد کړ.

د مارشال زوی چې په خبرو شروع وکړل، ستونی ئې وچ سو، اواز ئې بند سو.

د لومړۍ ناستي وروسته د امریکا د مذاکراتي ټیم یوه غړي یوه لوړپوړي

(c) ketabton.com: The Digital Library



چارواکي ته په ریشخند ویل، چي مونږ پر خپله خبره ولاړ یو. لاس ته‌رلي مو درته راوستلي دي؛ چي تاسي وایاست، هغه به کېږي.

اصلي انډوخر هغه وخت جوړ وو، چي د شپې د مذاکراتي ټیم غړي پټ پټ د طالبانو د مشرانو اطاقونو ته تلل او له هغوی څخه ئې په را روان حکومت کي خپل ځای غوښتی.

د اروزګاني مولوي صاحب په اطاق کي له یوه ساعت راهیسي د حزب دواړه نماینده‌ګان ناست ول. د حزب د مشر نیکي هیلي او پېرزویني ئې وړاندي کولې. او یوه خبره ئې پرله پسې یادول، چي امریکا خو مو په دواړو پر ګونډو کړل. نو که اول ځای نه وي، دوهم خو به حتماً زمونږ وي.

د مارشال زوی د ازبک مولوي په ملګرتیا د لوی ملا صاحب د زوی او د شمال د خط د قومندان په حضور کي ناست ول او د مارشال زوی د پلار توبه‌نامه بیانول، چي پلار مي د لیلې دښتي او قلعې جنګي په خاطر وبخښئ. د شمال قومندان نه ورته ګیرېدی. خو د لوی ملا صاحب زوی ورته ویل: مونږ به څه نه ورته وایو، نور دي دی څه نه غواړي.

د بهرنیو او کورنیو چارو پخواني وزیر د طالبانو د بدخشان د والي د شمال د جنګ مسؤل سره یوځای د مفتي، چي اوس د مذاکراتو مشر وو؛ په اطاق کي ناست وه او د تاجیکانو د سر آمان او د برخي غوښتنه ئې کول.

هزاره والي صاحبه پر ټولو ګرځېدل او هزاره ګانو خیر ئې غوښتی. لنډه دا چي د افغانستان د دولت مذاکراتي ټیم د افغانستان نه، بلکي د خپلو ډلو، ګروپونو او شخصي ګټو له پاره په لومړنیو څو ورځو کي هر څه وبایلل. په دغه بایللو کي د واک شریکان یا د واک اخیستونکي نه ول شریک، بلکي یو باتور ملت یو ځل بیا د څو قصابانو تر منځ له هیواده لیري تقسیمېدی او تسلیمېدی. کاشکي دغه تقسیم او تسلیم خپله همدې افغانانو کولای. هر څه جنګ، سوله، تقسیم، تهدید، جوړول، ورانول هر څه د بل په لاس کي وه. هر څوک پوه وه،

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو د هیڅچا آه نه کوی. ځکه د خپلو بایللو ډار اخیستي وه، نه د وطن او ملت د بایللو. طوفان را روان نه وو، بلکي په ډېره تېزه منډه رانږدې کېدی.

# د طوفان بل وارث

دوستی او دښمنی کله رنګ بدلوي. ډېره مشکله ده چي څوک دي يې درک کړي. په سیاست کي خو بیخي ناممکنه ده. یوه پخواني مجاهده ډله او کورنۍ، چي پخوا د امریکا محسنان ول، اوس په نړۍوالو تورو لیستونو کي ول او د طالبانو یو خاص ګروپ وو؛ مګر ځان ته ئې سیاست او بېله لاره هم درلودل. ډېر ئې لوستي هم ول، مګر دوی د امریکا پر لیست سربېره پر دوی میلیونونه ډالر جایزه اعلان سوې وه که ئې څوک ونیسي، یا ئې امریکا ته ور وښیي. دوی له بهرنیانو سره د خپلویو په خاطر ډېر مرموز او بین المللي هم ول او تر ډېره پېچلي عملیات او کیسې هم دوی رهبري کولې. د دوحې په مذاکراتو کي د دوی خاص ګروپ فعاله وو، مګر د اروزګاني ملا سره ئې ډېره ځکه نه وه جوړه، چي د دوی د ډېرو کیسو مخه ئې نیولې وه او حتی څو ځله ئې برخورد هم سره راغلی وو.

په روانه جګړه کي تر ټولو خونړۍ او سخترینه حملې هم دوی کړي وې، مګر د دې ټولو سره ډېر محتاط او آرام مخ ته تلل. دوی هر څه د خپلو عربو ملاتړو په مشوره او خبره کول.

د دوی مشري د هغو درو تنو تر منځ وه، چي يو ئې د پخواني مجاهد ورور وو او په هر ځای کي به ګرم ګرم او شک کېدی. دوهم کس ئې د پخواني مجاهد زوی وو، چي اصلي کیسه ئې څرخول خو د ټولو مخ ته ئې یو بل خوله‌ور او هوښیار اولسي سړی له خپل کشري شاعر او مجذوبه ورسره را مخ ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړی وو، چي د غرو او رغو به ګڼه وو او په شي ئې هم سر نه خلاصېدی.

یوه ورځ په خپل پټنځای کي په میرام شاه کي ناست ول، چي د مجاهد ورور توپک ځان ته تکیه کړی او وئې ویل: اصلي حملې او مبارزه موږ وکړل او اوس کیسه ټوله دا نور څرخوي. ولاکه ئې راڅخه روزي سي.

کشري ئې وویل، چي دغه اروزګاني ته مو یو ځانمرګی ور سم کړی وای. بیخي مي بد ایسي.

مشر ورور ئې پر وخندل، ول: خو یو واسکټ به درکړم، پسي ور سم سه.

ټولو وخندل. په دې وخت کي ئې هغه هوښیار اولسي کس وویل: سیاست به ورسره کوو او خپل کار به مخ ته بیایو. کابل هم هسي زموږ له خوا محاصره دئ. د کابل دروازې، چي مو په لاس کي وي، نور به زیاتي خپل کار کوو.

د مجاهد مشر زوی وویل: ما ته د خاله زامنو ویلي، چي خیر مو په همدې کي دئ، چي په خاموشۍ، مګر په هوښیارۍ خپل کار وکړو. دوی یو هم په تور لیست کي نه دي. موږ لس یو، دوی په عربو نه دي تورن. موږ یو. وخت به تېروو، ځان به ساتو. یواځي دونه ښه وکړئ، چي هوښیار خلک ئې حاشیې ته کړئ. اروزګانی مولوي دوی مشرتوب ته سموي، مګر موږ خو اول باید خپل یو کس مخ ته کړو. که و نه سوه، بیا په دوی کي پر یوه ورک او کمزوري کس لاس کښېږدو، چي لاس مو پر بر وي.

هغه هوښیار اولسي ئې وویل: زه خو ګمان کوم، چي موږ باید یو کس ډېر مهم کړو. د مجاهد مشر زوی وویل: نو خو دا دئ، کاکا سته. همدا به مطرح کړو.

کاکا ئې چالاکه وو، مګر ټول عمر ئې د چړې له ځایه ځان کاته. پوهېدی، چي تیار لس میلیونه پر اعلان دي. که مشر سو، هم به شل میلیونه سي، هم به خطر ډېر سي. بهانه ئې وکړل، ول: نه، مشر وراره مشر دئ. هم مي د ورور مینه په ماتیږي، هم ځوان دئ.

بس ټولو بسم الله کړل او د شیخ په نوم ئې په عربي دود مطرح کړی او

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټولو ور مبارک کړل.

طوفان ته ګړی په ګړی شيبې نږدې کېدې او هر چا په پوره بې ايمانۍ ملا تړلې ول، چې د پردو ټولي دسيسې کامیابه کړي.

# د طوفان اصلي سبب

کله چې شيان ورستيږي، په مالګه ئې وهي. مګر کلکه بدبختي نو هلته ده چې مالګه ورسته سي. پوليس او عسکر د ټولني د بدو کړنو د مخنيوي مسؤلين دي، مګر کله چې هغوی خپله بديو ته ملا وتړي؛ هغه ټولنه تباه او برباد ده.

وروستۍ پيړۍ بلخصوص دوهمه نيمايي د افغانانو وطن ټولو په جګړو کي وساته او دغه جګړئيزو حالاتو اخلاقيات ټوله له منځه يووړه. هر څه د بدۍ په رنګ و رنګول سول.

پنځوس کاله چې يو نسل په جنګ کي وساتل سي، خپله اتمات هر ډول اخلاق په کښي مري. دلته جګړه روانه وه او جګړې انسانان خوړل. هغوی چې مخکنی نسل وو، ټول يا مړه سول او يا هم فراره. دلته پاته جګړې سرسامه او د جنګ په کرښو کي جنګېدونکي يواځي جنګيان پاته سول. دغه جنګيان وروسته په عسکرو او پوليسو کي ځای پر ځای او د خپل زاړه عادت له مخي ئې اخلاقياتو ته شا کړل او هر ډول فجايع ئې د قانون او چوکاټ تر عنوان لاندي تر سره کړل.

۞۞۞

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډګروال زمرک اصلاً په جهاد کي وو. د نوي حکومت له راتګ سره ئې په ډېري چالاکۍ ځان رسماً ډګروال کړی. د څو پوستو قومنداني ئې وکړل او یو څه وخت وروسته ئې خپل کور هم پیدا کړی، خپل موټر هم. تازه ئې په ذهن کي دا خبره را شنه سوې وه، چي باید رتبه هم واخلي او د یوې حوزې آمر سي. نو درآمد به ئې هم ښه سي او کار به ئې نور هم سم سي.

خو دی خبر وو، چي دې ته ډېري پیسې په کار وې، ځکه دی پوهېدی، چي هري رتبې او هري دندي جلا جلا نرخ درلودی، نو ئې له خپل یوه پخواني ملګري سره، چي د ټولي محلې څهار عیب شرعي او د ده د جهاد د وختو یار وو؛ خبره شریکه کړه، چي پیسې څنګه پیدا کړو.

هغه ورته وویل، چي ټولي دي څومره په کار دي؟

ده ول: اندازه ئې نه راته معلومېږي.

بیا ئې تلیفون را وکښی، یو چا ته ئې زنګ وواهه. تلیفون لوډسپېکر وو، له هغې خوا یو چا وویل: د وزیر صاحب داخله سکرتریت، مهرباني وکړئ.

ده ورته وویل: ډګروال زمرک یم. اموک د لسمي حوزې آمر په اړه مي پوښتنه کول.

هغه ورته وویل: تا ته خو وضعیت معلوم دئ، په ارګ کي هم امضاؤ ته اړتیا سته او بیا لسمه حوزه خو تر ټولو ګرانه حوزه ده. د آمریت بست ئې تورن جنرال دئ. ستا رتبه ډګروال ده. اویا زره د جنرالۍ دي، پنځوس زره د تورن جنرالۍ او یو لک د حوزې. خو د حوزې خالص درآمد په میاشت کي تر لس لکه زیات دئ.

زمرک ورته وویل: نو دلته خو یواځي د اوسېدلو کورونه دي، نو دا بیا ولي دونه لوړ دئ؟

له هغې خوا ورته وویل سول: ګوره، ته د خاله زوی یې. کنې ولاکه په یو نیم لک هم څوک په نوځي. دلته ګوره د ټولو لوړپوړو چارواکو او سیاسیونو

(c) ketabton.com: The Digital Library



مهمانخانې دي. د هغو ټولو پیسې درته راځي. ټوله د شپې کلپونه دلې دي، تر ټولو مشهوري ساقي خانې دلته دي. یواځې له تعمیراتو څخه تر پنځه لس لکه ټولولای سې. تر څلورم منزل چي اوښتل، منزل په یو لک ډالر دئ.

یواځې دا اوس څلور شپېته لوی ساختمانونه شروع دي. نور څه شي غواړې؟

زمرک وویل، چي ته دونه ځواني وکړه، دا بست تر یو وخته را وساته.

هغه وویل: ته بېغمه اوسه، پیسې دي برابري کړه.

زمرک تلیفون کښېښوی. ملګري ئې وویل: خوازکه، څنګه کوو؟ ګوره دا کوچنۍ حوزه نه ده. ته دي هم شبکه دلته ښه فعاله ساتلای سې. راځه چي چاره ئې وکړو.

خوازک یو بل ناست کس ته ئې اشاره وکړه، ول: دی د ښیښې او پوډرو د ټول ښار ساقي دئ. د ښار ګرده نقشه او کیسې ور معلومې دي.

هغه وخندل، ول: دوه لکه شل زره ډالر څه شي دي، په دې ښار کي. دوه سوه شل لکه لا پیدا کیږي. یو لږ چالاکي غواړي. پولیسي چاره ئې پر تاسي، نوره نقشه زما سره سته. خو پیسې په نیمه دي.

زمرک ول: څه چم کوو؟

وروسته هغه کس وخندل، ول: د دې خپل منزل مالک دي په سلهاوو میلیونه لري. زوی به ئې یو څو ورځې مېلمه کړو، پیسې دوی خپله راوړي.

له دې سره ټولو وخندل.

پلان وتړل سو، چي کس به د زمرک په لنجر کي راپورته کوي. پغمان ته به ئې د خوازک د انډیوال ځای ته رسوي. بیا به له هراته د هلک پلار ته زنګ وهو.

هلک اختتاف سو او بالاخره د هلک له پلاره څلور لکه ډالر وغوښتل سول. د شپې ناوخته زمرک ته ئې یوه ملګري زنګ وواهه. په شفر ئې پوه کړی، چي په ښکار پسي مو امنیت در روان دئ، څرک ئې ایستلی دئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زمرک عاجل په مخالفینو کي خپل یار ته، چي په وردګو کي قومندان وو؛ زنګ وواهه او ورته وئې ویل، چي یو امانت در استوم، یو څه وخت ئې را وساته. هغه هم د ده په خبر یو څهار عیب شرعي وو، ول: وو، خود به ئې ساتم. زما برخه خو به نو بیا وي.

بالاخره په پنځوس زره ډالر ئې د ساتني زیمه واخیستل.

خوازک او ملګري ئې د هلک په انتقال کي له هغه دوې ګوتي پرې کړې. ویدیو او ګوتي ئې په یوه پاکټ کي د هلک پلار ته واستولې. بالاخره له ډېرو چنو وروسته د هلک پلار په درې لکه ډالره قانع سو. پیسې د یوې صرافۍ له لاري په سپینه ورځ انتقال سوې. په سبا ئې د هلک مړی د هلک پلار ته تسلیم کړی. هلک د ډېرو وینو بهېدو له امله شهید سوی وو.

پیسې څلور برخي سوې. یو لک او لس زره زمرک واخیستې، پنځوس زره ئې د مخالفینو په نوم قومندان واخیستې. یو لک او څلوېښت زره خوازک او ملګري ئې واخیستې.

مګر زمرک لا یو لک او لس زره نورو ته اړتیا درلودل. خپل خاص درې تنه ئې د ځان سره کښېنول او هغوی ئې پوه کړه، چي سرای شهزاده ته به ځي. یو داسي کس به پیدا کوي، چي هره ورځ پیسې وړي او راوړي.

په سبا نه بله ورځ ئې یوه ملګري وویل، چي د شمالي یو پروژې والا هر سه شنبه له خپل زوی سره یو ځای له باګرامه د پروژو پیسې انتقالوي او د کارېز میر پر لار کابل ته راځي. په کارېز میر کي لاره ورته نیولای سو. هر وخت په لکو ورسره وي. داغه مو وار دئ.

زمرک وویل: مار به لا په خپل لاس نه وژنې.

بیا ئې د مخالفینو قومندان ته زنګ وواهه او پلان ئې وتړی، چي یاد کس او موټر به د کارېز میر له کورو، چي د پغمان پر خوا ور وا وښتی؛ د مخالفینو په کمین کي خیژي. پروژو والا دي، مخالفین به ئې له ځان سره وړي او پیسې به

(c) ketabton.com: The Digital Library



ئې دوی سره نیمی کوي. خو دواړه به پر یو وخت نه راځي. دوی به کسان اخلي، حرکت به کوي او نیمي پیسې او موټر به پرېږدي.

په دوشنبه ماښام زمرک له خپلو عسکرو سره پلان وتړی، چي د مخالفینو گروپ هم باید نور ختم سي، ځکه په ډېرو کیسو خبر دي.

سبا زمرک او ډله ئې د موټر درولو سره سم پر مخالفینو راغلل. ټول ټک او ماشه ودرېدل. زمرک گمان نه کاوه، چي مخالفین دي دومره زیات راغلي وي. زمرک دفعتاً یو تصمیم ونیوی. ور تېر سو. اول ئې پلار او زوی په یوه بله تفنچه وویشتل او هغوی ځای پر ځای شهیدان سول. قومندان ورته وویل: دا دي ولي وویشتل؟ په دې ما ډېره غټه سودا کول.

ده ورته وویل، چي زه ئې ولیدلم، سبا مي افشاء کوي.

بیا هم هلته پیسې سره ووېشل سوې. زمرک ته تر اړتیا وړ څو چنده پیسې په لاس ورغلې. سبا ته راډیوگانو او تلوېزونو کي دوه خبره ډېر کښته او پورته کېده. د کابل امنیت خراب دئ، نو ځکه د حوزو آمرین تغیر سول او زمرک د تورن‌جنرالۍ په بست کي د لسمي حوزې د آمر په توگه رسماً اعلان سو.

زمرک په مېلو کي وو. ونډه ورته را روانه وه. اوس ئې خپل دوه- درې بلاکه شروع وه او په دوو- درو بلاکو کي شریک وو. خوازک ئې خپل ټیم په لسمه حوزه کي فعاله ساتلی وو او زمرک ته ئې ونډه ورکول او د خوازک د یار ساقیتوب اوس پر کابل سربېره نورو ولایتو ته هم غځېدلی وو.

نور د زمرک په حوزه سر نه سره ورتلی او غوښتل ئې معین ارشد سي. او دا چوکۍ نو بیا د ټولو چوکیو د څرخولو تر ټولو اساسي ځای وو او دلته هر ډول سوداوي کېدلای سوې.

ده په دې برخه کي د دولت د رهبرۍ ملاتړ ته اړتیا درلودل. یوه ورځ غیبي د ماښام د اذانو وروسته د دولت د رهبرۍ یو تن، چي د نیمي رهبرۍ غټه غوښنه ونډه ئې درلودل؛ زنگ ورته وواهه. ول: زمرک خانه، زما او ستا یاري خو د جهاد د وختو ده. پر چهار راهي عبدالحق، چي په راسته لاس کي د مارکېټ په کونج

(c) ketabton.com: The Digital Library



کي لاندي د مشروباتو دوکان دئ، هر څه ئې زموږ او ستاسي دي. شیان مي نه دي په کار؛ امنیت زما په خاطر چاپه پر وهلې، اسناد ئې پیدا کړي، دا باید یو ډول له منځه یووړل سي.

زمرک چورت واخیستی، چي څه وکړي. خپل پخواني مخالف قوماندان وریاد سو. هغه ته ئې تلیفون وکړی، ول: ما اورېدلي دي، چي خرڅولو ته ځانمرګي لرې.

هغه وخندل، ول: په حکومت کي چي زما او په امارت کي چي ستا غوندي حرامیان وي، زه وام جنت او دوږخ به لا خرڅ کړو.

پر دې دواړو وخندل. هغه ورته وویل: دا هر شی خپل قیمت لري. موټر بم یو قیمت لري، ځانمرګی بل.

ده ئې خبره ور لنډه کړه، ول: په قیمتونو پسي مه ګرځئ، پر چهار راهي عبدالحق د امنیت ډېر موټرونه ولاړ دي، همدا اوس مي موټر بم په کار دئ. حوزه زما ده، ور وا ئېستوه.

هغه وویل: ظالمه، داسي فرمایش کوې، لکه هوټل چي وي. دا به مشکله وي.

وروسته هغه شل دقیقې وخت وغوښتی. شل دقیقې وروسته ئې پنځه لکه وویلې. ده بې له چون چرا ورسره ومنلې، ځکه د ارشد معینیت قیمت تر لس لکه هم لوړ وو.

نیم ساعت وروسته د تلویزون پر پرده عاجل خبر خپرېدی، چي پر چهار راهي عبدالخالق د موټر بم حمله سوې ده.

دوې ورځي وروسته هم هغه رهبري زمرک ته د ارشد معین مکتوب او د ستري جنرالۍ رتبه کور ته ور واستول.

۞۞۞

(c) ketabton.com: The Digital Library



نظیفه په زرغونه انا لېسه کي اول نمره وه. پلار به ئې هر سهار مکتب ته بېول او غرمه به ئې خپله بیرته را وستل او هر وخت به ئې ورته ویل: زویه، پښتانه متل کوي، چي سر او مال تر وطن جار او وطن تر ناموس.

وختونه یو په بل پسي اوښتل او نظیفه د کانکور په امتحان کي په لوړو نمرو د کندهار طب ته کامیابه سوه. پلار او کورنۍ ئې سخت ورته خوشحاله وه.

بالاخره د نظیفې درس شروع سو. په همهغه حجاب کي تلله او راتلله. د دوی په صنف کي د دې له مصطفی سره سیالي وه. هغه له افغان ترک لېسې څخه فارغ سوی وو. خو دې هیڅ کله نه سوای کولای، چي په هیڅ مضمون کي تر هغه لوړي نمرې واخلي.

اول سمستر تېر سو، په دوهم سمستر کي هم سیالي روانه وه، مګر په دریم سمستر کي نظیفې له اول نمره‌ګۍ لاس پرېولی او پخه مصطفی ته ورپاته سوه. دوی به لا په څلورم سمستر کي وه، چي یوه ورځ د دوی کور ته مرکه راغله. په لومړي کي ئې ځان نه ښووی، خو وروسته ئې چي دوه درې واره راغله؛ ځان ئې وښوی. د نظیفې مور او پلار له دې سره تر مشورې وروسته بالاخره شیریني ورکړه او نظیفه او مصطفی سره کوژده سول.

د دوی ژوند اوس له خوښیو ډک وو. همدا د دوی دنیا وه. دواړي کورنۍ او دواړه ځوانان هم ډېر خوشحاله ول، مګر یو ناڅاپه نظر سول. د دوی د کور په لار کي د یوې حوزې پوسته وه او هر څوک ئې په عذابول. چي لږ به ئې څوک خواپاکی او سنګین ولیدی، په یوه او بل نوم به ئې بې‌عزته کاوه. د دوی له نامزادۍ وروسته به دوی دواړه په یوه موټر کي پوهنتون ته تلل. یوه ورځ چي دوی پوهنتون ته پر لار وه، د حوزې آمر خپله پر تلاشۍ ولاړ وو. دوی ته چي ئې وکتل، په شا ته سیټ کي ئې د نظیفې سترګو ته وکتل. په قهر ئې وویل، چي بغل ته ئې کړئ.

دوی چي موټر بغل ته کړ، په قهر راغلئ او وئې ویل: په سپینه ورځ مو موردګوي شروع کړې ده. چیري سره روان یاست؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



مصطفی ورته وویل: خبري سمي کوه، دا مېرمن راسره ده. د دې خپلي دریشي احترام دي کوه.

له دې سره قوموندان پر مخ په چپلاخه وواهه، څو پوچ ښکنځل ئې وکړل. ول: تذکرې مو راکړئ.

دوی چي تذکرې ورکړې، هغه بیرته راغلی، نظیفې ته ئې ویل: مخ دي لڅ کړه.

مطصفی ږغ پر وکړی، ول: قوموندان صاحب، که ښځینه عسکري لرې، را ئې وله. د پردۍ ښځي مخ ته څنګه ګورې؟

له دې سره قوموندان د شا له خوا مصطفی پر سر په تفنچه وواهه. د مصطفی سر ویني سو او ویني را شور سوې. نظیفې چغاري کړې او مخ ئې لوڅ کړی. قوموندان تذکرې ور وغورځولې، ول: ځئ.

دوی روان سول او ولاړل، خو قوموندان خپل یوه عسکر ته وویل، چي د دې نجلۍ کور را پیدا کړه. هغه ویل: سمه ده.

څو ورځي وروسته ئې قوموندان ته وویل، چي پلار ئې عادي دوکاندار دئ. دا هلک او نجلۍ نامزادان دي، دواړه په پوهنتون کي همصنفیان دي.

په سبا قوموندان په یوه بهانه د نجلۍ د پلار دوکان ته ورغلی. هغه ته ئې ناحقه ناحقه اخطارونه ورکړل. بیا ئې څو ورځي وروسته مرکه ور واستول. هغو ورته وویل، چي رشخند وهی؟ قوموندان خو دوه ودونه لري او بل زموږ د لور نکاح سوې ده.

بله ورځ قوموندان خپل یو عسکر ورته پوه کړی، چي پر تلاشي چي تېرېدی، و ئې ولئ. راپور ئې ولیکئ، چي پر تلاشي و نه درېدی. عسکر ئې همداسي وکړل او ځوان جهان مصطفی ئې په شهادت ورسوی او نظیفه په ځوانه ځوانۍ کونډه سوه.

قوموندان په ډېري چالاکۍ خپل عسکر یو پسه او پیسې او چاړه د مصطفی

(c) ketabton.com: The Digital Library



او نظيفې پلار ته ور وړل، چي دا په خطايي کي ويشتل سوی دئ. مګر د مصطفي پلار هيڅ ورسره وه هم نه ليدل.

څو مياشتي وروسته قومندان بيا هم په چمبازۍ نظيفې ته مرکه ور واستول، مګر دا ځل تر پخوا بتره جواب سول او ټول پوه وه، چي دوی قصداً مصطفی وژلی، چي ځان ته لاره پاکه کړي.

نظيفه ماته سوه. نه په درس پوهېدل او نه په ځان. هيڅ لاره نه وه ور معلومه. يوه ورځ د دوی د صنف صديق الله، چي ملا وشمه سړی وو؛ دې ته تر غوږ ور تېره کړه، چي يواځنۍ لاره انتقام ده. بالاخره نظيفه ئې کرار کرار دې ته اماده کړه، چي انتقام واخلي. څه وخت وروسته نظيفې له ځان سره پلان جوړ کړی، چي قومندان بايد له منځه يوسي، ځکه هر سهار چي به دا راتله، هغه به قصداً راوتلی وو او دا به ئې په عذابول.

يو ورځ ئې د قومندان نمبر پيدا کړی او د يوې بلي نجلۍ په نوم ئې يارانه ورسره واچول. له بله اړخه ئې صديق الله ته وويل، چي زما يو د ځانمرګي واسکټ په کار دئ. هغه ويل، مشکل نه سته. بالاخره نظيفې قومندان ډېر مست کړی او ورته وئې ويل، چي په پنج‌شنبه به د لووالې د ډبرو پر پله سره وينو، مګر ته به يواځي راځې.

نظيفې له صديق الله څخه د واسکټ د چاودلو ټرينينګ واخيستی او څو ورځي وروسته پر قومندان د ځانمرګي بريد خبرونه خپاره سول. په خبرونو کي دا خبره کېده، چي ځانمرګی يوې ځواني ښځي کړی دئ.

۞۞۞

اوبو اخيستی ځګ ته هم لاس اچوي. حکومت پرله‌پسې د پوليسو او عسکرو څخه ستړی سو، بالاخره د سيمو ځايي توپکيان ئې د محلي پوليسو، اربکيانو او سونګريانو په نوم فعاله کړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



غله او بدو خلک مخکي خطرناک ول او کله چي بیا د حکومت پیسې او توپکونه په لاس ورغلل؛ ښاماران سول. چي په کلي کي به ئې څوک تر نظر بد سو، سبا به نه وو. یا به بې عزته وو.

باچا د اولسوالۍ تر ټولو بدنام او نشه‌یي سړی وو. په سیمه کي د اربکیانو قومندان وټاکل سو. هغه له هغې ورځې چي په شاوخوا سیمو کي چي څونه لوچکان ول، راټول کړل او خپل گارډان ئې کړل. د اولسوالۍ د بازار ټول د سړک غاړي ئې گاډۍوانانو ته په کرایه ورکړي وې او یو څه وخت وروسته ښار ته ولاړی، د حوزې آمر سو. په سرحد را اوښتونکو ټولو موټرو څخه ئې خپل‌سري مالیات اخیستل او د ښار په ټولو چوک او ناحیو ئې خپل خلک په حوزو کي ځای پر ځای کړي ول او له ښاره ئې ججه ټولول. یو څه وخت وروسته بیرته اطرافو ته تبدیل سو او د سیمي قومندان سو. بیا به ئې د خلکو زامن راتښتول، د نجونو کالي به ئې په واغوستل؛ رخسول به ئې.

ټول مملکت د خدای په فضل چلېدی او داسي معلومېدل، لکه قصداً چي دا خلک مامور سوي وي، چي حکومت له دولت او ملته وشکوي او بدنام یې کړي. هغه بې ناموسۍ او ظلمونه وسول، چي د بشر په تاریخ کي نه وه سوي.

یو هیواد د تیارو کومو ته خپلو بچو روان کړی وو او نښېدل. طوفان همهغسي په غرغنډو روان وو. تر ټولو لوی سبب ئې همدا د خلکو د ناموس د ساتني په نوم د هیواد او ملت د ناموس لوټوونکي ول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# طوفان ته خوشبينه

له نږدې دوو لسيزو څخه د چين زړه غوښتل، چې افغانستان ته ئې لاس ور خلاص وي، مګر دغه كيسې ډېرې اوږدې تاريخي ريښې لرلې. له هغه وخته چې د ابرېښم لاره پر افغانستان سپره وه او د دوی له خاوري را تېرېدونكي او ور تېرېدونكي ټولي تجارتي لاري پر دې خوا سپرې وې. مګر وروسته له هغه چې امريكا په سيمه كي فعاله سوه او هند ئې ملګرتيا كول، د چين ډار زيات سو او خطر ئې ډېر نږدې وليدی. له هند سره زړه دښمني او په وړاندې ئې د امريكا دوی ته متوجه خطر دوی حساس او مجبور كړل، چې له يوې خوا په افغانستان كي مقاومت وكړي او له بله اړخه په سيمه كي هم د ځان ملګري زيات كړي، نو تر ټولو لومړی ئې له روسانو سره لاره يوه كړه او بيا ئې له ايرانه سره؛ چې په سيمه كي د امريكا سخت دښمن دئ. د چين په وساطت يارانه واچول او كله چې تركيه هم له امريكا سره لږ چپه سوله، هغوی سره ئې هم كله ناكله چاى شوپولې.

اول ئې په افغانستان كي د درو لويو پروژو پلان شروع كړی. د شبرغان د ګازو بيا تصفيه او ايستل، د ميسو كان ايستل او كارول او پر بولدك باندي د يوه لوی تجارتي مركز ايجادول ئې درې اساسي پروژې ډيزاين كړې. حكومت تر

(c) ketabton.com: The Digital Library



یوه ځایه مخ ته ورسره ولاړې، مگر امریکا دونه په اسانۍ چیري خپل حریف ته لاره ور خلاصول، هر څه ودرېدل.

چین په دې پوهېدی، چي په افغانستان کي ئې هم گټي دي او هم خطرونه ورته متوجه دي. تر ټولو زیات یې له ایغوري مسلمانانو خطر محسوساوه، چي یو څوک ورته وپاروي. نو ځکه ئې د هغوی سخت کنټرول، ځورول، قتل عام او له دینه اړول شروع کړل. مخالفینو ئې دغه موضوع ډېره کلکه مطبوعاتي کړه او جگړه ئې کرار کرار تېزه سوه.

چین چي په افغانستان کي مایوسه سو، لومړی ئې له پاکستان سره پر گوادر بندر، چي اصلاً د افغانستان خاوره ده، د اووه څلوېښت ملیارده ډالرو سرمایه‌گذاري اعلان کړه او بیا له پاکستانیانو سره د چینایانو ودونه شروع سول. په دریم قدم کي د امریکا په ملاتړ د افغان حکومت په وړاندي له ټولو لورو سره؛ که دښمنان وه او که مخالفین؛ ملاقاتونه شروع سول. کابل پوهنتون او په سیمه کي د نورو پوهنتونو له لوري د چینایي زده‌کړي او د چینایانو له خوا د سیمي د ژبو او فرهنگونو د زده‌کړي سلسله شروع سوه.

په دې وخت کي جالبه پېښه دا وه، چي افغانستان د قربانۍ پسه وو. لا حلال سوی نه وو، خو هر چا ئې خپلي برخي کبابولو ته سیخونه او چړې تېره کولې. هر چا پلان درلودی، خو یواځي افغانان ول، چي نه یواځي دا چي پلان ئې نه درلودی، مگر د دې سربېره چي مالکان ول، له نورو څخه ئې د خپل واک په وېش کي برخه غوښتل. مگر جالبه خبره دا وه، چي امریکا او ملگري ئې د چین، روسیې او نورو ملگرو په تقابل کي واقع وه. مگر بیرته امریکا او روسیې پر دې توافق درلودی، چي چین ابر قدرت کېدلو ته باید پاته نه سي. مگر د دوی ټولو تر منځ افغانستان د بزکشۍ گیلگی وو، چي هر چا خپل او کرایې چاپ اندازه ورته جوړه کړې وه، چي وئې ځغلوي.

د چین سفیر په خپل نوي دفتر کي، چي د پخواني ولسمشر د اوسېدلو د

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځای ځنګ ته جوړ سوی وو؛ ناست وو. خپل لومړي سکرتر ته ئې په ټوکه وویل، چي اوس به دی ښه له نږدې څارلای سو. هغه لږ جدي او نوی ځوان ډیپلوماټ وو؛ په قاطع انداز ئې وویل: اصلي جمهور رئیس اوس هم دی دئ. ځکه له خلکو سره تر اوسه تړلی دئ. مګر ډېر چالاکه سړی دئ. موږ چي دلته را کډه سوو؛ د لومړی ورځي ډوډۍ او د ښه راغلاست لیک ئې هم را استولی وو. بیا سفیر خپل قلم مخصوص ته وویل، چي یوه ښه تحفه د سبا غرمې ډوډۍ او له هغه چایو څخه، چي ما تازه راوړي دي؛ یو بکس ور واستوئ، چي طبیعت ئې ور سم کړي. دا مو یو کیلو په دوولس سوه ډالر اخیستي دي.

وروسته ئې وویل: ټول حاضر دي؟ څوک خو پاته نه دي.

شازدفیر وویل: نه، د امنیت کس سته. نور به مجلس شروع کړو.

سفیر وویل، چي له وضعیته داسي ښکاري، چي حکومت نور د ټینګي نه دئ. نه مذاکراتو ته تیار دئ او نه نور د جګړې توان لري. امریکا او نورو ملاتړو ئې لاس څني اخیستی او په ډېرو نکتو کي د شاتګ په حالت کي دئ. زموږ ټولي هڅي په سیمه کي ښه په بریالیتوب سره رواني دي.

داسي معلومېږي، چي امریکا بل پلان لري. په ښکاره ښیي، چي وځي؛ مګر په حقیقت کي خپل د موجودیت بڼه بدلوي. دا موږ ته هم چانس دئ، هم چلنج. زموږ په چالاکۍ پوري اړه لري، چي ځنګه ئې لوبوو.

دوه احتماله موجود دي: یا دا چي موقته اداره به راځي، چي نیم واک به له مخالفینو سره وي؛ موږ تیار له هغو سره جوړ یو. باید ژر حرکت وکړو او په همدې ګډوډ حال کي خپلو اهدافو ته ځان ورسوو. دوهم احتمال دا دئ، چي افغان حکومت وشړېږي، چي دا احتمال ډېر قوي هم دئ. نو موږ باید ژر تر ژره خپله کیسه راټوله کړو او دوی سره خپلو اهدافو ته ځان ورسوو. له دوی سره مو وخت توافق کړی دئ.

زموږ څو اهداف په مخکي دي، چي باید هغو ته ځان ورسوو. اول او تر ټولو لومړی سیمه د خپلو استخباراتي کسانو په وسیله وپوښو. دوهم دا چي هر

(c) ketabton.com: The Digital Library



څونه ژر کېدای سي، د سیمي اقتصادي بازار خپل کړو. دریم د واخان لاره، چي څونه ژر کېدلای سي، خلاصه کړو. څلورم خپلي ټولي پخوا پلان سوي پروژې بلخصوص مس عینک، د شبرغان جرقدک گاز کمپنۍ، دریم د بولدک تجارتي بازار باید ډېر ګړندي اجرا سي.

مگر تر دغو ټولو خبرو ډېره اساسه خبره د لیتیم او نورو کانونو ده، چي د اړو دوړ په مرحله کي تر څو دوی یو حکومت جوړوي او ارامیږي؛ باید وباسو. ځکه که قوي حکومت جوړ سو، بیا موږ نه سو کولای، په آسانۍ او ارزانۍ دا مواد تر لاسه کړو. تاسي په دې پوه یاست، چي د افغانستان لیتیم د نړۍ پنځوس فیصده لیتیم جوړوي او د نړۍ را روانه د انرژۍ جگړه پر همدې لیتیمو ده او موږ ته متوجه خطرونه د داعش لمن ته را اچوي او زموږ په وړاندي سیمه‌ایز بلاک جوړول دي.

په دې وختو کي شازر فیر، چي تازه دلته مقرر سوی؛ وویل، چي دا خو بیخي ډېر بشري قوت ته اړتیا لري، دا څنگه تر سره کیږي.

سفیر لومړی سکرتر ته اشاره وکړه، هغه پاڅېدی. پروجکټر ئې چالانه کړی او تشریح ئې شروع کړه.

موږ خپل فعالیتونه په پنځو برخو کي تنظیم کړي دي:

لومړی سیاسي برخه ده، چي موږ په حکومت کي دننه له حکومته دباندي د دوی سیاسي مخالفین او د دولت وسله وال مخالفینو سره ښې اړیکي لرو. پر حکومت چندان ډېر باور نه لرو، ځکه یوه واحده اداره نه سته په کښې. د سیاسي مخالفینو سره ډېري ښې اړیکي لرو، چي په هغو کي مو تر ټولو ډېر حساب پر پخواني ولسمشر دئ.

د استخباراتو مسؤل وویل: حساب پر وکړئ، باور مه پر کوئ. زه اوس هم فکر کوم، چي هغه یواځي ځان ته لوبېږي. د امریکا سره مخالفت ئې ما ته مصنوعي را معلومېږي. زه داسي فکر کوم، چي د هغوی په مشوره له روسانو او

(c) ketabton.com: The Digital Library



زموږ سره یاري پالي؛ تر څو د امریکا مخالفت هم بیرته د امریکا په لاس کي وي؛ بېگانه څوک نه وي.

سفیر مداخله وکړل، ول: زه هم لومړی په همدې فکر وم، مگر وروسته مي چي ډېر ملاقاتونه ورسره وسوه؛ حس مي کړل، چي دی غواړي د دې مملکت بابا او مشر سي. لکه په پخوا وختو کي، چي دوی درلودلي دي. نور نو ملکي وکړي او مشورې ورکړې؛ مگر بیا هم احتیاط به کوو.

لومړي سکرتړ وویل، چي زموږ اصلي حساب پر مخالفو ډلو او په هغو کي پر مشخصو اشخاصو دئ، چي پاکستان ئې ضمانت کړی دئ. دوی به هیڅ کله زموږ د هیلو مخالفت و نه کړي، بلکي حمایت به لا کوي. او یوه ډله خپل استخباراتیان مو د ایغور مجاهدینو په نوم له دوی سره په لیکو کي هم جنگېږي.

دوهمه برخه اقتصادي ده. موږ زیات شمېر تاجران د دوی په خپلو تاجرانو کي خپل کړي. حتی ځینو ته مو هلته نجوني ور واده کړي او تیار چینایان سوي دي. یو نیم ئې هم زموږ سره بلک مېل دي. ویډیوگاني او نور اسناد پر لرو. او دوهمه ډله زموږ تجاران دي، چي په پاکستان کي ئې ودونه هم کړي دي او یا هم دلته په افغانستان کي په تجارتونو بوخت دي.

دریمه برخه زموږ طرفداران دي، چي هغه مو په ټولو برخو کي جوړ کړي دي. ځیني مو ئې په پیسو روږدي کړي، ځیني مو د زده کړو له پاره بېولي او ځینو ته مو په هر ځای کي سیاسي ملاتړ ور رسولی.

خو زموږ تر ټولو اساسي کار پر څلورمه ډله دئ، چي هغه رسنۍ او عامه فکر جوړونه ده. په دې لاره کي مو له درو لارو څخه کار اخیستی دئ. اول محصلین او محققین دي. چینایي محصلین هم په افغانستان او هم په پاکستان کي د سیمي فرهنگ او ژبه زده کوي. په پیکینگ، بیجینگ او شانگهای پوهنتون کي موږ د افغانستان څانگي خلاصي کړي. او همچنان مو په افغانستان کي د چینایي څانگي او معلوماتي کتابونو خپرول شروع کړي.

دوهم زموږ خپلي رسنۍ دي، چي هغوی د افغانستان او چین په اړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپروني او معلومات خپروي. دوهم دلته په افغانستان کي عمومي رسنيو ته پروژې ورکړي او هم مو د اطلاعات او کلتور د پخواني وزير پر لاس د يوې راډيو او تلويزون پروژه فعاله ساتلې ده.

د اوس له پاره زموږ تمرکز پر سوله دئ او د حکومت او بهرنيانو خلاف ډېر تمرکز لرو. ټولو لاسونه وپرقول، چي ډېر معقول او ښه روان ياست.

سفير وويل: هر څه ثانيه وار بدلېږي، ته او ملګري مو پر روسيه او هند ډېر تمرکز وکړئ. داسي نه وي، چي امريکا زموږ سره د روس کانه و نه کړي او جګړې ته مو را کش نه کړي.

د استخباراتو مسؤل وويل: نه هند بېغمه ناست دئ او نه هم روسيه زموږ سره جوړه ده. هر څوک خپله لوبه کوي. زه صرف دونه وايم، چي پر کندهار ډېر تمرکز ولرئ. زما معلومات دا دي، چي يو ځل بيا واک هلته انتقالېږي؛ مګر د کندهاريانو په لاس کي به نه وي. دا کار هم قصدي کېږي، چي قهر زيات کړل سي او د دا همسايه سره ډېر احتياط کوئ.

مراد ئې پخوانی ولسمشر وو.

مقصد طوفان خپله نه وو روان؛ روانوونکي ئې درلودل. طبعي نه وو، بلکي خلک ناست ول او پيکونه ئې ورته وهل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د طوفان بل شریک

زوړ دښمن همېشه په لټه کي وي، چي خپل وار وکړي. افغانستان د خپل جغرافيوي موقعيت پر اساس د هغي څلور لاري حيثيت لري، چي د سيمي په سطحه تر ټولو پر مهمو نقطو واقع وي. دغه جغرافيوي موقعيت هم چانس دئ، هم چلنج. تر اوسه په تاريخ کي تر ټولو زيات د چلنج په توگه واقع سوی. يواځي د ملت پخوانی بابا په دې وتوانېدی، چي چانستوب ئې څه ناڅه ولوبوي.

افغانستان له پېړيو راهيسي د تزاري روسيې او انگرېزي سامراج تر منځ د لوبو د ډگر په توگه واقع وو. دغه لوبه هغه وخت په گرمه لوبه بدله سوه، چي انگرېزانو د خپل نوي هيواد امريکا په مرسته روس د سيمي په جگړه کي مستقيم دخيل کړی. افغانستان ته ئې ځواکونه واستول او امريکا همدا غوښتل، چي په واورو کي پټ قوي زوروور خرس له خپلي خاوري او واوري را وباسي او بيا د کور دباندي ماته ورکړي. همهغسي هم وسول، مگر دا جگړه پای ته و نه رسېدل.

مگر د شوروي له پاشل کېدو وروسته روسيه پر ارامه نه کښېنستل. هم ئې په سيمه کي زهر وپاشل او هم ئې د افغانستان دننه خپلو ملگرو ته پرله پسې

(c) ketabton.com: The Digital Library



لارښووني او پلانونه ورکول او دلته همېشه اور بل وو.

خو دا ځل خبره متفاوته وه. دوه انتقامه وه او دوه درې دښمنان. دوی باید داسي لوبېدلي وای، چي ځان هم خوږ نه کړي او گټه هم ښه ډېره وکړي. د روسيې ولسمشر، چي تر ډېره ځایه د یوه دکتاتور نظام چلوونکی دئ او غواړي شوروي اتحاد بیا را ژوندی کړي نو د هغه له پاره لازمه ده، چي هم ځان له احتمالي خطرونو وساتي؛ هم حریفان تضعیف کړي او هم دښمنان ووهي.

له هغه وخته چي امریکا د تروریزم د ځپلو په پلمه سیمي ته راغله، د دوی ټایر ډېره واخیستل. خو په ښکاره ئې څه نه ویل. کله ناکله به ئې یوه یوه قلقله وکړل، نور به چوپ سول. ځکه دوی په واک کي شریک خپل کسان او متحدین لرل. نو گټه ئې روانه وه او ځان ئې خوندي محسوسوی. مگر کله چي د تور بیرغونو کیسه گرمه سوه او د دوی بل حریف نوي ابر قدرت کېدو ته ځان جوړ کړ، نو د دوی اوږه هم لاندي سول او د پروني دښمن (پاکستان)، لکه هغه بازارۍ ښځه؛ دوه مړونه ئې رسماً درلودل؛ یو بل ئې هم وکړی او فوجیانو ته ئې د روسانو له خوا تمرینات پیل سول.

د روسيې خاص استازي د روسيې د سفارت په خاص دفتر کي ناست وه. خاص استازي سفیر ته وویل: اشنایه لوبه بدلوي، باید ورسره چالاکه سو. په پاکستان کي له قوي موقفه ناست یو. دلته هم باید فعاله سو. د دوی موږ هېر یو او یا مو کمزوري حسابي. موږ قطبي خیرسان بولي. د هیڅ ډول طوفان زور په موږ بر نه دئ. موږ په بده ورځ کي هر څه کولای سو. دا مخامخ دارالامان گوری، موږ دلته خپل تر ټولو نږدې کس خپله و ویشتی او بیرته مو ئې انتقام له همهغه چا واخیستی، چي دی ئې وویشی. موږ ته خپل گټي خوندي کول تر هر چا مهمي دي. ځکه له دې ځایه مو ډېر تاوان کړی او ډېر خطر هم راته متوجه دئ.

زه چي له کومي ورځي راهیسي په دې نوي ماموریت راوتلی یم؛ دونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



عجبه خبري او شیان مي لیدلي، چي اوس پر هر څه او هر چا شکمن یم. ما لومړی سفر پاکستان ته وکړی؛ دوی تر اوسه د انگرېز چیچان دي. له ټولو سره سر ښوروي، خو کار خپل کوي. هلته مي ولیدل، چي دوی اوس هم هر څه د پروژې په توگه چلوي. حملات، جگړې او هر څه چي وینی؛ ټوله د نورو هیوادونو له پاره د پروژو په توگه تر سره کېږي. دوی ته مهمه نه ده، چي پر کومه مځکه کومو خلکو کله او چیري څه کېږي؛ دوی ته مهمه دا ده، چي لوبه جاري وساتي. د لوبي جاري ساتلو سره د دوی ژوند تړلی دئ.

جالبه خو دا ده، چي پرون ئې زموږ په وړاندي کوم ځایونه او کمپونه مجاهدو ته ورکړي وه، نن ئې هغه کمپونه طالبانو او نورو مخالفینو ته ورکړي او د پروني مجاهدو په وړاندي ئې جنگوي. پرون چي یې کوم طالبان په لوڅ ډول امریکا ته وسپارل؛ نن ئې هغوی ته نظامي سلامیاني او رسمي پرتکول ورکوی. د فوج بودیجه ئې له امریکا راځي، مگر په گوادر ئې له چین سره د اووه څلوېښت ملیارډه ډالرو سرمایه گذاری ته پلان دئ.

زموږ سره ئې د عسکرو د تقویې او ټرینینگ تړون هم کړی. مقصد پر پاکستان په هیڅ ډول باور نه دئ په کار. دوی ئې هم پر مېخ وهي، هم پر نال. امریکا ته ئې د اکمالاتو لاره ورکړې ده، مگر طالبانو ته پټنځایونه.

قطر کي مو هم له چین او امریکا سره جلا جلا مذاکرات وکړل او هم تړونونه. چین ټول تمرکز پر دوو ټکو دئ: خپل اقتصادي گټي او ځان خوندي کول.

په اقتصادي گټو کي دوه اړخه ورته مهم دي: له افغانستان د معدنونو استخراخ بلخصوص لیتیم، چي د نوي نړیوالي اقتصادي جگړې محور دئ او خپل تولیدات په دې لاره او دې ځای ته را صادرول. نو معلومه خبره ده، چي د واخان لاره، چي هم ارزانه ده، هم اسانه؛ خلاصیږي.

د ځان خوندي کولو له پاره ئې په بدخشان کي یوه لېوا جوړه کړې، چي ټول خپل نېشنل فورس (ځانگړي قوتونه) اچولي دي. د دوی فکر دا دئ او زموږ ورسره تړون دا دئ، چي د تور بیرغو مخه به نیسو، چي دا په سیمه کي زموږ او دوی دواړو

(c) ketabton.com: The Digital Library



امنیت گواښي. کوښښ دا سوی، چي تور بیرغي تر تاجکي قیادت لاندي را وستل سي؛ نو ځکه ئې نوم هم له وخته خراسان ایښودل سوی، چي په اسانۍ سره د تاجکستان پر خاوره را واوړي او قومي صبغه ورته جوړه کړي.

موږ ځلور ډوله فعالیت کړی، چي دلته هر څه مهار کړو. د مسکو په ناسته کي مو خپل پخواني همکاران هم بیرته منسجم کړل. پخواني مجاهدین، چي لسګونه کاله راسره وجنګېدل، ډېره برخه مو ئې خپله کړل. لږ ئې بیا هم د خپلو ګټو او د امریکا له ډاره تر اوسه ځان ګوري.

طالبانو کي خپل ګروپونه فعال لرو. که چیري اقتدار ته راځي؛ حداقل زموږ سره به دښمني نه کوي. بلخصوص هغه ډلو ته، چي د تور بیرغو په وړاندي سخت دریځ لري؛ هغو ته موږ ډېر امکانات ورکړي.

په اوسني حکومت کي زموږ پخواني یاران سته، مګر د حکومت خبره خلاصه ده، نو موږ مجبوره یو؛ مخالفین ئې راټول کړو. هغه هلکی څه نومیږي، د هغه د پنجشیر د قومندان زوی تاجکستان ډېر پورته پورته کاوه، خو هغه خپله ثابته کړه، چي لا ماشوم دئ. اړیکي مو ورسره سته؛ کوښښ مو کړی، چي د نورو خلکو سره ئې یوځای کړو، خو دی یې ظرفیت نه لري.

په سیاسي مخالفینو کي مو پر پخواني ولسمشر ډېره تکیه کړې ده، خو هغه ډېر محتاط او سیاسي مخ ته ځي او کوښښ ئې دا دئ، چي ټول لوري ارام وساتي، مګر بیا هم زموږ سره ډېر خراب نه دئ. امریکا عصاباني کړی دئ، مګر دښمني نه ورسره لري. پخواني امریکایي جمهوریتیان بلخصوص د بوش او کلنتن د کورنۍ سخت ورسره جوړه ده او د هغو رسوخ دئ. اوس هم تر ټولو لوی موقف کي ساتلی دئ.

خو پر شاوخوا ئې عجبه ګډوډ خلک راټول دي. سټایل ئې همهغه پخوانی شاهي غوندي دئ. د هر فکر او ډلي خلک ورسره دي. مقصد زموږ مخالفین نه دي، مګر ډېر سخت حساب هم نه سو ورباندي کولای.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دې وخت کي شازدافير وپوښتل: يعني ستاسي په فکر امريکا وځي. داسي کومه نخښه خو نه ښکاري. خاص استازي وخندل: ته امريکا دلته پخه ناسته ده، لوبه بدلوي. يو خو غواړي چين له کوره وباسي او جنجال ته ئې راکش کړي. عيني لوبه، چي ئې زموږ سره د شوروي اتحاد په وخت کي وکړه. له بلي خوا ئې د تايوان کيسه گرمه کړې ده. دوی شايد هلته مصروف کړي او موږ ته ئې دا د يوکراين د فلم هلک (يوکرانی ولسمشر) گرم کړی دئ. له دې سره ټولو وخندل.

مگر موږ له امريکا سره په دې توافق لرو، چي چين بايد نوی ابر قدرت نه سي. په دې کي هيند راسره ملگری دئ، ځکه هيند ځان ته کوښښ کوي، چي سوپر پاور سي او موږ و چين بيا په سيمه کي د امريکا د موجوديت مخالف يو؛ خو دوی پاته کيږي، مگر د موجوديت بڼه ئې بدليږي.

په دې وخت کي سفير وپوښتل، زموږ پلان څه شي دئ؟ روان وضعيت خو تاسي تشريح کړی، مگر موږ ته واضحه لاره څه شي ده؟

ځانگړي استازي وويل: اوله خبره دا ده، چي له حکومت څخه مو توجه په مطلقه توگه بنده کړئ. ځکه کيسه خلاصه ده. څو تنه کانديدان د موقتي ادارې له پاره سته. هغوی هم تعقيب کړئ، هم ئې په اړيکه کي وساتئ. ځکه دوی (امريکايانو) ټولو ته تمه ورکړې ده. دوهم خپلي همکاری هم د امکاناتو هم سياسي او هم د پيسو له وسله والو مخالفينو، مدني فعالانو، رسنيو او سياسي مخالفينو سره لا ټينگي کړئ. که گڼ حکومت راځي؛ ټله واله او شمال مو ټول د تاجکستان پر لاس په قومي تار تړلي. هزاره مو د ايران پر لاس خپل دي. په پښتنو کي خپل پخوانی خلق ديموکرات هم لرو او په طالبانو کي د دې شل کلن تمويل ياران سته؛ هغه سره فعاله کړئ.

خو که يواځي طالبان راځي؛ متوجه اوسئ، چي د خطره خالي نه دي. زما معلومات دا دي، چي يکتازي رامنځ ته کوي او په همدې يکتازي کي شمال پټنځای کوي او چين او موږ دواړو ته خطر متوجه کيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



طوفان ته ټول نڅېدل، يواځې افغان اولس وو، چې د يوې نامعلومې راتلونکې په لور روان وو. هيڅوک نه پوهېدل، چې څه به کېږي. هر چا پلان درلودی، خو يواځې افغانان وه، چې د نورو پلانونو ته ناست ول او خپله ئې خپلې خاورې ته هيڅ ډول پلان نه درلودی او طوفان شېبه په شېبه ګړندی کېدی.

# طوفان ځارونکي

پښتانه متل کوي: خپل چې دې مړ هم کړي، لمر ته دې نه غورځوي. جرمنيان يا المانيان د افغانانو تاريخي ورونه دي، نو شريکه وينه ده. همېشه د خير پر خوا افغانان يواځې نه پرېږدي. که څه هم خپلې ګټې يا د امريکا سره د يارانې پر پار خير رسوي، خو بالاخره خير رسوي.

اول ځل هم د ګړنګ له بېخه د وتلو له پاره دوی کوربه سول او کله چې خبره غړکه سوه، هم دوی را مخ ته سول، چې دواړه لورې سره جوړ کړي. حتی طالبانو ته ئې د مذاکراتو له پاره روزنيز کورسونه ورکړل، چې په نتيجه کې ئې په کابل کې پر سفارت د جنګ د تاريخ يوه تر ټولو لويه چاودنه وسوه، چې بسته ټانکر ډک کړل سوی پر سفارت وچاودی او هيچا ئې مسؤليت وا نه خيستی.

په کابل کې د جرمني په سفارت کې ټول ناست وه، سفير چورتونو په مخه کړی وو. شازدفير ورته ووېل: جلسه ستاسې پېلولو ته منتظره ده.

سفير يو ناڅاپه را وغورځېدی، ول: بخښنه غواړم، بيخې ليرې تللی وم. هغه د چاودنې په ورځ هم موږ داسې جلسه درلودل. بده پېښه وسوه. مړه سوي دې خدای وبخښې. موږ ته دې خدای صبر او روغ صحت راکړي. هغه پېښه مې

(c) ketabton.com: The Digital Library



اکثره ماغزه مصروف ساتي.

په دې وخت کې شازدفیر د موضوع د اړولو له پاره وویل: سفیر صاحب! تېر به هېر کړو. اوس څه کوو او څه کیږي؟

سفیر لکه هیڅ چي ئې نه وي اورېدلي، ول: بخښنه غواړم. ته پوهېږې، له چاودني وروسته مي غوږونه درانه سوي، اخیري جمله دي څه وه؟

شازدافیر وویل: حالت چیري روان دئ؟ څه کوو؟

سفیر وویل: دا ډېره مهمه خبره او پوښتنه ده. زه یو څه معلومات خپل لرم او یو څه نن راته را استول سوي. موږ باید امادهګی تېزي کړو. دوه ډوله مسؤلیتونه راته ګوري. د امریکې له لوري دوه ډوله خبر راکول سوی. یو احتمال دا دئ، چي دوهم بن لرو او یوه بله موقته اداره رامنځ ته کړو. مګر ناروې او سویډن هم کوښښ کوي، چي د نوي موقتي ادارې د پرېکړي کوربانه هم دوی و اوسي، نو ځکه د اوسلو ناستي ګړندۍ سوي دي. مګر زموږ لابي پر قوي ده او بل امریکا د افغانستان په چارو کي پر موږ ډېر باور لري.

مګر دوهم خبر هم هېښوونکی دئ، هم پاراډکسل دئ. داسي ښکاري، چي د نه بریا په صورت کي امریکا هر څه پاشي. موږ ته احول راکول سوی، چي کمپونه اماده کړو، چي شاید ډېر زیات مېلمانه هم ولرو او همېشه پاته کېدونکي کسان هم. او دا کسان لږ هم نه دي. په لکهاوه دي. امریکا غواړي فکري او پوهه قوه دلته تصفیه او بیا نورو هیوادونو او امریکې ته وباسي. له دې ښکاري، چي له هغه ځایه ټول هغه کسان باسي، چي په دې شل کاله کي جوړ سوي دي. موږ باید دواړو حالتونو ته تیار و اوسو. ما ته د یوه نوي تېز طوفان د راتلو بوی راځي. کیسې هغسي نه دي، چي ښکاري. حالت په دقیقو کي بدلیږي. هر څه ته اماده اوسئ. لوی طوفان را روان دئ. د هغو چي طوفان یې جوړ کړئ، د طوفان راوستو خیال دئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ګاونډی طوفان پلوی

کله چې مو کور اخیستی او یا مو کرایه کاوه؛ د ګاونډیانو پوښتنه به ئې کوی. که ئې ښه ګاونډیان ول، قیمت لوړ ورکړئ او کور واخلئ. مګر که ئې ګاونډیان د کار نه وه، چې هر څونه ښه، لوکس او ارزانه ځای وو؛ ځنې تښتئ.

کډه به سړی بل ځای واړوي، خو وطن نه په شا کېږي. افغانان لکه پسته ژبه د تېرو او کلکو غاښونو تر منځ واقع سوی. تاریخي، سیاسي، مذهبي، دیني او هر ډول دښمنۍ ور در غاړي دي.

هر ګاونډی په خپل اندازه او ساحه کي ورته غل دئ او دغه غلا او دښمني هغومره ده، چې څونه د دوی په کښي ګټه ده.

ایران له پېړیو د ګورګانیانو له وخته تر اوسه د افغانستان هم حریف او هم دښمن پاته سوی. اول خو ئې دا نوم (ایران) غلا کړی. دا د ټولي منطقې (اریانا) اوښتی شکل دئ. بیا په سیمه کي موجود ټول افتخارات ئې په خپل نوم ثبت کړي، مګر پر دې ټولو سربېره همېشه افغانان په خپل منځ کي جنګولي او بیا ئې د مذهبي جنون پر اساس زموږ د هیواد نازک نازک ځلمي په سوریه کي د فاطمیون په نامه جنګولي او په خپله خاوره کي ئې ژوندي سوځلي، مړه کړي او اوبو ته اچولي دي او حتی د خپلو پارکونو پر دروازو ئې لیکلي، چې افغانان او

(c) ketabton.com: The Digital Library



سپي دي پارک ته نه راځي.

نن سفير تر پخوا ډېر خوشحال وو. قلم مخصوص ته ئې وويل: يو ښه خوندوري چاي را وغواړه، چي نن ډېره ښه ورځ ده او ښه زېري لرو. ډېري ښې نوي خبري پر لار دي. اول ځل دئ، چي زړه مي غواړي امريکا زنده‌باد ناره وکړم. کوم افغانستان چي موږ غوښتی، هغه خوا ته کيسه روانه ده. نور به کيسې ډېري زموږ د تمي خلاف نه وي، خو احتياط بايد پرې نه ږدو.

د امنيتي ډيسک مسؤل وويل: سفير صاحب، تاسي ډېر خوشبينه ياست. دا به د دوی تر ټولو لوی چال وي، چي سيمه تخليه او موږ ته نوې ضربه له نوي زاويې راکړي.

شازدافير وويل، چي موږ ته معلومات را نه کړی، دا ستاسي په معماوو خو موږ ولاکه پوه سو.

سفير وخندل او وئې ويل: هغه اوبه چي ئې شرف بللې او زموږ تېل او خپلي اوبه ئې برابرولې؛ د هغه کيسه نوره خلاصه ده. زه ئې واقعاً وارخطا کړی وم، مگر اوس گمان کوم، هر څه سمېږي. خبره له لويه سره دا ده، چي امريکا له سيمي وځي. که څه هم وتل ئې تاکتيکي دي، نظامي حضور را کښته کوي او شايد ډېر زيات ملکي خلک ځای پر ځای کړي. مگر نوی حکومت زموږ له پاره ډېر اميد واروونکی دئ. له يوې خوا مذهبي او ديني صبغه لري، هغه موږ هم لرو. له بلي خوا له امريکا سره مخامخ او ښکاره جنگېدلي، اوس به تعهدات ولري. خو موږ کولای سو، کرکه ئې ژوندۍ وساتو. له بلي خوا د اوبو قضيه د اوس له پاره جدي مسئله وه، هغه اوس تر يوه اوږده مهاله درېږي. د بيرته راستنېدو امکان يې لږ دئ.

موږ له يوې خوا په مذهبي تناب هزاره‌گان تړلي، له بلي خوا مو د خراسان او فارسي په تناب دا نور را تړلي. په وسله‌والو مخالفينو کي هم ښه پوره نفوذ لرو، حتی د هغه مخکي ډلي مشر لا ډېر وخت په ايران کي وو. بل که گډ حکومت جوړېږي؛ د هزاره مشرانو ټوله لاره زموږ په لاس کي ده. خو يو ډار سته، چي د

(c) ketabton.com: The Digital Library



تور بیرغو کیسه هم په تېزۍ روانه ده. هغه باید نادیده و نه نیسو.

په دې وخت کې شازدافیر بیا وپوښتل: جناب سفیر، موږ څه باید وکړو؟ تمرکز څه شي دئ؟

- یو خو به د اوسني حکومت په خلاف خپلو تبلیغاتو ته کش ورکړئ. بل به دا پښتو او فارسي کیسه لږ چټکه کړئ، ځکه ګډوډ حالات زموږ په ګټه دي. دریم به د شیعه او سني کیسه هم سره را واخلئ او بل به هزاره او تاجکو دښمنۍ زاړه روایتونه هم قوي کړئ. دلته چې څونه زیات اختلاف وي، هغومره زموږ ګټه ده په کښې.

طوفان ته تر ټولو ښه زمینه هغه وخت مساعدیږي، چې په وړاندې ئې هر څه وپاشې او موږ هم همداسې وپاشل سوو او طوفان ته دانه په دانه سوو او طوفان په منډه منډه را ورسېدی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د طوفان پاڅوونکي

تر څو چي لوبه د بل وي او ته د لوبوونکي له پاره لوبېږې، هيڅ کله به پوه نه سې، چي چا څنگه او ولي ولوبولې. خو ډېر ښه به هم لوبېږې، مگر ستا هدف به هيڅ مهم نه گڼل کيږي. هغه څه به درباندي کول کېږي، چي لوبوونکی ئې غواړي.

کله چي امريکا په سيمه کي پر له پسې تلفات درلودل، نو يوه نوې پروژه ئې ايجاد کړل او په خپله خوښه مستقيم او په خپلو امکاناتو ئې ډېر خطرناک او تر خپلي مستقيمي ادارې لاندي ځواکونه ئې و روزل. دوی د ډېرو امتيازاتو په بدل له زړه ډک، په وجود تکړه او په مغزو کلک دنگ دنگ ځلمي له هره ځايه ټول کړل او د صفري قطعاتو په نوم ئې د خپلو خاصو قوتونو په توگه و روزل او تربيه ئې دا وه، چي هدف ته له ننوتو سره ټول ژوندي شيان بايد وويشتل سي.

هغوی همداسي و روزل سول، لکه ماشين؛ په سترگو کي ئې ډار نه وو. له يوې خوا لوړ معاشات، له بلي خوا پرمختللي وسايل او له بلي خوا ورپېښه اوږده جگړه. او اکثره ئې خپله د امريکايي ځواکونو له خوا په داسي ټابليټونو اموخته سول، چي د انسانانو وژل ورته تفريح وگرځېدل. معلومداره خبره ده، چي په ډېرو کي به د وطن مينه او خروښ هم وو، مگر په خپله اراده نه سوای چلېدلای.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هر څه د پلان پر اساس ورکول کېدل او د پلان پر اساس ئې فعالیت کاوه.

ننګیالی له ځوانۍ سرکښه او یاغي ځوان وو. پر لاسونو به ئې خالونه وهل. ښایسته ځواني ئې وه. ده به هم ځان د هندي فلمونو د مشهور جنګي اداکار سنجیدت نوم ایښی وو.

شینکو بیا تر ده لا انتیکه انسان وو. شنې سترګي، ژړ وېښتان او جګ قد ئې وو. هر وخت به ئې جنګ ته بهانه غوښتل. اصلي نوم ئې بل شی وو، خو د شنو سترګو له امله ټولو شینکو بلی.

نن د آرین واده وو. آرین بیا د دوی ترجمان هم وو او د ګروپ غړی ئې هم وو. دوی ټوله د صفري قطعاتو کومنډویان هم ول. د آرین واده له ښاره لیري په یوه صحرایي منطقه کي وو. ځوانان ټول راټول ول او د غرو رغو کیسې ئې کولې. نن مجلس ته راغلي اکثره د دوی نظامي یاران ول. نور خلک له دوی هم بېرېدل، له مخالفینو هم. چي دوی ته نږدې هیڅوک ئې نه پرېښول.

بالاخره کیسې ولاړې ولاړې، عملیاتو او نظامي کیسو ته خبره ودرېده. په دې وخت کي مرزوقی، چي د دوی خوستی یار وو؛ پر شینکو ږغ وکړی، ول: دا قومندان مو څنګه وویشتی؟ تاسي هم بلا خلک یاست.

شینکو سګرېټ پوچ کړی، ول: کیسه خو نوره اوږده ده، زه به ئې لنډه درته وکړم. دوه انډیوالانو ته مشرانو ټارګیټ ورکړی، چي ولاړ سئ په ښار کي دغه کس وولئ. هم به مو پرکټیس سي او هم به مو امتحان. هغوی ولاړل، موږ په کېمرو کي لیدل. سړی له کوره را ووتی، دوی وویشتی. په دې وخت کي له دوی موټرسېکل چپه سو او پولیس پر را ورسېدل، خو بالاخره دواړه ئې ونیول. موږ تماس له ولایت سره ونیوی. دوی تماسونه ونیول، خو کیسه ولاړه، رسمي سوه؛ تر څارنوالۍ او محکمې ورسېدل. موږ خو پر قومندانۍ نه حمله کولای سوای، نه تعرض؛ رسوایي جوړېدل. نو تصمیم دا سو، چي په محکمه کي به ئې څني را پورته کړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



موږ چي کله د محکمې خوا ته ورغلو، دوه موټره وو، شپاړس نفره. ټوله ورته زنګون کېچ سوو. توبه، اول ورغلو، چي له قومندان سره خبري وکړو، خو قومندان پخواني خلقی او کلک اصولي سړی وو خبري یې نه راسره کولې. ول زما کار نه دئ، د محکمې کار دئ. انو بس موږ هم ورته زنګون کېچ سوو. قومندان هم انتیکه شاټ سړی وو. په لس دقیقو کي مو ټول د محکمې مخ ته وویشتل او سړي مو څني پورته کړل.

مرزوقي ورته وویل: بسته د ښار قومندان مو وویشتی دونه ساده؟

شینکو وخندل، ول: قومندان څه کیسه لري؟ والي ولم، بیا دې څوک زما څخه بازخاص وکړي.

په دې وخت کي ئې عبدالخالق ته لاس ونیوی، ول: دا د کفر زوی وینې، هغه ورځ ئې په غنمو کي خلک حلال کړل. قومندان خو لا زموږ سره وجنګېدی. دوی تللي وه پاشمول ته، هلته ده ته یو چا د طالبانو ویډیو ور استولې وه، چي خلک ئې حلالول. هغه یو بیا دونه نامي وو، چي په رجه ئې خلک حلالول. بیا ده له ګلاب شاه سره شرط تړلی وو، چي ته څوک نه سې حلالولای. دوی هلته ولاړ وه، چي په باغ کي ئې درې کسه لیدلي وه، چي د غنمو لو ئې کاوی؛ دی پسي ورکښته سو، درې سره ئې هلته د غنمو په منځ کي حلال کړي وه، ویډیو ئې هم څني کړې وه.

عبدالخالق وخندل: ولا دا ارموني اول احساساتي کړم او ما بیا تازه ټابلیټ وهلی وو، په پوه سوی لا ولاکه یم. هغه مشر کس ئې خپله راته پرېوتی، ول وراره او زوی مي پرېږده. هغه چي مي حلال کړی، وراره او زوی ئې بد بد کتل، باره مي هغوی هم را چپه کړل.

له دې سره ټولو وخندل. مرزوقي ویل: یو څه وخت مخکي مو خوست کي چاپه درلودل، نخشه ئې راکړه. شپې ویږن مو ووهل، روان سوو. یو وخت ادرس ته ورسېدلو. د کلو پخسه دېوال وو، په دوې لغتو مو چپه کړئ. کرار کرار د هر اطاق مخ ته یو یو ودرېدلو. زموږ او ستاسي مېتود خو نو درمعلوم دئ، چي

(c) ketabton.com: The Digital Library



له ننوتلو سره به ژوندی موجود یا ولې، یا زخمي کوې. اول اطاق ته زه ور ننوتم؛ یو ځوان د یوې نجلۍ سره، چي تازه یې واده کړی وو هغه د مور د گلانو امیل یې لا پر دېوال ځړېدئ؛ پروت وو. وار د ټکه مي ښور خوړلو ته نه دئ پرې ایښی، سر مي ئې ور غورمه کړی. نجلۍ چي دا وغورځېده، اتمات مي ئې لاس ور مات کړی. د هډوکي د ماتېدو بږغ مي په خپلو غوږو واورېدی.

وروسته چي دباندي راووتم، پوه سوم، چي غلط کس مي ویشتلی دئ. دا د هغه کس، چي موږ پسي راغلي وو؛ ورور وو. وروسته مو هغه ډبې، چي تازه پرون د سړک پر غاړه پیدا کړې، څلور سره مو قطار په برنډه کي کښېنولې. هغه اصلي کس یو بل ورور ئې اکا او د اکا زوی مو ئې پر کښېنول؛ کرنټ مو ورکړی. دا ویني ئې لکه جوس پر دېوالو داسي وپاشل سوې.

چي دباندي راوتلو یوه بغل ته لپتکي سوې. زموږ یوه وارخطا انډیوال د راکټ ټک پر وکړی. چي ور ننوتو، هغه غوجل وو. غوا انداړي په انداړي پرته وه او په خره یوه پښه ځړېده، مگر ولاړ وو. ټولو د خندا له لاسه پښتورگي نیولي وه او د خره پرې سوي پښې ته ئې خندل.

له میرزوکي سره یو بل نوی ملگری هم راغلی وو. هغه نوبت واخیستی، ول: امر و سو، چي وځو. نو موږ هم مولونه ووهل، ځانونه مو اماده کړل؛ روان سوو. د شپې دوې بجې چي هدف ته ورسېدو، دروازې مو ټولي په بمونو والوځولې. خلک مو ټول را و ایستل. د کور مشر ته مو ویډیو ور ښکاره کړل، چي تېره شپه درې تنه وسلهوال ستاسي کره وه.

هغه سپین بږیري ئې ویل: دغسي د توپک په زور راغلي وه، لکه تاسي. د غوښي او د اوسپني نو سره څه دي. کله درېشي والا راځي، کله لنگوټې والا.

ما په دې وخت کي یو ښه جانانه بوکس کش کړی. دوه غاښونه خو ئې ما خپله ولیدل، چي توف ئې کړل.

وروسته مو ورته وویل، چي درې کسه په خپله خوښه راکړئ. هغوی یو

(c) ketabton.com: The Digital Library



مېلمه، چي اخښی ئې وو او دوه ورونه، چي د دې مشر زامن وه؛ راکړل. درې سره مو هلته د دوی مخ ته ورته وويشتل. په سبا خبر سوو، چي هغه درې سره د پوهنتون محصلين ول او کور ته په رخصتي راغلي ول.

يوه بل له پکتيا راغلي مېلمه وويل: يوه ورځ مو د سړک سره نږدې ډبه کشف کړل. په شاوخوا کي بل څوک نه وه، يو شپانه پسونه څرول. هر څه مو په وکړل، نه ئې ويل، چي چا ايښې وه. موږ هم نر غونډي ورباندي کښېناوه او وا مو لوزوی.

په دې وخت کي شينکو يوه بل مېلمه ته لاس ونيوی، ول: دې د ناڅوانه زوی سقيل (پيکا) پر يوه ځوان زده کړې وه، چي ځنګه ويشتل کېږي. هغه چي مو وروسته وکتل د کلي لېونی ئې درې سوه د پيکا مرمۍ ويشتلي وو. موږ خو ناحقه د مرګ قطعات نه بولي.

مرزوقي وويل: ښه اوس څه غوري دي، څه به کېږي؟

شينکو وويل: موږ د امريکايانو چيچان يو. د دوی چي چيري په کار يو، هلته به يو. زما خو د کورنۍ سره د ټولو کار خلاص دئ.

د دوی عمومي قومندان، چي تر اوسه چوپ ناست وو، غاړه ئې تازه کړل. ول: ټول قطعات چي پنځويشت زره تنه کېږي، له ټولو فاميلونو سره يوځای له دوی سره يوځای وځو. نور به بيا دوی ټاکي، چي څه کوو.

يو ناست سپين ږيري وويل: دا وطن، دا ويني، دا ځوانان؛ دا چا ته پرېږدی؟

قومندان وويل: امريکايانو په خپلو پيسو جوړ کړي يو، له ځان سره به مو وړي. د وطن بچيان اردو، عسکر، پوليس، کومنډو، سرحديان او نور دي؛ موږ خو د مرګ قطعات يو. جګړه مو په کرايه وه، بل ځای ته ځان ته جګړه ګورو. له دې سره ټولو په سرو سترګو خمارو اوازونو په هټ هټ وخندل.

طوفان لا په تېزۍ په الوتلو سو. داسي سيلۍ وې، چي هر څه ئې له ځان سره په مخه کول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د طوفان مور یو ځل بیا

سفارت کي هر څه د تیارسي په حالت کي وه. د خاص استازي پر مخ نه معلومېده، چي ډېر خوشحاله دئ، که خوابدی. ځکه کله به ئې ډېر خندل او کله به یو ناڅاپه له قهره ډک سو. اضطراري غونډه رابلل سوې وه. سفیر او نور ټول حاضر وه.

خاص استازي په قهر وویل: هر څه خلاص سول. زما جوړ کړی نظام پای ته ورنږدې سوی. له دې سړي سره هیڅ نه کېږي. پلان بي ته ځو. موقته اداره او هر څه بې نتیجې دي او په موږ پوري اړه نه لري. د قضیې اصلي طرف، چي طالبان دي، زموږ سره توافق لري. حکومت مهم نه دئ، مگر پلان بي باید په سمه توگه عملي سي.

د پلان بي ترتیب له سفیر سره دئ. دی به ئې تاسي ته وړاندي کړي، چي د هر چا مسؤلیت معلوم سي.

سفیر غاړه تازه کړل، بیا ئې وویل: اصلي خبره د بي پلان دا ده، چي د اوس له پاره طالبان خپل مستقل سرپرست حکومت جوړوي. جمهور رئیس او ټیم ئې متعهد نه دي، چي توافقات سر ته ورسوي، نو موږ له خپل نوي متعهدینو (طالبانو) سره مخ ته ځو. مگر احتیاط، دقت او ټینگ څار ته اړتیا سته. ځکه دوی نور هغه ساده او سیده خلک نه دي؛ پر سل لاسه سل نوري یارانې هم لري.

اوله خبره دا ده، چي نور هر ډول نظامي ملاتړ پای ته رسېدلی او غیر مستقیم کوښښ وکړئ، چي نظامي ملاتړ او موجوده تسهیلات نوي همکارانو ته،

(c) ketabton.com: The Digital Library



چي نور به په واک کي وي؛ وسپارل سي. ولايتونه ټوله يو په يوه طالبان نيسي. مزاحمت مه ورته کوئ. کابل مستثناء دئ. دلته کېداى سي، يو دوې هفتې تم سو.

د تخليې له پاره اووه زره نوي سرتېري راځي. په دغه جريان کي هغه خوندي ځايونه، چي په ليري پرتو نقطو او مځکه لاندي جوړ سوي دي؛ خوندي پاته کېږي او د تړون له مخي نوى حکومت هلته مداخله نه کوي او ځان ناخبره نيسي. خو د دغه اهدافو د ښه خونديتوب په خاطر قوتونه په ملکي حالت اوړي او نظامي ماموريت پاى ته رسيږي. خو دغه ملکيان هم ټوله نظاميان دي، مگر په ملکي ماموريت کي، چي د اړتيا په وخت کي بيرته نظامي کېدلاى هم سي.

تخليه لومړى له خپلو اتباعو او هغه همکارانو څخه پيلوو، چي زموږ سره مستقيم يا غير مستقيم راسره وه. هغوى چي شکمن دي يوه ځاى ته انتقاليږي. هغوى چي لږ ډېر کار ته اړتيا لري، بل ځاى ته او هغوى چي عاجل دي؛ قطر او دوحې ته انتقاليږي.

صفري قوتونه، چي زموږ خپل ځواک دئ، په سيمو کي د اهدافو له بشپړولو وروسته ټوله، چي پنځه ويشت زره کسه کېږي او سل زره تنه کورنۍ ئې ټول ټکساس ته مستقيم انتقاليږي. له هغه ځايه نوي ماموريتونو ته شايد په کار سي. يوکراين او فلسطين کېداى سي، دوى ته اړتيا ولري.

له درې ډاټا مرکزونو دفاع وزارت، زموږ سفارت او ستر محکمې څخه هغه اسناد ټول کړئ، چي زموږ په ضرر دي او يا ئې هم انتقال کړئ.

هغه لويه ډله افغانان، چي په تېر شل کاله کي ئې زده‌کړې ليدلي؛ جرمني، يې د اخيستلو زيمه اخيستې، کاناډا هم غواړي هغه خلک ور خپل کړي، چي له دوى سره ئې ماموريتونه کړي دي. د حکومت کومنډيانو ته وخته لندن دانه پاشلې ده. نور سپورټ ټيمونه او نوري ډلي هم بېلابېلو حکومتونو منلي. زموږ د پلان له مخي دلته هغه کسان بايد پاته نه سي، چي مزاحمت ايجاد کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



فکري خلکو ته باید له یوې خوا زمینه برابره سي، چي د دوحې او بلي خوا فشار وارد سي، چي مجبور سي؛ ووځي. قطر د اوس له پاره زموږ ماموریت مخ ته وړي او په سیمه کي زموږ نوی نماینده دئ. موږ به چاري له اسلام اباد او دوحې څخه مستقیمي څارو. نور دلته ماموریت پای ته رسېدلی دئ.

داسي ښکاري، چي طوفان را ورسېدی او هر څه بدل سوه. ځکه طوفان جوړوونکو طوفان را پرېښود او جوړ کړل سوی طوفان په غرغنډو را والوتی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# او بالاخره طوفان

بالاخره طوفان را ورسېدی او يو سربلنده ملت يو ستړی ملت ئې په داسې حال کې تر ستوني تېر کړی، چې د ملت مشر او قران اخيستی، له خپلي چوکۍ او خبري پر شا نه سو. همېشه به ئې ويل، زه باعزته سوله غواړم. مگر نه ئې بې عزته سوله وکړه او نه باعزته جگړه. بلکي يوه بې عزته تېښته ئې وکړه، چې ملت او مملکت ئې د طوفان گېډي ته ور ټېله کړئ.

طوفان چې گړندی سو، هر څه د لوېدلو په لور سول. خو لوړی مسؤل کس له ځانه هم نه وو خبر. د کيسې دا برخه د طوفان وروستۍ پنځلس ورځې ساعت په ساعت وړاندي کوي او په دې ورځو کي د طوفان په وړاندي د لوړي کس په تمرکز هر څه وړاندي کوي.

## د اسد لسمه

کله چې يو ملک بحران ته روان وي، د هغه ملک حکومت شپه او ورځ نه لري. لوړی کس په ټوله انرژي د شپې او ورځي لگيا وي، چې ملک له بحرانه وباسي. د ملک لوړی کس، چې همېشه ئې د اتلس ساعته کار ادعا کول؛ په دې ورځ تر نورو ورځو ډېر بې‌غمه وو.

معمولاً د ارگ کاري ورځ له شپږ نيمو بجو پيلېږي. مگر نن د معمول خلاف تر اته نيمو بجو په اجنډا کي هيڅ څه نه سته. پر اته نيمو بجو له لوی درستيز او د ملي امنيت له سلاکار سره ناسته لري. لوی درستيز، چې جگ لوړ او

(c) ketabton.com: The Digital Library



د غټو برېتو او عجبه نظامي قوارې جنرال دئ؛ په چټکو ګامونو سلام خانې ماڼۍ ته ننوځي. په انتظارخانه کي منتظر دئ. وروسته سکرتر راځي او دننه ئې بولي.

جنرال له ننوتو سره سم عسکري سلام وهي. وروسته د جمهور رئيس په اشاره کښېني. جمهور رئيس د وضعيت پوښتنه کوي. جنرال په چټکۍ خبري پيلوي. داسي معلومېږي لکه ښېره چي يې وي. د ملي امنيت سلاکار بد بد ورته ګوري. دی پوهېږي، چي مخکي ئې ښه غيبت سوی دئ. د هغه په کيسه کي نه کېږي او راپور وړاندي کوي: رئيس صاحب محترم، په درې نقاطو کي شديده جګړه لرم. هلمند ئې تر ټولو جنګي حالت کي دئ. زيات تلفات هم موږ ته اوښتي، هم دښمن ته. خو قوتونو هيڅ شا ته تګ نه دئ کړی. هرات کي هم جګړه شديده سوې ده. ځواکونه د تورن صاحب په مشري جنګېږي او په کندهار کي هم اولسي حرکت او هم پخواني سياستوال يوځای په دفاعي حالت کي دي. مګر زموږ ستونزه له امنيت شورا سره ده. موږ نه پوهېږو؛ جګړه موږ رهبري کوو، که دوی؟ لوی درستيز زه يم، مګر ځواکونو ته د جنګ او نه جنګ، د شا ته تګ او منطقي پرېښولو امر د دوی له خوا ورځي. هرات ته اکمالات نه دي ورکړل سوي. له کندهار او هلمند سره خو دوی له وخته معامله کړې ده.

په دې وخت کي د امنيت د شورا سلاکار په ډېر بد رکم مداخله وکړل. ول: ته سرتېری يې، په سياست نه پوهېږې. دا سياسي حالت دئ. موږ سياسي مجبوريتونه لرو.

د لوی درستيز عصاب خراب سول، ول: ستا مسلک نه سياست دئ، نه جنګ. زما پر ميدان سلګونه شهيدان پراته دي. جګړه کور په کور روانه ده، ته سياست راته کوې. دا د کمپيوټر پروګرام نه دئ، بلکي جګړه ده. مرمۍ اوري او دښمن ته مځکه او اسلحه پرېښول د ناموس پرېښول دي. او ستا دفتر زما سرتېرو ته د سنګر او اسلحې د پرېښولو زنګونه وهي.

اوازونه لوړ سول. جمهور رئيس د همېشني عادت پر اساس چغه کړل. دوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



درېږ بد ښکنځل ئې وکړل او وروسته ئې لوی درستیز ته مخ کړی. ول: نظامي چارې ټولي امنیت شورا سلاکار ته سپارل سوي. هغسي وکړه، چي دی وایي. نور دي نه شکایت ووینم، نه تا. زه مصروف یم. که طرحه لرې، راوړه.

لوی درستیز ورته وویل: زما سره طرحه نه، طرحي سته. جنگ زما دنده ده، نو ته جنگي په جنگ کي د کمپیوټر د متخصص تر امر څنگه لاندي کوې؟

رئیس جمهور په قهر وویل: همدا دي جهالت دئ. په یویشتمه پېړۍ کي د تکنالوژۍ په اهمیت نه پوهېږې. طرحي دي امنیت شورا ته وسپاره او نن درې نیمي بجو وروسته د شهیدانو د کورنیو سره خپله خبري کوم. ته خلاص یې. ورځه.

لوی درستیز لکه مات سوی فوج، لکه بایلونکی مبارز مات مات له ماڼۍ ووتی او د امنیت شورا مشاور خپله سره نیکټایي سمه کړه. د قهوې گیلاس ئې ور پورته کړی. تر ژبه لاندي یې په فاتحانه اندازه وویل: د سپي زو، بیا ښور وخوره.

له هغه ځایه سیده د کابینې د غونډي په لور وخوځېدل. په اجنډا کي د سولي او جنگ په اړه هیڅ څه نه وه. دفاع وزیر د جلسې له پیل سره سم وویل، چي حالت بحراني دئ. جگړه باید بحث کړو. د امنیت د شورا مشاور وویل: هر څه زموږ په کنټرول کي دي، تشویش مه کوئ.

د ملي امنیت رئیس ځان ته په زور جرئت ورکړی، ول: رئیس صاحب، وضعیت له لاسه وځي. پر امنیت باید وږغېږو.

په دې وخت کي رئیس جمهور په قهر سو، ول: شرم په کار دئ. زه فکر کوم، د مکتب په کوم صنف کي ناست یم. لږ احترام او اداره زده کړئ. اجنډا مو مخ ته پرته ده، د همهغه پر اساس مخ ته ځو. د بانک رئیس صاحب موضوع له تاسو پیلیږي. د ای تي ایم کارډونو موضوع څنگه سوه؟ زه غواړم، زه او بي بي گل له هر چا وړاندي کارډونه واخلو.

وروسته نوري خبري هم زیاتي وسوې. نهه څلوېښت کسان ټول حاضر

(c) ketabton.com: The Digital Library



ول، خو بیا هم تر اخیره نه پر سوله او نه پر جنګ بحث سوی دئ.

د کابیني له ناستي وروسته د امنیت شورا مشاور او اداره امور رئیس دواړه د جمهور رئیس په دفتر کي ناست وه. جمهور رئیس په ډېر قهر دواړه مخاطب کړل، چي ما تاسي دوه څه شي ته مقرر کړي یاست. اداري او ملکي کارونه د اداره امور د رئیس پر اوږه دي او نظامي د امنیت شورا. ما ته ولي باید جنجالي موضوعات راوړی. ښه پوهېږی، چي زه پر څونه مهمو طرحو کار کوم. بیا ئې په چغه وویل: هغه دوه د سپي زامن د رئیس دفتر او رسنیو مسؤلان ژر را وغواړئ.

په دې وخت کي عاجلتاً دواړه راوستل سول. جمهور رئیس په قهر رئیس دفتر ته وویل: اول خو سم په دې کوچ کي کښېنه. تر اوسه دي د کښېنستلو ادب نه کړی زده او بل دا چای په داسي سور مه څښه. لږ نزاکت مراعت کړه. دوهم د جنګ اړوند هر بحث او موضوع چي راځي؛ امنیت شورا سلاکار ته د ملکي مسائلو موضوعات اداره امور ته او د سولي اړوند د سولي وزیر ته استوه. بودیجوي، پرمختیایي او د طرحو اړوند موضوعات زما دفتر ته استوه او د رسنیو مسؤل تاسي هم همداسي کوئ. نور نو ځئ، چي زه نور کارونه لرم. هغه د امنیت هلکی یو ځل ما ته راولئ.

رئیس دفتر او د رسنیو مسؤل ووتی. د امنیت د رئیس له رانوتو سره سم جمهور رئیس وویل: ما تاسي ته سل ځله ویلي، چي د امنیتي مسائلو په اړه خپله مه ګډېږه. زما د ملي امنیت مشاور او د مذاکراتي ټیم اوسني رئیس ته معلومات او راپورونه ورکوه. نور دي په کابینې مجلس کي برینګ وا نه ورم؛ ورځه.

له دغو ناستو وروسته جمهور رئیس خپل خصوصي استراحت ځای ته ولاړی. پر درې بجې او پنځه لس دقیقې د شهیدانو سوو سرتېرو له کورنیو سره خبري وسوې. له وعدو وروسته چي زرګونه ځله سوي وې، د ویډیو کلیپونه په فیسبوکپاڼو او رسنیو کي خپاره سول. مګر د وعدو سوو مرستو رسول خو پرېږده، د شهیدانو مړي لا چا تر کورونو و نه رسول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پر پنځه بجې د کوچیانو استازي راغلي وه. لومړی خو ئې د ارگ په دروازه کي د تلاشۍ پر مهال د لنگوټو د اخیستلو او د محرمو ځایونو د تلاشۍ پر سر جنگ وسو. وروسته چي جمهور رئیس ته کښېنستل او ورته وئې ویل، چي موږ هم کوچیان یو، ته هم کوچی یې. زړه مو در بد دئ، چي د هغه په دار سوي کوچي په څېر بده ښېښه درسره و نه سي. موږ راغلي یو، چي له تا واورو، چي څه خدمت درته کولای سو.

جمهور رئیس خو اول ورته وویل، چي زه کوچی نه یم. آن تخلص مي لا له همدې امله بدل کړی. زما سره ډېري ښې طرحي دي. قوم ته نه، بلکي طرحو ته اړتیا ده. قومي مشرانو یو بل ته وکتل او بې له خدای پاماني او پایلي غونډه پای ته ورسېدل.

شپږ بجې بله ناسته وه او جمهور رئیس پارلمان ته د یوې وینا وړاندي کولو، (چي دی د دې هر وخت شوقي وو)؛ اماده‌گي نیول. په دې ناسته کي ټوله خبره دا وه، چي څنگه پارلمان ته یوه تاریخي وینا ورکول سي، چي پارلمان د ده له موقفه ملاتړ وکړي.

اووه بجې ئې د کابینې د ډیجیټل کولو لومړۍ ناسته وکړه او دا ئې لویه لاس ته راوړنه بلل، چي جلسات نور په انلاین توگه ونیسي. ولي پر دې هیڅ بحث و نه سو، چي په جلساتو کي اولیتونه څه شي دي.

د طوفان غرږی وو. د هلمند ډېري ساحې د طالبانو لاس ته لوېدلي وې. په لښکرگاه ښار کي پر له پسې بمبارۍ شروع وې او هلمند په وینو رنگ وو. په هرات کي ډېري اولسوالۍ په بشپړه توگه او ځیني نیمي طالبانو نیولي وې. تورن، چي د اولسي قوتونو قومنده ئې په لاس کي وه؛ جمهور رئیس تورناوه، چي د جگړې اکمالات نه ورکوي. مازدیگر ته گذاره هم طالبانو ونیول او د یوناما ځیني کارمندان هم د جگړې له شدته زخمیان وه.

په کندهار کي هم جگړې سخت شدت اخیستی وو او د دفاع وزارت د زیات شمېر مخالفینو د وژلو ادعا کول او طوفان همداسي په ځرخ را روان وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د اسد یوولسمه

هغه ورځ، چې هر څه ئې وپاشل. هغه بیانیه، چې ټول باورونه ئې ختم کړل. هغه غونډه، چې ټولو ته ئې ثابته کړه، چې واک نه پرېږدي؛ که په هر قیمت وي.

نن د اسد یوولسمه وه. معمولاً په دغه ورځو کې هوا ډېره گرمه وي. جمهور رئیس پر اته نیمي بجې د امنیت شورا له سلاکار سره یوځای د افغانستان بانک ته ولاړی، چې د اې ټي ایم ماشین پروسه پیل کړي. وطن د تباهۍ پر اوږو سپور وو. د مسلحو قواوو سراعلی قومندان د مسلحو قواوو پر ځای د پیسو په ډیجیټلي کولو بوخت وو. فراه، نیمروز، کندهار، بغلان، هلمند او هرات کې سخته جگړه روانه وه او سراعلی قومندان د جنگ د نخشې پر ځای د بانک دروازې ته ولاړ وو. له هغه ځایه د پارلمان قصر ته ولاړی. هلته دواړه مجلسه یوځای راټول سوي وه او جمهور رئیس غوښتل، خپل دریځ اعلان کړي.

که څه هم بیانیه په ډېر عالمانه طرز او لوړ ادبي انداز لیکل سوې وه، مگر د ده د خبرو له طرز سره بالکل په ټکر کې وه. که څه هم دا بیانیه د جنگ اعلان او د سولې مقاطعه وه، مگر جمهور رئیس د پخوا خلاف په ډېره کږه غاړه او ماته خوله وړاندي کړه. په خبرو او حاضرینو کې تناقض وو. په بیانیه کې لیکل سوي خبري روان حالت او د جمهور رئیس سره مجلس ته راغلي خلک ډېر په تناقض کې وه.

د جمهور رئیس د نن رویه تر پخوانیو ډېره متفاوته وه. پخوا به هغه پارلمان ته سخت په غوصه او قهر راتلی او د خبرو طرز به ئې همېشه ډېر تند وو. مگر د نن بیانیه د ماهئیت له لحاظه د جنگ اعلان وو، مگر د وړاندي کولو طرز ئې ډېر نرم، مات او په نه زړه وو. هغه همېشنی طرز، چې جمهور رئیس به درلودی؛ نن نه وو.

په داسي حال کې چې امریکا مشکلات له طالبانو سره خلاص کړي وه او

(c) ketabton.com: The Digital Library



خبره بين الافغاني مذکراتو ته ولاړه وه؛ مګر په همدې بيانيه کې سوله بې معنا اعلان سول او طالبان نه اصلاح کېدونکي متجاوزين او بايد ټول ووژل سي؛ اعلان سول. جمهور رئيس حتی هغه خلک، چي د سولي خبري ئې کولې؛ ماکرين او دسيسه‌بازان وبلل او جالبه دا وه، چي مخالفين خوارج او نامسلمانه وبلل سول او سولي ته وروستی اميد هم خاموشه سو.

د جګړې اعلان وسو، مګر مخالفين قوي سمبال او پياوړي وبلل او خپل قوتونه ئې پاشلي وبلل. له بلي خوا ئې رهبران رهزنان، غله او باج اخيستونکي وبلل او اختار ئې ورکړی. له بلي خوا ئې همهغه د بندرونو باج اخيستونکي او رهبران او قاچاقبرانو ته د جنګ د رهبري کولو دنده وسپارل او هغوی د مردمي قوتونو په نوم د امنيت شورا د دفتر تر رهبری لاندي د هر ډول امکاناتو په درلودلو سره مسؤل قوتونه ياد کړل.

بيا ئې د حکومت ټول سياسي مخالفين دښمنان وبلل او ټولو ته ئې اختارونه ورکړل.

په شپږ مياشتي کي ئې د جګړې ګټل حتمي وبلل. له دې ناخبره، چي په ديارلس ورځي کي به هر څه هيڅ سي. د بهرنيانو هر ډول ملاتړ ئې ډاډمن وبلی، مګر بيرته ئې په افتخار اعلان کړل، چي بهرنيان ټول وځي او دا زما لاس ته راوړنه ده.

مدني فعالان، رسنۍ او نور ټول فعالان ئې يو څل طالبان وبلل او بيرته ئې خپل ملاتړي. مګر کله چي خبري د بيانيې اخير ته راغلې؛ کيسه ئې خرابه کړه. پرېکړه ئې تاريخ ته يووړه او تاريخ ته بحثونه هغه وخت حواله کېږي، چي نور هر څه ختم دي او ده په دې کار اخيري مېخ ټکواهه او تابوت ئې تيار کړی، چي تور او سپين به تاريخ معلوموي.

جمهور رئيس او سياسون په بيانيو او د جګړې په اعلانولو مصروف وه، خو په هرات، هلمند، کندهار، کنړ او نورو سيمو کي عملاً شديده جګړه روانه وه. يواځي په هرات کي سل نظاميان او د اولسي پاڅون جنګيالان شهيدان وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په کنړ کي نږدې اووه سوه کورنۍ بې ځايه سوي وې او دفاع وزارت اعلان وکړی، چي په تېره يوه ورځ کي ئې په پنځلسو ولايتونو کي څلور سوه پنځه پنځوس طالبان وژلي دي. دوی جګړې اعلانولې، مګر د رواني جګړې د مهارولو او درولو ظرفيت او توان دواړه ئې نه درلودل.

## د اسد دوولسمه

د جګړې څپه تېزېږي. په حيرانوونکې توګه مخالفينو ته سيمي ور پرېښول کېږي او له هغو سره عام خلک، چي نور باورمند دي؛ دوی ګټونکي دي؛ يوځای کېږي. د اسلحو امبارونه او ګدامونه ور خلاص دي. زندانونه ماتوي او جګړې ته تازه دمه قوتونه پر له پسې رسېږي.

د اور لمبې دي. هرات کاملاً محاصره دئ. له دې ښاره د پخواني جميعتي قومندان تورن، چي د اولسي پاڅون مشر دئ او نورو ډلو ويډيوګاني خپرېږي، چي په منډو دي. د يوه سپين ږيري عکس په ټولنيزو رسنيو کي لاس پر لاس کېږي، چي د سقيل يا ماشيندار (پيکا) سره کښته او پورته کېږي او په سنګر کي ناست دئ.

په هلمند کي پر له پسې ډزي اورېدل کېږي. کله کله لويي چاودني وسي، بيا طيارې راسي، بمونه وغورځوي.

په ارګ کي تر نهو بجو امنيتي راپورونه واورول سول. رئيس جمهور د پلان سره سم يواځي راپورونه اوري. هيڅ علاقمند نه دئ. د مسلحو قواوو په اړه اصلاً څه ووايي، يا وکړي او له رويې يې ښکاري، چي په هر څه پوه دئ، خو ځان تېروي.

په دغو ورځو کي چي د هيواد په ټولو برخو کي اور بل دئ، د جمهور رئيس ليدني له تجارتي چوکاټ او تر شپږو نورو محدودو نه راوځي، ځکه دغه کسانو ټولي ارګ ته غځېدلي لاري ځان ته محدودي کړي او هر څه ئې پر ځان

(c) ketabton.com: The Digital Library



تمامه کړي. د دې پر ځای، چې خلک خپل نظریات، خواهشات او لاري مستقیم رئیس جمهور ته ورسوي؛ دغه خلک یې تر منځ حایل دي او یواځې هغه خبري او کسان رسوي، چې دوی غواړي او جمهور رئیس له دغه حالته چندان ډېر خوابدی نه دئ. داسي معلومېږي، چې دی همدا غواړي. هغه د ورځې په اوږدو کي په هرات کي له خپلو کارمنانو سره تشریفاتي خبري وکړې. خو له هراته ښه خبرونه نه راځي.

په دې ورځ جمهور رئیس د رسنیو له مسؤل، د امنیت شورا سلاکار، د اداره امور له رئیس، د شمالي ایتلاف له پخواني مرستیال؛ یوه تن تاجر، د سولي د عالي شورا له مرستیال او د اداري اصلاحاتو د کمېسون له رئیس سره لیدلي دي. په دغه سخته جنګي ورځ له هیڅ نظامي او جنګي ارګان یا کس سره لیدل نه دي سوي.

په کومه ورځ چې حکومت غرقېدو ته روان دئ او نظامي حالت حاکم دئ؛ جمهور رئیس د ورځې تر اخیره د حکومت د کارمنانو د معاشاتو په الکترونیکي کولو بوخت وو. د شپې نهه بجې له درو نامطلوب کسانو سره شخصي لیدني درلودلې او د امریکا له سفر وروسته د هغه ورځنی کار دا وو؛ که چیري امریکا پر پاته کېدو قانع کړي او پر له پسې کوښښ کوي، له یوه او بل امریکایي لوري سره خبري وکړي. مګر هغو خپل تصمیم نیولی، هر څه خلاص دي. په دې ماښام هم هغه د امریکا د بهرنیو چارو له وزیر سره تلیفوني مذاکره درلوده، چې ښه نتیجه ئې نه درلودل.

د هلمند جګړه په دغه ورځ خپل اوج ته ورسېدل. بین الملل سازمان اعلان وکړی، چې نن یواځې په لښکرګاه کي څلوېښت تنه شهیدان دي او د هلمند د جنګ قومندان په رسمي توګه اعلان وکړئ په هلمند کي د جنګ له ساحې ووځئ. موږ ئې له طالبانو سره معلوموو. او جالبه دا وه، چې د طالبانو د جګړې قومنده د هغه تبادله سوي طالب قومندان پر غاړه وه، چې همدې حکومتي قومندان څو ورځې وړاندي نیولی وو او تازه بیرته ازاد سوی وو او په مخابرو کي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ئې یو او بل ته ښکنځل تبادله کول. بیخي مخامخ او لاس په لستوڼي جګړه روانه وه.

د بین الملل سازمان په دې ورځ په ټوله افغانستان کي بد وضعیت اعلان کړی. حالت کرار کرار سختېدل او ملت کرار کرار غرقېدی.

## د چهارشنبې ورځ د اسد (۱۳مه)

امنیت او امنیتي ارګانونه د جګړو د زړه او د لارو د جوړونکو حیثیت لري، مګر تر ټولو جالبه دا وه، چي د امنیت اختیار کل او مسؤل د سولي د مذاکراتي ټیم رئیس هم وو. دوه متضاد دوه تر ټولو مهم جریانونه د یوه کس په لاس کي وه. دا داسي معنا لري، چي یو کس له خپل ځان سره شطرنج شروع کړی وي. دواړه لوبي خپله کوي، هم د ځان فکر کوي، هم د حریف.

د نن ورځ له همدې ریشخنده پیل سول، چي د سولي او جګړې مسؤل لومړی د جګړې راپور وړاندي کړی، چي رئیس جمهور چندان غوږ پر و نه نیوی، خو په سوله کي ئې ډېري خبري کښته او پورته کړې. که دا داسي وکړي، دلته چانسونه لږ دي، دلته ډېر دي.

نور بیا د نورو ورځو په څېر د رسنیو مسؤل د امنیت شورا مشاور، د اداره امور رئیس او د جمهور رئیس د دفتر رئیس ملاقاتونه وسول. په دغه ورځ ئې ولایتي شوراګانو ته بیانیه هم ورکړل. له دې بیانیې وروسته ئې د نظامي تعیناتو له بورډ سره، چي ده خپله رهبري کاوه؛ ملاقات درلود. جالبه دا وه، چي دفاع وزارت، امنیت ریاست او داخله چارو وزارت خپل منابع بشري درلودل، مګر په ارګ کي بل بورډ جوړ سوی وو، چي نظامي تعینات وکړي. نو خود به اداره یو له بله شکېدلې او پرې وه. کس چي بورډ وټاکی، جواب ګویه به چا ته وي؟ ګذارش او اکمالات به له چا غواړي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



له غرمې وروسته د امریکا سفیر راغلی او کوښښ ئې کاوه، چې دی لږ قانع او له پرېکړو سره سم ولاړ سي. مګر ده یواځې یوه خبره کول، چې دی د دې ملک رئیس جمهور دئ؛ خلکو ټاکلی. په هر صورت کې ستاسي خبرو ته غوږ نیسم، چې زما شرایط به منئ. ولې هغه هیڅ عملي نه وه. د ټولو لورو توافق دا وو، چې دی دې نه وي، مګر د ده اول شرط دا وو، چې موقته نه بلکې اضطراري اداره دې اعلان سي. دی به په درې کاله کې هر څه تېر کړي، مګر اوس ډېر ناوخته وو؛ هر څه خلاص وه.

کله چې دې خبرو نتیجه ور نه کړه؛ جمهور رئیس د امریکا پر ضد ناڅاپه د ایران دعوت د نوي رئیس جمهور د تحلیف مراسمو ته ومنی. ډېرو مشاورینو ورته وویل: په دونه حساس وخت کې څو سنګره خلاصول نه دي لازم؛ مګر هغه و نه منل.

نن په مجموعي توګه د لوی کندهار په خاصه توګه د هلمند او کندهار وضعیت سخت خراب وو. د لوی کندهار هغه مشران، چې شل کاله ئې ځانونه مشران کړي وه؛ د ځان له بېرې د پخواني جمهور رئیس په کور کې راټول وه. ډېرې تندې خبرې تبادله سوې، ځیني کسانو خو ډېر په شدت پخوانی ولسمشر محکوم کړئ، حتی یوه سپین ږیري ورته ویل: یوه ورور دې د ښار ګرده قومي مشران مړه کړه. بل ورور دې عینومېنه چور کړه او اوس دې یې له کشر ورور سره پر جنګ دئ.

هغه له پخواني عادت سره ټولو ته ویل: هر څه منم. هر څه به سوي وي. اوس څه کوی، جنګېږی؟ یوځای کېږی؟ که سوله کوی؟

له ډېرو اوږدو بحثونو وروسته فیصله وسوه، که زور هم معلوموي؛ د ښار دباندې به وي. که کمربندونه را مات سوه، په ښار کې به څوک جنګ نه کوي.

دوی همدا خبرې کولې، چې ډېره درنه چاودنه وسوه. په مخابرو کې نارې سوې. یوه ساتونکي ږغ وکړی، ول: خیر و خیرت دئ. د وزیر دفاع کور موټر بم وواهه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا پس له شپږو میاشتو لومړی په ښار کي دننه لویه حمله وه او دا د ارگ او امریکا سفارت د اړیکو د خرابېدو لومړۍ اخطاریه وه.

د رزوگان یوه مشر په زوره اناالله وانا الیه راجعون وویل. ټولو ورته وکتل، هغه وویل: د روزگان یواځنی مشهوره لیکوال او مؤرخ بارک عاطفي ئې په خپل کور کي وژلی دئ. داسي ښکارېده، چي هر څه د پاشل کېدو خوا ته روان دي او مشکلات شېبه په شېبه زیاتیږي. ټول غوږ غوږ دي، چي څه کیږي.

## د اسد څوارلسمه د پنجشنبې

په ښارونو کي اور بل وو. د نیمروز کنگ اولسوالي له اوږدې محاصرې او تېزي جگړې وروسته تسلیم سول او جمهور رئیس چي لومړی ئې د امریکا غوښتنو ته غاړه کېښېښول او ټول تازه دمه هوسا سوي او په زندانونو کي ښه عقدیان سوي او چاغ سوي. دوولس دیارلس زره تنه، چي دوی وه، یا د دوی په تور بندیان سوي وه؛ ازاد کړل او بیرته ئې د امریکا سره دښمني اعلان کړه. نو که تا دښمني او جگړه کول، دښمن ته دي بندیان ولي ایله کړه. د هغوی ختم سوی بشري ځواک دي ولي ور پیاوړی کړی.

او د امریکا په ضدیت کي دونه بې حسه سوی وو، چي په همدې ورځ ایران ته له رسېدو سره هلته سفیر، چي د ده نازدانه هم وو؛ ورته وویل: رئیس صاحب، بې وخته رانغلې؟

ده په ډېر قهر ورته وویل: خپله شاعري کوه.

بیا ئې په زوره زوره په خپل لحن وخندل او خجالت غوندي هم سو.

ایران دا مهال تر حکومت له مخالفینو سره ډېري قوي اړیکي درلودلې او له دغه سفر څخه یوه میاشت مخکي ئې د مخالفینو او حکومت د یوې ناستي منځگړیتوب هم کړی وو، چي امریکا په دې هیڅ نه وه خوشحاله.

د لښکرگاه ډېره برخه طالبانو نیولې وه. هرات هم نیم په نیمه وو. د جگړې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ملاتړ او روحیه قصداً اخیستل سوې وه. د هرات د اولسي پاڅون مشر حکومت تورن کړی، چي کړي وعدې ئې پوره نه کړې او دی ئې تش د دښمن په وړاندي په سنگر کي درولی دئ.

## د جمعې ورځ د اسد پنځلسمه

دا ورځ د سقوط سبب او پیل سول. د امریکا له سفیر سره له ناستي وروسته نور جمهور رئیس نه چا ته غوږ نیوی، نه ئې چا ته حال وایه.

په دغه ورځ د ټول عمر خلاف، چي جمهور رئیس به په بهرنیو سفرونو کي درېشي اغوستل؛ افغاني لباس او شخه لنگوټه ئې تړلې وه. د سپاه مشر ورته راغلی، روغبړ ئې وکړی. مگر ښه راغلاست په مجموعي توگه ډېر سوړ وو. د جلسې په اخیر کي یوه شناوي سړي، چي وروسته په کابینه کي وزیر خارجه اعلان سو؛ د سپاه له مشر سره راغلی او په ټوکه ئې جمهور رئیس ته وویل: داسي ښکاري، چي د لنگوټو والا ښه راغلي ته دي اماده‌گي ونیول او بیا یې ژر خبره بلې خوا ته واړول.

دوی به لا په مجلس کي وه، چي د وتلو په حال کي جمهور رئیس خپل ټیم ته وکتل، چي یو له بل سره پس پسک کوي. جمهور رئیس سخت کړونچېړي: که مهمه خبره وي، په زور ووایاست، چي زه هم خبر سم.

لومړي سکرټر غوښتل خبره واړوي، خو د جمهور رئیس قهر مجبور کړی، چي ووایي نیمروز سقوط سو.

سفیر کرار وویل: امریکا خپل انتقام واخیست.

سکرټر لږ زړور سو، ویل: شبرغان هم سقوط سو، خو د مارشال زوی د ولایت مقر بیرته نیولی دئ.

په دې وخت کي د سفیر له خولې ووتل: واخ دواخان.

جمهور رئیس عاجل ورته وکتل، ول: څه خبره ده؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



سفیر وویل: د ارګ د ویاند مرستیال دواخان مینه‌پال ئې پر دارالامان سړک په شهادت رسولی او طالبان ئې د وژلو پړه هم اخیستې ده.

جمهور رئیس نور له خولې لاس واخیستی او پر له پسې توګه ئې ټولو ته ښکنځل کول، خو امریکا ئې په هره دوهمه ښکنځله کې یادول.

بیا سکرتر ته وویل: مارشال پیدا کړئ، سبا ئې ملاقات ته را وغواړئ.

# د شنبې ورځ د اسد ۱۹

وایي اوبو اخیستی ځګ ته هم لاس اچوي. بالاخره د کلونو جدایي او تبعید وروسته جمهور رئیس خپل پخوانی مرستیال او بدعمله جنرال په ناز او نواز پخلا کړی او په ارګ کې ئې ملاقات ورسره جوړ کړی. جنګي قوماندان د مارشالۍ په دریشۍ کې خمار جمهور رئیس ته وویل: ګلم جم مي اوس هم لېوان دي. نظامي حالت اعلان کړه. زه درسره یم.

جمهور رئیس په ټوکه ورته وویل: زموږ له یوه بل احمدزي سره ورسره وې، هغه خو دي په اعدام کړی.

له دې سره ټولو په زوره وخندل.

هره ورځ په لیست کې د پیسو د چاینلونو سره حتماً مجلس وو. د اداري اصلاحاتو پخوانی رئیس، چې اوس د مذاکراتو د ټیم غړی وو؛ د نن لومړی ملاقات درلودی. له هغه وروسته د بانک بهرنی رئیس، چې اوس ئې د غزني تذکره هم ورته اخیستې وه؛ اوږد محاله نامعلوم مجلس درلودی.

وروسته ئې د ستري محکمې له هئیت سره وکتل، چې ده ته حقوقي حل لاره ور وښیي. خبري ډېري وسوې، خو له مجلس وروسته جمهور رئیس لومړي سکرتر ته وویل: دا جمله مي ډېره خوښه سوه، چې حقوقي هیڅ تسلیم نه کړم. نه استعفاء او نه هم حکومت سپارل. لاره باید همداسي خلاصه پرېږدم.

مازدیګر مهال په رسنیو کې عکسونه او ویډیوګاني خپرېدلې. طالبانو

(c) ketabton.com: The Digital Library



شبرغان او د خمار مارشال کور ونیول او یوه طالب د مارشال درېشي اغوستې وه او ریشخند ئې په واهه.

او له شبرغانه پر څلور ولایتونو کندوز، تخار، بدخشان او مزار حملې شروع سوې.

## د یک شنبې ورځ د اسد اووه لسمه

نن جمهور رئیس تر اته نیمو بجو نه وو راوتلی. ډېري ورځي وروسته ئې له لومړي مرستیال سره د لیدلو وخت ټاکلی وو. داسي معلومېده، چي تر منځ ئې وضعیت سم نه دئ. مګر په ښکاره څه خبره نه راوتل. د دې مجلس په محتوا څوک پوه نه سول، خو اوازونه ئې پورته وه. داسي ښکارېده، چي لومړي مرستیال د جګړې او امکاناتو او واک اخیستلو کوښښ کاوه، مګر نتیجه ئې نه درلودل.

له دغه مجلس وروسته بیا هم د هغو څلورو تنو مجلس وو. اول د رسنیو مسؤل، بیا د امنیت شورا سلاکار، بیا اداره امور رئیس او بیا د دفتر رئیس.

د ورځي په منځ کي د پخواني جهادي رهبر، چي په پغمان کي اوسېدی؛ له هغه سره هم مجلس وسو او د هزاره ګانو له عینکي مشر او د پخواني جمهور رئیس له مرستیال سره هم تلیفوني خبري وسوې. داسي ښکارېده، چي جمهور رئیس غوښتل یو ځل بیا د جنګیانو لمني ته ځان ور واچوي. خو هغوی هغه زاړه جنګیان نه وه، زور ئې اوبه سوی وو.

جالبه دا وه، چي په دې ورځ جمهور رئیس د خپل تجارتي شریک او د کاکا زوی، چي په پروژوي مافیا او د المپیک په قبضه کولو تورن وو، په فرمایش د هغه له فرمایشي المپیکي ډلي سره د ولایتونو د سقوط په جریان کي باندار درلودی او په همدې ورځ ئې له ځیني تاجرانو سره هم ملاقات درلودی.

د شپې پر نهه بجې ئې یوه پټه تلیفوني مکالمه هم درلودل، چي هیڅوک

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوه نه سول، چې څوک وو او د څه شي په اړه وو.

د همدې ورځې تر ماښامه سرپل په بشپړه توګه سقوط سو او په کندوز کې جګړه په شدت سره روانه وه. د هلمند او هرات جګړه په خپل اوج کې وه او دواړو لورو خپل زور ښکاره کاوه.

# دوشنبې ورځ د اسد اتلسمه

پېښې زياتېږي، مګر ارګ ډېر کرار او عادي لګيا دئ، لکه هيڅ چې نه وي پېښ. طوفان همېشه مخکې سېلۍ لېږي. دا سېلۍ را رواني دي. مړي دي، جګړې دي. د سيمو سقوطونه روان دي، مګر ارګ د همغه پنځو کسانو په پنجو کې دئ او جمهور رئيس ته نه څوک ور پرېږدي او نه هم څوک جرئت لري، چې خبر ور ورسوي. هر څه ورته محدود کړل سوي، يواځې هغه کسان او خبري ور رسيږي، چې همدغه محاصره کوونکي ئې غواړي.

په منځ منځ کې خپله جمهور رئيس د يو چا ليدل وغواړي، يا خبري وکړي؛ هغه کيږي. نور هر څه په ابهام کې روان دي. هيڅوک نه پوهيږي، چې څه کيږي. د هر چا دا فکر دئ، چې يوه معامله روانه ده، خو خرابيږي، که فقط حکومت بدليږي. نور هر څه سم دي. شل کلني جګړې هغوی، چې جګړه ئې روانه ساتلې؛ دوی نشه او مست کړي. توقع ئې نه ده، چې هر څه ختميږي او حالات بدليږي. هر څوک يو بل چا ته په تمه دي. هر چا يو ځای تارکی غځولی دئ. خپل پلان هيڅوک نه لري، هر څوک د بل پلان ته منتظر دي.

جمهور رئيس په دغه ورځو کې تر ټولو زيات هغه خلک ويني، چې په تېرو شلو کالو کې ئې تر ټولو ډېر سپک کړی او ډېر ورسره جنګېدل. نن په هغوی کې بقا پلټي.

پخوانی جمهور رئيس چې ئې تورنوی، چې دوی ته ئې ډېر وخت ورکړی وو؛ دی اوس خپله ويني، چې اصلي د قوت منبع همدا دوی وه او زور ئې ټول

(c) ketabton.com: The Digital Library



له خارجي منابعو سره وو؛ چي د هيچا زور نه په رسېدی. هغه د نن ناستي د پخواني جهادي قومندان او د ټلوالي وياند او بيا د پخواني جمهور رئيس ور وستی. لومړي مرستيال سره وه، هغه ورته وويل: پاکستان تماس نيولی او ملاقات غواړي.

جمهور رئيس وويل، چي په دې اړه به بيا وړغېږو. ته اوس د مقاومت امکان لرې، که نه؟

هغه ورته وويل: مقاومت خو په امکاناتو کېږي. هغه امکانات ټول يا بهرنيانو په ډې ډي آر کي ټول کړل او يا ئې هم د ډيپوګانو څخه د زړو اسلحو په نوم ټوله نامعلومو ځايو ته انتقال کړل. حتی خپل راکړي سټينگر ئې خپله بيرته دانه په يونيم ميليون ډالر رانيول.

دا ملاقات بې نتيجې پای ته ورسېدی. د پخواني جمهور رئيس د دفتر له رئيس سره مجلس وو. له هغه ئې د کابل د غرب ملاتړ وغوښتی. هغه ته ئې وويل: لوبه تاسي ته جوړه ده. په داعش مو ختموي.

له دغه مجلس وروسته ئې کوښښ وکړی، قوتونه تشويق کړي. ويډيويي مکالمې ئې وکړې، خو خبري او له هغو لورو روحيه دونه ضعيفه وه، چي هغه ويډيوګاني ئې خپرې نه کړې.

له هغه وروسته ئې د بين الملل له خاص استازي سره وليدل. هغه ته ئې د ټولو بهرنيو قوتونو بلخصوص امريکا شکايت وکړ، مگر هغه يواځي د اوربند او سولي خبره کلکه نيولې وه.

له دې وروسته ئې هغه کسان، چي تازه د ځان د ساتني له ډاره د حکومت ملاتړ غوښتنی وو؛ غونډه را وبلل او له هغوی څخه ئې د مقاومت او جگړې وعده واخيستل. مگر په دې ناسته کي بيا هم هغه کسان نه وه، چي واقعاً تاثيرگذاره وه.

له هغه وروسته ئې امنيتي غونډه را وغوښتل. د ټولي ورځي د جگړې دوسيه ئې جوړه کړه او د امريکا سفير ئې را وغوښتی. هغه ته ئې وضعيت

(c) ketabton.com: The Digital Library



تشریح کړی او د ټولي ورځي د جګړې دوسیه او ملاتړ ئې ور ښکاره کړی. هغه غوږ نیولی وو. په اخیر کي ئې یواځي دونه وویل: زه به ستاسي خبري ورسوم. خو د افغانستان موضوع زموږ له لوري تړل سوې. موږ یواځي اوس پر سوله تمرکز لرو. جګړه په انتخاب کي نه سته.

په همدې ورځ سمنګان سقوط سو او د شمال خلک د جګړې او طالبانو له ډاره پر کابل را شور سول او د کابل پارکونه او دښتونه د بې ځایه سوو خلکو ډک سول.

ماښام ته تخار هم په بشپړه توګه سقوط سو. تر دې وخته په دغه ورځ زرنج، شبرغان، تالقان او ایبک په بشپړه توګه تصفیه او د طالبانو واک سو او طالبانو پر مزار، میمنه، پلخمري او فیض آباد حملات تېز کړل. حکومت اعلان وکړی، چي په تېره شپه او ورځ کي ئې پنځه سوه نهه اویا طالبان وژلي دي، مګر طالبانو رسماً دا خبر درواغ باله.

## سه شنبې ورځ د اسد ۱۹

د حالاتو پېژندل او له هغو سره حرکت د یو ښه رهبر تر ټولو مهمه ځانګړتیا ده. دا په روانو ورځو کي، چي د سقوط او جګړو لړۍ شروع سوه؛ ډېره عجبه وه، چي د جګړې د تحلیل او محار له پاره هیڅ ځای نخشه نه وه غوړېدلې او مشترکه رهبري نه وه ناسته، چي جګړه عملاً وګوري، بررسي ئې کړي او تحلیل ئې کړي او بیرته پلان وضعه کړي.

په ارګ کي یواځي همهغه عادي حالت حاکم وو. پنځه ویشت ولایتونو کي جګړه روانه وه او لس ولایته سقوط وه؛ خو د ارګ حالت هم هغسي عادي وو.

جمهور رئیس د معمول په څېر امنیتي راپور واورېدی. وروسته ئې د ملي انکشاف د شرکت له رئیس سره ملاقات درلودی. بیا د معارف له وزیري سره

(c) ketabton.com: The Digital Library



ولیدل.

کله چي د دفاع وزارت فشار زیات سو، وزیر دفاع او لوی درستیز ته ئې موقع مساعده کړه. په دغه مجلس کي اوازونه ډېر پورته سوه. لوی درستیز په سخت قهر جمهور رئیس ته وویل: زما سلګونه سربازان پر میدان شهیدان پراته دي. دغه اومه خوله هلک نه د تلیفون جواب وایي، نه مو تر تا را پرېږدي.

وزیر دفاع په سخت قهر وویل: پر کور مي د موټر بم چاودنه وسوه، بیا هم نه یم توانېدلی، چي ستا سره تماس ونیسم. نیم هیواد سقوط دئ. موږ درې سره ارګانه امنیت، داخله او دفاع له ارګه پرې یو.

د امنیت مشاور په وزیر دفاع زور نه رسېدی؛ لوی درستیز ته ئې ویل: خپله ناکامي پر ما مه تاوانوئ.

رئیس جمهور هم عصباني سو او خبره بیخي غالمغال ته ورسېدل. جمهور رئیس ښکنځل شروع کړل او لوی درستیز همداسي په عسکري طلاطم او قهر بې له اجازې ووتی. ول: تاسي پوه سه، حکومت مو.

له هغه وروسته امرالله صالح بیا راغلی او خپلي پخوانۍ خبري ئې تکرارولې، مګر جمهور رئیس په یوه او بله غلطوی.

وروسته د کابل د غرب درې سره مشران راغلل او جمهور رئیس چي د داعش په اړه ډارولي وه؛ د امنیت رئیس ئې هم ورته را وغوښتی او دوی ئې مقاومت ته را وبلل. د امنیت شورا مشاور ورته وویل، چي زه به ټول تسهیلات درکړم، خپل امنیت خپله ونیسئ.

له دې وروسته جمهور رئیس د سولي له وزیر سره ولیدل او بحث همدا وو، چي سوله باید په هغه شرایطو وسي، چي دی ئې غواړي. له هغه وروسته ئې د رسنیو له مسؤلینو سره ملاقات وکړی او له هغوی ئې خواهش وکړی، چي د سقوط خبرونه مه خپروئ، روحیه خرابېږي.

بیا د امنیت د شورا سلاکار د برتانیا د سفارت د کاردر مجلس ته بوتلی. هغه ته هم جمهور رئیس همدا خبره کول، چي تر وروستۍ ساه جنګېږي. هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



څو واره په رمازه کي ورته وويل، چي هر څه خلاص دي. مګر جمهور رئيس هيڅ نه اورېدل.

په فراه، بلخ، بغلان او فارياب کي سخته جګړه روانه وه. د فراه ځيني سيمي سقوط سوې او د کاپيسا د نجراب د اولسوالۍ د سقوط راپوروونه هم خپرېدل. په دغه جګړو کي يواځي په کندهار، فراه او بادغيس کي دېرش زره کورنۍ بې‌ځايه سوي وې.

د کابل پارکونه او کوڅې له شمال څخه د راغلو خلکو څخه ډک وه. او جمهور رئيس او ټيم ئې له خپله ضده نه پر شا کېدل او هر څه ئې په خپلو شرايطو مقيد کړي وه. نه ئې جګړې ته زور او قوت درلودی او نه هم د جګړې يا سولي پلان.

## چهارشنبه د اسد شلمه

په دې ورځ جمهور رئيس مزار ته ولاړی، د والي په قصر کي ئې غونډه را وغوښتل، مګر د شمال زورور امپراطور خودخوانده او خمار مارشال حتی ورته را نه غلل. والي بهانه وکړل، چي د جنګ په محاذ کي دئ. بالاخره جمهور رئيس مجبور سو، د امپراطور کور ته ورغلی. هغه دوستم او نور هم راټول کړي وه. هلته ئې د ځواکونو واک ټول امپراطور ته ورکړی او مارشال ئې معاون سو.

په پنځه ويشت ولايتونو کي جګړه روانه وه. په همدې وخت کي طالبانو اعلان وکړی، چي بدخشان مکمل د دوی تر تسلط لاندي دئ.

مارشال او ګلم جم ئې اعلان وکړی، چي اوس به شمال بيا د طالبانو هديره سي. په همدې هيله د مزاري نظامي واکمنو اعلان وکړی، چي دوه سوه جنګيالي ئې په دې ورځ وژلي، چي درواغ وه.

په همدې ورځ د امنيت شورا په خورا بې منطقه توګه د هلمند جبهه ماته کړه. د جګړې دواړه قومندانان ئې کابل ته وغوښتل. يو ئې لوی درستيز اعلان

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړی او بل د خاصو ځواکونو قومندان. هلمند یواځنی جبهه وه، چې پنځه ویشت ورځې ئې بې له توقفه جگړه کړې وه او په دې سره هغه خط مات سو.

## د پنج شنبې ورځ د اسد یویشتمه

دا ورځې لکه غلبوزي سړی خوري. وخت هیڅ نه تېرېږي. ټول منتظر دي، چې څه کېږي. هغوی چې جنگېږي، هم په تمه دي، چې جنگ درېږي. او ټول فکر کوي، چې یو څوک سته او هر څه پر مخ بیایي. مگر په حقیقت کې هر څه پر خپل سر روان دي. هیڅوک، هیڅ چیري جدي نه دي مصروف.

جمهور رئیس سهار بیا له انگک بنگک او کللوله سنگکه سره، چې همېشه هر سهار په قطار کې ناست وي؛ ملاقاتونه لري، خو ترتیب ئې کله ناکله بدل سي.

نن لومړی د امنیت د شورا سلاکار، بیا د اداره امور رئیس، بیا د دفتر رئیس او بیا د رسنیو مسؤل ولیدل. بیا ئې د پرون په تداوم د کابل د غرب گروپ ولیدی او له هغو ئې د مقاومت غوښتنه وکړه.

لسو بجو ته یو بد خبر راغلی، چې غزني سقوط سو او والي ئې د کابل خوا ته را روان دئ. په موټر کې ئې یادگاري عکس هم اخیستی وو. په څو ساعتو کې په وردگو کې پولیسو ونیوی او برحاله والي ئې بندي کړی. د هرات جگړه د هرات تر ارگ او لویې جامعې را ورسېدل. د جگړې د مشر ویډیوگاني خپرېدلې، چې په لویه سپینه ږیره چانټه وهلې، په منډه وو.

درې نیمې بجې په ارگ کې ځوانانو انډوخر اچولی وو. هغه خلک، چې ارگ حکومت او د غني ټوله اداره ئې په سرو جرابو او سرو نیکټایو بدنامه کړه. زر تنه ځوانان په عجبه عجبه سټایلو کې راټول کړي وه. ملت په وینو کې غرق وو. ځلمیان نینه نینه کېدل. دوی په ارگ کې د ځوانانو د ورځې جشن نیولی وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



جمهور رئیس په دې پوه سوی وو، چي د جوان سازي پر ځای ئې اداره ماشوم سازه کړې ده.

جمهور رئیس په قهرجن انداز او ځړېدلي مغزي تالار ته ننوتی. په ځوانانو کي هغه پخوانی جوش هم نه سته. اصلاً د ځوانانو ځای په داسي حالاتو کي سنگر او د اولس ویښول دي. دوی ناست وه، خپله ورځ ئې لمانځل.

رئیس جمهور د معمول خلاف د ادارې د ځوانولو او د ځوانانو پر موضوع نه رِغیږي. احساساتي دئ. داسي ښکاري، چي دا خبري ور رسېدلي، چي ټول وایي، باید استعفاء وکړي. ډېر په قهر او چغو ئې وویل، چي ملت ټاکلی ملت دي بل مشر وټاکي، چي زه لیري سم. چي دا خپله یو ناممکنه مسئله وه او ټول په دې پوهېدل.

د شپې نهه بجې جمهور رئیس په ډېر قهر د امریکا له خارجه او بهرنیو چارو له وزیرانو سره خبري کولې. هغو دواړو کوښښ کاوه، چي دی استعفاء ته قانع کړي. خو ده یوه خبره ټینگه کړې وه، چي ملت دي تصمیم ونیسي. بالاخره دفاع وزیر هم عصباني سو، ول: کوم ملت؟، چي تا ته ئې اووه لکه رایي هم در نه کړې؟ او دا مباحثه په جنجالي توگه قطع سوه.

د دغه مکالمې تر ټولو جالب اړخ دا دئ، چي بې له جمهور رئیسه بل هیڅوک نه حاضر دي او نه هم خبر دي. حتی تخنیکي کس هم نه سته او دا ډول پېښې اکثر هغه وخت کیږي، چي جمهور رئیس د بل چا نظر او خبره اصلاً نه غواړي؛ په هغه مورد واوري.

دا داسي ورځي او شپې دي، چي ټوله سرسامه دي. ټول یو له بله پوښتي، چي څه پیښیږي. مگر هیڅوک نه سته، چي جواب ووایي. ټوله شپه د کابل اسمان هلیکوپټرو نیولی او پر له پسې ځي او راځي. دا هغه امریکایي تازه نفسه عسکر را رسوي، چي د امریکا او د هغو د پلویانو د ایستلو له پاره راځي. هر څوک کوښښ کوي، چي په کوم لیست کي ځان واچوي او بهر ته وتښتي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د جمعې ورځ د اسد دوویشتمه

بالاخره هغه څه پېښ سول، چي پاته ئې واړول. د کندهار له احمدشاهي ارګه د طالبانو ویاند اعلان وکړی، چي کندهار او هرات هم په بشپړه توګه د دوی په واک کي دي.

کندهار د افغانستان کیلي بلل کېږي. هر وخت چي د تاریخ په اوږدو کي کندهار له هر چا سره وو؛ د سیمي ټوله واکمني ئې په لاس کي وه او هر ځل انقلاب له همدې ځایه راپیلېدی.

د کندهار او هرات سقوط په بشپړه توګه پاته واړول او خلک ټول لا زیات متوجه او ځرک سول. په څو دقیقو له هراته ویډیوګاني خپرې سوې، چي د هرات والي، د امنیت رئیس، امنیه قومندان او د اولسي پاڅون عمومي قومندان، چي پخوا هم په تېر دور کي له طالبانو سره بندي وو او داخلي وزارت مرستیال او د ظفر قل اردو قومندان هم طالبانو ته تسلیم سول.

د دغي ورځي تر مازدیګره بادغیس او غور هم په بشپړه توګه تسلیم سول او بې له جګړې زندانونه مات سول. دا تر ټولو جالبه خبره وه، چي طالبانو هیڅ کسان نه درلودل؛ سیمو ته په رسېدو ئې لومړی زندانونه خلاصول، چي نفر ئې زیات سي، تر څو د سیمو کنټرول ته ورسیږي.

غرمې ته طالبانو د اولسي پاڅون له مشهور جهادي قومندان سره ویډیو خپره کړل او وئې ویل، چي موږ عمومي عفوه (بخښنه) اعلان کړې ده. له چا سره غرض نه لرو.

تر دې وخته دوولس ولایته طالبانو لاس ته لوېدلي دي. په رسنیو کي دا خبر خپور دئ، چي اووه لس ولایته طالبان نیسي، بیا به اوربند اعلانیږي. مګر

(c) ketabton.com: The Digital Library



بایللې روحیه او بې له مقاومته هر څه ایله کول دا ښيي، چې نه؛ کار تر دې ډېر خراب دئ.

د جمهور رئیس په کاري پلان کې نن پر لس نیمي بجې د بېځایه سوي کسانو لیدو ته ورسي، مګر د وضعیت د خرابتیا په خاطر دا لیدنه ځنډول سوې ده.

پر دوه نیمي بجې د سلام خانې په الحاقیه کې خاصه امنیتي غونډه را غوښتل سوې ده. د سولې د عالي شوار رئیس نن د معمول خلاف تر ټولو هم مخکې راغلی او هم د جمهور رئیس راسته لاس ته ناست دئ. غونډه جمهور رئیس په احساساتي وینا شروع کړل. له لومړي مرستیال سره ئې څو د ناز غاړي او یو د بل توصیف وکړی او مجلس بیخي نادیده ونیول سو. بیا خبري اوږدې سوې. د دفاع وزیر او لومړي مرستیال تر منځ له وخته رقابتونه موجود وه او دواړه د پنجشېر وه. یوه ځان پخوانی او مشر باله، مګر بل ځان د جمهور رئیس لومړی مرستیال او وزیر دفاع ئې خپل مامور باله. مګر وزیر دفاع ځان تر رئیس جمهور هم کښته نه باله، ځکه دا چوکۍ د معاملې پر اساس ورکول سوې او جمهور رئیس ئې هم د لیري کولو واک نه درلودی.

جمهور رئیس مداخله وکړل، موضوع ئې بلې خوا ته واړول. په دې وخت کې د امنیت رئیس خپل ګذارش وړاندي کوي او د کابل امنیت سخت تر ګواښ لاندي بولي. داخله نوی ټاکل سوی وزیر، چې د جمهور رئیس د یوه سکرتر پلار دئ او د هغه په فرمایش وزیر داخله سوی دئ؛ مداخله کوي، چې نه، کابل مشکل نه لري؛ کمربند سخت محکم دئ. د امنیت رئیس څنګ ته ناست د رسنیو مسؤل ته لیکي؛ وایي درواغ وایي.

په دې وخت کې د رسنیو مسؤل پشنهاد کوي، چې جمهور رئیس دي دغه احساساتي بیانیه ثبت او خپره کړي. ټول توافق کوي. وروسته د امنیت د شورا سلاکار وایي، چې د دې ناستي راپور دي نه خپرېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مگر څو دقیقې وروسته لومړی مرستیال له خپل ټویټرپاڼې د یادي غونډې ټول جزیات خپروي. تر دې وخته د افغانستان اداره د خدای په فضل چلېدلې ده. وزیر دفاع له لومړي مرستیال سره په جنګ دئ. لومړی مرستیال له امنیت شورا سره، امنیت رئیس وزیر داخله سره. د جنګ قوه خپل په منځ کي خبري او توافق نه لري. نو پلان او اراده او اداره به څه ولري.

شپږ بجې د پلان له مخي جمهور رئیس بالاحصار ته د یو پیغام د ثبتولو له پاره ځي، تر څو روحیه ایجاد کړي. پلان دا وي، چي وزیر داخله، دفاع، رئیس امنیت، دواړه مرستیالان او ټول حاضر وي؛ مگر یواځي وزیر دفاع حاضرېږي، نور ټول ځان پټوي. دا پیغام هیڅ کله خپور نه سو.

د شپې پر دوې بجې امیرپوپ، چي ځان د شمال امپراطور بلی او خمار مارشال له لوی قطر زغروالو سره د حیرتان بندر پر پله ښکاره سوه او هر څه ئې ځای پر ځای پرېښول او د تاجکستان تر مرز واوښتل او بالاخره مزار هم سقوط سو. اوس یواځي ننګرهار پاته دئ، چي حساب پر کېږي. مگر هلته خاموشي ده، نه جګړه سته او نه هم کوم تحرک

## شنبه د اسد درویشتمه

نن له سقوط څخه یوه ورځ مخکي ده. درې ورځي کېږي، چي هره ورځ د نوي سقوط خبري کېږي. د جمهور رئیس نن ورځ بیا هم د انګوړ و منګوړ او چیچي مچونګړ (د سولي وزیر، د امنیت شورا سلاکار، د اداره امور رئیس، د رسنیو مسؤل او د دفتر رئیس) له ملاقاتونو شروع سوه.

تېره شپه جمهور رئیس یو ځل بیا د امریکا د بهرنیو چارو له وزیر سره خبري کړي وې او وخت ئې غوښتی وو. مگر چندان لویه نتیجه ئې نه درلوده. پر لس نیمي بجې جمهور رئیس یو پیغام خپور کړی، مگر هیڅ کشش او انګېزه ئې نه درلوده. پرون چي کوم پیغام له تشدد او ولولو ډک ثبت سوی؛ هغه نادیده

(c) ketabton.com: The Digital Library



ونیول سو او نن په پیغام کي پر معقول سیاسي تامل خبري وې. د جمهور رئیس دغه کښته او پورته موقف ټول حیران کړي وه. اول ئې له امریکا سره زور واهه. بیا ئې بندیان ټول ازاد کړل. بیا ئې جګړه اعلان کړه. بیا بیرته معقول تامل ته راغلی.

له غرمې وروسته تر ټولو مهمه ناسته وه. د افغانستان په اړه دا یو له مهمو اړخونو څخه دئ، چي همېشه تر رسمي حکومت پورته یا د رسمي حکومت په څنګ کي یو اولسي حکومتداري هم سته، چي په هر ډول حالاتو کي خامخا مخ را څرګندوي. که څه هم د ورستیو پنځو لسیزو بهرنیو مداخلو پر اساس دغه اولسي حکومت تضعیف او ناوړه کسانو ته رسېدلی، خو بیا هم سته او پر ځای دئ او خلک حیا ځني کوي.

په سپېدار ماڼۍ کي دغه غونډه روانه ده. د هیواد د ټولو برخو او قومونو اوسني مشران ناست دي. د سولي مشر پخواني اولسمشر ته وویل: طالبان له جمهور رئیس سره هیڅ ډول تامل او مذاکراتو ته نه دي حاضر او مطلق د ده په نه شتون کي مذاکرات کوي. کابل ته د نه ننوتلو تضمین او وعده ئې سپارلې او مذاکراتو په نتیجه کي مشترک حکومت ته راضي دي، خو دلته اوس یوه اړتیا ده، چي جمهور رئیس باید په لیکلې بڼه واک مذاکراتي ټیم ته وسپاري، چي هغوی هر ډول فیصله وکړه؛ دی ئې بیا د ماتولو جرئت و نه لري.

پخواني جمهور رئیس وویل: دا کار ابداً نه کوي، خو بیا هم ټول به ورسو، غیر مستقیم به ئې پوه کړو.

پخواني سلاکار ئې ورته وویل: ته مشرتوب واخله، زموږ درباندي آمین دئ. دا کار کنټرول کړه.

ټولو په یوه ږغ وویل، چي هو رئیس صاحب، دا بې تا نه کیږي.

پخواني جمهور رئیس خپله چپنه سمه کړل، ول: ابداً زه مشرتوب بیا پر غاړه نه اخلم. ستاسي سره ولاړ یم، د وطن په هره موضوع کي ولاړ یم. مګر

(c) ketabton.com: The Digital Library



واک ته هیڅ نور علاقمند نه یم. هغه بنیادونه، چې خپله مې ایښي؛ هغه نه نړوم. جمهوري ارزښتونه باید تداوم وکړي، دا لاره باید را و نه ګرځي، باید مخ ته ولاړه سي.

د سولې مشر وویل: تاسې راځئ اول جمهور رئیس پوه کړو، چې د کابل د ویرانۍ مخه ونیسي او یوه بغل ته سي. له هغه وروسته په مذاکراتو کې دا نور مشکلات خپله حلیږي.

نور بحث هم اوږد سو، مګر پخواني جمهور رئیس وویل، چې وخت مو دوه نیمې بجې اخیستی وو او درې بجې دي؛ درځي چې ورسو.

وروسته همدا خبره پخه سوه، چې دفعتاً به له هغه واک وغواړي. وروسته به نوري خبري په مذاکراتو کې حلیږي او له دې سره ټول د چهار چنار قصر په لور روانیږي.

همله د سولې د چارو مسؤل او د سولې برخي مشاور او د رسنیو مسؤل مخکې موجود دي. د جمهور رئیس دواړه مرستیالان نه سته، ارګ لکه بایلل سوی سنګر خالي دئ. په دې ناسته کې پخواني جمهور رئیس، د سولې مشر، د مشرانو جرګې مشر، د اولسي جرګې مشر، د پخواني اولسمشر پخواني مرستیالان، د کابل د غرب د خلکو مشران، د مارشال خوبوړی زوی، وزیر خارجه، د امنیت شورا سلاکار، د دفتر رئیس، د اداره امور رئیس او د سولې وزیر حاضر دي.

ټول خاموش دي. مخونه ئې ځړېدلي دي، لکه ماته خوړلي سرتیري، لکه بایلونکي قماربازان. هیڅوک هیچا ته حتی د کتلو تاب نه لري. ټول پوه دي، چې هر څه ختم دي. دوی هیڅ کله نه سول راټول، مګر اوس ډېر ناوخته دئ. پخوانی اولسمشر، چې اوس ئې هم حیثیت هغسي ساتلی؛ په تور سر او چسپ بدن دې ارګ ته راغلی وو اوس ریږدېدلی بوډا دئ.که څه هم اوس شل کاله اوښتي دي، مګر د ده په حیثیت کې تغیر نه دئ راغلی. ځان ئې هماغسي ساتلی دئ.

د اداره امور مشر ته ئې اشاره وکړه. هغه په منډه ورته راغلی. ده په کراره

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورته وویل، چي رسنیز ټیم رخصت کړئ. دا مجلس باید پټ پاته سي. تشریفاتي نه دئ، خپل منځي مشوره ده. هغه هم ټول ټیم بې له چون او چرا رخصت کړی. یواځي یو کامره مین د عکسونو د ثبت له پاره د ارشیف په خاطر پاته سو.

وروسته جمهور رئیس هم په بایللې روحیه او ځړېدلي مخ مجلس ته راغلی. قران شریف وویل سو. جمهور رئیس مایک چالان کړی، مگر د معمول خلاف هیڅ خبري نه لري. هغه عادي خبري، چي به ئې دېرش دقیقې وې؛ نن یوه دقیقه خبري نه لري. د سولي مشر ئې مخاطب کړ، ول: زه تاسي اورم.

هغه پخواني جمهور رئیس ته مخ کړی او خواهش ئې وکړی، چي تاسي مشر یاست، د ټولو پیغام وړاندي کړئ.

پخواني اولسمشر عاطفي خبري پیل کړې. اوله جمله ئې دا وه، چي په کابل کي وینو تویېدو ته سخت په تشویش کي یم. بیا په کنایه وایي: زما تشویش تر نورو زیات دئ، ځکه کورنۍ او ماشومان مي هم ټوله دلته دي. یو ځو نوري خبري هم کوي. بیا جمهور رئیس مخاطبوي او وایي، چي د قربانۍ وخت راغلی دئ. باید یو ښه تصمیم ونیسو. په کابل کي باید وینه توی نه سي. که څه هم چي په لفافه کي خبري وې، مگر ټول پوهېږي، چي هدف ئې دا دئ، چي جمهور رئیس باید قرباني ورکړي او واک پرېږدي.

وروسته نورو هم عیني خبري وکړې او جمهور رئیس هم د دوی خبري تائید کړې او د مقاومت او استقامت پر ځای ئې د جوړي لاره را واخیستل. په دې وخت کي د جمعیت خاص کس، چي د معارف وزیر هم تېر سوی؛ د جمهور رئیس مرستیال هم غاړه تازه کړه او وئې ویل، چي دی او نور زیات شمېر سیاسون سبا اسلام اباد ته دعوت سوي. له جمهور رئیسه ئې اجازه وغوښتل. جمهور رئیس وویل: پاکستان ته د تگ وخت نه دئ. ښه انعکاس به و نه لري.

وروسته جمهور رئیس ټولو ته وایي: هئیت مو وټاکئ، سبا به زه هئیت ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپل واک وسپارم او ولاړ سئ په قطر کي فیصله وکړئ او کار یو طرفه کړئ. او وروسته بې له خدای پامانی له مجلسه ووتی.

د مجلسه وروسته په دهلېز کي د جمعیت د همغه معاون اواز جګ دئ، د رسنیو مسؤل ته وایي، چي جمهور رئیس ته ووایه، چي پاکستان ته د تګ له پاره د چا اجازې ته ضرورت نه لرم. د احترام په خاطر مي څه ورته و نه ویل.

یو څه ها خوا ته د چهار چنار قصر مخ ته د سولي مشر، د کابل د غرب د خلکو یو مشر، چي د جمهور رئیس مرستیال هم تېر سوی دئ. د بهرنیو چارو وزیر، رئیس دفتر او یو بل کس ولاړ دي. د بهرنیو چارو وزیر وویل: جمهور رئیس ته پیغام واضح ور نه کول سو، په لفافه کي وو.

د سولي مشر هم موافق دئ، وایي: جمهور رئیس یا پوه نه سو او یا ئې هم قصداً ځان واچاوه.

وروسته د سولي د مرستیال او مشاور ځخه هیله کوي، چي جمهور رئیس ځخه وخت واخلي، تر څو د سولي مشر او د بهرنیو چارو وزیر هر څه واضح ورته ووایي. هغه ځي، خو وروسته بیرته راځي او معلومیږي، چي هغه د حرم سرای د قصر شا ته له انګک او بنګک (د امنیت شورا سلاکار او د اداره امور له رئیس) سره مصروف دي. خبره ډېره واضحه ده، هیڅوک د جمهور رئیس د کار له ادامې سره موافق نه دي. حتی خپل د بهرنیو چارو وزیر ئې لا غواړي، چي دا کیسه ژر خلاصه سي.

له دې وروسته جمهور رئیس د امریکا له سفیر د امریکایي قوتونو له قومندان، نوي لوی درستیز، د امنیت شورا سلاکار، اداره امور رئیس او رئیس دفتر سره غونډه کوي او دفعتاً د ارګ له پاڼي د مشترکو قوتونو په ملاتړ د سخت مقاومت اعلان کوي.

له دغه خبر وروسته بل خبر خپریږي، چي په هلمند کي جنګېدونکی جنرال د کابل د ټولو قوتونو قومندان ټاکل سوی او د کابل پولي سختي سوي او بهرنیو قوتونو قاطع ملاتړ ډاډ وړاندی کړی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا حالت سخت مسخره او رشخند دئ. له یوې خوا واک سپارل سوی، چي مذاکره وسي او خبره خلاصه سي. کابل له ټولو خواوو محاصره دئ او دوی اوس جګړه اعلان کړل. له همدې سره پر رسنیو د جمهور رئیس یو بل پیغام خپور سو، چي د خبرو او څهرې ئې ډېر فرق وو. جمهور رئیس د ډاډ او خیر و خیرت اعلان کاوه، مګر مخ ئې بل څه ویل.

د جمهور رئیس له بیانیې څخه شل دقیقې وروسته د لوګر، پکتیا، پکتیکا او کنړ د سقوط ویډیوګاني هم نشر سولې. په کنړ کي خو حتی خلکو د اردو موټرونه په ډبرو ویشتل. او له ځینو رسنیو خبرونه خپاره سول، چي د کابل په چهار اسیاب کي هم د طالبانو قوتونه لیدل سوي دي.

په دې وخت کي د امریکا جمهور رئیس اعلان وکړی، چي د امریکایي قوتونو او امریکایي اتباعو د ایستلو له پاره ئې تازه پنځه زره تنه افغانستان ته استولي. ډالر په ناڅاپي توګه پورته سو او خلک د بانکونو پر لور ور مات سول. کابل ته له ټولو سیمو بې ځایه سوي را شروع سول. په ټول کابل کي د پښې ایښودلو ځای نه وو.

## د اسد څلور ویشتمه د یک شنبې ورځ

د شپې دوولس بجې دي. ټولنیزي رسنۍ په پر له پسې خبرونو ډکي دي. پلچرخي زندان د طالبانو لاس ته ولوېدی. زندانیان پر سړکونو دي، څو ډزي وسوې. دفعتاً د لومړي مرستیال له ټویټره ولیکل سول، چي پلچرخي زندان کي زندانیانو بغاوت کړی وو؛ خاموش سو. خو وروسته په پرله پسې توګه ویډیوګاني او عکسونه خپرېدل، چي د پلچرخي زندان مکمل خالي سوی. د طیارو بږغ ټول کابل پر سر اخیستی. یوه ناارامه شپه ده. په فیسبوک کي لیکل کېږي، د پغمان د سقوط خبر خپرېږي. د میدان ښار کمربند مات سو او مخالفین تر کمپنۍ را ورسېدل او سهار ته په رسنیو کي جمهور رئیس ته د تر ټولو نږدې کس عکسونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپرېږي، چې د ننګرهار د ولایت په مقام کې هر څه ډېر په خوشحالۍ بې ټک او ټوکه طالبانو ته سپاري.

۞۞۞

جمهور رئیس او بي بي ګل په حرم سرای کې یواځې ناست دي. جمهور رئیس وویل، چې ټولو لاس یو کړی، مګر زه دا هر څه داسې نه ور پرېږدم. همداسې بې حله او سرخلاصې باید پاته سي، چې حل لاره و نه لري. قانوني انتقال نه تر سره کوم. اماده ګې ونیسه، چې اوږد سفر لرو. همدا لنډه مکالمه وسوه.

وروسته د امنیت د شورا سلاکار ته ږغ کوي، چې مېلمه کله راځي. هغه وایي: راغلی دئ، تاسې ته منتظر دئ. وروسته دوی درې یوځای د حرم سرای په چمن کې کښېني او اوږدې خبرې کوي او هیڅوک نه پوهېږي، چې څه ئې ویل.

کابل کې ګډوډ او هرج او مرج اوج ته رسیږي. د کابل ښار لوچګان او لنډغر د موقع څخه په استفاده غلاوو ته لاس اچوي او تر ماځیګره د خلکو وارخطایي اوج ته رسیږي. ماځیګر پخوانی ولسمشر له خپلو څلورو لوڼو سره په یوه ویډیو کې راښکاره کیږي او خلک ارامۍ او سکون ته رابولي. ماښام ته بله ویډیو خپروي، چې دی او د سولې مشر دواړه ولاړ دي او د کابل خلک ارامتیا ته رابولي او د جمهور رئیس او ډلې د هیواد پرېښولو خبرو ټولو هیوادوالو ته رسماً تائیدوي.

وروسته دا خبرې تائیدیږي، چې جمهور رئیس د پلان سره سم هوایي میدان ته تللی، مګر د احتیاط له مخې په هغه هلیکوپترو کې، چې له مخکې اماده او تیارې کړل سوي وې؛ د ازبکستان په لور ځي او له هغه ځایه بیا د متحده امارتو په لور ځي. مسلح قوا قانوني افغانستان له نخشې، سیاست، سیالۍ او هر څه غورځول کیږي او یو نوی روزل سوی نسل بیا د تاریخي ورکې پر لور رهي

(c) ketabton.com: The Digital Library



سو.

خو طوفان دلته و نه دریږ، بلکي لا په غرغندهو سو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# له طوفانه ګټمن

په جي ایچ کیو کي سخت جشن روان وو. جامونه ډکېدل او تشېدل. جنرال د امنیت رئیس ته وویل: دغسي د نر بچیه، سخته لوبه مو وکړل. زه سخت په تشویش وم، مګر کارونه ټوله سم ښکاري.

د امنیت رئیس وویل: کابل محاصره دئ. هره دقیقه چي وغواړم، زما په لاس کي دئ. ته نور څه غواړې. زموږ لابي دونه کار وکړی، چي د هیچا لوبه جوړه نه سوه پاته؛ ټولو ته مو کشت مات ورکړی.

جنرال پر اوږه لاس ور کښېښوی. ول ته درځه، هلته باید یو څه وږغېږو او یو څه تصمیمونه هم ونیسو. د امنیت رئیس ورسره روان سو.

جنرال ورته وویل: اوله خبره خو دا ده، چي کابل په خپل لاس کي واخلې، چي هر رکم کیږي. زما په نظر هغه د پخواني مجاهد کورنۍ او ډله به ډېره مفیده تمامه سي. هغه تیار کابل ته ور څېرمه دي او بل دلته ئې هم کولمې ګرو دي. کاروبارونه ئې دلته دي او بل هغه عرب ماماګان ئې هم زموږ سره ښه دي او بل دا لږ له غروره خلاص دي. له کندهاریانو سره مو وړ نه وځي. له یوې خوا مغروره دي، له بلي خوا پر خپله خبره ولاړ دي او بلي خبري، چي زه په تشویش کي کړی یم؛ هغه د مذاکراتي ټیم او د قطر دفتر د رئیس خبره ده؛ دا سړی هم قومي بېس لري او هم زموږ سره جدي ستونزي لري. کوښښ باید وسي، چي د رهبر په توګه یو داسي څوک وي، چي تکیې ته اړتیا لري. قوم موم و نه لري او بږغ ئې تر موږه پوري وي.

د امنیت رئیس وویل: اوس خو موږ درې څلور ډلي لرو. یوه دا د پکتیا او خوست ډله ده. دا خو له څلوېښتو کالو زموږ خپل خلک دي؛ تشویش نه څني لرو. دا خو دلته اوسېدلي، زېږېدلي او غټ سوي دي. دوهمه ډله دا د کندهار ده،

(c) ketabton.com: The Digital Library



چي اکثره ئې زموږ سره مخالف دي. مګر یو څو تاجران ئې، چي ښه نفوذ لري؛ هم زموږ سره بلک مېل دي، هم ئې کورنۍ زموږ سره ضمانت دي او هم ئې تجارتونه دلته دي. پاته سو د مشرتوب له پاره د وخت ما پر یوه ارام، بې قومه او خاموشه سړي فکر کړی دئ. قوم به ئې لس کوره هم نه وي، مګر پخوانی ئې د ښو او بدو سړی دئ، خو یو څوک مي د وخته په پوست ور ننه ایستلی دئ. هغه مي هم په کابینه کي پر یوه ښه ځای ټاکلی، چي ښه کار هم راته وکړي. کابل مو بشپړ تر کنټرول لاندي دئ. امریکا خو نه غواړي، چي کابل ونیول سي، خو ما ځیني ګروپونه تیار کړي دي، چي باید سبا په کابل کي ځای پر ځای سي.

وروسته ئې د کابینې جوړ کړی لیست جنرال ته ور وښوی. هغه ورسره تائید کړی او یو څه تغیرات ئې هم ورته وښول. وروسته ئې یوه عسکر ته ور ږغ کړه، ول: هغه غټ‌سری راوله.

هغه ول: صاحبه، څوک یادوی؟

جنرال ورته وویل: خورغودې، ته تر اوس غټ‌سری نه پېژنې؟ هغه د بهرنیو چارو وزیر هلته له هغو دوو نجونو سره مست دئ، هغه راوله.

وروسته د بهرنیو چارو وزیر زنګېدلی راغلی. جنرال ورته وویل: هر وخت چي د دوی کارونه سم سوه، تاسي به دواړه ته او د امنیت رئیس کابل ته ځی او د کابینې د اعلان په ورځ به د رسنیو و مخ ته راځی، چي نړۍ پوه سي؛ افغانستان نور پنځمه صوبه ده او وزیره د افغانستان اړوند هره موضوع کي باید حد اقل د ورځي یوه بیانیه ورکړې. که هغوی اجازه درکوي، که نه؛ باید هره موضوع کي راښکاره سئ او هغه چمچلی مو، هغه لنډی څه نومیږي؛ په کابل کي زموږ سفیر هغه باید هره ورځ پر رسنیو وي او ملاقاتونه کوي، چي نړۍ قانع سي، چي افغانستان نور زموږ دئ.

بیا ئې د امنیت رئیس ته وویل: د اسلحو د رانیولو له پاره پیسې درکوم، چي څونه کولای سې؛ نظامي تسهیلات رانیسئ او ذخیره ئې کړئ، چي قوي اسلحه

(c) ketabton.com: The Digital Library



او شی هلته پاته نه سي.

پام مو اوسه، چي قوي خلک مقرر نه کړی. موږ ته د دوی قوي حکومتونه ضرر لري. سبا ته مو هغه پخواني مجاهدین ټول راغوښتي؛ وزیره ستا مېلمانه دي، ورسره ووینه. وئې ساته، چي بیا که مو له دې نوو سره کړپه راتله، هغوی مو باید تیار په لاس کي وي.

له دې ځایه مو مدرسې مدرسې در ټولوئ. نور هر څه ډلي او گروپونه هلته تنظیم کړئ او رشتیا چي هېر مي نه سي؛ انټرنیټ او ټول مخابراتي سیسټم تر هر څه وړاندي په لاس کي واخلئ. له چین، روسیې او امریکا سره هغونه سر ښوروئ، چي تعادل نه ماتیږي.

بیا ئې وزیر ته وویل: دا کرکیټر دي پوه کړه، چي ډېر دي نه کړتیږي. د دې لوبي امپایر زه یم. پر نو بال ئې هم کېچ او هم اوټوم. هغومره دي ږغېږي، چي پاکستان ته ضرر و نه رسوي او دلته د ضرر او نه ضرر فیصله زه کوم.

د فوج مشر نوري زیاتي لارښووني هم وکړې او افغانستان ئې رسماً خپله صوبه وبلل او هر څه ئې خپل وبلل. مگر د امنیت رئیس له ځان سره شکمن وو، ځکه هغه پوهېدی، چي طالبان اوس د دوی تر سوېې لوړ دي او مستقیم له اصلي بادار سره په خبرو او ارتباط کي دي. هغوی لویه برخه، چي مشري ئې د دوی د سرسخته دښمن اروزگاني ملا په لاس کي ده او دوی امریکا ته ولچک او زولانه په لاس ورکړی وو. اوس د دوی پر خلاف دي، مگر بیا هم په دې ډاډمن وو، چي یوه بله قوي برخه او څو بلک مېل سیاسي او تجارتي ملایان ئې تر اودم لاندي دي او امریکا لا په بشپړه توگه انډیوالي نه ده ورسره شکولې.

افغانستان بالاخره پسله شل کاله دوی ته بې دښمنه ور ازاد سوی وو او دا دوی ته کم فرصت نه وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د قیامت ورځې

ذکي په تلوار ذبیح ته مسج وکړی، ول: چیري یې؟ په میدان کي طیارې له خلکو ډکېږي او خارج ته ځي. ژر راځه چي ځو. زه به مي خپل د فوټبال خوب پوره کړم او ته به هم راسره یې. یواځې بېرېږم. ځای ئې سره وټاکی او میدان ته په تلوار روان سول. دوی د ترمینل مخ ته سره یوځای سول. له ډېرو ټېلو او ټمبو وروسته یوې لویې توري غټې طیارې ته ورسېدل. درې څلور ځایه خارجیانو ټکان هم پر وکړه، مگر مجبور او بې‌عقل ته به غښتلی نه وایې. دوی د مور او پلار یواځني اولادونه وه، په ډېرو سختو پلار لوی کړي وه او ذکي تازه د افغانستان د فوټبال د اووه لس کلنو ټیم ته لاره کړې وه او ښه ځلېدلی وو. پلار ئې د سړک پر سر سبزیجات او مېوې خرڅولې.

دوی چي کله په میدان ننوتل؛ په ترمینل کي چور شروع وو، ټول سیستمونه ختم وه. چا کمپیوټرونه ځغلول، چا مېزونه او چوکۍ. خو ذکي په ډېري چالاکۍ له کومه ځایه ځیني ورقي پیدا کړې، یوه ئې ځان ته واخیستل او یوه ذبیح ته. دا هغه پاڼې وې، چي هر چا جعلي چاپ کړي وې او له ځان سره ئې درلودلې، نو کله چي طیارې ته را ورسېدل، په دې وخت کي ذبیح په تلوار د الوتکي وزر ته لوړ ور وختی او ذکي پر ټېرو سربېره کښېنستی او د ټیرونو ډولچې ته، چي د طیارې په تنه کي وه ئې کتل. شاوخوا په سلگونه نور خلک پر الوتکه راټول وو. په دې وخت کي یو بل ښایستکی ځوان هم راغلی او له ذکي سره پر دې ټیر کښېنستی. دواړو سره وخندل. ذکي ورته وویل، چي تا هم د ټام کروز میشن ایم پاسیبل کتلی؛ هغه د طیارې پر ټیر چي ځړېږي. ده ورته وویل: نه، هغه د جېمز بانډ دئ.

دواړو غوښتل، یو پر بل ځان پوه وښئي. ذکي ځان ورته معرفي کړی، چي

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه د فوټبال د ملي ټیم غړی یم. په تلیفون کې ئې ویډیوګاني او عکسونه ور ښکاره کړل. هغه بل ځوان ځان ډاکټر معرفي کړی. وروسته هغه ځوان ورته وویل: ته ولي خارج ته ځې؟

ده ورته وویل: پلار مي په زحمت را لوی کړو، زما شوق دئ، چي د نړۍ د فټبالرانو په څېر لوبي وکړم او د پلار مرسته وکړم.

ذکي له ځوانه وپوښتل: ته ولي ځې؟

هغه ورته وویل، چي په کلنیک کي کار کوم؛ پلار مي تېر کال زما د واده او کوزدې له پاره له یو چا څخه دیارلس زره ډالره قرض کړی دئ؛ اوس د دوی په پټه ځم، چي پیسې وګټم او دوی له دې جنجاله خلاص کړم. دوی ډېري نوري قصې هم وکړې. یو بل کس د ډېري ګرمۍ څخه خپله ښځه او څلور ماشومان را وستل او د طیارې سیوري ته ئې له دوی سره کښېنول. ښځه سونېدله او ژړل یې. له ځان سره ئې ښکنځل او بد و رد ویل. سرې لکه لېونی دوري هوري ګرځېدی. بیا به راغلی، بیا به ولاړی. ذکي له هغه ښځې وپوښتل، ول: څه خبره ده، خوري.

ښځې وویل: د غم امریکا دي سي. مېړه مي د امریکا په سفارت کي ګارډ وو. څلور ورځې مخکې ئې میدان ته را وغوښتلو. په دې ټېل ماټېل کي پرون دلته راغلو. د خلکو په بیروبار کي نږدې وو، چي زما زوی چختانړ سي. مېړه مي پر دېوال ولاړ امریکایي عسکر ته ورکړی. په دې وخت کي د خلکو څپه راغله، مور ئې پوري وهلو. نن دوهمه ده په خپل کوچني زوی پسي ګرځو، نه پیدا کېږي.

په دې وخت کي ئې مېړه بیا راغلی، ول: اوس مجبوره یو، دا څلور خو ژوندي ورسوو. هغه حتماً په بله طیاره کي وړل سوی دئ. ښځې چغي کړې، مګر مېړه په ټېله او زور روانه کړه او د طیارې شا ته ولاړو. امریکایي عسکرو له اسنادو کتلو وروسته په چغو چغو طیارو ته وخېژول. یو د دوو میاشتو ماشوم له یوې مور ورک سو. یو ساعت نور به لا تېر سوی یي؛ څو نورو نفرو هم پر ټیرونو

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ځان ټينګولو کوښښ وکړی؛ مګر ذکي او ډاکټر پرې نه ښودل. ذکي څو ږغه ذبيح ته ور وکړه. يو او دوه واره ئې لا ږغ واورېدی، چې هلته ئې وروسته د طيارې اوز ډېر سو او قرار ټيرونه وڅرخېدل او کرار سرعت زياتېدی. باد هم زياتېدی. ذکي وليدل، چې څو نفرو کوښښ وکړی، چې طيارې ته نږدې سي، مګر شاوخوا ولاړو امريکايانو وويشتل. طيارې منډې وهلې او په زرهاوو خلک په پسې وه.

وروسته طياره چې لا تېزېدل، ذکي وليدل، چې د طيارې له سرعت سره د طيارې ماشين دننه تر بادپکې تېر کړی. وروسته طياره تېزه سوه، تېزه سوه او ښه تېزه سوه. يو څه چې پورته سوه، لاندي کورونه او ځايونه معلومېدله؛ طياره پر يوه بغل سول. ذکي وليدل، چې ذبيح د طيارې پر وزر ځان کلک نيولی دئ. خو کرار کرار ئې وارخطايي زياته سوه، ځکه د طيارې له پورته کېدو سره کرار يخ او باد تېزېدی او طيارې کرار کرار د ټيرونو ټولول پيل کړل. په دې وخت کي ډاکټر چغه کړل، ول: آخ، لاس مي.

د هغه له چغې سره باد او يخ نور د ذکي تاب ور ختم کړی؛ هډوکي ئې داسي سول، لکه يو يو چې ماتېږي. ډاکټر لويه چغه وکړل او لاندي په تېزي ولوېدی. ذکي هم نور تاب را نه وړی، سترګي ئې تياره سوې او نور په ځان پوه نه سو.

۞۞۞

يو ساعت وروسته ټولنيزو رسنيو له الوتکو د لوېدلو انسانانو عکسونه خپرول. په ميدان کي حل حله جوړه وه. امريکايانو په پر له پسې توګه خلک ويشتل؛ مګر نه کمېدل. تر دې وخته يو لک او شل زره تنه ايستل سوي وه، مګر بيا هم تر پنځه لکه زياتو نفرو ميدان محاصره کړی وو او کوښښ ئې کاوه، چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



میدان ته دننه لار پیدا کړي. نن پنځمه ورځ وه، چي دا خلک همدلته را ټول وه. په دې بیروبار کي زیات شمېر خلک مړه سول.

یوې ښځي همدلته ولادت وکړی. یوه بله ښځه، چي ئې تر طیارې رسول او طیاره ئې په هوا کول؛ زېږون ئې وکړی. تر سل زیات ماشومان له میندو ورک سول. په شپږمه ورځ چي د هوایي میدان د شا نظامي دروازه، چي څنګ ته ئې د مردارو اوبو یو لوی پاتاب تېر سوی وو؛ د لسګونه زره انسانانو ډک وو. دوې زورورې چاودني وسوې. په لسګونه انسانان مړه سول او د انسانانو ویني او غوښي په مردار پاتاب کي ګډې سوې. شاوخوا ولاړ بهرني ځواکونو، چي خپل زیات شمېر تلپات ولیدل؛ د توپکونو میلونه ئې را خلاص کړل او ټول خلک ئې مخامخ ویشتل او سلګونه انسانان، چي له مرګه تښتېدل؛ د مرګ خوراک سول.

طوفان خپلي وروستۍ څپې ووهلې. هر څه ئې له ځان سره یووړل. د تاریخ تکرار روان وو او افغانان لا د بل ډول ته نڅېدل. د انسانانو په کړېږو چغو کي د قیامت ورځ وه. کورنۍ یو له بله ورکي؛ خوندي له میندو؛ میندي له زامنو. د محشر ننداره وه.

کابل کرار کرار د وسله والو مخالفینو تر لاس لاندي سو. طالبانو رسماً اعلان وکړی، چي د امریکا په غوښتنه او د مسلحو قواوو د سراعلی قومندان د تېښتي او د قدرت د خلا په خاطر ئې پر کابل خپل د واک بیرغ ورپاوه. یو څو نااهله پر دې په خورا مستي د وزیر اکبر خان تپې ته وختل او د افغانانو بیرغ، چي هر چا په خپل توبیت سپک کړی او د اولس ملي بیرغ ئې په مستۍ او ریشخند را کښته کړی. له نږدې هوټل څخه دا سندره خپرېدل:

یو باتور ملت غرقیږي
یو مضبوط وطن نړیږي

یو خوروښېدلی څښور ځوان هوټل ته ننوتی. په قهر ئې پر دېوال ځړېدلی

(c) ketabton.com: The Digital Library



غټ تلوېزون دوې مرمۍ وویشتی. دوکاندار ئې وښکنځی، ول: ته نه یې خبر، چي موسیقي حرامه ده.

بالاخره طوفان خپل کار وکړی او یو نوی نسل روزل سوی مکمل نسل تبعید کړل سو. په دوه کاله کي له ټوله ملکه درې میلیونه انسانان حالاتو مجبور کړل، یا تبعید کړل سول.

پای

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**